# پرده یا حجاب

لیکوال

مولانا مودودي

ژباړن

Ketabton.com

قریب الرحمن سعید

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# ډالۍ

د حجاب د کتاب د ژباړې دغه هدیه، ترټولو د مخه خپلې محترمې او محجوبې مور بې بې ته چې تل یې خپلې کورنۍ او دوستانو ته د شرعي حجاب او عفت د ساتلو نصیحت کړې او بیا خپلې پتمنې میرمنې ته چې د هجرت او لیرډ په ډیرو ستونزمنو شرایطو کې یې د ډیرو زیاتو مجبوریتونو سره سره خپل شرعي حجاب خوندي ساتلې او بالاخره ټولو هغو پتمنو او محجوبو میندو ، خویندو او لوڼو ته چې د خپلو ځانو په قیمت یې د اسلام د سپیڅلي دین د حجاب ، عفت او پت ساتنه کړې ، په ډیر درنښت وړاندې کوم او د الله تعالې څخه یې د قبولیت هیله لرم.

په درنښت

قریب الرحمن سعید

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دژباړې په هکله:

د الله تعالې څخه ډیر زیات ممنون یم چې ما ته یې توفیق را په برخه کړ چې د اسلام د ستر مفکر او د نوي عصر د اسلامي قافلې د سالار دغه په زړه پورې او ژوره څیړنه مې ، چې د شرعي حجاب تر عنوان لاندې یې کړې د خپلو زیاتو مصروفیتونو تر څنګ په خپلې مورنۍ سپیڅلې ژبې پښتو و ژباړله.
طبیعي ده چې په دومره لږ فرصت کې به دومره ستر کار په تر سره کولو کې ددرنو لوستونکو ترمخ څه کمښت او زیادښت تر سترګو شي چې دهغې په هکله زه په دغه کرښو کې د وړاندې څخه معذرت غواړم.
دپردې یا شرعي حجاب په هکله او همدا راز په غربې ټولنو کې د ښځې د حیثیت ، مقام او اهمیت په اړوند ما په خپله څه ډیر مواد را ټول کړی چې د یوه ځانګړي کتاب د لیکلو غوښتنه کوي ، چې په هغې کې د غربي ټولنې ځانګړتیاوې ، د کورني نظام ړنګیدل ، د کوچنیانو خپل سري کیدل ، ورځ په ورځ د نفوس کمښت ، د ازدواجي مسئولیتونو څخه د نرو او ښځو یو شان تیښته او دواده کولو څخه کرکه ، د فحاشت او ځانپلورنې مارکیټونه ، ددولت لخوا د (An alone mother ) یا بې میړه ښځې ته د کوچنیانو د پیدا کولو په لور ترغیب او په دې هکله ډیرې زیاتې پیسې د هدیې په توګه ورکول ، د بوا ځنیو یا بې خاونده ښځو ډیرښت ، نا پیژندل شویو کوچنیانو شتون ، یوه ښځه او بې شمیره مینه لرونکې ملګري ،یو نارینه او بې شمیره محبوبې ، د جنسي اشباع له پاره د حیواناتو او یا مصنوعي الاتو څخه کار اخیستل او ددې شیانو د پیدا ایښت له پاره ستر ستر مارکیټونه ، د حیواناتو په څیر د شهواني عمل تر سره کول او داسې نور......
خو کله چې مې د سید ابولاعلي مودودي (رح) دغه ژوره څیړنه او لیکنه چې نژدې پنځوس کاله د مخه یې د غربي ټولنې او په دې ټولنو کې یې د ښځو د ارزښت په هکله ، او بلاخره په اسلامي ټولنه کې د ښځې د مقام او اهمیت به هکله کړې تر نظره تیره شوه نو په دې هکله یې زما د لیکلو تنده لږه را ماته کړه او غوره مې و ګڼله تر څو د همدې لیکنې ژباړه و کړم تر څو ګران هیوادوال یې په خپلې مورنۍ ژبه د لوست څخه ګټه پورته کړای شي.
بدبختانه چې زمونږ یو شمیر روزل شوي او تعلیم یافته خویندې په غربي ټولنو کې د ښځو په اصطلاح ازادې او دهغوې د ازاد ژوند څخه داسې اغیزمنې شوي چې خپل کلتور ، دین او عفت یې ټول په ډانګ پیلې توګه د خطر سره مخامخ کړی او یا یې بلکل له لاسه ورکړې. دغه کار په ښارې او سیدونکو او په ځانګړې توګه په هغوی کې چې د غربي ټولنو په لور یې دوخت او فرصت نه په ګټې اخستلو سره هلته لیږد کړې ،ډیر اغیز کړې. دوې د خپل دغه عادت له مخې نه یوازې د خپل کورني سیستم دړنګیدو په لور قدم پورته کړې بلکې خپل اولاد یې په غربي ټولنو کې په ور غورځولو او دهغوې د ژوند په رنګ باندې په رنګولو سره یې ، له لاسه ورکړې . همدا علت دې چې په زیات شمیر افغاني کورنیو کې د رواني ناروغتیاو څخه پرته د ځان وژنې پیښې هم صورت نیسي ، په دې اساس هیله ده چې ددې کتاب لوست به زمونږ د ټولو وطنوالو له پاره او په ځانګړې توګه هغوې ته چې په غربي ټولنو کې ژوند کوي، ډیر ګټور ثابت شي.
د الله تعالې څخه غواړم چې ټولو هغه کارکونکو ته چې ددې کتاب په چاپولو او خپرولو کې یې له ماسره بسپنه کړې ، دد نیا او اخرت ټولې ښیګڼې ور په برخه کړی.

په درښښت

قریب الرحمن سعید

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلمړي چاپ په هکله:
د پردې په موضوع ما نږدې څلورکاله دمخه په پرلپسې توګه يو لړ ځيړني کړې  چې د «ترجمان القران» مجلې په پرلپسې ګڼو کې چاپ شوې وې. په هغه وخت کې د دې ځيړنې ځينې ځنډې قصداً پرېښوول شوې وې او د ځينو نورو بيا د بحث او ځيړنې تنده نه وه ماته ، ځکه چې ما يو مضمون ليکه ، نه کتاب.
اوس مو هماغه ټول موضوعات را ټول کړي او د پوره بحث او ځيړنې سره يو ځاې مې د دې کتاب په شکل کې ترتيب کړې دی. که څه هم د دې دعوه نه کيږي چې دا به په دې موضع اخري ځيړنه وي خو زه لږ تر لږه دومره هيله کولې شم چې که څوک په دې موضوع باندې په رښتيا هم پوهيدل غواړي نو په دې ليکنه کې تر ډيره ځايه دلائل او موادتر لاسه کولې شي.
و بالله التوفيق و هوا المستعان
ابوالاعلي
۲۲محرم ۱۳۵۹ هجري قمري کال

## دمسئلې څرنګوالي:

انساني تمدن د دوو ډيرو مهمو مسئلو پورې اړوند دې ، او دا مسئلې  ډيرې زياتې پيچلې او تر ټولو زياتې مخته راځي. د انسان برياوې او پرمختګ د همدې مسئلو پر صحيح او متوازن حل پورې تړلې دې.
دا  هغه موضوعات دي چې دهغې د حل کولو په خاطر د پخوانۍ زماني څخه تر اوسه پورې د نړۍ پوهان او عاقلان سرګردانه دي.
لمړې موضوع  په ټولنيز ژوند کې د ښځې او نر ترمنځ اړيکې دي ، چې څه ډول بايد پيوند کړل شي ؟ ځکه چې همدا اړيکې  د تمدن د بنسټ تيږه ده او که د دې اړيکو په پيوند کولو کې لږ څه کمښت او يا کوږوالې راشي نو تر پايه پورې به د تمدن مانۍ کږه خيژي.
دوېمه موضوع د وګړي او ټولنې ترمنځ اړيکې دي چې که په تناسب کې يې لږ څه نا انډولي را پيدا شي نو تر پيړيو پورې به انسانيت د هغې ترخې پايلې ګالي.
يو اړخ ته د دې دواړو موضوعاتو اهميت او بل اړخ ته د هغوي نغښتې دومره پيېلي شوې چې د پو هيدو له پاره يې د فطرت په ټولو حقايقو باندې د نظر حاوې کيدلو ته اړتيا ليدل کيږي او تر هغې چې د فطرت په ټولو حقايقو د چا نظر په پوره توګه حاوي نه وي نو هغه به د دې موضوعاتو د حل نه هم عاجز وي.
دا خبره ريښتيا ده چې انسان ځانته يوه نړۍ ده ، «عالم اصغر» دې ، د هغه د جسم جوړښت ، دهغې د نفس ترکيب ، دهغه ځواکمنتوب او پوهه ، دهغه غوښتنې ، اړتياوې ، جذبې او احساسات ، اود خپل وجود نه بيرون د بې شميره شيانو سره دهغه فعلي او انفعالي اړيکي او .... دا ټول شيان يوه نړۍ ده چې په خپل ځان کې يوه بله نړۍ لري. انسان تر هغې په پوره توګه نشي پيژندل کيدې تر څو چې د دې نړۍ يوه يوه ځنډه د سترګو په وړاندې روښانه نه شي.  همدا راز انساني مسايل هم تر هغې نه شي حل کيدلې تر څو چې پخپله انسان په پوره توګه و نه پيژندل شي. دا هغه نغښتې او مسائل دی چې د پوهې او حکمت د ټولو هڅو او هاند تر څنګ دهماغه لومړۍ ورځې څخه تر اوسه پورې شتون لري ، تر اوسه د دې نړۍ  ټول حقايق د انسان ترمخ  نه دې را

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګند شوي . په انساني علومو کې هیڅ داسې علم نه شته چې د کمال اخري پوړۍ پورې رسیدلې وي. یا په بل عبارت: د هیڅ علم په هکله دا ادعا نه شی کیدای چې ټول هغه حقیقتونه چې د دې علم پورې اړه لري د علم دغې څانګې په خپل ځان کې راټول کړې دي. مګر هغه حقایق چې په پوره رڼا کې را پیدا کیږي د هغې د پراختیاو او باریکیو حال دا دی چې د هیڅ انسان یا انساني ډلې نظر پرې په یوه وخت کې نه شي حاوي کیدای. کله یې چې یو اړخ مخته را ځي نو بل اړخ یې تیاره پاته کیږی ، کله نظر لنډون کوي او کله ځانګړې تمایلات پرې غالبیږي ، د همدغې دوه ګوني کمزورتیا له مخې چې انسان د خپل ژوند انه د دغې مسائلو د حل کولو له پاره څومره تدبیرونه په کار اچوي د ناکامۍ سره مخ کیږي. او بالاخره تجربه د هغه زیانونه را بر سیره کوي. سهي حل هماغه وخت شوني دې چې د عدل او انصاف نقطه تر لاسه شي او د عدل او انصاف نقطه تر هغه وخته پورې نه شي تر لاسه کیدای تر څو چې ټول حقایق نه وي را برسیره شوی او یا لږ تر لږه د څرګندو حقایقو ټول اړخونه یو ډول تر نظر لاندې نه وي راغلي. خو چیرې چې د کتنې او نظر پراختیا دومره زیاته وي چې لید او نظر په هغه نه شي حاوی کیدای او تر څنګ یې د هغه غوښتنې او د هغه رغبت ، کرکه او میلان دومره ځواکمن وي چې د ښکاره شیانو څخه پخپله سترګې واړوي نو بیا به هلته د عدل نقطه څنګه تر لاسه کړل شي ؟ هلته خو چې حل هم را پیدا کیږي د افراط او تفریط څخه به خالي نه وي.

د کومو هغه دوه موضوعاتو یادونه چې مو وکړه د هغوي څخه یوازې لمړۍ موضوع اوس زمونږ د بحث او څیړنې له پاره ټاکل شوي ده ، کله چې په دې هکله مونږ تاریخ ته وګورو نو هلته د افراط او تفریط تر منځ د کشمکش یوه عجیبه لړۍ تر سترګو کیږي . یو اړخ ته وینو چې همغه ښځه چې د مور په حیث انسان زیږوي او همغه ښځه چې د ژوند په ټولو لوړو ژورو کې د ماندینې په څیر د نارینه د خورا غوره ملګرې په توګه ژوند کوي ، د یوې مزدورې او وینځې په مرتبه کې ایښودل شوې. هغه اخیستل کیږي او پلورل کیږي ، هغه د ملکیت او وراثت د ټولو حقوقو څخه بې برخې کړل شوې ، هغه د ګناه او ذلت مجسمه ګڼل کیږی او د هغې د شخصیت د را پورته کولو او ودې له پاره هیڅ موقع او فرصت نه ورکول کیږي.

له بله پلوه وینو چې همدې ښځې ته په داسې توګه رشد او نمو ورکول کیږي چې د بد اخلاقۍ او بد نظمۍ طوفان ورسره را پورته کیږی. د هغې څخه د حیواني غوښتنو او جنسي غریزې د اشباع له پاره د لوبو اله جوړول کیږي. د هغې څخه یې په ربښتینې توګه د شیطان او شیطا نیت یو عنصر جوړ کړې چې په غوړیدو یې د انسانیت د پریوتو او سقوط لړۍ پیل کیږي.

دغه دواړه خواوې مونږ یوازې په نظري توګه د افراط او تفریط په نومونو نه شو نومولې بلکې د هغو ترخو حقایقو له مخې چې تجارب یې د ریکارډ په څیر مونږ ته را مخته کوي ، د اخلاقو په ژبه یو ته د افراط او بل ته د تفریط نوم ورکوو. هغه تاریخي شالید چې مونږ ورته ګوته نیسو مونږ ته را په ډاګه کوی چې کله هم یو ولس د وحشت د دورې څخه د تهذیب او پوهې لورې ته را وځي نو د هغوي ښځې د خدمتګارانو او وینځو په څیر د هغوي د نارینه و سره یو ځای موجودې وي ، په لمړیو وختو کې د کلیوالي ځواکمنۍ د زور له مخې هغوي مخته ځي خو کله چې د تمدني پر مختګ یو ځانګړې منزل ته رسیږي نو هغوي ته په ډاګه کیږی چې په تورو تروږمیو کې د خپلې پوره نیمې برخې د پریښولو له امله نور مخته نه شی تللای.

هغوي ته د خپل پرمختګ اثار او نښې ولاړې بریښې او د پر مختګ د اړتیاو احساس هغوي مجبوروي چې دغه نیمه برخه هم د همغه لمړنۍ نیمې برخې سره یو ځای د تګ وړ و ګرځوي. خو کله چې هغې د دغه زیان جبرانول پیل کړي نو یوازې د هغې په پوره کولو بسنه نه کوي او نور هم مخته ځي. ان تر دې چې د ښځې د ازادۍ څخه د کورنۍ جوړښت « چې د تمدن بنسټ او اساس دې» په بل مخ واوړي ، د ښځو او نرو د اختلاط

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ګډون څخه د فحاشي او بد اخلاقۍ سيلاب را په څپو شي. شهوانيت او عيش د ټول ولس اخلاق د بربادۍ سره مخ کړي. د دې اخلاقي تنزل سره يو ځاې د ذهني ، جسماني او مادي قوتونو تنزل هم په لازمي توګه را برسيره کيږی چې پاې يې د هلاکت او بربادۍ پرته نور څه نه دي.

## ښځه په مختلفو وختونو کې:

که څه هم دلته دومره ځاې نشته چې مونږ د تاريخ زيات مثالونه په تفصيل سره نقل کړو خو د خپلې ادعا د ثبوت په خاطر د درې څلورو مثالونو يادول اړين ګڼو.

يونان:

په پخوانيو ولسونو کې چې د کوم ولس تهذيب او تمدن ډير ځلانده ښکاري هغه د يوناني ولس تهذيب او تمدن دي. د دې قوم په لمړنيو وختونو کې هم د اخلاقي آند له مخې اوهم د قانوني حقوقو او ټولنيزو اړيکو په اړوند ، بلکې له هره اړخه د ښځې حيثيت يو لويدلې حيثيت و. په يوناني خرافاتو کې يوه خيالي ښځه پانډورا (Pandora) همغسې د ټولو انساني بدبختيو بنسټ ګڼل کيده لکه څنګه چې په يهودي خرافاتو کې بي بي حوا (عليها السلام) ګڼل کيږي.

د بي بي حوا (عليهاالسلام )په هکله د عبثو او بې هوده افسانو د خپرولو په بنسټ چې د يهودي او عيسوي ولسونو په کړچار کوم زښت زياد اغيز شوي او تر څنګ يې قانون ، اخلاق او ټولنيزې اړيکې تر کوم ناوړه اغيز لاندې راوستي د هيچا نه پټ نه دي. نژدې نژدې همداسې اغيز د «پانډورا» کيسو او افسانو د يوناني ولس په ذهن هم کړې و. د هغوې له آنده ښځه يو پست او ذليله مخلوق و ، د ټولنيزو اړيکو په هر اړخ کې يې هغه ته په کم نظر کتل ، د عزت مقام يوازې نارينو ته ورکړل شوې و.

د تمدن د ير مختګ په لمړيو وختو کې د غه کړنلاره تر يوه وخت پورې په خپل ځاې و ساتل شوه ، د تهذيب او پوهې رڼا يوازې همدومره اغيز وکړ چې د ښځې قانونی حيثيت په هماغه خپل ځاې پاته شو ، البته په ټولنه کې ورته لږ څه لوړه درجه ورکړل شوه. هغه د يوناني کور ملکه وه ، د هغې د کړنو دايره يوازې د کور د چاپيريال پورې را ټوله شوې وه ، اوپه دې پولو کې هغې ته پوره واکمني ورکړل شوې وه ، د هغې ابرو او عصمت ډير ارزښتناکه و او د قدر او عزت په سترګه ورته کتل کيده. د عزتمندو يونانيانو د کور په ښځو کې د پردې کولو رواج و ، د هغوې ښځې به د ښځو او نارينه و په ګډو محفلونو کې نه را ټوليدې او نه به د خلکو تر مخ د ځان ښودانې په خاطر باهر را وتلې. د نکاح په واسطه د يوه نر سره د ښځې يو ځاې کيدل د ښځې له پاره د شرافت او عزت مقام و. برعکس د يوې بې عصمته او نا پاکې ښځې په توګه اوسيدل ورته د ذلت او رسوايې موجب ښکاريدل. دا د هغه وخت حال دې چې يوناني ولس پوره ځواکمن و او په پوره ځواک سره د پر مختګ او ودې په لور روان و. که څه هم په هغه وخت کې اخلاقي کمزورتياوې موجودې وې خو هغه ټولې په خپلو حدودو کې را نغښتې وې. د ښځو څخه چې د اخلاقي پاکوالي او عصمت کومه غوښتنه په يوناني ټولنې کيې کيدله په هغه اندازه د نارينه و څخه نه کيدله. نه د نارينه و څخه د غسې غوښتنه کيده او نه د هغوې څخه لږ تر لږه د غسې هيله کيدله چې هغوی دې پاکيزه ژوند تر سره کړي. بې عصمته ښځې د يوناني ټولنې يوه نه بيلدونکې برخه وه او د داسې ښځو سره د نارينو اړيکې کوم عيبجن کار نه ګڼل کيده.

بلاخره د يونان په ولس د نفس پالنې او عيش او شهوانيت غلبه پيل شوه او په هغې دور کې بې عصمته ښځو ته هغه مقام او درجه ورکړل شوه چې تر اوسه يې په انساني تاريخ کې نمونه نه ليدل کيږي . د عصمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلورلو مرکزونه د ټولني د ښکته او پورته طبقو دخلکو د راټوليدو ځايونه و ګرځيدل. فلسفيان ، شاعران ، تاريخپوهان ، د ادب او فنونو ماهرين او بالاخره د ټولني ټول ستوري دهمدې لمر تر شاوخوا را څرخيدل.
هغوي نه يوازې د ادب او د علم د محفلونو ستوري شوې بلکې ډير ستر ستر سياسي معاملات او راکړه ورکړه هم دهمدوي په شتون کې تر سره کيدله.
دولس د ژوند او مړينې د پريکړو پورې د تړلو مهمو مسائلو د حل له پاره د هغو ښځو را يو ته ډيرزيات اهميت ورکول کيده چې دوه شيې يې هم د يوه نارينه سره په وفاداری نه تر سره کولې. د ښايست او حسن پالنې ذوق په يوناني ولس کې د شهوانيت اور نور هم تازه کړ. هغوي چې دخپل دې ذوق څرګندونه په کومو مجسمو يا د هنر په بربنډو او لوڅو نمونو کې کوله همغې د هغوي شهوانيت ته نوره هم هوا ورکوله. ان تردې چې د هغوي د ذهنونو څخه دا خبره بلکل ووتله چې شهوت او شهوت پالنه هم کوم عيبجن کار ګڼل کيږي .
دهغوي اخلاقي معيار دومره تبدل شوې و چې دهغوي لوي لوي فلاسفه او د اخلاقو مربيانو هم زنا او فحش کوم قبيح او خراب کار نه ګاڼه . په عامه توګه په يو ناني ولس کې د نکاح خبره يوه غيرضروري مسئله وګرځيده. او د نکاح پرته دنر او ښځې اړيکې يو معقول کار ګڼل کيده چې دپټولو له پاره يې هيڅ اړتيا نه ليدل کيده. دهغوي مذهب هم دهغوي د حيواني غو ښتنو په مقابل کې ماته وخوړه ، د «کام ديويAphrodite» پالنه او بندګي په ټول يونان کې پيل شوه چې دهغې داستان يې په خپلو خرافاتو کې داسې جوړ کړې و چې:
(«کام ديوي» په داسې حال کې چې د يوه «ديوتا» ښځه وه د نورو درې ديوتاګانو سره يې هم اشنايي کړې وه. تر څنګ يې يو فاني انسان هم ددې سره «روحاً» په يو ځاي کيدو کې برخمن و. ددې د نس څخه د محبت «ديوتا» (کيوپډ ) را پيدا شو چې پيدا ايښت يې ددې ښځې او دهغې د عاشقانو دعشق پايلې وې. دا ښځه ددې قوم معبوده و ګرځيده. )
نو تاسې اوس ووينئ چې يو ولس چې دغه ډول فاحشه او بد کاره ښځه نه يوازې د خپل ځان له پاره نمونه و ګرځوي بلکه د معبوديت او پالنې تر پوړ يې ورسوي نو د هغې قوم د اخلاقي معيار پستې به تر کومو پولو پورې رسيږي.
دا د اخلاقي را پرزيدو هغه اندازه ده چې په کې له ورغورزيدو نه وروسته يې هيڅ قوم بيا سر نه شي را پورته کولاې. په هندوستان کې «بام مارګ» او په ايران کې د «مزدوکيت« را څرګنديدل د همداسې انحطاط په وخت کې شوې. په بابل کې فحاشی ته د مذهبي تقدس درجه په همداسې حالاتو کې ورکړل شوه چې دهغې وروسته په نړی کې د بابل نوم د تيرې زمانې د افسانې پرته په بل کوم حيثيت باندې نه اوريدل کيږي.
کله چې په يونان کې د «کام ديوي» عبادت پيل شو نو قحبه(زنا ) ځايونه په عبادت ځايو تبديل شول. فاحشې ښځې معبوداني و ګرځيدلې او زنا پر مختګ وکړ او د يوه مقدس مذهبي فعل پوړی ته ورسيده. د همدې شهوت پالنې يو بل ښکارندوې داو چې په يوناني ولس کې د لوط عليه السلام د قوم په څير وبا خپره شوه. او مذهب او اخلاقو هغه ته ښه راغلاست ووايه. د«هومر او هيلوډ» په وخت کې ددې فعل نوم او نښه هم نه وه ، خو د تمدن د پر مختګ تر څنګ چې کله دهنر او د جمال د ذو ق(Aesthetics ) تر نامه لاندې د بربنډوتوب اودنفس د لذتونو د بندګی ستايل پيل شول نو شهواني جذبې تر دې پولو پورې ورسيدلې چې د فطري لارې نه په تيريدو سره يې يو نانی ولس په غير فطري لاره د خپل شهواني سکون له پاره لټون پيل کړ. هنر پوهانو خپله دغه جذبه په لوڅو مجسمو کې راښکاره کړه. د اخلاقو مربيانو ور ته « ددوه وګړو تر منځ د دوستی د ټينګو ريښو» نوم ورکړ. تر ټولو د مخه هغه دوه يو نانيان چې ددې وړ وبلل شول چې هيواوال يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ياد مجسمې جوړې کړي « هرموډليس او ارستوګيتن» وو چې تر منځ يې د مينې غير فطري (لواطت) اړيکو شتون درلود. د تاريخ له مخې ددې دورې نه وروسته يوناني قوم ته بل کوم داسې دوران بيا نه دی ور په برخه شوی. (خواوسنې دوران يې د هغې پخواني څخه له هره ارخه لويدلې او ډير ناوړه دی. ځکه چې د يونان په ګډون په زيات شمير اروپايي هيوادونو کې د نارينه و تر منځ د غيرې فطري اړيکو (لواطت ) شتون اوس قانوني بڼه نيولې ده. ژباړن)

روم:

له يو نانيانو وروسته د روم ولس په نړۍ کې د عروج او لوړتيا سترو مرتبو ته ورسيد . دلته هم هماغسې د لوړتيا او ځوړتيا انځور زمونږ مخې ته راځي چې د يوناني ټولنې په اړه مو ولوست. کله چې رومي ولس د وحشت له تيارو څخه را ووت او د تاريخ په روښانه منظر باندې را څرګند شو نو د هغوې د ټولنيز ژوند انځور دا و چې نارينه د خپلې کورنۍ سردار دی ، هغه پر خپلې ښځې او کوچنيانو باندې د ملکيت پوره پوره حقوق لري بلکې په ځينو وختونو کې هغه د خپلې ښځې د وژلو واک هم لري.

خو کله چې وحشت را کم شو او په تمدن او تهذيب کې روميانو پر مختګ وکړ ، نو که څه هم پخواني کورني نظام هماغسې پاته و خو دهغې په سختيو کې څه کمښتونه را غلل او تر ډيره ځايه پورې يې داعتدال حالت و مند . د رومي جمهوريت د عروج په وخت کې که څه هم د يونان په څير د پردې او حجاب رواج نه و خو ښځه او ځوان نسل د کورني نظام پورې را محدود کړل شوي وو. د ښځې له پاره عصمت او عفت يو ارزښتناکه څيز و او د شرافت ستر معيار ګڼل کيده. د اخلاقو معيار کافي پورته و ، يو ځل د روم د سنا دغونډې يوه غړي خپله ښځه د خپلې لور تر مخ ښکل کړه دهغې دغه عمل د ولسي اخلاقو تو هين او سپکاوی و ګڼل شو او د سنا په غونډه کې د هغې د ملامتولو له پاره اواز پورته کړل شو.

د ښځې او د نر تر منځ د اړيکو شريفانه لار د نکاح پرته بله نه وه. يوه ښځه هغه وخت د عزت وړ ګڼل کيده چې هغه د يوې کورنۍ مور ( Matron ) وي. که څه هم هلته عصمت پلورونکو ښځو شتون درلود او يو شمير نارينه و دهغوی سره ناروا اړيکې هم درلودل خو د عامو روميانو په آند دا يوه ذليله طبقه وه او دهغوی سره د اړيکو ساتونکي نارينه و ته هم په ښه سترګو نه کتل کيدل.

د تهذيب او تمدن د پر مختګ سره سره د ښځې په هکله د روميانو په آند کې هم بدلونونه را غلل او ورو ورو نکاح ، کورني نظام او د طلاقو په قوانيو کې د پخوا پرخلاف دومره زيات تغيرات را پيدا شول چې په حالاتو کې يې پوره پوره بدلون راوست .

نکاح يوازې د يوه قانوني تړون(Civil contract ) په څير پاته شوه او پايښت يې هم د دواړو اړخونو د رضامندۍ پورې منحصر و . د ازدواجي اړيکو مسئوليتونه ډيره ساده ګڼل کيده ، ښځو ته د وراثت او مال د ملکيت پوره پوره حقوق ورکړل شول او قانو ن هغه د پلار او ميړه د واکمنۍ څخه بلکل ازاده کړه.

رومي ښځې نه يوازې په اقتصادي توګه خپلواکې شوې بلکې د ولسي دولت ډيره برخه دهغوی په واکمنۍ کې ورغله ، هغوی به خپلو ميړونو او نارينه و ته په ډير زيات سود باندې پورونه ورکول. د شتمنو ښځو ميړونه به په عملي توګه د هغوی غلامان ګرزيدل ، طلاق دومره اسان او ساده شو چې په وړو وړو خبرو به دا پيوند ماتيده .

يو مشهور رومي فيلسوف او پوه «سنيکا ۴ ق م-۲۵ق م» په ډيره کلکه توګه د روميانو تر منځ د طلاقو په زيادښت باندې انديښنه ښکاره کوي . هغه وايي چې اوس د روم په ولس کې طلاق د شرم خبره نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځوبه دخپل عمر حساب دخپلو میړونو په شمیر باندې کاوه، په هغه وخت کې به ښځو یو په بل پسې څو څو ودونه کول [اوس هم هماغسې دود او رواج شتون لري، بلکه تر هغې زیات.«ژباړن»]
(مارشل ۴۳ز-۱۳۰ز) د یوې ښځې یادونه کوي چې لس میړونه یې کړي و. (جودنیل ۶۰ز۱۳۰-ز) د یوې ښځې په اړوند لیکي چې هغې په پنځه کالو کې اته میړونه بدل کړي. (سنتې جروم ۳۴۰ز۴۲۰-ز) د یوې ډیرې هنرمندې ښځې حالات څرګندوي چې اخري ځل یې دیرشم میړه کړی و او دا دهغې د اخري میړه یوویشتمه ښځه وه، په هغې وخت کې د ښځې او نر تر منځ له نکاح پرته اړیکې ساتل شرم نه ګڼل کیده ان تردې چې د اخلاقو سترو سترو مربیانو هم زنا یوه معمولي څیز ګاڼه.
(کاټو **Cato**) چې په (۱۸۴ ز) کال په روم کې د اخلاقو محتسب ټاکل شوی و په ښکاره توګه یې د ځوانۍ بې لارې توب سهي کړچار ګاڼه او د سسرو په څیر وګړو خو بیا د ځوانانو له پاره د اخلاقو په پولو کې د نرمۍ سپارښتنه کوله، ان تردې چې (**Epictetus**) چې په (**Stoics**) فلسفیانو کې د سختو اخلاقي اصولو ساتونکې ګڼل کیږي خپلو پیروانو ته لار ښوونه کوي چې د واده تر مخه د ښځې سره دخبرو اترونه ځان په څنګ و ساتي، خو هغوی چې په دې هکله خپل ځان و نه شي ساتلای باید ملامت هم نه کړل شي.
هغه وخت چې د اخلاقو او معاشرت اړیکې او بند دومره کمزوري شو نو بیا په روم کې د شهوانیت، لوڅوالي او فواحشو سیلاب راغې، په تیاترونو کې بې حیایي او لوڅوالي پیل شو. لوڅ او بربنډ انځورونه د هر کور د ښایست له پاره اړین و ګڼل شول. د زنا بازار دومره اوج ته ورسید چې د قیصر( ټائبیزئس ۴۱ز ۳۷-ز) د واکمنۍ په وخت کې د عزتمندو کورنیو د ښځو د فحاشۍ نه د مخنیوي په خاطر قوانین جوړ کړل شول.
(**Flora**) نومې لوبه د رومیانو تر منځ ډیره مشهوره وه، څکه چې په دې لوبه کې به بربنډو ښځو د څغاستې مقابله کوله، دښځو او نرو لوڅ یو ځای غسل هم په دې وخت کې په پوره اوج کې و. په رومي ورځپاڼو او مطبوعاتو کې لوڅ انځورونه او د فحشاو په هکله لیکنې پرته له کومې ستونځې خپریدې، او په عوامو او خواصو کې هماغه ادب ډیر مقبول و چې په کې د استعارې او کنایې پوره پرده نه ساتل کیده.
دحیواني غوښتنو په مقابل کې د سر ټیټولو وروسته د روم د عظمت او لویې قصر داسې پر ځمکه را پریوت چې یوه خښته یې هم په ځای پاته نه شوه.

## مسیحي اروپا:

د غربي نړۍ ددې اخلاقي زوال د مخنیوي او علاج په خاطر مسیحیت ډګر ته را ودانګل چې په لمړیو کې یې په زړه پورې خدمت تر سره کړ. د فواحشو مخنیوي یې وکړ. لوڅوالي او بربنډتوب یې د ژوندانه له ټولو څانګو څخه وویست، د زنا دمخنیوي له پاره یې تدبیرونه جوړ کړل، عصمت پلورونکو، سندرغاړو او نڅاکونکو ښځو د خپلو دندو نه توبه وویسته او په خلکو کې یې پاک او سپیڅلي آند را پیدا کړ. خو د ښځې او صنفي اړیکو په هکله چې مسیحي مشرانو کوم لید درلود نو هغه د انتها غوښتنې څخه هم اخوا و او په حقیقت کې د انساني فطرت پر خلاف د جنګ پیلامه وه. دهغوی بنسټیز آند داو چې ښځه د ګناه مور او د بدیو جرړې او ریښې دي، د نارینه و له پاره د ګناه په لور د تګ سر چینه او د ددوزخ دروازه ده، د ټولو انساني مصیبتونو پیلامه له همدې څخه پیلیږي. دهغه ښځینه حیثیت پخپله دهغې د شرم له پاره بسنه کوي. هغه باید په خپل حسن او ښایست باندې و شرمیږي او دا ځکه چې هغه د شیطان لویه وسیله ده هغه باید ټول عمر په کفاره ورکولو کې تیر کړي ځکه چې هغې په نړۍ او نړیوالو باندې لعنت او مصیبت راوړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«ترتولیان Tertullian» چې د مسیحي لومړیو امامانو څخه و د ښځې په هکله د مسیحي آند ژباړنه په دې ټکو سره کوي:

[هغه د شیطان د راتلو دروازه ده ، هغه دمنه کړل شوي ونې په لور ورونکې «د الله جل جلا له» د قانون ماتوونکې او د «د الله جل جلا له» دانځور «نارینه» لوټونکې ده.]

«کرای سوستم Chrysostom» چې د مسیحیت دسترو اولیاؤ څخه شمیرل کیږي د ښځې په هکله وایي چې:

[ښځه یوه نه غوښتونکې بدي ، یوه پیدا ایښې وسوسه ، یو خوندور افت ، یوه کورنۍ خطره ، یوه غارت کوونکې زړه وړونکې او ښایسته مصیبت دی.]

دهغې بل آند دادې چې د نر او ښځې تر منځ اړیکې، که هغه دنکاح په بڼه هم وي ،په خپل ځای یو نجس او ناولې او د نیوکې وړ کار دی. د اخلاقو دا را هبانه لید د پخوا نه د اشراقي فلسفې «یا Neo- Platonism » تر اغیز لاندې په غربي نړۍ کې خپلې ریښې ټینګولې. خو د مسیحیت په را تګ سره هغه خپل حد ته ورسیدلې.

اوس تجرد او پیغلتوب د اخلاقو معیار وګرځید . خو د واده ژوند د اخلاقو له اړخه پست او ذلیل. خلکو د واده نه ځان ساتل تقوي ، تقدس او د لوړو اخلاقو علامه ګڼله. د پاک ژوند د تیرولو له پاره دا اړینه ګڼل کیده چې یا خو باید یو څوک بلکل واده و نه کړي او که نکاح یې کړې هم وي نو میره او ښځه دې یو د بل سره د ښځې او میړه په څیر اړیکې نه ساتي . په ډیرو مذهبي غونډو کې دا قوانین جوړ کړل شو چې د چرچ مسئولین باید د خپلو ښځو سره په ځانته ځاې کې و نه ویني. د ښځې او میړه تر منځ لیده کاته باید په یوه ازدا ځای کې په داسې حال کې تر سره شي چې هلته دوه درې نور کسان هم شتون ولري. د ازدواجي اړیکو د ناولتوب فکر به دمیسحیانو په زړونو کې د بیلا بیلو لارو څخه ور ترزیق کیده. د نمونې په توګه یوه قاعده داوه چې په کومه ورځ چې په چرچ کې میله جوړیده نو هغه ښځې او میړه ته په کې د ګډون حقوق نه ورکول کیده چې ددې میلې تر مخه به یې یو ځای شپه تیره کړې وه. دا داسې بریښیده چې ګویا هغوي کومه ستره ګناه کړې وي او ددې ګناه نه وروسته هغوي په کومې مقدسې مذهبي میلې کې د برخې اخستلو حق او ورتیا نه لري. دغې را هیبانه آند او لید ټول کورنې اړیکې ( ان د مور او زوي تر منځ اړیکې) ترخه او پیچلې کړل. او ټولې هغه خپلوئ چې د نکاح په پایلو کې را منځته شوې وي ګندګې ، غلاظت او ګنا و ګڼل شوې.

دغه دواړو آندونو نه یوازې د ښځې اخلاقي او ټولنیز حیثیت د حد نه زیات را وغورځاوه ، بلکې مدني قوانین یې دومره اغیزمن کړل چې له یوه پلوه ازدواجي ژوند د ښځو او نرو له پاره یو مصیبت و ګرځید او د بل پلوه په ټولنه کې د ښځې حیثیت او مرتبه په هر اړخیزه ډول را پریوته .

د مسیحي کړنلارې څخه اغیزمن ټول قوانین چې په غربي نړۍ کې جارې کړل شوې دې لاندې ځانګړتیاوې لري:

د اقتصادي اړخه یې ښځه بلکل بې واکه کړه او د نارینه په ولکه کې یې وغورځوله.

د وراثت او میراث په برخه کې یې دهغې حقوق را محدود کړل او په ملکیت کې یې له هغې نه نور هم زیات را و نغاړل. ان تر دې چې ښځې د خپلې لاس په ګټې باندې هم واک نه دلود بلکې دهغې د هر څه مالک دهغې میړه وګرځید .

د طلاق او خلع حقوق هم ترې واخستل شول او په دې هکله ورته د رجوع کولو اجازه نه وه ، هر څومره اختلافات به چې د ښځې او میړه تر منځ را پیدا کیدل او یا به که څه هم کورنې ژوند د اختلافاتو په پایلو کې ددوزخ په څیر سوزیدونکې ګرزیده ، خو دمذهب او قانون له مخې هغوي په یو ځای ژوند کولو مجبور وو. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينو ډيرو نابيره حالاتو کې يو اځې دومره لاره پيدا کيده چې د ښځې او نر ترمنځ بيلتون( Separation )
يو اځې يو له بله ځخه په جدا او سيدو باندې منتج شي. ددې ډول بيلتون وروسته دهغوې دواړو ځخه يوه
ته هم د بلې نکاح کولو واک نه و. او دا حالت د پخوانى حال ځخه هم بدتر و. چې يا خو دواړه تول عمر راهب
او راهبه شي او يا خپل پاته عمر په زنا او فحشا کې تير کړي. د ميړه د مړينى نه وروسته او يا د ښځې د مړينې
نه وروسته بله نکاح يو عيبجن کار ګڼل کيده ، مسيحي علماؤ به ويل چې دا يوازى او يوازى د حيواني غو
ښتنو او هوسونو بندګي ده. دهغوې په ژبه دغه کار ته « مهذبه زنا » ويل کيده. د کليسيا په قانون کې مذهبي
مشرانو او مسؤلينو له پاره دوبيمه نيکاح يو جرم ګڼل کيده. په عامو ملکي قوانينو کې په ځينو ځايونو کې
هغه ته له يوه مخې اجازه هم نه ورکول کيده. خو په کومو ځايو کې چې قانون اجازه ورکوله نو هلته د عامو
خلکو آند چې د مذهبي اغيز لاندې و دغه کار روانه نه ګاڼه.

نوي اروپا:

کله چې په اتلسمه پيړۍ کې د اروپا علماؤ او فليسوفانو په تولنه کې د وګړي د حقوقو په ملاتړ خپل اواز
پورته کړ او د شخصي ازادۍ شپيلۍ يې پوه کړه نو دهغوې په وړاندې د تمدن هماغه غلط نظام و چې د
مسيحي اخلاقي نظام او دژوند د فلسفې او د فيوډالي سيستم( Feudal System )دمنحوس او نا پاکه
مثلث ځخه راتو کيدلې و. په دې مثلث کې انساني روح په غير فطري زنځيرونو کې را نغښتې او د پر مختګ
تولې دروازې يې ورته بندي کړې وې. ددې نظام ماتولو او دنوې نظام د جوړولو له پاره چې د نوې اروپا
پوهانو او معمارانو کوم نظريات وړاندې کړل د هغې په پايلو کې د فرانسې لوې انقلاب منځته راغې او
دهغې وروسته د غرب تهذيب او تمدن د پرمختګ په هغو لارو روان شو چې اغيز يې په ننې منزل کې تر
سترګو کيږي.

ددغه نوې دور په پيل کيدو سره د ښځينه تولنې د را پورته کولو له پاره چې څه وشول هغه په تولنيز ژوند
ډير ښه اغيز وکړ. د نکاح او د طلاق دپخوانيو قوانينو سختئ را کمې کړاې شوې. د ښځو اقتصادي حقوق
چې پخوا ترې بلکل اخستل شوې و تر ډيره حده پورې بيرته ورکړل شو. او هغه معيارونه اصلاح کړل شو د
کومو له مخې چې ښځه ذليله او سپکه ګڼل کيده. د تولنې په هغه قوانيو کې چې په کې ښځې يوازې د
وينځې حيثيت درلود ، اصلاح وکړل شوه. د لوړو ښونو او روزنو دروازې لکه د نارينه و په څير د ښځو تر
مخ هم پرانستل شوې ددې تدابيرو له مخې د ښځو هغه وړتياوې چې د تولنيزو غلطو قوانيو او د جاهلانه
غلطو اخلاقي تصوراتو په واسطه تر فشار لاندې راغلې و بيرته را وتوکيدل. هغوې خپل کورونه ښايسته
کړل ، په تولنه کې يې پاکيزه والې را پيدا کړ او د عمومې رفاه له پاره يې ډير ګټور کارونه تر سره کړل. د
عامه روغتيا پالنې پر مختګ ، دنوې نسلونو پالنه او روزنه ، د ناروغانو پالنه ، کورني فنونو ته وده ورکول
.... دا تول د هغه بيدارئ لومړى ميوه وه چې د نوې تهذيب په واسطه ښځو ته ور رسيدلې وه. خود هغو نظرياتو
دمتن نه چې دا نوې غورځنګ را توکيدلې و په هغې کې د هماغه لومړى ورځې ځخه د افراط په لور ميلان
موجود و. په نولسمه پيړۍ کې دې ميلان په ډيره ګړندۍ توګه پر مختګ وکړ او شلمې پيړۍ ته په رسيدو
سره غربي تولنيز جوړښت د بې اعتدالۍ يوې بلې انتها ته ورسيد.

دنوې غربي تولنى درې اصول:

هغه ليد چې د غربي تولنې بنسټ پرې ايښوول شوې ددې عنوانو لاندې څيړل کيږي:

د ښځو او نرو ترمنځ برابر والې.

د ښځو اقتصادي خپلواکي(Economic Independence )

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددواړو صنفونو ازادان اختلاط.
هغه پايلې چې د ټولنې د جوړښت له پاره ددغه درې اصولو څخه تر لاسه کيدل غوښتل هغه بلاخره را په ډاګه شول.
دبرابرۍ د اصل نه دا موخې تر لاسه شوې چې نر او ښځه نه يوازې دا چې په اخلاقي پولو او انساني حقوقو کې يو له بله سره برابر دي بلکه د تمدن په پر مختګ کې ښځه هم بايد همغسې رول ولوبوي لکه څنګه يې چې نر لوبوي. اخلاقي بنديزونه دې د ښځو له پاره هم همغسې نرم کړل شي لکه څنګه چې د نارينه و له پاره نرم کړاي شوي دي.
د مساوات او برابرۍ دغه غلط آند ، ښځه د خپل هغه فطري دندو څخه غافله او بې لارې کړه چې په پاينښت پورې يې دتمدن او انسانيت لړۍ تړلې ده. اقتصادي ، سياسي او ټولنيزو کړچارو د هغې شخصيت په مکمله توګه په خپل ځان کې جذب کړ ، ټاکنيزو منډو ترړو ، په دفترونو او کارخانو کې ماموريت ، په ازدو تجارتی او صنعتی معاملو کې د نارينه و سره مقابله ، په سپورتي مسابقو کې ګډون ، د ټولنې په تفريحي کړو وړو کې فعاله ونډه ، دکلب ، ستيج ، نڅا او سرود مصروفيتونه ، دا او داسې نور ، د نه ويلو شيان ، په هغې باندې داسې اغيز کړې چې دهغې د ازدواجي ژوند فعاليتونه ، د خپلو کوچنيانو روزنه ، دکورنۍ خدمت ، د کورنۍ نظم او نسق او ..... ټول دهغې د عمل د ساحې څخه بيرون پاته شول بلکه په ذهني توګه يې د خپلو اصلي او فطري مصروفيتونو او وجايبو څخه کرکه پيدا کړه.
اوس په غربي ټولنو کې کورني نظام چې دتمدن د بنسټ د تيږې په څير دي په ډيره بده توګه د خپريدو او له منځه تللو په لور روان دي. کورني ژوند چې په سکون او ډا ډ يې د انسان د کړو وړو نشونما تړلې ده ، عملا پايې ته رسيدلې دي. دنکاح ربښتې چې دتمدن په خدمت کې د ښځې او نر تر منځ د اړيکو غوره لاره ده د غنې د تار نه هم زياته کمزورې شوې ده ، د نفوسو د ډيرښت مخنيوې د ولادت دکنټرول ، دحمل دضايع کولو او د مور په رحم کې د کوچنې د وژلو لارې چارې او ..... دا اخلاقي برابرۍ دغو غلطو خيالاتو د ښځو او نرو تر منځ د بداخلاقۍ برابري را پيدا کړې. هغه بې حيايې چې کله به د نارينه و له پاره هم د شرم وړ وو اوس هغه د ښځو له پاره بلکل د شرم وړ نه بريښي.
دښځو اقتصادي خپلواکۍ هغوې د نارينه و څخه بې پروا کړې دي ، هغه پخواني اصول چې نر دې يې و ګټي او ښځه دې د کور نظم جوړ کړي اوس په يوې نوې قاعدې اوښتې چې ښځه او نر يې دواړه بايد و ګټي او د کور نظم بازار ته وسپارل شي. ددې بدلون نه وروسته ، ددواړو په ژوندون کې د شهواني اړيکو پرته نورې کومې داسې اړيکې نه پاته کيږي چې دهغې په درلودلو سره دوې دواړه به يوځاې اوسيدو مجبور کړي. او ښکاره ده چې يوازې د شهواني غوښتنو پوره کول داسې کوم کار نه دی چې دهغې له پاره نر او ښځه حتماً خپل ځانونه په تل پاتې اړيکو کې را ونغاړي او يا د يوې کورنۍ په جوړښت سره ګډ ژوند پيل کړي. هغه ښځه چې خپله روزي په خپله پيدا کوي او دخپلو ټولو اړتياو کفالت په خپله کوي او په ژوند کې د نورو ساتنې او مرستې ته اړتيا و نه لري نو هغه به ولې يوازې د دخپل شهواني تسکين په خاطر د يوه نر پورې ځان تړي او يا به ولې په خپل ځان ډير دا ډول قانوني او اخلاقي بنديزونه عايدوي او ولې به د يوې کورنۍ د مسؤليتون په بار ځان درونوي؟ په داسې حال کې چې د اخلاقي برابرۍ آند دهغې له مخې ټول هغه بنديزونه لرې کړي دي چې هغې ته د ازدۍ او شهوت پالنې د لارو په غوره کولو کې خنډ واقع کيږي؟ هغه د خپلو غوښتنو د تسکين له پاره اسانه ، د مزو او خوندونو نه ډکه لاره پرانيزي او د مسؤليتونو ، قربانيو د روند او ستونزمن بار څخه ډکه د قيانوسي زړه اوپاتې لار (**Old Fashioned**) د خپلو لو څخه ځان ساتي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګناه خيال د مذهب سره يو ځاى له منځه تللي ، ټولنيزه ويره هم په دې اساس چې ټولنه اوس هغه د فاحشې او بدلارې ښځې په نوم نه ملامتوي ، له منځه تللې ، اخري خطر چې د يوه حرامي بچي پيدا کيدل و نو دهغې ښځه د ځان ساتنې لارې، د حمل د منه کولو لارې او وسايل شته خو که ددې وسايلو د استعمال سره سره بيا هم حمل صورت و نيسي نو دهغې د اسقاط او ضايع کيدو په هکله هم کومه ستونزه نه پيدا کيږي او که په هغې کې هم بريا تر لاسه نه کړى نو بيا په پټه خوله د کوچنى د وژلو کار هم په ډيره اسانه توګه کيداى شي او که چيرې د مورنى جذبې په اساس چې «تر او سه لا په پوره توګه له منځه نه ده تللې» کوچنې د وژلو او هلاکيدو ځخه خوندى شي نو د حرامي بچي په ساتلو او پيدا کولو کې هم کوم شرم نه احساسيږي، ځکه چې اوس يوازې د پيغلې او ناجايز بچي په هکله دومره تبليغات شوي چې ټولنه هغه ته د کرکې په نظر د کتو جرئت هم نه شي کولې او که څوک داسې جرئت هم وکړي نو د «تيار فکري» دالزام لاندې به را ځې.
دا هغه شيان دي چې د غربي ټولنې بنسټ «کورني نظام» بې له بيخه نړولي . نن په هر هيواد کې په سلونو زره ځواني ښځې يواځې ژوند خوښوى ، او خپل ژوند د ازاد شهوت له لارې پرمخ بوزي ،دوې تر منځ يو شمير ښځې داسې دي چې په عارضي ډول د محبت د جذبې تر اغيز لاندې واده کوى خو څرنګه چې د شهوانی اړيکو پردته د نر او ښځې تر منځ کومې داسې اړونده اړيکې نه دي پاته شوي چې هغوي په خپلو کې د ازدواجي ژوند په تيرلو مجبور کړى نو په دې خاطر د نکاح په تړون کې اوس کوم پايښت نه موندل کيږى.
ښځه او ميړه چې اوس يو د بل څخه بلکل بې پروا شوي دي د خپلمنځې اړيکو دمراعاتولو په خاطر هيڅ ډول جوړجاړې ( Compromise ) ته تيار نه ښکارى. ښکاره ده چې يوازې شهواني جذبات ډير زر سړيږي او بيا لږ اختلاف او ډير کله صرف سړې اړيکې دهغوي تر منځ د بيلتون له پاره بسنه کوي. همدا علت دې چې د ډيرو زياتو نکاحګانو پاې طلاق يا تفريق ته رسيږي. دحمل مخنيوي ، اسقاط ، د اولاد وژنه ، د پيدا ايښت په سلنه کې کمښت او د ناروا بچيانو ورځ په ورځ زياتيدونکې شمير تر ډيره حده پورې دهمدې لامل پورې تړلې دي.
بدکاري ، بې حيايې او د خبيثه ناروغتياو په پرمختګ او زياتوالي کې هم همدغې حالت ډير زيات رول لوبولى دي ، دښځو او نرو ازادانه اختلاط ، په ښځو کې د ښکلا ننداريې ، لوڅوالې ، بربنډ توب او فحاشى ته ډيره وده هم همدې لاملونو ورکړې ده.
صنفي ميلان ( Sexual Attraction ) چې په فطري توګه د نر او ښځې تر منځ له مخکې نه شتون لري او پوره ځواکمن دى ددواړو اړخونو د ازادانه اختلاط داسانتياو سره چټک پر مختګ کوي او په داسې يوې مخلوطي ټولنه کې په طبيعي توګه دا جذبه په دواړو صنفونو کې ځواکمنه کيږي چې د مقابل جنس له پاره خپل ځان ډير جذبونکې جوړکړي. داخلاقي نظرياتو د بدلون وروسته دا کار عيب نا که هم نه دې او په ښکاره توګه ځان سينګارول او په زړه پورې( Attractive ) جوړول د خلکو له نظره ښه ښکاري. نو دحسن او جمال د ښکلا دغه ننداره ورو ورو ټولې پولې او بنديزونه ماتوى او دلوڅوالي او بربنډتوب اخري حد ته په رسيدو سره د ارام ساه اخلي. په غربي تهذيب کې اوس همدا کيفيت را پيدا شوي. د مقابل لورې د جذبولو له پاره دمقناطيس دغه ځانګړتياوي په ښځينه طبقه کې دومره زياتې شوې او ورځ په ورځ په پر لپسې تو ګه داسې زيا تيږى چې د شوخ لباس ، د رنګونو او سرخيو او سينګار په نوى الاتو او سامانونو دهغوي تنده نه ماتيږى په دې خاطر هغه بيچاره په تنګ شي او د خپل لباس څخه ځان بيرون را وکاږي. ان تردې چې کله کله يو تار هم په ځان نه پريږدى او بل اړخ ته د نارينه و له لورې هم هر وخت د « هل من مزيد » غوښتنه وى په دې خاطر چې هغه اور چې په جذباتو لګيدلې هغه د حسن په هرې بې حجابى سره نه مړ کيږې بلکې نور هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرښت مومي او دنوري بې حجابۍ غوښتنه کوي. دهغې غريبانو تنده هم وخت په وخت زياتيږي. داسې لکه ځوک چې جل وهلي وي او د اوبو هر غړپ يې دتندې د ماتولو په ځاي دديې اور لمبې نورې هم زياتوي .تردې حده چې د زياتي شهواني تندې ځخه بې تابه ، هر وخت د هر ې ممکني لارې ځخه دهغې د تسکين سامان او وسايل را پيدا کوي.

دا لوڅ انځورونه ، دا شهواني کتابونه ، دا دعشق او محبت قصې ، دا لوڅه دوه ګوني نڅا ، د شهواني جذباتو ځخه ډک فلمونه.....اخر دا ټول څه دی ؟دا خو ټول ددې اور د وژلو سامان نه بلکې په اصل کې ددې اور د لمبو د نوروزياتولو سامانونه دی چې دژوند دغې غلطې تګلارې د ټولنې د هر وګړې په سينې کې ورتومبلي دي.

او بيا يې د خپلې دغې کمزورتيا د پټولو به خاطر په هغې د هنر(Art )نوم ايښې دي.

دا وېښه(کوچنې چينجيان ) په ډيره چټکتيا سره د غربې ټولنو دژوند ځواکمنې خوري. ددې وېښو د لګيدو نه وروسته هيڅ قوم اوولس خوندې نه پاته کيږي. دا ټول هغه ذهنې او جسمانی ځواکونه يو په بل پسې له منځه وړي چې قدرت انسانانو ته د ژوند او پر مختګ له پاره وربښلي دي. ښکاره ده چې کوم وګړي چې دهرې لورې ځخه په شيطاني محرکاتو کې را ګيروي او جذبات يې هره لحظه د يو نوي تحرک او اشتعال سره مخ کيږي او په چا چې د سخت هيجانی چاپيريال خپسکه راخپره شوي وي او د چا لوڅ عکسونه ، فحش کتابونه ، راپاروونکې سندرې او ګډې نڅاګانې د مينې او محبت فلمونه ، زړه وړونکې ننداري او د مقابل لورې ځخه د ليدنې او ملاقاتونو پر لپسې زمينې دهغه احساس تل په جوش را ولي نو هغه به دکوم ځايه دامن ،سکو ن او ډاډ هغه حالت په ځان کې را پيدا کړي چې د تعميري او تخليقي کارونو له پاره ورته اړتيا ليدل کيږی او نه يوازې دا بلکه ددغسې هيجاناتو په منيځ کې به هغه ته او په ځانګړې توګه د هغه ځوان نسل ته هغه يخه او دسکون نه ډکه فضا له کومه او څنګه ميسره شي چې دهغې د اخلاقي او ذهني قوتونو د ودې له پاره ورته اړتيا ده.

دانساني فکر دردونکې سرغړونه:

ددرې زره کلن تاريخي لوړتياو او ځوړتياو او لوړو او ژورو دغه پر لپسې داستان د ځمکې د يوې ستري برخې پورې اړه لري چې د پخوا ځخه ددوه سترو تهذيبونو زانګو شميرل کيږي او اوس هم دهغې د تهذيب ډنډورې په نړۍ کې وهل کيږي. همدا ډول افساني په مصر ، بابل ، ايران او څه نورو هيوادونو کې هم شتون لري او پخپله زمونږ په هيواد هندوستان(دا کتاب د هندوستان د ويش نه مخته ليکل شوې دې ) کې هم دپيړيو پيړيو را هيسې په همدغه ډول افراط او تفريط سره شتون لري او دغه هيواد بې په خپل ځان کې را نغاړلي دې.

له يوه اړخه ښځه خدمتګاره او نر دهغې مالک او بادار دې ، هغه په کوچينوالي کې د پلار ، په ځوانۍ کې د ميړه او په کونډتون کې د اولاد مملوکه وی. هغه د ميړه په خاطر دهغه د مړي سره يو ځاي په اور کې سوځول کيږي ، د وراثت او ملکيت د حقوقو نه بې برخې شوې. په هغې د نکاح داسې سخت قوانين ورتپل شوي چې دهغې له مخې هغه دخپلې خوښې او رغبت پرته يو نارينه ته ورحواله کيږي او بيا د خپلې اخري سلګۍ پورې دهغې د ملکيت ځخه نه شې وتلاي. همدا راز هغه د يهودو او يونانيانو د ګروهو په څير د ګناه ، اخلاقي او روحاني ذلت مجسمه ګڼل کيږي او دهغې د ځانګړې شخصيت د منلو ځخه انکار کيږي. خو د بله اړخه کله چې د هغې په لور د محبت په نظر کتل کيږي نو بيا د حيواني غوښتنو له پاره د لو بو اله ګرځي. هغه د نر په اعصابو باندې سپريږي ، داسې سپريږي چې په خپله هم ډوبيږي او ټول ولس هم له ځانه سره ډوبوي.

دا د شرم د ځاي(دتناسل د الې ) عبادت کول او په عبادت ځايو کې لوڅې مجسمې درول، دا مذهبي فحاشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

(Religious Prostitutes ) ، دا دهولي لوبې ( Holly Play دهندوانو درسم رواج يوه لوبه ده چې ښځې او نر په کې يو د بل سره يو ځای نڅاوې کوي او يو په بل رنګونه شيندی او ..... ) او ددريابونو نيمې لوڅې( او يا پوره لوڅې ) لامبوګانې اخر دکوم شي يادونه ده ؟
که چيرې دا ټول داستان په غور سره وکتل شی نو معلومه به شي چې د ښځې په هکله دعدل ټکې ميندل ، او په هغې پوهيدل ، او په هغې باندې ټينګ دريدل د انسان له پاره خومره ستونزمن ثابتيږي. دعدل نقطه دا هم کيدای شي چې د يوه اړخه نه ښځې ته دخپل شخصيت او ورتياو د ودې پوره فرصت په لاس ورشي او ددې ور وګرځی چې د ډيرو پر مختللو صلاحيتونو سره يو ځای د انساني تمدن په ارتقاء او پر مختګ کې خپله ونډه ادا کړې او له بله اړخه د اخلاقي تنزل او انحطاط ذريعه و نه ګرځي او نه د انساني تنزل له پاره دتباهی اله جوړه شي. بلکه د نر سره يوه سوی ځای ورته د تعاون او بسپنې داسې لارې و ټاکل شي چې ددواړو ګډ عمل د تمدن له پاره صحتمند واقع شي. دعدل همدغه نقطه ده چې نړی يې د موندلو پسې د پيړيو پيړيو راهيسې سرګردانه ده ، خو تر اوسه پورې يې په موندلو نه دې بريالي شوې .کله د يوې انتها په لور درومي او دانسانيت پوره نيمه برخه بيکاره ،په تورور ترورږميو کې پريږدي او کله بيا دبلې انتها په لور درومي او د انسانيت دواړه برخې را يو ځای کوي او د پرزيدو او ډوبيدو په لور يې بيايې.
اما د عدل نقطه ناپيدا نه ده ، شتونه لري ، خو د زرګونو کالود افرا او تفريط تر منځ د ګردش کولو په اساس دخلکو سرونه د ومره ګنګس شوي چې ددې نقطې په مخته را تلو کې يې هم نه شي پيژندلای او نه په دې پوهيدلای شي چې دا هماغه مطلوب شی دې چې زمونږ فطرت يې د ميندلو په لټه کې و . کله چې دغه رښتيا او حقيقت ورته مخته راځي نو مخ ترې اړوي په هغې باندې ډول ډول اوازونه کوی او د چا سره چې هغه په نظر راشي نو بيا دهغې د شرمولو هڅې کوي. ددې مثال دهغه کوچنی په څير دې چې د ډېرو د سکرو په کوم کان کې پيدا شوی وی ، همل ته د ځوانی عمر ته رسيدلی وي نو څرګنده ده چې هغې ته هماغه اوبه او هوا اوهماغه توره تياره فضا يو فطري شي ښکاري. خوکله چې هغه د کان څخه بيرون را وويستل شي نو د طبيعت په پاکيزه فضا کې چې هر شې ويني نو حتماً به يې د لمرې ځل له پاره په ليدلو دحيرانتيا سره مخ کيږي. خو انسان اخر انسان دې دهغې سترګې به د سکرو د کان د چت او د ستورو د ډک اسمان تر منځ د توپير د محسوسولو څخه تر کومه وخته انکار وکړای شی. دهغې سږې به تر کومه د ناولې او چټلې او دپاکی او صافي هوا تر منځ توپير نه کوي ؟

## داوسني وخت مسلمان:

که د افراط او تفريط په کړه لاره کې ولاړه، لالهنده او سرګردنه نړی ته څوک د عدل او انصاف په لور لارښوونه کولای شي نو هغه يوازې مسلمان دې. ځکه چې دهغه سره د ټولنيز ژوند د ټولو غوټو دخلاصون او پرانستو د حل لاره شته خو د نړی د بدنصيبی يو عجيب او دردناک اړخ دادې چې د هغه چاسره چې د دغې تيارې ځراغ او روښنايې موجوده ده هغه کمبخت پخپله د شپې ړنديدو(شبکوری) په ناروغی اخته شوې. نورو ته لارښوونه خو پريږده پخپله د ړندو په څير تنيدوکونه خوري او دهرې بې لاری پسې منډې وهي.
دپردې يا حجاب اصطلاح چې د کومو احکامو د مجموعي عنوان په توګه استعماليږي په اصل کې هغه داسلام د ټولنيز نظام په خورا مهمو برخو مشتمل دې که ددې مکمل او بشپړه نظام په قالب کې دغه احکام په سهي ځای کې کينبول شي نو هغه وګړي چې لږ هومره هم د فطريي ليد او بصيرت خاوندان وی په دې داعتراف کولو پرته نه شي پاته کيدای چې په ټولنيز ژوند کې له دې پرته د اعتدال او برابری بله کومه لار نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شته او که چیرې دا ضوابط د خپل اصلي روح سره یو ځای د ژوند برخه وګرځي نو په هغه باندې نیوکه کول خو پریږده چې په مصیبتونو کې ککړه او پریوتې نړۍ به د سلامتیا دغې سر چینې ته په خپله را منډې وهي او دهغې څخه به دخپلو ټولنیزو ناروغیو دوا ترلاسه کوي. خو دا کار به څوک کوي ؟ چا چې دا کار کولای شو هغه پخپله د یوې مودې را هیسې په ناروغتیاو کې ککړ دې.
راځئ چې دمخکې تللو دمخه دهغې د ناروغتیاو په هکله هم لنډه څیړنه وکړو.

## تاریخي شالید:

دا تلسمې پیړۍ اخري او د نولسمې پیړۍ لمړنۍ ورځې وې چې د لویدیځوالو د ښکیلاک سیلاب د طوپان په څیر په اسلامي هیوادونو وروخوت او په لږ وخت کې یې له ختیځه تر لویدیځه په ټوله اسلامي نړۍ خپلې کرغیرنې وزرې خپرې کړې او د نولسمې پیړۍ تر نیمایې پورې ډیر اسلامي هیوادونه د اروپا غلامان شوې و. او څه چې لا تر دې وخته غلامان شوي نه و نو د ویرې او مغلوبیت ژوند یې تیراوه. کله چې دا بدلون سرته ورسیدنو د مسلمانانو سترګې هم په غړیدو شوې. هغه ولسې غرور چې اسلامي امت ته په نړۍ باندې دسلونو کالو بریالي حکومت کولو په بایلو کې په پوره فخر سره ور په برخه شوې و هغه یو دم دخاورو سره خاورې شو او دهغې شرابي په څیر وګرځید چې د شرابو نشه یې د یوه ځواکمن دښمن د پرلپسې وهلو ټکولو په واسطه له سره وتلې وي او اوس یې خپلې ناکامې او د فرنګیانو د سوبو په لاملونو باندې غور شروع کړې وي. خو لا تر اوسه یې ماغزه ځای ته نه و راغلي او خپل توازن یې لا نه و برابر کړې چې د بدلون نور توپانونه یې مخې ته را پورته شول.
له یوې خوا د ذلت هغه قوي احساس و چې ددې حالت د بدلون غوښتنه یې کوله او له بلې خوا د پیړیو راهیسې دهغې ارام غوښتنې او هوسایې غوښتنه وه چې د بدلون تر ټولو آسانه او لنډه لارې یې لټوله او له دریم پلوه دتفکیر هغه زنګ وهلې او له کاره لویدلې ځواکونه وو چې د پیړیو راهیسې شنډ شوې و او ورځخه کار نه اخستل کیده او تر دې ټولو زیات هغه مرغوبیت او ویره وه چې په هر ماتې خوړلې او غلام قوم کې په طبیعي توګه را ټوکیږي ، دې مختلفو لاملونو اصلاح غوښتونکی مسلمانان په ډیرو عقلي او علمي بې لاریو کې اخته کړل. دهغوې زیات شمیر وګړو دخپل وروسته والي او د اروپا د پرمختګ رینښتوني عوامل و نه شو پیژندلای او چا چې هغه پیژندل په هغوې کې دومره ځواک ، همت ، او مجاهدانه روح نه و چې د پرمختګ هغه سختې لارې خپلې کړې، او ددې اخوا ویره پرې یو اضافي بارو. نو ددغه وران ویجاړ او ماتې خوړلې ذهنیت سره هغوې ته د پرمختګ اسانه لاره دا ښکاریده چې خپل ژوند د غربي تمدن په رنګ کې رنګ کړې او دهغې هینداري په څیر شي چې په هغې کې د باغ او بهار ښکلې نندارې او مناظر ټول موجود وي خو به حقیقت کې نه باغ وي او نه بهار.

## ذهني غلامي:

د همدې کړکیچن حالت په وخت کې د غربي لباس ، غربي ټولنیزو اړیکو ، د غربي دودونو او لارو چارو خپلول پیل شول او ان تر دې چې په خبرو اترو کې به هم د غربي ټولنې نکل او پیښې کیدلې؟
په غربي قالبونو کې د اسلامي ټولنې د وراچولو هڅې ګړندۍ شوې. پر ته له پوهې او درک نه ،الحاد ، دهریت او ماده پالنه د یوه فیشن او رواج په څیر خپله کړای شوه. هر خام یا پوخ فکر به چې د غرب نه را ته ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغې په پټو سترګو منل او په خپلو علمي غونډو کې هغه د بحث او څېړنې لاندې نیول د یوه روڼ اندي له پاره اړین ګڼل کیده. شراب، جواري، لاترې، ګډې ځغاستې، تیاتر، ډانس، نڅا او سرود د غربي ټولنې نورو ثمراتو سره یوځای لاس په لاس اخیستل کیده. د اخلاقو، ټولنیزو اړیکو، اقتصاد، سیاست، قانون او ان تر دې چې د مذهب او عقایدو او عبادتو په اړوند ټولې غربي تګلارې منل کیدې او داسې بریښیدې چې دا ګویا د اسمان څخه را ښکته شوې وحې ده چې د هغې په وړاندې د اوریدو او منلو (سمعنا وا طعنا) د ویلو پرته بلکه کومه چاره نشته. د اسلامي تاریخ پیښنو، د اسلامي شریعت د احکامو او د قران او نبوي احادیثو د ارشاداتو څخه به چې په کوم اصل د اسلام دښمنانو نیوکه کوله او د نفرت په سترګو به یې ورته کتل په هغې باندې مسلمانانو هم د شرم احساسول پیل کړل او هڅه یې پیل کړه چې د اسلام د لمنې څخه دا داغ په څه توګه پریمنځي. دنمونې په توګه هغوی په جهاد نیوکه وکړه نو دوی وویل چې مونږ چیرته او جهاد چیرته؟ هغوی په غلامۍ نیوکه وکړه، دوی وویل چې غلامي زمونږ له اړخه بلکل ناروا ده. هغوی له یوه څخه په ډیرو ودونو نیوکه وکړه، دوی فورا د قرآن په یوه ایت د نسخ خط را کش کړ، هغوی وویل چې د ښځې او نر ترمنځ مکمله برابري په کار ده، دوی وویل چې دا خو زمونږ دین دې. هغوی د نکاح او اخلاقو په قوانینو نیوکې و کړې، دوی سمدستي په هغوی کې د ترمیم عمل پیل کړ، هغوی وویل چې اسلام د هنر (Art) دښمن دې نو دوی وویل چې اسلام خو تل د ګډا، نڅا، سندرو او انځورۍ (رسامۍ) او بت جوړولو پالنه کړې ده.

## دحجاب دمسئلې پیلامه:

دمسلمانانو په تاریخ کې دا د شرم نه ډکه دوره ده. همدغه دوره ده چې د پردې پر موضوع بحث پیل شو. که چیرې پوښتنه یوازې همدومره وای چې په اسلام کې د ښځې د ازادۍ له پاره څومره حدود ټاکل شوي نو ځواب به یې هومره ستونزمن نه و لکه څومره اختلاف چې په دې مسئله کې لیدل کیږي. هغه یوازې د مخ لاسونو د ښکار کولو د جواز او نه جواز پورې اړه لري او دا څه دومره ډیره د اختلاف وړ موضوع نه ده. خو په اصل کې دلته خبره بله ده ځکه چې په مسلمانانو کې دا مسئله په دې خاطر را پیدا شوې چې اروپایانو پردې او نقاب ته په کرکه کتلي او پخپلو لیکنو کې یې دهغې ډیر خراب او بد انځور د لوستونکو مختنه ښکلي او د اسلام د عیبونو په لړلیک کې یې دښځې «بندي کولو» ته یو ځانګړې ځای ورکړې. اوس څنګه ممکن وه چې مسلمانانو د خپل دود او رواج مطابق په دې کار د شرم احساس نه وې کړې. په دې اساس هغه څه چې هغوی د جهاد، غلامۍ، او یا د ښځو د شمیر په هکله او یا د همداسې نورو مسایلو په هکله تر سره کړي و نو همغسې یې د دې مسئلې سره هم وکړل. د قرآن، احادیثو او مجتهدینو کتابونه یې په دې خاطر پاڼه پاڼه واړول چې ووینې چې هلته په اصطلاح ددې «بدداغ» د پریمینځلو له پاره څه پیدا کیږی او که نه؟ ښکاره ده چې ځینې علماو د لاس او مخ د ښکاره پریښوولو اجازه ورکړې، دا هم په ډاګه شوه چې ښځه د خپلو ورځنیو اړتیاو په خاطر د کوره وتلای شي او دا هم په ډاګه شوه چې د جنګ په ډګر کې په زخمیانو پټۍ لګولې شي او هم مجاهدینو ته اوبه ور رسولې شي. مسجدونو ته د لمانځه داداء کولو له پاره او هم د پوهې او د زده کړې او یا درس او تدریس په خاطر د تللو اجازه هم ورته شتون لري. بس همدومره موادو ورته پوره وو چې ووایې اسلام ښځې ته پوره ازادي ورکړې. پرده یوازې یو جاهلانه رسم او رواج دې کوم چې تیاره ذهنو او تنګ آندو مسلمانانو د لمریو پیړیو را هیسې خپل کړې. قرآن او حدیث د پردې د حکم نه خالي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه يوازې د شرم او حيا اخلاقي ښوونه اوروزنه کوی. کوم داسې چوکاټ نه دې جوړ شوې چې دښځې پر تګ راتګ کوم بنديز و لګوي.

## بنستيز لاملونه:

دا د انساني فطرت کمزورتيا ده چې کله د ژوند په چارو کې کوم مسلک او لاره غوره کوی نو په عمومي توګه د هغې پيل د يو احساساتي غير عقلي ميلان په واسطه کوي او بيا د خپل دغه ميلان د معقول ثابتولو په خاطر د عقل او استدلال نه کار اخلي.

د پردې په هکله هم همداسې حالات را مخته شول. دهغه دبحث پيلامه د کوم عقلي يا شرعي اړتيا و په احساسولو سره و نه شوه بلکه د هغو تمايلاتو له مخې وشوه چې د يوه برلاسی قوم د خوشحاله تمدن تر اغيز لاندې او د اسلامی تمدن پرخلاف دهمغه ولس د تبليغاتو او پروپاګنډ څخه د ويرې به پايلو کې را پيدا شوې و.

زمونږ اصلاح پالو او ښيګڼپالو وګړو چې کله د ويرې او دهشت نه په ډيرو سترګو دفرنګي (انګليسي ) ښځو ښکلا او ننداري ،دهغوې ازادنه تګ را تګ او په فرنګي ټولنه کې دهغوې کړو وړه ليدل نو په غير عادی توګه دهغې په زړونو کې هيله پيدا شوه چې ارمان دې چې زمونږ ښځې هم همداسې شي ، تر څو زمونږ تمدن هم د فرنګي تمدن سيال وګرځي.

بيا نو هغوې د ښځو د ازادۍ ، دښځو د ښووني او روزني او دښځو او نرو تر منځ د برابرۍ د هغو نوو آندونو څخه هم اغيزمن شول چې د ځواکمني تليغاتي ژبې او د غوره چاپ او خپروني سره يو ځاې د باران په څير په پر ليپسي توګه پر هغوې را وريدل. دغي خپرنيز ځواکمنتوب د هغوې د تنقيد ځواک بې حسه کړ اود هغوې په وجدان کې يې دا خبره ورننويسته چې په دې آندونو باندې بالغيب ايمان راوړل او په ليکنو او ويناو کې دهغوې وکالت کول او دهمت او جرئت په اندازه په عملي ژوند کې هم دهغې رواجول به دهر هغه وګړې له پاره اړين وي چې خپل ځان روڼاندي ګڼي اود تياره آندۍ د ناوړه تورنه ځان ژغورل غواړي.

د نولسمي پيړۍ په اخري وختونو کې دښځو د ازادۍ تر نامه لاندې چې کوم غورځنګ په مسلمانانو کې پيل شو دهغې اصلي لاملونه همدغه احساسات او ميلانو. د ځينو خلکو په تحت الشعور کې دا جذبه پټه وه او هغو ته پخپله هم دا خبره روښانه نه وه چه په اصل کی کوم شيان هغوې د دغې تحريک لورې ته را کاږي .

دا خلک اصلاً دخپل نفس په غولولو کې اخته دې خو ځينو نورو ته دخپلو جذباتو پوره احساس و خو هغوي ته دخپلو اصلي احساساتو په را ښکندولو کې شرم محسوسيده. دوې په خپله غوليدلي نه و خو غوښتل يې نړۍ په غولونه اوفريب کې وا چوي. په هرصورت دواړو ډلو يو کار وکړ او هغه دا چې د خپلو جذباتو بنستيز عوامل يې پټ او د يوه احساساتی غورځنګ پر ځاې يې د يوه عقلي خوزښت د جوړولو هڅی پيل کړې.

دښځو روغتيا ، دهغوې عقلي او علمي ارتقاء ، دهغوې فطري او پيدايښي حقوق ، دهغوې اقتصادي ازادي، د نارينه و د تيرۍ او تجاوز څخه د هغوې خلاصون ، او د ولس د نيمايي برخې په توګه دهغوې په پرمختګ د ټول تمدن د پرمختګ انحصار او همداسې نورې حيلې او بهانې چې نيغ په نيغه د اروپا نه را وراريدې دې ددې غورځنګ په تائيد کې را وړاندې کيدلې. تر څو عام مسلمانان په فريب کې ولويږي.او دا حقيقت د هغوې مخته را بربنډ نشی چې ددې غورځنګ اصلي موخې په هغه لاره دمسلمانانو ښځو بوول

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي چې د اروپايانو ښځې په کې رواني دي. همدا راز دا غورځنګ په اقتصادي نظام کې هم د هغو لارو پيروي کوي چې په هغه وخت کې په فرنګي ولسونو کې رواج وې.

## ترټولو زياته غولونه :

تر ټولو زيات بد او ناکاره فريب چې په دې لړ کې مسلمانانو ته ورکړل شوې دې هغه د قرآن او احاديثونه په استدلال سره دا غورځنګ د اسلام موفق ښوول دي.

حال دا چې د اسلام او غربي تهذيب په موخو او د ژوند په دود کې د ځمکې او اسمان هومره توپير شتون لري .داسلام موخې د انساني شهواني ځواک د اخلاقو په جوکاټ کې په داسې توګه را نغاړل دي چې د بې ځايه ضايع کيدو څخه و ژغورل شي او ديو پاک او صالح تمدن د جوړښت له پاره په کار وا چول شي .

برعکس د غربي تمدن موخې دا دې چې د ژوندانه په ټولو اړخونو کې د ښځې او نر په برابر ګډون سره د مادي پرمختګ مزل نور هم ګړندي کړل شی. او ددې تر څنګ شهوانی غوښتنې په داسې فنونو او مصروفيتونو کې استعمال کړاي شی چې د ژوند ټولې ترخې په خوندونو او لذتونو باندې تبديل کړی.

د مقاصدو او اهدافو د اختلاف لازمي پايلې دادې چې د ټولنيزو اړيکو په لارو او طريقو کې هم د اسلام او غربي تمدن ترمنځ پوره توپير موجود وې. اسلام د خپل مقصد او هدف له اړخه د ټولنيزو اړيکو داسې نظام جوړ کړې چې په کې د نر او ښځې دکار ډګرونه تر ډيره حده پورې جدا کړل شوي . په دې نظام کې ددواړو صنفونو د ازادانه اختلاط مخنيوې شوې او ټولې هغه لارې چارې او وسايل يې بيخي د ريښونه غوځ کړي چې ددغه ډول نظم وضبط د له منځه وړلو سبب ګرځي. خو د بله اړخه هغه مقاصد چې غربی تمدن يې په طبيعي توګه مخته لري دا غوښتنه لري چې دواړه صنفونه (نر او ښځه ) د ژوند يوازې يوه ډګر ته را ټول کړي او دهغوی ترمنځ ټولې هغه پردې له يوه مخې لرې کړي چې دهغوې د ازادنه ا ختلاط او تعامل تر منځ بنديزونه را پيدا کوي او هغو ي ته يو دبل د ښايست او صنفي کمالونو څخه دخوند او لذت اخيستو څخه نه پاى ته رسيدونکې مواقع را پيدا کوي.

اوس هر دعقل خاوند په دې پوهيداې شی چې هغه وګړي که له يوه اړخه دغربي تمدن پيروي کوي او د بله اړخه د اسلام ټولنيز قوانين دخپل ځان له پاره د حجت او دليل په څير وړاندې کوي نو هغوې څومره په خپله په فريب کې ډوب دي او يا نور خلک په کې ډوبول غواړي. په اسلامي ټولنيز ژوند کې د ښځې له پاره دازادۍ اخري حد دادې چې د اړتياو په وخت کې مخ او لاسونه ښکاره کولې شی او دخپلو اړتياو په خاطر له کوره وتلاې شي خو دا خلک هغه اخري حد خپل ځانته د سفر پيلامه ګرځوی يعني هلته چې په تلو سره اسلام ددريدو حکم کوي دوي تګ پيلوي. او تر هغې حده پورې مخته ځي چې حيا او شرم يو لورې ته ږدي او يوازې د مخ لوا څوالي نه بلکه خپل ښايسته غړې د لوڅو اوږو او سينو( تيونو ) سره يو ځاې دخلکو د سترګو تر مخ وړاندې کوي او دخپل جسم پاتې ښايست هم په داسې نازکو لباسونو کې را نغاړي چې تر څو هغه ځه چې د نارينه و د شهواني تندې د ماتولو سبب کيږي ترې په ښه توګه را برسيره شي. بيا ددې ډول لباسونو او زيب و زينت سره يوازې دخپلو محرمانو تر مخه نه بلکه د ملګرو غونډو او ګډو محفلونو ته ښځې ، لورګانې او خويندې وړل کيږی او هغوې ته د پرديو سره دخبرو ،خندا کولو ، سندرو ويلو ، نڅا او رقص کولو او بالاخره په لوبو کولو کې داسې ازادي ورکول کيږی چې يوه مسلمانه ښځه يې دخپل سکه ورور سره هم زغم نه شي کولاې ، دکوره د وتلو اجازه چې د ځانګړي اړتياو او پوره ستر او حيا د شرط سره يو ځاې ورکړل شوې هغه په هغه بې باکه «ساړيو »( يوډول هندي لوې ټادردې چې دهندوستان ښځې يې له ځانه داسې را تاووي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګیدې او شا برخې يې لوڅې پاته کيږي ) او نيمو لوڅو بلاوزرو او دبې باکه او بې حيا نظرونو سره په سړکونو د ګرځيدو په پارکونو کې د تفريح ، د هوټلونو په چکرونو او دسينماګانو په سيل کولو کې استعماليږي. د ښځو له پاره چې د کورنۍ چارونه پرته په نورو امورو کې کومه ګټوره مشروطه ازادی په اسلام کې ورکړل شوې ددې له پاره ددليل په توګه وړاندې کوي چې مسلمانې ښځې دې هم د فرنګي ښځو په څير کورنۍ ژوند او د هغې مسئوليتونو ته طلاق ورکړي او د سياسي ، اقتصادي او ټولنيزو کارونو په هر ډګر کې دې د نارينه و سره يو ځای منډې ترړې ووهي.

دا خو د هندوستا حالت دي خو په مصر ، ترکيه او ايران کې سياسي ازادي لرونکي ذهنی غلامان ددې نه لس قدمه وړاندې تللي. هلته مسلماني ښځې همغسې لباس اغوندي لکه په اروپا کې چې اغوستل کيږی تر څو په اصل او نقل کی کوم توپير رانشي او ددې نه يو څو قدمه ور وړاندې د ترکيې د ښځو عکسونه په نيم بربنډ حال کې خپريږي چې د سمندر په غاړه دغسل په لباس کې لامبي . هغه لباس چې په هغې کې د وجود درې برخې ښکاره او يوازې يوه کوږچنۍ برخه داسې پټه شوې وي چې د جسم ټولې لوړې ژورې يې د لباس څخه په ډاګه ښکاري.

ايا قران کريم او احاديثو څخه د ژوند داسې شرمناکې طريقې او دود کوم جواز په لاس راځي ؟

کله چې تاسې په دې لارو روان ياست نو بيا په ډاګه اعلان وکړئ چې د اسلام او دهغې دقانونو څخه سرغړونه کوو . دا څومره ذلت، منافقت او بد ديانتي ده چې دکوم ژوند دود او ټولنيز نظام او دهغې اصولو ، اهدافو او عملي اړخونو ته چې قران حرام وايي تاسې په ښکاره توګه خپلوئ مګر په دې لار کې تر هر څه لومړې د قران نوم اخلئ تر څو په دې ترتيب نړۍ په دې دوکه کې وا چوئ چې پاته قدمونه به مو هم د قران مطا بق و ي.

## زمونږ تر مخه کار:

دا د نوي دور د مسلمانانو حال دي اوس زمونږ تر مخ د څيړنې دوه اړخه دي او په دې کتاب کې ددغې دواړو اړخونو لحاظ ساتل شوي دي.

لمړی دا چې مونږ بايد ټولو انسانانو ته ، که مسلمانان وي او که دبل فکر خاوند ، د اسلام د ژوند ټولنيز نظام ( ژوند دود ) تشريح کړو او دا ورته ووايو چې په دې نظام کې د حجاب احکام د څه له پاره را غلي دی.

دوهم دا چې مونږ ددغه نوي زمانې د مسلمانانو په وړاندې د قرآن او احاديثو احکام او د غربي تمدن او ژوند دود نظريات وړاندې کړو او دهغوی دواړو پايلې يو دبل مقابل لورې ته کيږدو تر څو هغه منافقانه تګلاره چې هغوی خپله کړې له منځه ولاړه شي او دوی د نورو شريفو خلکو په څير ددې دوا ړو نه يوه لاره خپله کړي. نو که مسلمان پاته کيدل غواړي نو د اسلام لار به خپله کړي او که نه ، نو د اسلام سره به اړيکې پرې کړی چې په دې صورت کې به د شرم نه د ډکو هغو پايلو منلو ته تيار وي دکومو لورې ته چې غربي نظام ددې بوتلل غواړی.

## آندونه :

دکومو لامولونو په بنسټ چې د پردې مخالفت کيږي هغه يوازې په سلبي توګه ، بلکه پر يو ايجابي بنسټ بنا شوي دي. دهغې اساس يوازې دا نه دي چې خلک ښځه په کور کې پاته کيدل او د نقاب سره بيرون ته تلل يو ناروا قيد وبند ګڼي او دهغې له منځه تلل غواړي بلکه د هغوي له آنده ژوند د ښځې له پاره يوه بله نقشه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښځې او نارينه ترمنځ د اړيکو په هکله هغوي خپل يو ازاد ليد لري. هغوي غواړي چې ښځې دې داسې نه کوي بلکه څه نور دې وکړي او په پردې باندې نيوکې يې څه داسې دي چې ګويا ښځه په کور کې په ناسته او (يا په بهر کې په ) مخپټوني سره نه دخپل ژوند نقشه بدلولې شي او نه نور څه کولې شي.
اوس مونږ وينو چې دا نور څه، څه دي؟ او دهغې ترشا کوم ليد او اصول شتون لري ؟ او هغه ترکومه ځايه درست او معقول دي؟ او په عملي توګه دهغه څخه کومې زيېښنې ترلاسه شوي دي ؟ ښکاره ده چې که دهغوي آندونه لکه څنګه چې دي همغسې و منل شي نو بيا به پرده او هغه ټولنيز نظام چې پرده يې يو برخه جوړوي له يوه سره غلط وګرځي خو مونږ پرته له کوم تنقيد ، او عقلي او عملي ازموينې ولې دهغوي آند و منو؟ آيا يوازې نوښت ، يا يوازې دا چې يوه پيښه په نړۍ کې په زوږ او شور سره روانه وي ددې خبره له پاره بسنه کوي چې انسان د پلټنې او تحقيق پرته دهغې منلو ته سر ټيټ کړي ؟

## داتلسمي پيړۍ د ازادۍ آند:

لکه څنګه چې مخته مور ورته اشاره وکړه په اتلسمي پيړۍ کې چې کومو فيلسوفانو ، طبيعت پوهانو او د ادب خاوندانو د اصلاح اواز پورته کړې و هغوي د تمدن د داسې يوه نظام سره په مقابله کې وو چې په ډول ډول بنديزونو رانغښتې و. په هغې نظام کې هيڅ ډول نرمي نه ليدل کيده ، د نامعقوله رواجونو ، جامدو اساساتو او د عقل او فطرت پر خلاف د ځرګندو تناقضاتو څخه ډک و .
د پيړيو پيړيو پرلپسې انحطاط هر لوري ته دهغوي پر مختګ ستونزمن کړې و ، د يوه اړخه نه عقلي او علمي بيدارۍ د ټولنې په منځۍ طبقه کې، په ذاتي کوښښونو ولاړه ، د پرمختګ جذبه را پارولې او د بله اړخه د اميرانو او مذهبي مشرانو طبقه وه چې د ځواک په چوکيو ناست د رواجي بنديزونو غوټې يې نورې هم ورکلکولې. دکليسا ،پوځ ، محکمو ، د کرنې او مالي را کړې ورکړې ادارو ، ټولنيزو ارګانونو بلکه دژوند ټولو شعبو په داسې ډول کار کاوه چې د نوي را پورته شوې زيارايستونکې ګارګري طبقې دکار او کو ښښ ټول محصول او ګټه د يوې ځانګړې طبقې لاس ته ورشي. هر هغه هڅه به چې ددې حالت د اصلاح له پاره کيده د ځواکمنې طبقې د غرور ، جهالت او خپل غرضۍ په اساس به د ناکامۍ سره مخ کيدله. دهمدې لاملونو په اساس په اصلاح او بدلون غوښتونکو کې ورځ په ورځ يو ړوند انقلابي جوش را پيدا کيده. ان تردې چې د دغه ټول ټولنيز نظام او د هغې د هرې څانګې او هر اړخ پر خلاف د بغاوت او تيري جذبه خپره شوه او د شخصي ازادۍ داسې افراطي غوښتنې عوامي مقبوليت پيدا کړ چې د ټولنې په مقابل کې يې وګړي ته مطلق خپلواکي ورکوله. غوښتنه کيدله چې بايد وګړي ته د پوره خپلواکۍ سره دا حق ورپه برخه وي تر څو هر کار يې چې زړه وغواړۍ ويې کړي او کوم کار يې چې زړه و نه غواړي پريږدي يې . ټولنې ته دغه وګړي د شخصي ازداۍ د سلب کولو هيڅ حق نه شته.
د ازادۍ دغه افراطي آند چې په حقيقت کې د يوه ظالمانه ټولنيز نظام پر خلاف د قهر او غضب پايلې وې ، پخپله پخپل ځان کې د ډير ستر فساد جراثيم او مکروبونه درلودل ، کومو خلکو چې دا فکر راوړاندې کړې و هغوي پخپله هم د هغې د منطقي پايلو څخه بې خبره نه وو او که چيري دهغې پايلې ورته له مخکې نه په تمثيلي ډول ترمخ ايښودل شوې واي دکومو په نتيجه کې چې داسې بې قيده ازداي او داسې خپل سرې انفراديت منځ ته راته ، نو روح به يې په جسم کې په لړزه راغلي واي. هغوي د ازادۍ دا شعار د هماغه ناروا ستونزو او دغير معقولو بنديزونو د ماتولو له پاره د يوې آلې په توګه استعمالوو چې په هغه وخت کې دهغوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټولنه کې موجود وو خو با لاخره دغې آند دغربي ولس په ذهنونون کې ريښې ټينګې کړې او وده يې په کې پيل کړه.

## دنولسمې پيړۍ بدلونونه :

دفرانسې انقلاب‎١ د ازادۍ دهمدغې فکر تر اغيز لاندې منځته راغې. په دې انقلاب کې پخوانې ډير اخلاقي آندونه او دتمدن او مذهبي ضوابطو ريښې را وويستې شوې او کله چې ددې ريښو د له منځه تلل د پرمختګ اساس وګر زيد نو انقلابي دماغونو دهغې ځخه دا پايلې را وويستې چې ګويا هره هغه نظريه او يا تګلاره چې د پخوا ځخه را روانه ده د پرمختګ په لار کې خنډ جوړوي او دهغې د له منځه وړلو پرته مخ په وړاندې قدم نه شي اخيستل کيداې. په دې توګه چې د مسيحې اخلاقو د غلطو اصولو دماتولو نه وروسته ډيرژر دهغوې تنقيد د انساني اخلاقو د بنستيزو آندونو په لور متوجه شو. ويل يې دا عصمت او پاک لمنې څه بلا ده؟ په ځوانۍ باندې د تقوې مصيبت ولې را نازل شوې دې؟ د نکاح نه مخکې که څوک د چا سره محبت کوي نو څه بده به پيښه شي؟ او د نکاح نه وروسته ايا د انسان زړه د سينې نه بهر کيږي چې د مينې او محبت حق ترې وا خيستل شي؟

دا او دا ډول نورې پوښتنې په دغه انقلاې ټولنه کې هرې لورې ته خپرې شوې او په ځانګړې توګه ورته د رومانتک ادب د ښوونځې پلويانو (Romantic School) زياته هوا ورکړه.

د نولسمې پيړۍ په پيل کې جيورج ساند‌ (George Sand) نومې ښځه ددې ډلې مشره وه. دې ښځې ټول هغه اخلاقي اصول ورمات کړل چې تل پرې د انساني شرافت او په ځانګړې توګه د ښځې د عزت حساب کيده. هغې په داسې حال کې چې ميړه هم درلود تر څنګ يې د نکاح دداېرې ځخه بهر هم ازد اړيکې درلودل. بالاخره د ميړه نه جدا شوه او دهغې وروسته يې دوست په دوست بدلاوه. دهيچا سره يې ددوه کالو نه زيات وخت تير نشو کړاې. دهغې د ژوند په لنډ تاريخ کې د شپږو داسې کسانو نومونه شته چې ورسره يې تل پټه او ښکاره دوستې او اشنايې درلوده. دهغې دهمدې دوستانو ځخه يوه دهغې په هلکه ليکلي دي چې:

«جورج ساند لمرۍ يوه پروانه (پتنګ) را انيسې او هغه د ګلونو په پنجره کې بندوي. دا دهغې د محبت وخت وی. بيا هغه دهغې په زبيښلو پيل کوي او دهغې د پرتکو ځخه خوند اخلي، دا دهغې د سوړتيا او مخ اړونې وخت وي. ژر يا وروسته داسې وخت هم راځي چې بيا دهغه وزرونه کاږي او ټوټه ټوټه کوي يې او دهغې پروانو (پتنګانو) په ډله کې يې ورواچوي د کومو نه چې هغه دخپلو داستانونو د قهرمان په څير کار اخلي.»

فرانسوي شاعر الفردو موس (Alfred do musse) هم د هغې د عاشقانو ځخه و خو دهغې د بې وفاتوب ځخه دومره زړه ماتې شو چې د مړينې په وخت کې يې وصيت وکړ چې جورج ساند دهغې د جنازې ليدلو ته پرينښول شي، داد هغې ښځې ذاتي کرچار او کريکټر و چې ليکنو يې لږ تر لږه تر ديرشو کالو پورې د فرانسوي ځوان نسل په ذهنونو اغيز کړې و.

(١) [دوګړيزې ازدۍ د تخيل ځخه، اوسنې پانګه وال نظام او د جمهوري تمدن نظام او اخلاقي بې لاريتوب را پيدا شو. او نژدې يوه نيمه پيړۍ يې په اروپا او امريکا کې دومره تيرې وکړ چې انسانيت دهغې پر خلاف بغاوت ته اړ شو. ځکه چې دې نظام وګړي ته د ټولنيزو ګټو پر خلاف دخپلو نفساني غوښتنو د پوره کولو واک ورکړې و او ټولنيزې ښيګړې يې د هغې تر مخ حلالې او قربان کړې وې او د ټولنيز نظام شيرازه يې خوروره کړې وه، سوسياليزم او فاشيزم دواړه دهمدې بغاوت نښې دي خو په دې نوې جوړښت کې هم دهماغه لومړۍ ورځې ځخه داخرابوالې په يوه بڼه کې پټ پروت دې. او دا ځکه چې دا د يوه انتها علاج به

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلې انتها باندې کول دي. د اتلسمې پیړۍ د وګړیزې ازادۍ کمښت دا و چې ټولنه یې په وګړی ځاروله او د شلمې پیړۍ د ټولنیز فکر کمښت دا دی چې وګړې د ټولنې ښخه ځاروي. ددوې تر مخه د انسان دژغورنې له پاره یوه متوازنه لار لا تر اوسه هم هماغسې ورکه ده لکه څنګه چې په اتلسمه پیړۍ کې ورکه وه.]

جیورج ساند(George Sand) په خپل یوه ناول ( Lelia لیلیا ) کې د لیلیا له اړخه استینو ته لیکې چې:

« څومره ډیر چې ماته د نړۍ د کتلو فرصت تر لاسه کیږي نو زه احساسوم چې د محبت په هکله زمونږ د ځوانانو افکار ډیر زیات په غلطه دي. دا ډیر غلط فکر دی چې یوازې د یوه کس سره دې محبت او مینه وکړل شي او دهغې په زړه دې پوره تسلط پیدا کړل شي اودا تسلط دې بیا د تل له پاره شتون ولري. بې له شکه ټول مختلف فکرونه باید وزغمل شي زه ددې خبرې منلو ته تیاره یم چې ځینې ځانګړې روحونه په ازدواجي ژوند کې د وفادار پاته کیدو حق لري خو زیات یې نورې اړتیاوې لري . دې ته اړتیا ده چې دواړه خواوې یو بل ته ازادي ورکړي ، یو بل وزغمي او دغه خپل غرضي د زړه نه وکاږي چې دهغې له مخې د رقابت اوبدنیتی لړۍ پیل کیږی ، ټول محبتونه سهي دي ، که هغه تیز او تند دی او که ارام ، شهواني دي یا روحاني، پایښت لرونکي وې اوکه بدلون مندونکې وي ، خلک دځان وژنې په لور بوځي او یا دخوند او لذت په لور.»

په خپل یوه بل ناول (Jaccuse ژاک ) کې دهغه میړه کریکټر او کړچار وړاندی کوي چې دهغې په وړاندې د ښه میړه نمونه او مثال دي. دهغې هیرو د« ژاک» ښځه د یوه پردي سړي په غیږ کې ځان ور اچوي خو هغه د پراخ زړه خاوند میړه دهغه نه نفرت نه کوي. بیا د نفرت دنه کولو لامولونه بیانوي او وایي:« کوم ګل چې زما پر ځای بل چاته خوشبویي ورکول غواړی نو ماته ددې څه حق دي چې هغه تر پښو لاندې و مروړم.»

او بیا مخکې د ژاک د ژبې نه راوتلي الفاظ داسې وړاندې کوي:

«ما خپل فکر نه دې بدل کړي ، د ټولنې سره مې سوله نه ده کړې ، زما له آنده نکاح په ټولو ټولنیزو اړیکو کې یوازې هغه وحشیانه لاره او طریقه ده چې تصور یې کیدای شی. زه باورلرم چې با لاخره به دا طریقه له منځه ولاړه شي ، که چیرې انساني نسل په ریښتوني توګه د انصاف او عقل په لور قدم پورته کړي بیا به ددې ځای یو بل رواج و نیسي او هغه به دنکاح ښخه لږ څه هم مقدس نه وي خو دهغې ښخه به ډیره انساني طریقه او لاره وي. په هغه وخت کې به انساني نسل دداسې ښځو او نارینه و ښخه جوړښت موندلي وي چې یو دبل په ازدۍ به هیڅ ډول بندیزونه نه لګوي. اوس خو نارینه دومره خپل غرضي او ښځې دومره بې زړه دي چې دهغوې ښخه یو هم د موجوده قانون نه د بل ډیر شریفانه قانون غوښتنه نه شی کولې. بلې ! په هغوې کې چې د ضمیر او نیکی کمښت وي نو هغوي باید په درنو زنځیرونو کې و تړل شي.»

دا هغه آندونه دي چې د ۱۸۳۳ زیږدیز کال په شاوخوا وختونو کې بیانیدل او جیورج ساند(George Sand) هم یواځې تر همدې ځایه ولاړه او خپل دغه افکار یې اخري منطقي تومنې ته و نه شورسولای. ددې ټولې ازاد فکرۍ او روڼ پالنې سره سره پخوانیې رواجي او اخلاقي تیارې دهغې په ذهن کې څه نا څه پاتې وي. نژدې دیرش یا پنځه دیرش کاله وروسته په فرانسه کې د ادیبانو ، فیلسوفانو ، ډرامه لیکونکو یو بل لښکر راپورته شو چې مشري یې الکزانډر ډوماس(Alexander Dumas) او الفرید ناکې(Alfred Nquet) کوله. دې خلکو خپل ټول ځواک ددې فکر په خپرولو تیر کړ چې:« ازادي او د ژوند نه خوند اخیستل د انسان فطري حق دي او په دې حق باندې د تهذیب او اخلاقو قیود او بندیزونه لګول په وګړې باندې دټولنې تیری دي». ددې نه مخته د وګړي له پاره دعمل د ازادۍ غوښتنه دمحبت په نامه کیدله خو وروسته خلکو ته یوازې دا عاطفي او جذباتي غوښتنه یوه کمزورۍ ښکاره شو. په دې خاطر هغوې د وګړیزې خپل سرۍ ، بې قیدو بنده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازادۍ او اواره ګۍ ، دعشق ، فلسفي او حکمت او تدبیرد ټینګو بنستونو د جوړولو هڅې پیل کړې . ددې د پاره چې ښځې او نارینه په پوره ازدۍ، ډاډ او احساس سره هر هغه څه چې و غواړۍ ویې کړي او دهغوې هر کار د ټولنې له اړخه یو روا او نیک عمل و ګڼل شې.

د اتلسمې پیړۍ په اخري وختو کې پاول آدم(Paul Adam ) او هنري بتایلا (Henry Bataille ) پیر لو یې (Pierne Louis ) او نورو زیات شمیر ادیبانو خپله ډیره ځواکمنې په ځوانانو کې د جرأت په پیدا کولو کې صرف کړه تر څو پخواني اخلاقي اغیز که لږ څه پاته هم وي په مکمله توګه له منځه یوسي.

پولي اوان په خپل کتاب(Lamorale De  Lamour ) کې ځوانان په دې حماقت او بې عقلۍ دزړه دخلاصه ملامتوي او وایې چې: « کله چې هغوی ( هلک یا نجلۍ ) په خپلو منځو کې د محبت اړیکې پیدا کوی نو یو دبل د قانع کولو په خاطر درواغ وایې چې ګویا دهغه په خاطر ځان وژلو ته هم تیار دې او دهغې سره د زړه نه غواړی مینه وکړي او د تل له پاره غواړي دهغه یا هغې په څنګ کې واوسي» بیا وایې:

«دا ټولې خبرې په دې خاطر کیږې چې د جسماني خوندونو دغه غوښتنه چې په فطري توګه د هریوه کس سره شتون لري اوپه کې د ګناه یابدۍ کومه خبره هم نشته خو د پخوانیو فکرونو په بنسټ هغه معیوب ګڼل کیږې نو دهغې له پاره انسان خامخا ددرواغو د پردې تر شا دپټیدو هڅه کوي. دا د لاتیني ولسونو ستره کمزورتیا ده چې په هغې کې محبت کونکي جوړې یو بل ته په ډاګه دا څرګندول شرم بولي چې ووایې چې: د ملاقات او لیدنو څخه ددوې موخې یوازې جسمانی غوښتنې پوره کول او خوند اخیستل دي».

ددې نه وروسته ځوانانو ته مشوره ورکوي او ورته وایې چې:« ښه پوه او معقول انسانان شي ، دخپلو غوښتنو او خوندنو د خادمانو [1] څخه خپل معبودان مه جوړوئ ، هغه خلک ډیر بې عقله او ناپوه دي چې د محبت بوت خانه جوړه کړی او بیا په هغې بت خانې کې یوازې د یوه بت عبادت کوي ، د لطف او خوند په هره ګړۍ کې د یوه نوی میلمه انتخابول په کار دی.»

پیرلویې (Pierne Louis ) ددې ټولو نه څلور قدمه مخته ځې او اعلان کوي چې اخلاقي بندیزونه په حقیقت کې د انساني ذهن او دماغي ځواکونو د ودې په وړاندې خنډ جوړوي. تر څو چې هغه په مکمله توګه مات نه کړل شي او انسان د پوره ازادۍ سره د جسماني لذتونو څخه خوند وانخلي ، هیڅ ډول عقلي ، مادي ، علمي او روحاني ارتقاء شونې نه بریښې. (Pierne Louis ) په خپل کتاب افرودیت(Afrodite ) کې په ډیر کوښښ سره ددې خبرې د ثابتولو هڅه کوي چې بابل ، اسکندریه ، روم او د تهذیب او تمدن د ټولو مرکزونو د بهار ، عروج او شباب وخت هماغه و چې هلته عشق ، اواره ګي او نفس غوښتنې( Licentiousness ) په خپل اوج کې وې. خو کله چې هلته اخلاقي او قانوني بندیزونه د انسان په نفسي غوښتنو باندې و لګیدل نود غو ښتنو سره سره د انسان روح هم همدې بندیزونو کې را و نغښت.

پیرلویې (Pierne Louis ) همغه وګړی دې چې په خپل وخت کې دفرانسي یو نامتو ادیب ، لیکوال او د ادب د یوه ازاد مکتب لاربنود و . هغه د خپل قلم ټول ځواک د لوڅوالي ، بربنډتوب اود ښځې او نارینه دازادۍ په صفت کې تیر کړي. په خپل دغه کتاب کې هغه د یونان په ستانیه کې لیکي چې:

«لکه د لوڅ انسان.... پوره صورت چې مونږ یې په خپل مخکې انځورولې شو ... د چا په هکله چې مذهب مونږ په دې ډاډمن کړي یو چې هغه په خپله الله جل جلاله په خپل صورت کې پیدا کړې دي.... د یوې مقدس عصمت پلورونکې په بڼه د ټولو نازو نخرو سره یو ځاې د شل زره نندارچیانو تر مخ خپل عصمت را ښکاره کوي چې د شهوانی محبت اخري مرتبه ده... دا هماغه بختور اسماني محبت دې چې مونږ ټول ترې پیدا شوې یو ... نه ګناه وه ، نه د شرم کوم شې و نه ناپاکه او نجسه کار و.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

(١)[ددي لفظ په پوهيدو کي غلطي و نه کړئ ددي څخه هدف هغه ښځي او نارينه دی څوک چي يو سړي يا يوه ښځه دخپلو نفسي غوښتنو د سرښت له پاره استعمالوي]

او وروسته بيا په داسي حال کي چي ټولي شاعرانه پردي او رموز يوي لوري ته ږدي او په پوره بي باکۍ سره په ډانګ پيلي توګه ليکي چي: «د يوه ځواکمن اخلاقي تعليم په واسطه د دغه مکروه فکر له منځه وړل اړين دي چي ښځي د مور په څير په هري ښه د شرم نه ډک ، ذليل او د شرف او عزت نه لويدلي کار هم ګڼل کيداي شي.»

## د شلمي پيړۍ پرمختګونه :

په نولسمي پيړۍ کي د افکارو پرمختګ تر دي ځايه رسيدلي و خو په شلمه پيړۍ کي نوي باز په فضا کي را ځرګند شو چي دخپلو مخکينو څخه يي هم ډيورته الوتو هڅه کوله. په( ١٩٠٨ ) زيږديز کال پيرو ولف (Pierre Wolff ) او ګيستاټن ليرو(Gastonlerouk ) يوه ډرامه د ( Lelys ) خپره کړه چي په هغي کي دوه ځواني نجوني د خپل ځوان وورور ترمخه د خپل پلار سره په دي موضوع خبري اتري کوي چي ګويا هغوي ته د ازادانه محبت کولو حق شته. او دا چي د زړه لګيدو (محبت ) پرته يوي ځواني نجلۍ ته د وخت تيرول څومره دردمن کارد ي. دهغي زوړ پلار خپله يوه لور په دي خبره ملامتوي چي هغه د يوه ځوان سره نامشروع اړيکي لري . د خپل پلار په ځواب کي لور وايي چي ( زه تا ځنګه و پوهوم. ته په دي نه پوهيږي چي هيڅ نارينه ته دا حق نه شته چي د کومي نجلۍ څخه که څه هم دهغي لور يا خور وي دا غوښتنه وکړي چي هغه دي د محبت پرته زړښت ته ورسيږي. )
نړيوالي جګړي د ازادی دغه غورځنګ ته نور هم ځواک وروباښه. بلکه د اخري مراتبو پوري يي ورساوه . د حمل د منعي کولو غورځنګ د فرانسي په ولس ډير زيات اغيز وکړ . ځلويښت کاله په پرلپسي توګه د فرانسي ولس ددکوچنيانو دپيدا ښت( ولادت) د کمښت په لور روان و . ددي هيواد د( ٨٧ ) ولسواليو څخه يوازي شل داسي وي چي د توالد شمير په کي د مړيني له شمير څخه ډير و. په پاتي( ٦٧ ) ولسواليو کي د مړيني شمير د پيدا ښت له شمير څخه ډير و ، ان تر دي چي په ځينو ولسواليو کي د هرو سلو کوچنيانو دپيدا ښت په مقابل کي د مړو شميره (١٣٠-١٤٠) او ان تر (١٢٠) پوري رسيدله. کله چي جنګ و نښت نو په داسي حال کي چي د فرانسي ولس ته د خپل مرګ او ژوند په دغه کشمکش کي دخپلي بقا او پايښت موضوع ترمخ وه ، نو دفرانسي پوهانو ته دا په ډاګه شوه چي د فرانسي په غيږ کي د جنګياليو ځوانانو شميره ډيره کمه ده. نو که چيري اوس دغه کم شميره ځوانان دفاع وکړی او خپل ولس خوندي هم کړي نو بيا به ددښمن ددويمي حملي په وخت کي د ولس خوندی کول شوني نه وي. نو همدي فکر په فرانسي کي د ولادت د زيادښت احساس د ليونتوب تر پولو پوري ورساوه او هري خوا نه ليکوالانو ، ژورنالستانو ، خطيبانو او ددي نه اخوا پوهو علماو او سياست پوهانو په يوه اواز پورته کولو سره وويل چي: ( بچي پيدا کړئ ، د نکاح د رسمي بنديزونو پروا مه ساتئ ، هره پيغله يا کونډه چي د بچي د پيدا کولو له پاره خپل رحِم يا ګيډه په خپله خوښه وړاندي کړي ، هيڅ ډول به نه ملامتيږي. بلکه برعکس به د عزت وړ وی.
په دي وخت کي دښځو ازادي غوښتونکو وګړو ته يو طبيعي ځواک تر لاسه شو او ددي فرصت او وخت نه په ګتي اخستو سره يي ، ټول هغه آندونه خپاره کړل چي د شيطان په ځولۍ کي لا تر اوسه هم پاته وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د همغې وخت يو مشهور اخبار ليکونکې چې د ( Republical La Lvon ) اخبار مدير و په دې موضوع چې په زور زنا کول ولې جرم دې؟ داسې وليکل:
[کله چې غريب وګړي د لوږې له لاسه تنګ شي او په غلا او لوټمارۍ لاس پورې کړي ،نو ويل کيږي چې دوى ته ډوډۍ ورکړى نو لوټمارې او غلا به په خپله بنده شي. خو عجيبه خبره دا ده چې کله د همدردۍ او مرستې احساس د جسم د يو ډول طبيعې اړتيا و په خاطر په جوش راځي نو بيا هغه د همدغسې يوې بلې طبيعي همدغو مره مهمې اړتيا يعنې محبت له پاره ولې پراختيا نه مومې ؟لکه څنګه چې غلا د تل له پاره د لوږې د شدت له مخې صورت نيسي په همدې ترتيب هغه څه چې زنا بالجبر ( په زور د کومې ښځې ابرو لوټول ) او زيات وختونه وژنه دهمداسې اړتياو د زياتو او سختو غوښتنو په پايلو کې پيښيږې چې د لوږې او تندې څخه کم طبيعي نه دي......... يو صحت منده وګړى چې غښتلى او ځوان هم وى خپل شهوت نه شي کنترولولې ، لکه څنګه چې هغه خپله لوږه ددې وعدې په اساس ، چې په راتلونکې اونۍ کې به غذا را پيدا شي ، نه شي تم کولاې.... په داسې حال کې چې زمونږ په بازارونو کې هر څه په پوره افراط سره موجود دي . ديوا ځوان وګړى شهواني لوږه همدومره دافسوس وړ ده لکه څومره چې د يو وږي انسان د نس لوږه. لکه څنګه چې يو فقير او غريب ته غذا په مفت ډول ورکول کيږى نو په همدې ډول د بل ډول لوږې څخه چې کوم خلک مري نو د همغې له پاره هم مونږ ته څه انتظام کول په کار دې ].
بس په دې باندې همدومره پوه شئ چې دا کوم د ټوکو ټکالو مضمون نه و. دا په پوره غور سره ليکل شوې و او په پوره تدبير او پوهې سره په فرانسه کې خپور شو او ولوستل شو . په همغه وخت کې د پاريس د پو هنتون د درمل جوړونې په فاکولته کې يو مضمون د( پي ، ايچ ، ډي) د ورکړې په خاطر غوره کړاې شو او په رسمي جريده کې خپور کړې شو چې د همغې يو څو جملې دلته را اخلو.
[مونږ هيله لرو چې هغه ورځ به هم راشي چې مونږ د دروغجنو بهانو او د شرم او حيا د احساس پرته وواېو چې ما ته په شل کلنۍ کې د سوزاک ناروغتيا پيدا شوې وه او لکه څنګه چې تاسې پرته له ويرې او تکلف نه دا واياست چې زه يې د وينې د توکولو په خاطر غره ته وليږلم....دا ناروغتيا وې د ژوند څخه د خوند اخيستو قيمت دې چا چې خپله ځواني په داسې ډول تيره کړه چې د هيڅ ډول ناروغتيا اغيز پرې را ښکاره نه شو نو هغه يو نامکمله وجود دې. هغه دبې زړه توب سره دمزاجي او يا د مذهبي غلط فهمۍ په اساس د دغې طبيعي دندې د سرته رسولو څخه ډډه کړې چې ښايي دهغې په فطرى دندو کې تر ټولو لومړنۍ دنده وه.

## د(Neo-Malthusian Movement ) د غورځنګ ليکنې:

دمخکې تللو ترمخه په هغو افکارو باندې هم نظر اچولو ته اړتيا ده چې د حمل( دکوچنې دپيدا اينښت ) د مخنيوى د خوزښت په لړ کې منځته راغلې. د اتلسمې پيړۍ په اخر کې ، يعنې هغه وخت چې انګريز اقتصاد پوه ( Malthus )مالتهوس د نفوسو دکمښت له پاره د حمل( دکوچنې دپيدا اينښت ) د کنټرول وړانديز وکړ نو په همغه وخت کې دهغه په فکر او ذهن کې دا خبره هم نه ګرځيده چې ددې دغه وړانديز به يوه پيړۍ وروسته د زنا او فحش دخپرواې له پاره تر ټولو ستر عامل او مرستندويه ثابت شي. هغه د نفوسو د ډيرښت نه دمخنيوې په خاطر ،په نفس کنټرول او په زيات عمر کې د نکاح کولو مشور ورکړې وه خو د نولسمې پيړۍ په اخر کې چې کله نيومالتهوسي(Neo-Malthusian Movement ) غورزنګ سر را پورته کړ نو دهغې بنسټيز اصول دا وو چې دنفس غوښتنې دې په پوره ازادۍ سره تر سره شي او دهغې فطري زيښنه يعنې د اولاد د پيدا يښت مخه په علمي او طبي لارو چارو سره ونيول شى. ددې غورزنګ دغه وړانديزونو د زنا او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدکارۍ په وړاندې هغه اخري بند هم ورمات کړ چې د ازادو جنسي اړیکو په مخ کې خنډ واقع کیدای شو . ځکه چې اوس یوه ښځه پرته له دې ویرې خپل ځان د یوه سړي په غیږ کې وراچولې شي چې د هغې به اولاد پیدا شي او په هغې به د مسؤلیتونو بار وا چول شي.
دلته د هغې پایلو د بیانولو فرصت نه شته. مونږ یوازې یو څو داسې نمونې وړاندې کوو چې د دنسل د پیدا ایښت د کنټرول (Birth Control) په لیکنو کې ډیرې یادې شوې دي. په دې لیکنو کې چې دمالتوسي غورزنګ پلویانو کوم استدلال کړې هغه په لنډه توګه دادي چې:
[هر انسان په فطري توګه ددرې ډیرو قوي اړتیاو سره مخ کیږي. د غذا اړتیا ، د ارام اړتیا او د شهوت اړتیا. فطرت دغه درې واړه اړتیاوې په انسان کې په پوره ځواکمنۍ سره پیدا کړې دي. او دهغوې په پوره کولو کې یې ځانګړې لذت ایښې دي ، تر څو انسان دهغې د پوره کولولیوال وي. د عقل او منطق غوښتنه داده چې انسان د هغې د پوره کولو له پاره هڅه وکړي. د لمړۍ دوو شیانو په هکله د هغه تګلاره همدا ده خو ددریم په هکله دهغه تګلاره لږ څه توپیر لري. ټولنیزو اخلاقو په هغه بندیز لګولې چې جنسي غوښتنې د نکاح نه پرته باید تر سره نه شي او د هغې نه اخوا یې دا شرط هم پرې ایښې چې د اولاد پیدا ایښت باید تم نه شي. دا ټولې خبرې له یوه سره عبث دي. دعقل او فطرت پر خلاف دي. په خپلو اصولو کې غلطې دي او د انسانیت له پاره د ډیر بد استثمار او زبېښناکۍ سبب ګرځي.]
په دې لکینو کې چې دکومې ودانۍ جوړښت شوې لږ څه هغه هم ووینۍ:
[د جرمني د سوسیال دیموکرات ګوند مشر (Bebel) ډیر په ډانګ پیپلې توګه لیکي چې:
«ښځې او نارینه حیوانات دي ، نو ایا د حیواناتو په جوړو کې نکاح او بیا د تلپاتې نکاح پوښتنه را پیدا کیدای شي ؟»
ډاکټر ډریسډیل (Dr. Drysdale) لیکي چې:
[نرېدې د ټولو غوښتنو په خیر محبت هم یو تغییر خوړونکې شیز دي نو هغه د یوې لارې سره ځانګړې کول د فطرت به قوانینو کې ترمیم کول دی. په ځانګړې توګه نوې ځوانان دې بدلون لورته میلان لري او دهغوې دغه رغبت د فطرت د هغې منطقي نظام مطابق دي کوم چې غوښتنه کوي چې زمونږ تجربې باید بې شمیره وي.... ازاد اړیکې د نورو سترو اخلاقو ښکاروندې دي ځکه چې هغه د فطرت د قوانینو سره ډیر مطابقت لري. او په دې خاطر هم چې هغه نیغ په نیغه د جذباتو ، احساساتو او بې غرضه محبت او مینې ښکارندوې دی. دکوم میلان او رغبت څخه چې دغه اړیکې پیدا کیږي هغه ډیر اخلاقي ارزښت لري نو دا ارزښت کله هغه تجارتي راکړې ورکړې ته په برخه کیږي چې نکاح په حقیقت کې خپل کسب ( Prostitution ) ګرځوي.]
ګورئ چې اوس تصور او آند بدلیږي ، بلکه سرچپه کیږي. لمړۍ دا هڅه کیدله چې د زړونو څخه دا تصور وکاږي چې ګویا زنا له اخلاقي اړخه یو ناوړه کړچار دې او دا ثابته کړي چې زنا او نکاح دواړه برابر دي. اوس یو قدم مخته ږدي او نکاح یو معیوب کار او زنا ته د اخلاقي لوړوالي مرتبه ورکوي. لکه چې بل ځاې همدا ډاکټر وایي چې:
[ددا سې تدبیرونو غوره کولو ته اړتیا ده چې د واده پرته هم محبت یو معزز شیز و ګرځوي......دا دخوښۍ ځاې دي چې د طلاقو اسانتیا دنکاح رسم و رواج ورور ورو ختم کړې اوس نو نکاح ددوه کسانو ترمنځ د یو ځاې ژوند کولو یو داسې تړون دي چې کله هم دواړه خواوې و غواړي هغه له منځه وړلاې شي او دا د جنسي اړیکو یوه سهي لار ده.]
دفرانسي مشهور نومالتوسي مشر پرل روبین (Paulrobin) لیکي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

[په تيرو پېنځه ويشت کالو کې مونږ ته دومره سوبې را په برخه شوې چې د هغې په پايلو کې مو د حرامي( دازادو جنسي اړيکو په واسطه د پيدا شوي ) کوچني مور دحلالي کوچني دمور  سره په يوه مرتبه کې ودروله  اوس يوازې دومره کمښت پاته دي چې هماغه لومړۍ ډول (حراميان ) کوچنيان پيدا کړل شي تر څو د مقايسې پوښتنه  له يوه سره شتون و نه لري.]

د انګليستان يو مشهور فيلسوف مل په خپل کتاب ازادي(On Liberty ) کې په دې خبره ټينګار کوي چې [دداسې خلکو د ودونو څخه بايد قانوناً مخنيوي وشي چې هغوي ددې پوره شواهد وړاندې نه کړې  چې ګويا هغه د تول ژوند  له پاره کافي وسايل  لري.]خو کله چې په انګلستا کې د قحبه (زنا ) ځايونو (Prostitution) د مخنيوې پوښتنه را پورته شوه نو بيا  همدغې فيلسوف د هغې دله منځه وړلو کلک مخالفت وکړ ، علت يې دا وواية چې دا په وګړيزه ازادۍ يوه حمله ده او د کسب ګرو سپکاوې او توهين دې. ځکه چې دا دهغې سره د کوچنيانو په خير سلوک کول دې.

غور وکړئ ، د وګړيزې  ازدۍ درنښت په دې خاطر  کيږې چې له دې څخه په ګټې اخيستلو سره د زنا کولو له پاره لاره هواره شې. خو که کوم بې عقل دهمدې وګړيزې ازادۍ نه په ګټې اخيستلو سره  نکاح کول وغواړې  نوداسې وګړې هيڅکله هم  ددې وړتيا نه لري چې ازادې دې يې خوندي وساتله شې.  دهغې په ازدۍ کې نه يوازې داچې د قانون مداخله وزغمل شي بلکه دا  دازادۍ غوښتوونکی فيلسوف  دضمير په بنسټ ، پخپله يوه مطلوبه لاسته راوړنه ده.

دلته د اخلاقې افکارو انقلاب خپل اخر ته ورسيد کوم. چې بد  او ناروا  وو هغه ښه  شو او کوم چې ښه او نيکې وه  هغه بد  وګرځيده.

## زيينبې  او  پايلې ئې :

ليکنه مخته ځې  او دخلکو افکار دهغې پسې وروسته ځغلې. په آخر کې ټولنيز  اخلاق ، د ټولنې اصول او دحکومت قوانين ټول مقاومت له لاسه ورکوې. هلته چې يوه نيمه پيړې په پرلپسې توګه  فلسفه ، تاريخ ، د پوهې فنون ، ناولونه ، ډرامې ، هنر او بالاخره ددماغونو دتيارولو او د قالب کول ټول الات د خپل متحد ځواک په واسطه يوازې او يوازې يو فکر او تګلاره د انسان د ذهن او دماغ درينبو ، ريښو سره ننبلوې نو بيا هلته په همداسې يو فکر د ټولنې اغيزمن کيدل يو حتمې کار دې او بيا هلته چې د حکومت او ټولو ټولنيزو ګوندونو بنسټ په جمهورې اصولو ولاړ وي داهم شوني نه ده چې د عوامو  دفکر د بدلون سره سم قوانين هم تغير و نه مومي.

## صنعتې انقلابونه او اغيزې ئې:

په زړه پورې دا وه چې په همغې وخت کې چې صنعتې انقلاب ( Industrial  Revolution ) منځته راغې، ګن شمير نور تمدنې وسايل هم برابر شول. دغه انقلاب چې په ټولنيز او اقتصادې ژوند کې ئې په مدنې ژوند ،  د ګڼو بدلونونو په راوړلو سره ،کوم اغيز و شيند ، دهمدې اغيز له امله دټولو حالاتو مخه هماغه لورې ته وړل کيده کومې لورې ته چې انقلابې ليکنو د هغې بوتلل غوښتل.

دوګړيزې ازدۍ په آند ولاړ پانګه وال نظام ته دمشينونو  ايجاد اود توليد( Mass Production ) امکاناتو ډير ځواک وربخښلې و. پانګه والو طبقو ستر ستر صنعتې او تجارتې مرکزونه جوړ کړل او دغه مرکزونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالاخره په لویو لویو ښارونو بدل شول. د کلیو او بانډو ځخه په سلونو زره اویا په میلینونو انسانان دغې لورې ته دکار موندلو له پاره وروهڅول شول او همنلته را ټول او ځاي په ځاي کړل شول. ژوند کول ترډیره حده پوې سخت شو. کور، کالي او خوراک او ښتباک او د ژوند په ټولونورو اړتیاو باندې اور لګیدل پیل شو. او دا ټول ، څه د تمدن په برکت او څه د پانګه والو په هڅو ترسره شول. د عیش او عشرت بې شمیره نور وسایل هم د ژوندانه په اړتیاو کې ورداخل کړل شول. خو پانګه وال نظام ددولت ویش په داسې ډول و نه کړ چې دهغې په واسطه د دغې ټولو اسانتیاوو د لاسته راوړلو وسایل هم په همدغه پیمانه خلکو ته ور ورسیږي. پانګه وال نظام هومره اقتصادي وسایل د عام ولس په واک کې ورنه کړل دکومو د لاس ته راړولو له پاره چې هغوې ښارونو ته راغلي وو ، تر څو د ژوند لمړنۍ اړتیا وې لکه (کور ، کالي او ډوډۍ ) پرې په اسانۍ سره ترلاسه کړي . دهغې زبیښاک یا استثمار پایله دا شوه چې په میرو باندې ښځه او په پلار باندې خپل بچیان یو دروند بار وګرځید . هر چاته د خپل ځان ساتل ستونزمن شول . اقتصادي حالات تر دې ځایه خراب شول چې هر وګړې پخپله خپل ځان و ساتي . ځوانو ، واده شوو او کونډو ښځو ته په خپله د رزق د پیدا کولو له پاره دکوره وتل ورپیښ شول. او بیا چې کله ددواړو صنفونو ترمنځ د اختلاط مواقع او فرصتونه نور هم زیات شول او دهغې فطري زبیښې هم را منځته شوې ، نو دهمدغې وګړیزې ازادۍ تصور او د اخلاقو نوې فلسفې ، پلرونو ، لوڼو ، خویندو ، ورونو ، میړونو او ښځو ته دا ډاډینه ورکړه چې د ویرې او خوف کومه پراوه و نه ساتي. څه چې کیږې ډیر ښه کیږي. دا را پرزیدل نه دې بلکه پورته والې (Emancipation) دې ، دا بد اخلاقي نه بلکه د ژوند نه خوند اخیستل دي. په کومه کنده کې چې پانګه وال تاسې ورغورځوي هغه دوزخ نه دې بلکه جنت دې جنت.

## پانګه واله ځان غوښتنه :

بیا خبره په دې پولو کې هم را تاوه نه شوه، د وګړیزې ازادۍ په کوم آند چې ددې پانګه وال نظام بنسټ ایښودل شوې و هغه نظام وګړی ته د هرې شونې لارې څخه دپانګې دپیدا کولو بې قید او شرطه اجازه ورکړه. داخلاقو دې نوې فلسفې هره هغه طریقه حلاله او پاکیزه وګرځوله چې دهغې په واسطه پانګه او شتمني ترلاسه کړل شي که څه هم ددې لارې دهغه شتمنیدل د نورو ډیرو وګړو په له منځه تللو منتج شي. په همدې ډول د تمدن ټول نظام په داسې یوې لارې جوړښت وموند چې د ټولنې له خوا وګړي له هر اړخه ساتل کیدل خو برعکس د وګړي د خپل غرضیونه ټولنه په هیڅ ډول خوندی نه وه. خپل غرضه وګړو ته په ټولنې د سپریدو ټولې لارې پرانستې وې . هغوې ټولې انساني بې بسې نابسامانۍ را ټولې او هغه یې دخپلو شومو اغرضو د (Exploit ) استثمارولو له پاره دنوو لارو په څیر استعمالولې. دنمونې په توګه:
یو سړې راپورته کیږی او دخپل جیب د ډکولو په خاطر یو زیات شمیر وګړي د شرابو په تلپاتې ناروغۍ ککړوي ، هیڅوک نه شته چې ټولنه ددغه ساري ناروغتیا له جراثیمو څخه و ژغوري.
بل راپورته کیږی او په نړۍ کې د سود خوړلو جال خپروي، هیڅوک نه شته چې دغه وینې زبیښونکې «ژوره» د خلکو د وینې د ښبلو څخه لرې کړي. بلکه برعکس ټول قوانین دهمدغې وینې ښبونکې ژورې د ګټو د ساتنې په خاطر جوړیږي ترڅو هیڅوک ورڅخه یو ځاڅکي وینه هم خوندې نه کړاې شي.
دریېم را پورته کیږي او هغه د قمار او جوارۍ عجیبې لارې پرانیزي. ان ترې دې چې د تجارت هیڅ یوه څانګه هم د قمار او جوارۍ د اغیز څخه خالي نه پریږدي. هیڅوک نه شته چې ددې وبایي خپریدونکې ناروغۍ څخه د انسان اقتصادي ژوند خوندي وساتي. د وګړیزي ازادۍ ، سرکښۍ ، بغاوت او دښمنۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې کرغیړن وخت کې دا شوني نه وه چې د خپل غرضو او ګټه پالو انسانانو نظر د انسان په دې ستر ې او ډیرې زیاتې ناتوانۍ «شهوت»......باندې پرې نه وځي ،دکومې د راپارولو له لارې یې چې ډیرې ګټې تر لاسه کولاې شوی . په دې توګه د انسان ددې کمزورتیا او ناتوانۍ څخه ګټه پورته کړاې شوه . د تیاتر ، نڅا ، او ګډا په ځایو د فلم جوړونې په مرکزونو او .... کې د ټولې راکړې ورکړې اساس همدا «شهوانیت» وګرځید. د حسینو او ښایسته ښځو څخه کار اخیستل پیل شول. هغوې باید زیاتې لوڅې او په زیاته را پارونکې توګه دخلکو مخ ته راوړاندې کړی. او په همدې توګه دخلکو شهواني ځواک څومره چې کولاې شي را وپاروې او دهغوې په جیبونو ډاکه واچوي . ځینې نورو خلکو بیا ښځې په کرایه د چلولو تجارت پیل کړ او د قحبه ځایونو (زنا ځایونو ) دندې ته یې توجه وکړه او دا کاریې د یوې منظمې بین المللې تجارتې دندې تر پولو پورې ورساوه ، ځینو نورو وګړو د ښکلا او آرایش عجیب عجیب سامانونه را وویستل او هغه یې ښه خپاره کړل تر څو د ښځو پیدا ایښې ښایست ته نوره هم وده ورکړي او د لیونتوب تر پولو یې ورواړوي او په دې ترتیب په دواړو لاسو دخلکو جیبونه لوټ او دهغوې دولت را ټول کړي.

ځینو نورو وګړو بیا د لباس نوې شهوت پاروونکې او لوڅ فیشن را وویست. ښکلې ښځې یې په دې خاطر و ګمارلې چې دغه راپارونکې لباس واغوندی او په ټولنه کې وګرځي تر څو له یوه اړخه ځوان کول ځانته متوجه کړ او تر څنګ یې په نورو ځوانو نجونو کې ددې لباس د اغوستنې شوق را پیدا کړي او په دې ترتیب د نوو فیشنې کالیو جوړونکو د تجارت له پاره د ودې ښه زمینه برابره شي.

ځینې نورو بیا دلوڅو عکسونو خپرول او د فحش مضامینو لیکل یې خپل ځانته د پیسو د پیدا کیدو وسیله جوړه کړه او په دې ترتیب یې عام ولس د اخلاقې جذام او ناسور مرض په ناروغتیا ککړ او دخپلو جیبونو ډکول یې پیل کړل.

په کلار کلار نوبت تر دې ځایه را ورسید چې د تجارت هیڅ څانګه د شهوانیت ددې عنصر څخه خالې پاته نه شوه . که د تجارتې راکړې ورکړې ، اعلاناتو او اشتهاراتو ته ځیر شئ نو و به وینئ چې د ښځې لوڅ او یا نیم لوڅ عکس د هغې یوه نه بیلیدونکې برخه ګرځیدلې. ان تر دې چې د ښځې پرته اعلان ، اعلان نه ګڼل کیږي. هوټل ، رستورانټ ، شوروم(Show Room)، او هیڅ ځاې به داسې پیدا نه کړئ چې هلته ښځه ددې غرض په خاطر نه وې ساتلې شوې چې نارینه دې دهغې په لور را جذب کړل شي.

بې وزله ټولنه چې هیڅ ساتونکې نه لرې یوازې د یوې لارې دخپلو ګټو ساتنه کولاې شي او هغه دهغوې خپل اخلاقي آند دي. کولاې شي دهمدې آند په واسطه دغه حملې په شا و تمبوي. او ددغه شهوانیت څخه ځان و ژغوری. خو پانګه وال نظام په داسې خامو بنسټونو نه دې ولاړ چې په دې اسانۍ به د هغې د حملې مقا له وکړل شی. هغه د خپل ځان سره یوه مکمله فلسفه او یو شیطاني لښکر لري چې د اخلاقي نظریاتو په ویجاړتیا او له منځه وړلو کې پوره پوره اغیز لري. دقاتل کمال همدا دي چې د کله چې چا د وژلو پسې ځې نو هغه په خپلې خوښې او رغبت سره وژلو ته تیار کړي.

## د جمهوري نظام سیاست :

غم او مصیبت په دې ځاې هم پاې ته نه رسیږي. ددې نه اخوا د ازادۍ همدغې آند او فکر په غرب کې جمهوري نظام را و زیږاوه. او بیا همدغه نظام دپورتني اخلاقي انقلاب د سر ته د رسولو یوه ځواکمنه وسیله وګرځیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنوي جمهوريت بنسټيز اصل دادي چې خلک په خپله ځان حاکمان ګڼي او د ځان له پاره پخپله قانون جوړ وي. هر ډول قوانين چې غواړي ځانته يې جوړ کړي او کوم قوانين چې نه غواړي نو دخپلې خوښې مطابق يې اصلاح کړي او يا يې له منځه يوسي. دهغوي د پاسه کوم داسې ځواک نه شته چې د انساني کمزوروتياو نه پاک وي د کوم په اطاعت کولو چې انسان د بې لارۍ څخه خوندي پاته کيداې شي. دهغوي سره داسې کوم اساسي قانون هم نه شته چې تل پاتې وي او د انسان د لاس وهنې څخه پاک پاته شوې وي او اصول يې د هر ډول اصلاح او ترميم څخه پورته وي. دهغوي سره داسې معيار هم نه شته چې د سهي او غلط د بيلتون له پاره پيمانه و ګڼل شي او د انسان غوښتنو اوهوا او هوس سره بدليدونکي نه وي ، بلکه ازاد او ثابت وي. ددې ډول جمهوريت نوي آند انسان بلکل خپلواکه او غير مسؤل ګرځولې او دخپل ځان له پاره يې پخپله شارع کړې او دهر ډول قانون جوړونې حق يې دېرګنو د راې پورې اړوند کړې دې.
دا څرګنده ده چې هر چيرې چې د ټولنيز ژوند ټول قوانين د عمومي فکر تابع وي او چيرې چې حکومت ددې نوې جمهوريت غلام وي نو هلته بيا قانون او سياسي ځواکونه ټولنه د هيڅ ډول اخلاقي فساد څخه نه شي ژغورلې. بلکه ژغورل خو پريږده چې هغه پخپله د ټولنې په تباهۍ اوبربادۍ کې ونډه اخلي. دعمومي رايو د هر بدلون سره سم قانون هم بدليږي ، دحق ، خير او اصلاح هيڅ معيار ددې نه پردته بل نه وي چې ووټ او رايې د چا ډيرې زياتې دي. نو که يوه خبره او وړانديز که څه هم هغه ډيره ناپاکه وي خو په عام ولس کې يې منښت پيدا کړې وي او دسلو څخه يو پنځوس ووټونه يوسي نو هغه د وړانديز ددرجې څخه پورته کيږي او دقانون او تشرع درجې ته رسيږي. ددې بدترينه نمونه دالمان د نازي دور څخه پخو يوه پيښه ده. په هغه وخت کې د جرمني يوه ډاکټر ماګنوس هرشفيلډ (Magnus Hirsch Feld ) چې د نړۍ د جنسي اصلاح (World League of Sexual Reform ) د غونډې رئيس هم پاته شوې د لواطت په حق کې شپږ کاله پرلپسې مبارزه وکړه ، تر دې چې د جمهوريب په واسطه يې دغه حرام کال حلال کړ او د جرمني پارلمان د زياتو رايو په واسطه دا پريکړه وکړه چې اوس دا فعل (لواطت ) په دې شرط چې د دواړو خواو په خوښه تر سره شي جرم نه ګڼل کيږي او د مفعول دکوچنيتوب په صورت کې دهغې کوم پالونکي دهغې قانوني اجازه ورکړې وي.
قانون د جمهوريت د غلامۍ په تر سره کولو سره کمزورې شوې دهغې د اوامرو تابعداري کوي خو که چيرې په تنبلۍ سره کوم کمښت چې د غلامۍ په تکميل ترې پاته کيږي نو هغه د حکومت اداري پرزې پوره کوي. هغه وګړي چې ددغه جمهورې حکومتونو دندې پر مخ بوزي هغوې د قانون نه د مخه د هغو ليکنو او دهغو اخلاقي فلسفو او دهغو عامو ميلاناتو اغيز مني چې دهغوي په شا وخوا خپرې شوې. دهغې په اساس هره هغه بد اخلاقي په رسمي توګه منل کيږي چې رواج يې عام شوې وي. که څه هم هغه تر اوسه د قانون له مخې ممنوع وخو د عملي نفاذ څخه يې پوليس اوقضا دواړه ځان ژغورۍ او په دې ترتيب هغه د حلال درجې ته رسيږي. د نمونې په توګه د حمل داسقاط معاملې ته توجه وکړئ. دا په غربي قوانيو کې تر اوسه پورې ممنوع دې خو هيڅ داسې هيواد نه شته چې هلته دهغې په ډانګ پيلې ارتکاب نه وی شوې. په واده شوو ښځو کې لږ تر لږه پينځه ويشت په سلو کې داسې دي چې يا خو پخپله اسقاط کوي او يا دکوم فني وګړي تر سترګو لاندې . په ناواده شوو ښځو کې ددې تناسب دواده شوو ښځو نه ډير زيات دې. په ځينو ځايو کې د حمل د اسقاط کلبونه جوړ شوي چې ښځې ورته اونيز فيس ورکوي. تر څو د اړتيا په وخت کې ترې د يوه پوه وګړی خدمات تر لاسه کړاې شي. په لندن کې يو زيات شمير (نرسنګ هوم ) جوړ شوې چې زيات شمير ناروغان يې هماغه دي چې د حمل اسقاط يې کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(په دې هکله پروفيسو جوډ په خپل کتاب «Guide to Modera Wickedness » کې ډېر حقايق څپاره کړي دی ، د نورو زيات پوهاوی په خاطر هلته مراجعه وکړئ).

خو ددې سره د انګليس په قانون کې د حمل ضايع کول جرم ليکل شوې دې.

## حقايق او شواهد :

اوس غوارم څيله خبره و غځوم او وڅيرم چې دغه دري واره شيان يعنې نوي اخلاقي آندونه ، مدني پانګه وال نظام او سياسي جمهوري نظام دري واره يو ځاي په څه ډول ټولنيز اخلاق او د ښځې او نارينه تر منځ جنسي اړيکې اغيزمنې کوي . او په حقيقت کې دهغې څخه څه ډول پايلې را ولاړيږي. څرنګه چې تر اوسه پورې ما ډېر د فرانسې نوم اخستې ، ځکه چې دهمدغه ځايه د دغې غورزنګ پيلامه شوې وه نو په همدې خاطر زه غوارم په څپل څيړنه کې د فرانسې ټولنه د شاهد او ګواه په ډول را وړاندې کړم.

[ما په دې هکله ډېر معلومات د فرانسې د يوه ستر پوه پول بيرو (Paul Bureau )د کتاب( Towards Moral Bankruptcy ) څخه چې په ۱۹۲۵ زيږديز کال کې په لندن کې خپور شوې ، تر لاسه کړي دي.]

## د اخلاقي احساس بې کاره کيدل:

په مخکينو پاڼو کې چې د کومو افکارو يادونه وشوه دهغې د څپرولو لمړنۍ اغيز دا و چې په صنفي کړو وړو کې د خلکو اخلاقي احساس مفلوج(شل ) پاته شو . شرم ، حيا ، غيرت او شرافت ورځ په ورځ د ترې تم کيدو په لور روان و. دنکاح او بدکارۍ تميز له منځه ولاړ او زنا يو پاک عمل و ګرځيد ځکه اوس هغه خلکو ته داسې کوم عيب نه ښکاري چې پټ يې کړي.

د نولسمې پيړۍ تر نيمائې بلکه تر اخره پورې د عامو فرانسويانو په اخلاقي آند کې يوازې همدومره بدلونونه راغلل چې د نارينه و له پاره زنا بلکل يو معمولي اوفطري عمل ګڼل کيده. مور ، پلار به د خپلو ځوانو زامنو خپل سري (په دې شرط چې هغه دخبيثه ناروغيو سبب و نه ګرځې او يا د پوليسي قوانينو خلاف عمل و نه کړي ) په خوښۍ سره زغمله. بلکه که هغه به په مادی توګه ګټوره وه نو په هغې به يې خوښي هم ښوولهٔ دهغوي په فکر د نکاح پرته د کومې ښځې سره اړيکې کوم عيبجن کار نه و. داسې نمونې هم شته چې مورو پلار خپل ځوان زامن په خپله هڅولی چې د کومې اغيزمنې او مالدراې کورنۍ د ښځې سره اړيکې ټينګ کړي او خپله را تلونکې ددې لارې روښانه کړي. خو تر دې وخته پورې دښځې په هکله فکر ددې نه ډېر توپير درلود . ځکه چې د ښځو عصمت په هر حال يو ارزښتناکه متاع ګڼل کيده. هماغه مورو پلار چې د خپل ځوان زوې خپل سري يې د ځوانۍ يو ترنګ ګاڼه ، خو د خپلې لور په لمن يې داغ هم نه شو زغملې. لکه څنګه چې بد کاره سړي بې عيبه ګڼل کيده بدکاره ښځه هغسې بې عيبه نه ګڼل کيده. د فاحشو ښځو يادونه به په پوره ذلت سره کيده. په همدې توګه د ښځې او نر تر منځ اخلاقي مسؤليتونه هم برابر نه و.

د ميره بدکارې زغمل کيده خو د ښځې بدکارې ډېر معيوب اوکر غيړن عمل ګڼل کيده. د شلمې پيړۍ په راتلو سره دا حالت بدل شو. د ښځو د ازادۍ غورزنګ چې د ښځې او نر د اخلاقي برابرۍ په خاطر کومه شپيلۍ ووهله دهغې اغيز دا شو چې خلکو د ښځو بدکارې هم د عيب نه داسې پاک کار و ګاڼه لکه څنګه يې چې د نارينه و ګاڼه او دنکاح پرته دکوم سړي سره د ښځې اړيکې ټينګيدل کوم داسې فعل پاته نه شو چې دهغې عزت او شرافت ترې زيانمن شي.

پول بيرو (Paul Bureau ) ليکي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

[نه يوائې په لويو لويو ښارونو کې ، بلکه د فرانسې په کليو او بانډو کې هم ځوان نسل دا اصول مني چې که چيرې مونږ پاک نه او سو نو دخپلې کوژده شوې ځخه هم بايد د پاکۍ او عفت اميد ونلرو . په برګنډې ، بون او نرورو سيمو کې اوس دا يوه عامه خبره ده چې يوه نجلۍ د واده تر مخه زياتې «دوستۍ او انډيوالۍ» کولاې شي او د واده په وخت کې دخپل زلمي ځخه دخپل پخواني ژوند د پټولو هيڅ اړتيا نه لري . د نجونو نږدې خپلوان هم د نجونو په بدلمنۍ باندې کوم خجالت نه باسي . هغوی دهغې ددوستيو يادونه په خپلو غونډو کې داسې کوي لکه ځوک چې د لوبو او يا ورځني ژوند به هکله خبرې کوي .]

[دواده په وخت کې يوازې دا نه چې ميړه د خپلې ښځې د تير ژوند په هکله معلومات لري بلکه دهغې هغه ټول دوستان هم پيژني چې هر وخت به يې دهغې د جسم ځخه خوند اولذت اخيست . دا هڅه کوي چې ځوک دا ګمان هم و نه کړي چې ګويا هغې ته د خپلې نوې ښځې په کړو وړو ځه ډول نيوکه شته]

مخته ليکي چې:

«په فرانسه کې د منځنۍ درجې د زده کړو خاوندانو کې دغه حالت په زښته زياته توګه ليدل کيږي. اوس په هغې کې کوم غير معموليت نه دې پاته چې دکومې ښه کورنۍ روڼ اندې نجلۍ چې په کوم دفتر يا تجارتي مرکز کې کار کوي او په ښه ټولنه کې ناسته پاسته لري د کوم ځوان سره اشنا شي او دهغې سره يو ځاې واوسي. اوس دې ته بلکل اړتيا نه شته چې هغوې دې په خپل منځ کې واده وکړي ،ځکه چې دواړه د واده پرته ژوند ته د لمړيتوب حق ورکوي . او دا په دې خاطر چې د دواړو د زړونو د لګيدو او بيا وروسته د بيليدو او په بل کوم ځاې کې د زړه د لګيدو ازادي ورته په برخه وی . په ټولنه کې دهغوې اړيکې به همدغه بڼه ټولو ته روښانه وي . نه يې هغوې خپله دخپل ځان په هکله د پټولو هڅه کوی او نه نور دهغوې په دغسې ژوند کې ځه بدې احساسوي. په لمړيو وختوکې دغه تګلاره په فابريکو کې کارکوونکو وکړو پيل کړه مګر اوس دا خبره په روڼ آندو او پورته طبقو کې عامه ګرځيدلې ، او په ټولنيز ژوند کې يې همغسې ځاې نيولې لکه ځنګه يې چې تر مخه په نکاح کولو کې نيولې و .(۹۲-۹۴ مخونه )»

دغه ډول ملګرې اوس پرته له کومې ستونزې منل کيږي . د فرانسې د پوهنتون د قانون استاد «موسو برتليمي (M- Berthelemy )»ليکي چې:

[ په کلار کلار ملګرې ته همغسې قانوني حيثيت تر لاسه کيږی چې پخوا ښځې ته ور په برخه و . په پارلمان کې اوس په دې خبرې بحث او ځيړنه کيږې ، حکومت دهغوې د ګټو دساتلو له پاره هڅه کوي. ديوه عسکر ملګرې (معشوقې ) ته همغو مره نفقه ورکول کيږی لکه ځومره يې چې ښځې ته ورکول کيږی. که چيرې عسکر و مری نو ملګرې ( معشوقې ) ته يې همغومره تقاعد ورپه برخه کيږې ځومره چې د هغې منکوحې ښځې ته. په فرانسوې اخلاقياتو کې د زنا د نه معيوب کيدلو اندازه ددې نمونې د يادولو نه په ډيره ځرګنده توګه معلوميداې شي چې په ( ۱۹۱۸ ز ) کې د يوه مکتب معلمه د پيغلتوب په وخت کې حامله شوه ، د ښونې او روزنې په اداري کې د پخوانيو فکرونو خاوندان هم موجود و . هغوې لږځه غږونه پورته کړل او دهغې په دغه کار يې نيوکې وکړې. د هغوې په دې نيوکو د معززينو يو هيئت د ښوونې او روزنې اداري ته حاضر شو او ددغه لاندې درنو دلايلو په وړاندې کولو سره يې د معلمې معامله حل کړه:

د چا په شخصي ژوند کې د خلکو کار ځه دې ؟

هغې دکوم جرم ارتکاب کړې دې ؟

ايا د نکاح پرته مورکيدل ډيره جمهوري لاره نه ده ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په فرانسوي پوځ کې عسکرو ته دا ښوونه کيږي چې د خبيثه ناروغيو څخه د خوندي پاته کيدو او دحمل د مخنيوی له پاره بايد څه ډول کامونه واخستل شي ؟ يعني دا خبره حتمي ده چې هر عسکر به زنا کوي . په (۱۹۱۹ ز) کال د مۍ په دريېمه د فرانسې د (۱۲۷ مې) فرقې قومندان د عسکرو په نوم يو پيغام وليکه چې د هغې الفاظ په دې توګه دي:

[داسې بريښي چې په عسکري زنا ځايو نو باندې د ټوپک لرونکو عسکرو د هجوم له امله د سپور او پلي ځواک عسکرو ته ستونزې پيدا شوي . هغوې شکايت کوي چې ټوپکوالا و په زناځايونو اجاره کړې ده او نور هلته نه ورپريږدي. د عسکري قواو عمومي قوماندانۍ هڅه کوي چې د ښځو په شمير کې ډيروالې راوړي خو تر څو چې دا شميره زياتيږي ټوپک والاو ته لارښوونه کيږي چې ډير زيات دننه پاته نه شي او خپلې جنسي غوښتنې دې په بيړه تر سره کړي.]

فکر وکړئ چې دا اعلان د نړۍ د يوه پر مختللې هيوا د عسکري قواو د قوماندانۍ څخه په ځانګړې توګه صادريږي. ددې معنې داده چې په اخلاقي توګه د زنا دمعيوب ګڼل کيدو وهم او ويره هم دهغوې په زړونو او دماغونو کې باقي پاته نه ده. ټولنه ، قانون او حکومت ټول ددې آند او فکر څخه خالي شوي دي[1]

ددويمې نړيوالې جګړې څخه لږ پخوا په فرانسې کې يوه مؤسسه په دې خاطر جوړه شوې وه چې هره ښځه چې د خپل چاپيريال ، مالي کيفيت او عادی اخلاقو له اړخه هر څنګه وي بايد د يوې تجربی له پاره تياره کړل شي . هر څوک چې د کومې ښځې سره اړيکې ټينګول غواړې هغه دې همدومره وکړي چې دهغې ښځې نوم او ادرس دې و ښيي او پنځه ويشت فرانکه دې د وړاندې څخه اداري ته تحويل کړي. دهغې وروسته دهغې ښځې راضي کول دهمدغې اداري کار دي.

ددې د نوملړ(Regester ) دليدلو څخه دا په ډاګه کيږي چې د فرانسې د ټولنې هيڅ داسې طبقه نه شته چې يو زيات شمير خلکو يې په دغه کته ور تجارت کې برخه نه وي اخيستې ،او دا ټوله را راکړه ورکړه دحکومت د سترګو لاندې کيده (پول بيرو ۱۴ مخ)

ددې اخلاقي ذلت لنډيز دا دې چې د فرانسې په زياتو ولسواليو سترو ښارونو کې د ډيرو نژدط خپلوانو تر منځ ان ترې چې دپلار او لور او ورور اوخور تر منځ ددغه ډول شهواني اړيکو جوړښت کومه ځانګړې پيښه نه بريښي.

---

(۱) دهغه د عسکري ځواک چې غه حال وي نو تاسې فکر وکړئ چې هغوی کوم هيواد ته فاتحانه داخليږي نو دهغوې په لاسو د يوه مغلوب ولس په ابرو او عزت به څه څه لوبې نه کيږي دا ددوی له نظره د عسکري اخلاقو معيار دې. خو د قران معيار بيا داسې دی چې وايي «الذين ان مکناهم في الارض اقاموا الصلوة و آتوا الزکاة و أمروا بالمعروف و نهوا عن المنکر و لله عاقبة الامور .» [که چيرې مونږ هغوې ته په ځمکه د حکومت واګې په لاس ورکړو نو هغوې بيا د لمانځه او زکات نظام جوړوي او د نيکۍ حکم به کوي او له بدو به منه کوي او د ټولو چارو پای د الله په لاس کې ده.]

يو هغه عسکر دي چې پر ځمکه پر لاره بد مغزه او دمغرور په خير ګرځي او بل هغه دی چې په دې خاطر يې سر په لاس کې نيولې چې د انساني اخلاقو ساتنه وکړي او نړۍ ته د پاکوالي درس ورکړي. نو ايا انسان دومره ړوند شوې چې ددواړو تر منځ توپير نه شي کولاي ؟

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دبدکارۍ ډېرښت :

د نړیوالې جګړې تر مخه د فرانسې د هیواد لوي قانون پوه موسیو بیلوټ(M. Bulot) په خپل را پور کې د هغو ښځو شمیر چې خپل جسمونه نورو ته په کرایه ورکوي د پنځه لکو څخه زیات ښوولی. خو دهغې ځاې د بازار ښځې د هندوستان د لوبې وچې په کسب ګرو فاحشو باندې مه قیاسوئ. ځکه چې هغه یو پر مختللې هیواد دې ټول کارونه یې په پوره ظرافت او تنظیم سره په ډېره ښه توګه مخته روان دی. هلته په دې کسب او دندو کې د اعلان او اشتهار څخه ډېره ستره ګټه اخستل کیږی. اخبار ، پوسټ کارډ ، ټیلې فون او شخصي بلن لیکونه او .... ټولې لارې د اخیستونکو د توجه د را ګرځولو په خاطر استعمالیږي، او ټولنه په دې کار د چا ضمیر او او احساس نه ملامتوي. بلکه دې کار کې چې کومو ښځو ته زیاته سوبه وربه برخه کیږی نو بیا هغوی دملکې سیاست او اقتصاد په ډګرونو کې او د هیواد د لوړ رتبه خلکو تر منځ د ډیرواک او ځواک خاوندانې وی ، دا همغسې پرمختګ دي چې یو وخت د یونان په تمدن کې دغه ډول ښځو ته ور په برخه شوي و.

دفرانسې د سنا د غونډې یوه غړي (موسیو فرناند دریفوز M. Ferdinand Dreyfus) د اوس نه څو کاله پخوا لیکلې و چې د قحبه ځایو کسب اوس یو انفرادي کسب نه دې بلکه ددې ادراې څخه چې ځومره سترې مالي ګټې تر لاسه کیږی دهغې په اساس اوس دغه یو تجارت (Business and organized Industry ) او یو منظم کسب ګرځیدلې دې. دهغې د خامو موادو تیاروونکې ایجنټان نور دي. سفري ایجنټان یې جدا دي. ددې تجارت له پاره اوس ستر ستر مارکیټونه موجود دي. ځوانې نجونې او کم عمره نجونې هغه تجارتي مال دې چې هم واردیږي اوهم صادریږي. خو په دې هکله د لسو کالونه د کم عمرو نجونو غوښتنه زیاته ده. پول بیرو لیکې چې:

[دا یو ډیر مظبوط نظام دې چې په ډېره منظمه توګه د معاش لرونکو مسؤلینو او کارکوونکو له پلوه پر مخ ځي. د قلم خاوندان او خپرووکې اداري( Publicist )، خطیبان او واعظان ، ډاکټران او قابلې ( Mid Wives ) او تجارتي سیاحان ددې ادراې اساسي غړي دی او ددې د اشتهار او اعلان له پاره د نوو طریقو څخه کار اخیستل کیږی]

د فحش ددې مرکزونو تر څنګ په هوټلونو ، رستورانونو او د ډانس او نڅا په ځایونو کې هم په ډانګ پیلې توګه د قحبه ګرۍ کاروبار کیږي او په ځینو وختونو کې د انتهاي تیری او قساوت تر پولو رسیږي. په۱۹۱۲ زیږدیز کال کې یو ځل د شرقي فرانسې د ښاروالۍ د رئیس په مداخلې سره د یو ې داسې نجلۍ ژوند وژغورل شو چې د په یوې ورځې د ۷۲ اخیستونکو سره مخ شوې وه او نور خریداران یې لا تر اوسه په قطار کې ولاړ و.

دوېمې نړیوالۍ جګړې ته دا شرف ور په برخه شو چې د تجارتي قحبه ځایو تر څنګ ئې خیراتي قحبه ځایونه هم پرانستل . دجنګ او جګړی په وخت کې په وطن مینو ښځو د فرانسې د ځمکې څخه ددفاع په خاطر د جنګیدونکو ځوانانو د زړه د اخلاصه خدمت وکړ او هغوی ته ددې خدمت په بدل کې له یوه اړخه بې پلاره بچې په لاس ورغلل او له بله اړخه ورته د مقدس جنګ د میندو ( War-God Mother ) عزتمند لقب ورکړ شو. دا داسې یو حیرانونکی خیال دې چې زمونږ ژبه یې د ژباړې څخه هم عاجزه ده.

دې ښځو به منظمه توګه قحبه ګرې پیل کړه او دهغې سره بسپنه کول یو اخلاقي کړنلاره وګرځیده. ورځنیو سترو سترو اخبارونو او په ځانګړې توګه د فرانسې دوه مشهورو تصویري جریدو فنتاسیون(Fantasion )

(c) ketabton.com: The Digital Library

او لاوي پاريزان(La Vie Parisienne) د هغوي په لور د نارينه‌و د توجه په ورګرځولو کې ستر رول لوبولې دي. په ۱۹۱۷ ز کال کې د وروسته ياد شوي اخبار يوه ګڼه ددې ښځو په ۹۹ اعلانونو ډکه وه.

## دشهوانيت او بې حيايۍ توپان :

دفحش اوبدکارۍ دغه ډيرښت او په خلکو کې دهغې منښت چې دکوومو شهواني ځپو دراپارولو په پايلو کې منځته راغي هغه د هغو جنسي ليکنو ، لوڅو انځورونو ، سينما ګانو ، تيارترونو ، دګډا ، نڅا او لوڅوالي د هغه ډيرښت پايلې دي چي په ټولنه کې په ځرګنده توګه شتون لري. دځان غوښتو او ګټه پالو پانګه والو يو لوې لښکر دهمدې لارې د خلکو د شهواني قوې د راپارولو پسې لګيدلې او ددې لارې څخه اوس خپل کارو بار ته وده ورکوي . ورځني او اونيز اخبارونه ، انځوريزې جريدې او مياشتنۍ او نيمه مياشتنۍ مجلې تر اخري پولو پورې فحش مضامين او شرمناکه تصويرونه خپروي. او دا ځکه چې د خپرونو د تيراژ د لوړولو دا تر ټولو اغيزمنه وسيله ده. په دې کار کې اعلي درجه ذهانت ، هوښياري او سيکالوجي په کار اچول کيږي تر څو ښکار په هيڅ صورت د پنجې څخه و نه وځي. ددې تر څنګ په جنسي مسايلو باندې ډيرې ناپاکه ليکنې ، د ورو رسالو او يا کتانو په شکل کې را وځي چې هر چاپ يې د پنځو سو زرونه زيات وي. ان تردې چې ځينې چاپ ځايونه يوازې او يوازې دهمدې له پاره ځانګړې کړل شوي دي او ځينې داسې د قلم خاوندان هم شته چې دهمدې لارې د عزت او شهرت مقام ته رسيدلې دي. اوس د فحش کتاب ليکل د هيچا له پاره دبې عزتۍ خبره نه ده. بلکه که کتاب مقبوليت پيدا کړي نو داسې ليکونکې بيا د فرانسې د اکاډومۍ غړی يا لږ تر لږه د (Corix De Honneus) ورګرځي.

واکمنان دغه ټول حالات په سره سنيه شاري ، کله چې ډير د شرم نه ډک څه خپاره شي نو پوليس په ډيره ناخوښۍ سره دهغې پوښتنه کوی خو د پراخه زړه قاضيان دغه ډول مجرمينو ته يوازې يوه انتباه ورکوي. ځکه چې کوم وګړي چې د قضاوت په ګدۍ ناست دي هغوي پخپله ددغسې ليکنو څخه خوند اخلي ، ان تر دې چې د ځينو قاضيانو قلمونه هم په همداسې کثافت کې ککړ دي. خو که چيرې په اتفاقي ډول کوم قاضي د «پخواني يا زوړ فکر خاوند» په دې کار د نقد ګوته کيږدی نو بيا د قلم خاوندان ، اديبان او ټول په دې هکله مداخله کوي او اخبارونه په يوه اواز ليکي چې د ليک اولوست دپرمختګ له پاره ازاده فضا په کار ده اود پخوانيو پيړيو په څير د اخلاقي بنديزونو معني داده چې د لطيفه فنونو په مرۍ منګلۍ ښخي کړل شي.

اوس نو ووينئ چې ددې لطيفه فنونو پر مختګ څه ډول صورت نيسي. ددې د خپريدو يوه ستره برخه دهغه لوڅو عکسونو او عملی انځورونو په بڼه ده چې په لکونو البمونه يې تياريږی او نه يوازې په بارازونو ، هوټلونو او دچايو په ځايونو کې بلکه په مکتبونو او ليسو او پوهنتونو کې هم خپرول کيږی.

اميل پوريسي (Emil Poureisy) چې د فحاشۍ د بنديدلو د ټولنې په دريمه غونډه کې کوم راپور ولوست په هغې کې يې کښلي دي چې:

[دا نا پاکه انځورونه دخلکو په حواسو کې ډير سخت توپان او کشمکش را پيدا کوی او خپل بدقسمته اخستونکي داسې جرايمو ته راکاږي چې په آند او فکر کې يې هم نه راځي. په ځانګړي توګه په ځوانانو هلکانو او ځوانونجونو کې دهغې بده اغيزه د حد نه زياته ده. د ډيرو مکتبونو او ليسو حيثيت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهمدغسې اعمالو په واسطه په اخلاقي او جسماني توګه دتباهۍ سره مخ شوي په ځانګړي توګه د نجونو له پاره ددې نه زيات غارت کوونکي لوبونکي بل څه نه شي کيدا ی.]
دهمدغې لطيفه فنونو په خدمت کې تياتر، سينما ، موزيک ځايونه او قهوه ځايونه بول فعاله رول ادا کوی.
هغه ډرامې چې د فرانسې لوړ پوړي طبقې په پوره علاقې او مينې سره وينې او ليکونکو او تمثيلونکو ته يې افرين او شاباس وايې پرته له شکه ټولې د شهوانيت نه ډکې دي او دهغوی ځانګړتياوې دادي چې هغه کرچار(کريکټر) چې په اخلاقي توګه ډير بد دي هغه په ډيره ښه توګه تمثيل او د يوه ډير اعلي کرچار(کرکټر) په توګه يې دهغوی ترمخ ږدی.
د پول بيرو دخبرې په اساس: [د (۳۰-۴۰) کالو راهيسې زمونږ ډرامه ليکونکي چې مونږ ته د ژوند کوم آنځور وړاندې کوی دهغې ځخه په ډاګه ښکاري چې زمونږ په ټولنه کې ټولې واده شوي جوړې خاينې دي او د ازدواجې وفاداريو څخه عاري دي. يا خو ميړه بې عقله دي او يا دښځې له پاره د ځان بلا. او دښځې بهترين صفت که چيرې کوم يو وي نو هغه به داوي چې هر وخت د ميړه نه زړه بدې او د نورو سره به ددوستۍ په لټه کې وی.]
کله چې د پورته طبقې د تياترونو دغه حال وی نو دعمومي تياترونو او تفريح ځايو به څه حال وي؟ ډير بد او اوره خلک چې دکومو کړو وړو ، د ژبې دنرمښت ، لوڅ توب او فحاشت څخه ډاډ من وي هغه پرته له څه شرم وحيا هلته را وړاندې کوي او خلکو ته د اعلاناتو په واسطه دا ډاډ ورکول کيږی چې هر څه چې ستاسې شهواني تنده ماتوی هغه ټول دلته حاضر دي. زمونږ ستيج د تکلف نه پاک او په حقيقت( **Realistic** ) ولاړ دي.
اميل پوري په خپل کتاب کې زيات شمر مثالونه بيان کړي چې د مختلفو تفريح ځايو څخه يې را ټول کړی او د تهجی د حروفو په پرده کې يې را نغښتی دي. دنمونې په توګه:
«ب» کې د يوې لوبغاړې سندرې ، خبرې اترې(**Monologues** ) او حرکات په اخري درجه د فحش وو او هغه شاليد چې په پردې باندې مختمه راته نو هغه د جنسې اختلاط اخري درجو ته رسيده. د زرو کسانو نه زيات کتونکې موجود وو ، چې شرفا هم په کې تر سترګو کيدل. او ټولو د بې هوشۍ په حال کې د افرين او شاباش اوازونه پورته کول.
«ن» کې وړې سندرې او دهغې ترمنځ وړې وړې خبرې او دهغی سره خوځيدل را خوځيدل د بې شرمۍ انتها ته رسيدلې و . کوچنيان د خپلو والدينو سره ناست ، دغه تماشايې کتله او په پوره جذبې سره يې هرې بې شرمۍ ته لاسونه پړکول.
«ل» د حاضرينو هجوم پنځه ځله زوګ پورته کړ او داسې يوه لوبغاړې يې بيا را وغوښتله چې خپله لوبه يې په يوه ډيره فحشه سندره باندې پای ته رسوله.
«ر» کې تماشاچيانو بيا بيا دهمدغسې يوې لوبغاړې نه غوښتنه کوله چې يو ډير فحش حرکت بيا بيا تکرار کړي. اخر هغې په ناخوښۍ سره وويل ، (تاسو څومره بې شرمه ياست نه وينۍ چې په هال کې کوچنيان هم ناست دي ) ددې خبرو په ويلو سره يې خپل ځاې پريښود. دا دومره فحش کار و چې هغه فاحشې يې هم د بيا تکرار ولو زغم نه درلود .
«ز»ټولو تماشاچيانو د تماشا نه وروسته په لوبغاړو باندې لاټرې واچوله او دغه دلاټرې ټکټ په لس لس سانيم باندې پلور کيده ، د هرچا په نوم به چې د کومې لو بغاړې نوم را ووت نو هغه به دهغې سره شپه سبا کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پول بیرو  لیکي چي: [ډېروخت به په ستېيج باندې بلکل لوڅې ښځې راوتلې چې پر وجود به يې د کاليو يو تار هم شتون نه درلود.]
ډولف بريسان( Adolphe Briason )يو ځل د فرانسې په يوه مشهور اخبار (Tamps ) کې په دې شيانو احتجاج وکړاو ويې ليکل چې اوس يوازې همدومره پاته دي چې په ستېيج باندې د ښځې او نر جنسی عمل و ښوول شي. او دا ريښتيا ده چې د فن تکميل به بيا په همغه وخت کې تر سره شي.
د حمل د منه کولو غورځنګ او د (Sexual Science ) تش په نامه د جنسي علومو طبي ليکنو هم د بې حيايې او فحش په خپرولو  او دخلکو د اخلاقو په خرابولو کې لويه ونډه درلوده. په عمومي غونډو کې دويناو او په مطبوعاتو کې د انځورونو او ځيرونکو خبرو کې  د حمل او د حمل نه د منه کونکو الاتو د استعمال د لارو چارو  په هکله هغه تفصيلات  په ډانګ پيلې الفاظو سره د خلکو په مخ کې بيا نيدل چې د هغې نه زيات بيا هيڅ شي نه پاته کيده چې تشريح يې وشي. په همدې ترتيب په جنسی کتابونو کې تر اخره پورې د بدن تشريح  داسې تر سره کيده چې د جنسي  کړو وړو  په هکله تري هيڅ پټ نه پاته کيدل. په ښکاره توګه يې په دغه ټولو شيانو د ساينس پرده و غوړوله ، تر څو د نيوکو نه پورته وي. بلکه نور هم پر مختګ وکړي او دغه کار دخلکو دخدمت په نامه ياد کړي. او علت يې دا بيا ن کړل شی چې مونږ خو خلک په جنسي عمل کې دغلطيو څخه ژغورو. خو حقيقت دادې چې دې ليکنو او دغه ډول ښوونې او روزنې په ښځو ، نرو او ځوانانو کې ډېره کاواکه بې حيايې را پيدا کړه او  د همدغې په برکت نن نوبت دې ځاې ته رارسيدلې چې يوه ځوانه نجلۍ چې په مکتب کې درس وايې او تر اوسه د بلوغ مرحلې ته هم نه وي رسيدلې خو د جنسې اړيکو په هکله د ومره معلومات لري چې يو وخت واده شوو ښځو ته هم نه و وريه برخه.
همدا حال د نابالغه تنکو ځوانانو هم دې د هغوې جذبات دوخته مخکې را بيداريږي په هغوی کې د جنسي تجربې شوق را ولاړيږي او دځوانۍ مرحلې ته د رسيدو تر مخه خپل ځان د نفس د غوښتنو په غيږ کې ور غورځوي. په داسې حال کې چې د نکاح له پاره يو حد ټاکل شوې خو ددې تجربو له پاره هيڅ حد نه شته. د ۱۲ کلنۍ يا ۱۳ کلنۍ  څخه ددې کار لړۍ پيليږي.

## دولس دبربادۍ نښې :

هلته چې بد اخلاقي ، نفسي غوښتنې او د جسماني لذت غلامي تردې پولو پورې رسيدلې وي او  هلته چې ښځه ، نر ، ځوان او زوړ ، ټول په عيش و عشرت کې دومره ډوب شوې وي چيرې چې انسان د شهوانيت اغيز د خپل حال نه بيرون را باسي نو په داسې ځاې کې د ولس د هلاکت او بربادېدو طبيعي اسباب پخپله برابريږي. نو بيا چې خلک ددغسې (علي شفاحفرة من النار)  را پرزيدو او راپريوتو  په لار د روانو ولسونو لوړه الوتنه ګوري نو فکر کوي  چې دهغو عيش پالنه د هغوې د پرمختګ تر مخه خنډ شوې نه ده ، بلکه بر عکس يې کومک ورسره کړې او دا چې يو ولس هغه وخت د لوړې الوتنې ځاې ته رسيږي چې هغوې د لذت او خوند اخستنې هغه پورته پوړۍ ته ځان ورسوي. خو دا ډېره غلطه زيينبه ده. هلته چې د تعمير او تخريب ځواکونه يو ځاې مصروف وی او په مجموعي ډول د تعمير نښې ښکاره په نظر را ځي نو  هلته بيا تخريبي ځواکونه هم د تعميري وسايلو په ډله کې شميرل  دهغو وګړو کار دې چې عقل يې له لاسه ورکړې وی ، دنمونې په توګه که يو هوښيار تاجر د خپل استعداد او ذهانت  په اساس په  لکونو روپۍ ګټي. او دهغې تر څنګ هغه په شرابو  ، جوارۍ او عياشۍ  کې هم ککړ وي ، نو تاسې به څومره غلطي وکړئ چې دهغې د ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه اړخونه د هغې د خوشحالۍ او پر مختګ په وسايلو کې و شميرى. په حقيقت کې د هغې لومړنۍ صفت دهغې د خوښۍ او دويم صفت يې په تخريب کې کار کوي. که چيرې د لومړي صفت په اساس تعمير جوړېښت مومي نو ددې معنې دا نه ده چې دويم صفت (تخريبي ځواک ) دهغه په ژوند کې کوم اغيز نه لري. که لږ ژور و ګورو نو درک به کړو چې په اصل کې دغه تخريبي قوتونه د هغې د ذهن او وجود ځواک په کلار کلار خوري. دهغې په زحمت سره ګټلې دولت ترې غلا کوي او په تدريج سره دهغې د برباديو پسې نښتې وی او هر وخت ددې انتظار کوي چې کله به پرې اخري حمله کوی تر څو د تل له پاره يې کار ورفيصله کړي . په دې هکله د جوارۍ يا قمار شيطان هر وخت د هغه ټول زيار په يوې ثانيه کې لوټولې او چورولې شي او هغه دهمدغې ثانيې انتظار کوي ، د شرابو څښلو شيطان د بې هوشۍ په حالت کې په هغې داسې يوه غلطي کولې شي چې په هغه سره يې د هر څه خلاص کړي . د بدکارۍ شيطان هم همداسې په مورچل کې ناست وي چې هغه هر وخت د ځان په وژلو يا دبل په وژلو د تباهۍ په کنده کې ورټيل وهي. نو ايا تاسې ګمان کولې شئ چې دداسې سترو سترو شياطينو په ينجو کې د راګير انسان د پر مختګ به څه حال وي؟

په همدې ترتيب يو ولس دړ واخلئ ، هغه د تعميري ځواکونو په بنسټ پر مختګ کوي خو د صحيح لارې د نه ميندلو په صورت کې د څو قدمه مخې تګ وروسته پخپله خپل ځانته تخريبي وسايل برابروي. تر يوه وخته پورې تعميري ځواکونه په خپل قوت سره دهغې د مخکې تللو هڅه کوي. مګر ددې سره سم تخريبي ځواکونه دهغې د ژوند قوت دهغې د وجود په داخل کې د لرګي د واينه د چينجو په ډول له منځه وړي ، تر هغې پورې چې دهغې منځ دومره دخالې کړي چې يوه ناڅاپې پيښه د هغې د عظمت څلې د ځمکې سره ځمکه کړي.
دلته مونږ په لنډه توګه د هلاکت او بربادېدو د هغو سترو سترو عواملو او لاملونو يادونه کوو چې دفرانسې د ولس غلط اجتماعي نظام دهغوې له پاره را پيدا کړي:

## د جسماني ځواکونو ځوړتيا :

دشهوانيت ددې تسلط لومړنۍ پايلې دا شوې چې د فرانسويانو جسماني قوتونه ورو ورو د تنزل او ځوړتيا په لور روان شول. د فرانسې د ولس اعصاب د تلپاتې هيجانونو په پايلو کې کمزوري شول . د بدني غوښتنو غلامي په هغوې کې د زغم ځواک ډير زيات کمزورې کړ او د خبيثه ناروغيو توپان دهغوې په روغتيايي حالت ډير بد اغيز وکړ.
دشلمې پيړۍ په پيل کې يې حال دا و چې د فرانسې عسکري قومندانانو هر کال د نوي عسکری خدمت کوونکو د غوره کولو له پاره د وضع کړل شوو جسماني شرايطو کې کمښت راوست. څکه چې په ځوانانو کې دا هليت هغه لومړني معيارونه ورو ورو کميدل. دا د ترماميټر په توګه يوه ښه پيمانه ده چې مونږ ته ځرګندوي چې د فرانسوي ولس بدني ځواکونه په تدريجي ډول د ځوړتيا او تنزل په لور روان دي او خبيثه ناروغتياوې ددې تنزل يو مهم سبب دي.
د لومړنۍ سترې جګړې په لومړنيو دوو کالو کې چې يوازې د سوزاک د ناروغۍ له امله چې کومو عسکرو ته په شفا خانو کې دداخليدو له پاره پاڼې ورکړل شوې وې دهغوې شميره (۷۵۰۰۰) کسانو ته رسيده. يوازې په يوه منځنۍ درجه عسکري قشله کې نژدې (۲۴۲) کسه عسکرو په دغه خبيثه ناروغۍ ککړ وو. اوس يوې خواته د وخت دا حساس پړاو ووينئ چې د فرانسې ولس د ژوند او مرګ په کشمکش کې اخته و او دخپل وجود د پايښت له پاره يې دد ې عسکرو په خپله خاوره ځاريدو ته اړتيا درلوده ، يوې يوې روپۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیر ارزښت درلود . د وخت ، ځواک او وسایلو ډیره برخه باید د هیواد څخه په دفاع کې مصرف شوې وای خو له بله اړخه ددې ولس ځوانانو ته وګورئ چې څومره زره وګړې ددې عیاشۍ په اساس نه یوازې دا چې څو څو میاشتې بیکاره پراته و بلکه دخپل قوم دولت او وسایل یې په دغه ارزښتناکه وخت کې په خپل علاج باندې لګول .

دیو فرانسوي ډاکټر (Dr.Laredde) وینا ده چې په فرانسه کې هر کال د سوزاک او دهغې نه د را پیدا شوو ناروغیو له امله (۳۰۰۰۰) کسان مره کیږي . دا یوازې د یوې خبیثه ناروغۍ حال دې په داسې حال کې چې د خبیثه ناروغیو لړلیک په یوه ناروغۍ نه را لنډیږي .

## د کورني ژوند بربادیدل:

ددې کاواکه شهوانیت او خپل سرۍ دعام رواج موندلو په بنسټ د فرانسې په ولس یو بل مصیبت را غې او هغه د کورني نظام بربادیدل و .

کورني نظام د ښځې او نر ترمنځ د هغو تلپاتې اړیکو له مخې جوړښت مومي چې نوم یې نکاح ده . ددې اړیکو په بنسټ د وګړو په ژوند کې سکون ، ارامتیا ، استقلال او ثبات را پیدا کیږي او همدغه نکاح دهغوې وګړیز ژوند په ټولنیز ژوند تبدیلوي. د انتشار او ګډوډیو میلان تر پښو لاندې کوي او انسان د تمدن له پاره د یوه ښه خدمتګار په څیر وړاندې کوي . دهمدغې نظام په چاپیریال کې د مینې ، محبت ، امن او ایثار پاکه او پاکیزه فضا را پیدا کیږي چې په هغې کې په نوو نسلونو کې سهي اخلاق ، سهي روزنه، ښه تعمیري خوي او خاصیت وده کوي. خو کله چې د نر او ښځې د ذهن او فکر څخه د نکاح آند او فکر بلکل لرې کړل شي اود هغوې ترمنځ جنسي اړیکې یوازې او یوازې د شهوانیت د جذبې د مړه کولو څخه اخوا بله کومه موخه او هدف و نلري نو بیا هلته داسې نظام جوړښت نه شي موندلې او که جوړ هم شي پایښت نه مومي. ځکه چې هلته په ښځو او نرو کې دا صلاحیت بلکل پاته کیدای نشي چې د ازدواج د مسؤلیتونو ، حقوقو او فرایضود اخلاقي پولو بار په خپلو اوږو پورته کړي. دهغوی د ذهني او اخلاقي کیفیت او څرنګوالي اغیز داسې وي چې د هر نسل روزنه د بل څخه خرابه پر مخ ولاړه شي . په وګړو کې ځان غوښتنه او خپل سرې تر دې ځایه وي چې د تمدن شیرازه د یوې مخې خوره وره کړي په خلکو کې تلون او ښکته پورته کیدل دومره ډیر شي چې په کورني سیاست او بین المللي اړیکو کې هم ثبات د لاسه ورکړي. دکورني سکون د نه پیدا کیدو له امله د وګړو ژوند ورځ په ورځ تریخیږي او یو تلپاتې اندیښنه د هغوې ارامتیا او سکون د تل له پاره له منځه وړي. دا د نړیوال جهنم هغه عذاب دې چې انسان دخپلو احمقانه او بې عقله لذت غوښتنو په اساس په کې ځان پخپله را نغاړي.

په فرانسه کې هر کال په منځنۍ توګه په زرو کې یوازې (۷ یا ۸) ښځې او نر د واده له لارې خپلې اړیکې جوړوي. دا سلنه دومره کمه ده چې هر څوک تری دا اندازه کولای شي چې څومره خلک د واده نه پرته په خپلو کې سره ژوند کوی. بیا نو دومره کوچني شمیر چې نکاح کوي دهغوې څخه ډیر لږ داسې خلک دې چې په پاک لمنۍ سره ژوند تیروي او د پاک اخلاقي ژوند په نیت نکاح کوي. خو دهمدې یوې موخې نه اخو نورې شونې موخې هم دهغې مخې ته پرتې وي. ان تردې چې د همدې موخو څخه یو داوې چې دواده تر مخه چې کومې ښځې کوم ناجایز کوچني زیږولې وي هغه هم دنکاح په کولو سره جائز وګڼل شي . لکه چې پول بیرو لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

[د فرانسې دکارګرانو د طبقې یا (Working Class) حال دادې چې د نکاح نه مخکې ښځه دخپل کیدونکې میړه څخه دا وعده اخلي چې دهغې(پخوانې نا جایز اولاد به ) خپل اولاد ګڼي]
په (۱۹۱۷ ) کې د (Seine) په محکمه کې یوې ښځې دا وینا وکړه چې «ما دوادوه په وخت کې خپل میړه په دې خبر کړې و چې ددې واده څخه زما موخه داده چې د نکاح تر مخه چې د ازادانه اړیکو له شتون له مخې زما څه کوچنیان پیدا شوي هغه ټول حلال او جایز وګڼل شي. پاته شوه دا چې زه دهغې سره کورنۍ ژوند وکړم نو دا کار نه هغه وخت زما په ذهن کې و او نه اوس شته. په دې اساس په کومه ورځ چې مونږ واده وکړ په همغه ورځ په پنځه نیمو بجو زه دخپل خاوند نه بیرته جلا شوم او تر نن ورځې پورې مې بیا ورسره نه دې کتلې او دا ځکه چې زه د واده د مسؤلیتونو د پورته کولو نیت او اراده نه لرم.»
د فرانسې د یوې مشهورې فاکولتی مدیر د پول بیرو په حواله ویلې چې عموما ځوانان په نکاح کولو کې یوه موخه لري او هغه دا چې په کور کې دې هم یوه وینځه خادمه ولري. لس دولس کاله هغوې هرې لورې ته د مزو او عیاشیو څخه ستومانه را ګرځي بیا داسې یو وخت راځي چې ددې بې بندوباره او خپل سري ژوند څخه سترتیا احساسوي نو بیا دیوې ښځې سره واده وکړي تر څو دکور سکون او ارام هم تر یوه حده پورې تر لاسه کړای شي او تر څنګ یې زاد نه شوق هم د لاسه ورنه کړي.
په فرانسه کې د واده شوو ښځو سره زناکول کوم ناوړه او کرکجن عمل نه دې. که څوک د نکاح کړې ښځې تر څنګ بله ملګرې (معشوقه ) هم ولري نو هغه ته ددې خبرې د پټولو اړتیا نه شته او ټولنه دغه کار یو معمولي او متوقع کار ګڼي. په دې حالاتو کې نکاح دومره کمزورې ده چې په وړو وړو خبرو ماتیږي او له منځه ځي. ډیر وختونه دهغې عمر د څو ګړیو څخه ډیر نه وي لکه چې د فرانسې یو معزز وګړي چې څو ځله یې د وزارت منصب هم سنبال کړې د خپل واده پنځه ساعته وروسته یې دخپلې ښځې طلاق واخیستل.
داسې کوچنۍ کوچنۍ خبرې د طلاق او جدا کیدو سبب کیږي چې په اوریدو یې انسان ته خندا ورځي.
دنمونې په توګه که ددواړو څخه یو په خوب کې خراټې کوي یا یو دبل سپې نه خوښوي[او یا یو دبل د تلویزن پروګرام نه مراعاتوي] نو دا هم دطلاقو سبب کیدای شي. د سین (Seine) محکمې یوځل په یوه وار او په یوه تاریخ( ۲۹۴ ) نکاح ګانې ماتې کړې کله چې په( ۱۸۴۴ ز ) کال کې د طلاقو نوې قانون جوړ شو ( ۴۰۰۰ ) جوړې طلاقي شوې په (۱۹۰۰ ز ) کال کې د اشمیره تر اوه نیم زرو او په ( ۱۹۱۳ ز ) کې( ۱۲ زرو ) او په ( ۱۹۳۱ ) کې (۲۱ زرو ) جوړو ته ورسیده.

## نسل وژنه :

دکوچنیانو پالنه د یو لوړ اخلاقي نظام کار دې چې پر نفس کنټرول ، د نفسي غوښتنو پرېښودل ، د سختیو او زیارونو ګالل او د ځان او مال ځارول دې. ځان غوښتې ، نفس پاله خلک چې د وګړیز ژوند او حیواني فطرت آند پرې سپوروي دداسې خدمت دتر سره کولو له پاره هیڅ کله هم نه تیاریږي.
د اوو(۷) کالو را هیسې په فرانسې کې دحمل د منعې په هکله پوره پوره تبلیغات کیږي. دهمدې پر پاګند په اساس د فرانسې هر وګړې ، ښځه او نر دهغو ټولو تدابیرو څخه پوره پوره خبر دي چې انسان ددې وړ ګرځوي چې د جنسي فعل او دهغې څخه دلذت اخیستو سره سره بیا هم دحمل د ثبات ، استقرار او د نسل د تولید مخنیوی وکړي. هیڅ کلې ، بانډه او یا ښار نه شته چې هلته دحمل څخه د مخنیوی ادویات او وسایل نه وي ور رسیدلي ، او هر سړې تری نه وي ګټور شوي . د دې پایلې داشوې چې نه یوازې د ازدې لارې د شهوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره کوونکو وګړو بلکه د واده شوو جوړو تر منځ هم دغه ډول تدبیرونه استعمال شي. ځکه چې د هرې ښځې او سړې دغه غوښتنه وي چې د هغوې تر مینځ کوچني ، یعني هغه بلا چې دهغوې د ژوند ټول لذت له منځه وړي په هیڅ توګه پیدا او دهغوې د اخلال سبب و نه ګرځي. په فرانسي کې چې د پیدا ابښت کچه په کومه اندازه ورځ په ورځ کمښت مومي دهغې له رویه پوهان دا ګومان کوي چې دحمل د مخنیوې ددغې وبایي ناروغتیا په اساس لږ تر لږه د شپږو لکو انسانانو پیدا ابښت درول کیږی.

ددې ټولو تدریرونو تر څنګ چې بیا هم حمل منځته راشي نو بیا د اسقاط په ذریعه دهغې د ضایع کولو هڅه کوي. او په دې ترتیب د نورو څلورو یا پنځه لکو انسانانو د پیدا ابښت څخه هم مخنیوی کیږی.

دحمل اسقاط یوازی ناواده شوې ښځې نه کوي بلکه واده شوې ښځې په دې معامله کې دهغوې هم پله دي.

دغه فعل د اخلاقي اړخه د نیوکې وړنه دې بلکه د ښځې خپل حق ګڼل کیږی خو قانون ورڅخه خپلې سترګې تړلې دې. سره ددې چې د قانون په کتاب کې دغه کار تر او سه پورې جرم ګڼل کیږي خو په عملي توګه په درې سوه پیښو کې یوائې یوه پیښه محکمی ته رسیږي او هغه هم په سلو کې ( ۷۵ ) خلک په کې د محکمې څخه براءت اخلي.

د اسقاط طبي تدبیرونه دومره اسانه او عوامو ته دومره روښانه شوې چې ډیرې ښځې (د ډاکټر پرته )پخپله اسقاط کوي او کومې یې چې نه شي کولې هغوې ته د طبي مرستو په تر لاسه کولو کې هیڅ ډول خنډ نه پیدا کیږي. په ګیډه کې د ماشوم یا کوچني وژل دې خلکو ته دومره اسان ښکاري لکه څوک چې یوه درد لرونکې غابښ باسي.

دغه ذهنیت مورنې فطرت دومره مسخ کړې چې هغه مور چې محبت یې په نړۍ کې د ټولو محبتونو نه زیات ګڼل کیږي نن نه یوائې د خپل کوچنی څخه بیزاره او کرکجنه بلکه دهغې دښمنه ده ، د حمل د منعې او اسقاط نه د خوندې پاته کیدو په صورت کې چې کوم کوچني پیدا هم شي نو بیا دهغه سره ډیر بې رحمانه سلوک کیږي . پول بیرو دغه دردناکه حقیقت په دې ټکو بیانوي:

[هره ورځ ددې کوچنیانو په هکله په اخبارونو کې خبرونه خپریږي چې مور او پلار یې پرې ډیر زیات تیرې کوی. په اخبار کې یوازې د غیر معمولي پیښو یادونه کیږی خو خلک پوهیږي چې ددغو کوچنیانو ،(نابللې میلمنو ) ، سره څه ډول بې رحمانه سلوک کیږي د کومو څخه چې د هغوې والدین په دې خاطر زړه توري دي چې دهغوې په پیدا کیدو سره ددوې د ژوند ټول لطف له منځه ځي. د جرأت کمښت کله کله د اسقاط د پیښو مخنیوې پیدا کوي او په دې تر تیب هغو مظلومانو ته د پیدا کیدو فرصت په لاس ورځی خو کله چې پیدا شي نو بیا به هغوې ددې پیدا ابښت سزا تیرولو له پاره تیار وي.](۷۴م مخ).

دغه بې زاری او کرکه تردې حده رسیږي چې یوځل د یوې ښځې شپږ میاشتني کوچني وړ نو دهغې مړ جسد یې تر مخ کیښود او په ګډا او سندرو یې پیل وکړ او خپلو ګاونډیانو ته یې وویل چې اوس به مونږ هیڅکله بچي پیدا نه کړو. ځکه زما میړه ددې په مړینې پوره سکون تر لاسه کړ . ګورئ یو کوچني څه شي دي؟ هر وخت په ژړا ژړا مور او پلار سرګردانوي. ګندګي خپروي او انسان ته ترې هیڅکله ازادی نه په برخه کیږی.

ددې ټولو نه دردناکه خبره داده چې د کوچنیانو وژونکې وبایي ناروغتیا په ډیره چټکۍ سره خپریږي او فرانسوي حکومت او محاکم د حمل د اسقاط په څیر ددغې ستر جرم په هکله هم د پوره غفلت او بې پروائي نه کار اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلګي په توګه د (۱۹۱۸ز) کال د فبروري په میاشت کې د لورا (Loira) په محکمه کې دوه ښځې د خپلو کوچنیانو د وژلو په جرم د محکمې مخ ته راوړلې شوې. په دې کې یوې ځوانې ښځې خپل کوچنې په اوبو کې ډوب کړې او وژلي یې و ځکه چې ددې لومړني ماشوم دهغې خپلوانو پاله او هغه ددویم کوچني پاللو ته تیاره نه وه. خو بیاهم هغه پریکړه وکړه چې دا بیچاره ژوندي پرې نه ږدي. د محکمې په آند دهغې جرم د معاف کیدو وړو. یوې بلې بیا دخپل زوې ستوني ورخپه کړې و او کله چې د ساه دخپه کولو سره سره بیا هم په هغې کې څه ساه موجوده وه نو په دیوال یې وویشت او سر یې ورته مات کړ. دا ښځه هم د فرانسې د محکمې له خوا د قصاص د سزا وړ نه وه. په همدغه وخت کې د مارچ په اتلسمه د سین (Seine) په محکمه کې یوه نڅونکې (رقاصه) راوړاندې شوه چې دخپل کوچني ژبه یې دحلق څخه را ښکلې وه ، سر یې ورمات کړې او مرۍ یې وربنده کړې وه. دا ښځه هم دمحکمې له خوا برې او پاکه وختله.
هر هغه قوم چې د خپل نسل په دشمنۍ کې تردې ځایه پورې ورسیږي نو دنړۍ هیڅ تدبیر یې د فناکیدو څخه نه شي خوندي ساتلې. دنوي نسل پیدا ایښت د یوه قوم د موجودیت له پاره حتمي دي. کوم ولس چې دخپل نسل سره دښمني کوی په حقیقت کې د خپل ځان سره دښمني کوی. دوې خو ځان وژنه کوي. که بیرون دښمن یې هم نه وي نو پخپله دخپل ځان د له منځه وړلو له پاره کافي دي. لکه چې د فرانسې د نوي نسل پیدا ایښت د تیرو شپیتو کلونو څخه په پرلپسې توګه د کمښت په لوري روان دي. ځینې کلونه د مړینې شمیره د پیدا ایښت د شمیرې څخه ډیره وي او کله کله دواړه یو شان وي او کله د پیدا ایښت شمیره چیرته په زرو کې یو زیاته وي. د بله اړخه په فرانسه کې د نورو ولسونو د مهاجرینو شمیره مخ په زیاتیدو ده لکه چې په (۱۹۳۱ز) کال کې د فرانسې په څلور کروړه او اتلس لکه نفوسو کې اته ویشت لکه او نوي زره د نورو ولسونو خلک وو که چیرې دا ستونزه په همدې توګه پاته شي نو د شلمې پیړۍ تر پایه پورې به دا دحیرانتیا خبره نه وي چې خپله فرانسوي ولس په خپل وطن کې د لږه کې په توګه واوسي.
دا دهغه فکرونو او آند یو منطقي پایله ده چې په بنسټ یې د ښځو د ازدۍ او د ښځو د حقوق غورځنګونه د نولسمې پیړۍ په لمړیو کې پیل شول.

## څو نورې بیلګې :

## امریکا :

مونږ یوازې د تاریخي پیښو د بیان لړۍ د پرلپسې والي د قایم ساتلو له پاره د فرانسویانو آندونه او هلته په فرانسه کې دهغې په پایلو باندې لنډه څیړنه وکړه. خو دا ګومان کول به درست نه وي چې فرانسه په دې هکله یوازې ده. حقیقت دادې چې نن د ټولو هیوادونو، کومو چې همدغه اخلاقي آندونه او ټولنیز دغه نابرابره اصول خپل کړې ، نږدې هماغسې حال دي ، چې یادونه یې د کتاب په تیرو بانونو کې وشوه. دنمونې په توګه د امریکا متحده ایالات را واخلئ ،ځکه چې هلته هم همدغه نظام په پوره زور او شور سره خپل اوج ته رسیدلې دي.

## پرکوچنیانو د شهواني چاپیریال اغیزې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاضي بن لنډسي (**Ben Lindsy**) چې په ډنوور(**Denvar**) کې ورته د کوچنيانو د جرائمو دمحکمې( **Juvenile Court** )درئيس په څير ، د امريکا د تنکيو ځوانانو داخلاقي حالت د پيژندلو ښه زمينه برابره وه ، په خپل کتاب(**Revolf of Modern Youth**) کې ليکي چې:[ په امريکا کې کوچنيان له وخته مخکې بلوغ ته رسيږي ، او په ډير خام عمر کې په کې د جنسي اړيکو احساس را پاريږي.]

هغه دنمونې په توګه د (۳۱۲) نجونو په هکله څيړنه کړې چې په هغوی کې (**۲۵۵**) داسې وې چې د (۱۱) او (۱۳) کالو په عمر کې بالغې شوې وې او په هغوی کې دومره جنسي او بدني غوښتنې را پيدا شوې وې چې په يوې (۱۸) کلنې نجونې او يا دهغې څخه د زيات عمر په نجونو کې را پيدا کيږي.(د۸۲-۸۲ مخونه)

ډاکټر ايډت هوکر(**Dr. Edith Hooker**) په خپل کتاب (**Laws of Sex**) کې ليکي چې ډيرو مهذبو او شتمنو طبقو کې هم دا کومه غير معمولي خبره نه ده چې د اووه کالو نجونې دې د خپلو هم عمرو هلکانو سره عشق او محبت وکړي. او ډير وخت دا محبت او مينه د هغوی تر منځ په مباشرت کولو پاې ته رسيږي. هغه ليکي چې: [ يوه اووه کلنه کوچنۍ نجلۍ چې د يوې درنې کورنۍ لور وه ، د خپل مشر ورور او دهغې ددوستانو سره جنسي اړيکې لرې.]

په يوې بلې پيښې کې د پنځه کوچنيانو يوه ډله چې ددوه هلکانو او ددرې نجونو څخه جوړه شوې وه او کورونه يې يو د بل سره ډير لنډوو ، يو د بل سره په ښه کلکو شهواني اړيکو کې ککړو. هغوی نور هم عمره کوچنيان هم دې لورې ته ترغيبول. په دې ډله کې د ترټولو د لوې هلک عمر لس کاله و . يوه بله پيښه د يوې نهه کلنې نجلۍ ده چې په ښکاره توګه يې خپل ځان ډير کلک ساته خو دې نجلۍ په خپلو ډيرو عاشقانو فخر کاوه.]

د بالتيمور(**Baltimore**)د يوه ډاکټر په راپور کې ويل شوي چې د يوه کال په جريان کې د هغوی په ښار کې تر زرو زياتې داسې پيښې شوې دي چې د ۱۲ کالو څخه د لږ عمر پر نجونو جنسي تيرې شوې.

دا دهغې هيجان پاروونکې چاپيريال لومړنۍ ميوه ده چې هر لورې ته په کې د جذباتو او احساساتو د راپارولو وسايل برابر شوې و. د امريکا يو ليکوال ليکي چې:[زمونږ د ولس ډيره برخه چې نن کوم ډول ژوند مخته بيايي هغه دومره غير فطري دي چې په کې نجونو او هکانو ته په لس کلنۍ کې دا فکر پيدا کيږي چې هغو بايد يو دبل سره عشق وکړي. ددې زيښبې ډيرې زياتې غمناکې دي. ددغه ډول مخکې له وخته د جنسي غوښتنو څخه ډير بد ې پايلې را څرګندېدای شي. او همداسې کيږي. دهغې لږ تر لږه پايلې دادي چې نوې ځوانې نجونې د خپلو دوستانو سره تښتي ، يا په کم عمرۍ کې واده کوي او که چيرې په محبت کې ناکامې ورپه برخه شي نو ځان وژنه هم کوي.

## دښوونې اوروزنې مرحله :

په دې توګه چې په کومو کوچنيانو کې د وخت نه ترمخه کوم جنسي احساسات راپاريږي د هغوی له پاره لومړنې تجربه ځاې ښوونځې دي. ښوونځې او مکتبونه دوه ډوله دي ، يو ډول هغه دي چې د يوه صنف يا يوه جنس کوچنيان په کې داخليږي. او بل هغه ډول دي چې هلته صنفونه مخلوط وي. په لومړي ډول صنفونو کې د همجنسو محبت«**Homo Sexuality**» او د موټک وهلو«**Masturbatio**» وبا خپريږي ځکه هغه احساسات چې په کوچنيانو کې را پاريدلې دي ، نو ددې پاريدنې وسايل هرې لورې ته خپاره وې نو هغوی دخپلې جنيسي غريزې د تسکين له پاره يوه نه يوه لاره پيدا کوي. ډاکټر هوکر ليکي چې د ښوونې اوروزنې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي ډول مرکزونو ، ليسو ، د نرسنگ په مکتبونو او مذهبي مدرسو کې تل داسې پيښې پيښيږي چې په هغې کې د يوه جنس دوه کسه په خپل منځ کې شهواني اړيکې ټينګوي او د مقابل جنس سره د هغوي محبت له منځه ځي. په دې لړ کې هغه ډيرې داسې پيښې بيان کړي چې په کې نجونې د نجونو سره[1] او هلک د هکلکانو سره په جنسي اړيکو کې ککړ ښوول شوي دي.

[1] د ښځو د ښځو سره مينه او جنسي اړيکې د ((Lesbian) په نامه يادېږي او هم د نارينه د نارينه و سره اړيکې د «Homo Sexuality» په نامه يادېږي نن په غربي ټولنو کې دغه ډول اړيکې ډير زيات شوي دي. (ژباړن)

د ځينو نورو کتابونو څخه هم همداسې را ځرګندېږي چې دا د «همجنسود محبت» د وبا ناروغتيا ځومره ډيره په خپريدو ده. ډاکټر لوري (Dr.Lowry) په خپل کتاب (Hereself) کې ليکي چې يو ځل د يوه مکتب سر معلم (۴۹ کورنيو ته په پټه خبر ورکړ چې د هغوي کوچنيان اوس په مکتب کې نه شي ساتل کيداې ځکه چې په هغوي کې بد اخلاقي ويرونکي حال ته رسيدلې ده.

اوس يو بل ډول مکتبونو ته وړينځ: دا هغه ښوونځي دي چې نجونې او هلکان په کې يوځاې درس وايي. په دې ښوونځيو کې د راپارولو وسايل هم شته او د هغې د تسکين او سړولو وسايل هم. د هغه هيجان ابتداء چې د ورکتوب څخه شوي دلته په رارسيدو سره هغه پوره کيږي. ډيرې خرابې ليکنې او کتابونه د هلکانو او نجونو د لوست لاندې وي ، د عشق قصې په اصطلاح د نن (Art) مجلې په جنسي مسايلو باندې ډير چټل کتابونه او د حمل د مخنيوې په هکله معلومات او مضامين لري. دا هغه څه دي چې د ځوانۍ په مرحله کې د ليسو او پوهنتونونو د شاګردانو (نجونو او هلکانو ) نظر ځانته را اړوي ، يو مشهور امريکايي ليکوال هيندرچ فان لون (Hendrich Von Loain) وايي چې دا ليکنې چې په پوهنتونو او کالجونو کې يې ډيره غوښتنه کيږي د ګندګۍ ، غلاظت ، فحش او چټلتيا هغه ټوله ده چې يوه وخت په دومره ازاده توګه عوامو ته نه وړاندې کيده.

د دې ليکنو څخه چې کوم معلومات تر لاسه کيږي نو د دواړو صنفونو اړوند ځوانان پرې په ډيره ازادۍ او بې باکۍ سره بحث کوي او د هغې وورسته د عملي تجربو په لور قدم ږدي. نجونې او هلکان يو ځاې ( Petting Parties ) ميله ځايو ته ځي او هلته په ازادانه توګه سګرټ او شراب استعمالوي او د ګډا او نڅا نه پوره خوند اخلي (How I can get married? P. 172).

د لندېسي د وينا له مخې چې د ليسو د شاګردانو څخه (۴۵ ) په سلو کې نجونې د ښوونځي د پريښودو تر مخه استعمال شوي وي او بيا وروسته تعليمي مدارجو کې يې منځنۍ کچه د دې نه هم زياتيږي (او سنۍ شميرنې ښئ چې اوس په ښوونځيو کې نجونې نژدې سل په سلو کې استعماليږي ، ان تر دې چې په دې هکله ورته په ښوونځيو کې د جنسي زده کړو يو اونيز او يادوه اونيز کوروسونه جوړيږي «ژباړن»). دليسې هلک شاګرد ، د نجلۍ شاګردې په پرتله د جذباتو په شدت کې ډير وروسته پاته وي ، نجونې په دې هکله مخکې والي کوي او هلکان د هغوي په اشاره خوځيږي.

## درې ستر پارونکي:

په ښوونځيو او ليسو کې خو بيا هم يو ډول نظم او ډسپلين شتون لري چې تر يوه حده پورې د دې عمل په ازادۍ کې خنډونه را پيدا کوي . خو کله چې دا ځوانان دخپلو هماغه شهواني پاريدلو احساساتو او بدو عاداتو سره د عملي ژوند په ډګر کې قدم ږدي نو بيا د هغوي خوځښت د ټولو حدودو او قيوداتو څخه ازاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی.دلته د هغوي د جذباتو د اور د لازياتولو له پاره د اورځاي شتون لري او د جذباتو د ارامولو له پاره يې هر ډول سامان پرته له کوم ځنډه او خنډه تيارېږي.

يو امريکای مجلې هغه وسايل چې دهغې له لارې بد اخلاقې ته پوره وده ورکول کيږي دا ډول بيانوي:

[درې شيطانی ځواکونه دی چې دهغوي مثلث نن زمونږ په نړۍ باندې را خپور دې او دغه درې واړه د يو دوزخ په جوړولو کې مصروف دي.

لمړی محرک : فحش ليکنې دي، چې د نړيوال جنګ نه وروسته په ډيره تيزۍ او ډيرې بې شرمۍ سره په زياته اندازه خپرېږي.

دويم محرک: عکسونه دي چې نه يوازې د شهواني جذباتو د راپاريدو کار ترسره کوي بلکه نمونه او انځور يې هم وړاندی کوي.

دريم متحرک : د ښځو هغه را لويدلې اخلاقي معيار دي چې دهغوي د کاليو او ډير وخت د هغوي د لوښوالې او دسيګرټو د ورځنې زيات استعمال او د نارينه و سره دهر قيدو بند نه د ازاد اختلاط په شکل کې راښکاره کيږي.

دغه دروي واړه شيان زمونږ په ټولنه کې ورځ به ورځ ډيرښت مومي او دهغې زيبښه د مسيحي تهذيب او ټولنې زوال او با لاخره تباهي ده. که ددې مخنيوې و نه شی نو زمونږ تاريخ به هم د روم او نورو هغه ولسونو په شان شي چې دهمدغې نفس پالنې او شهوانيت ، د شرابو د څکلو او د ښځو د نڅا د خوندونو سره يو ځاي فنا شول.

دغه درې علتونه دي چې د تمدن او ټولنې په چاپيريال باندې را خپاره شوی د هر ځوان سړي او ځوانې ښځې په جذباتو کې يو تلپاتط خوځښت را پيدا کوی. نو د چا په وجود کې چې لږه ګرمه وينه هم موجوده وي د فواحشو ډيرښت دهغې د خوځښت لازمي زيبښه ده.

## د بدکاريو ډيروالې :

کومو ښځو چې په امريکا کې زنا او فحشا خپله دنده ګرځولې دهغوي شميره لږ تر لږه د څلورو او پنځه لکو تر منځ ښوول شوې ده (Prostitution in the United States pp64-69)(اوس دا شميره د ميليونو ښځو پورې شميرل کيږي «ژباړن» ) خو امريکايي فاحشې د هندوستانی فاحشو په څير نه دي. ځکه چې امريکايي فاحشې هغه ښځې دي چې تر پرونه پورې يې د يوې ازادې ښځې په څير خپله دنده درلوده ، خرابو عاتونو د بدۍ لورې ته را ښکوده او په زنا ځايو کې کيناسته. هغه يو څو کاله دلته تيروي بيا دا کار پريږدي او په يوه کور يا دفتر کې ځانته دنده پيدا کوی. د يوې سروې له مخې د امريکا (۵۰) سلمه فاحشې په کورنو کې دکارکوونکو ښځو (Domestic Servents) څخه او پاته (۵۰) سلمه يې په روغتيايي مرکزونو ، روغتونونو، دفترونو او دکانونو کې خپلې دندې پريږدي او دغه دنده پيلوې او د (۲۵) يا (۳۰) کالو عمر ته په رسيدو سره فحاشې پريږدي او بله کومه ازاده دنده تر لاسه کوی.

اوس تاسې ګمان کولې شئ چې په امريکا د څلورو يا پنځو لکو زناکارو او فاحشو موجوديت څه معني لري. لکه چې پخوا مو وويلې په غربی هيوادونو کې زناکاري او فاحشه ګرې د يوه منظم بين المللي کارو بار او تجارت (International Buseniss) حيثيت لري. د امريکا د نورو لويو ښارونو په څير په نيويارک ، ريوډي جننز او بيونس آيرس کې ددې کاروبار لوې لوې مارکيټونه او پلورنځې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نیویارک ددوو لویو ماښیو هر یوه یې یوه مشورتي اداره لري چې رئیس او سکرتریې د غړو له خوا ټاکل کیږي. هر یو قانوني پوه مشاورین لري ، تر څو چې په کومې عدالتي پریکړې کې د ننبتو په وخت کې د هغوی د ګټیو ساتنه وکړي. د ځوانو نجونو په را جذبولو کې هلته په زرګونو دلالان کار کوي . دغه دلالان په هر ځای کې د ښکار کولو په لټه کې مشغول اوسي. د دې ښکاریانو د زیبښو او لاسته راوړنو اندازه ددې څخه معلومیږي چې د شکاګو نه د راتلونکو مهاجرینو د اتحادیې مشر یو ځل د ۱۵ میاشتو شمیره را ټوله کړه نو څرګنده شوه چې په دې وخت کې د (۷۲۰۰) نجونو لیکونه د مهاجرینو د اتحادیې دفتر ته رسیدلي و چې هغوی شکاګو ته را روان دی خو دهغوی څخه یوازې (۱۷۰۰) خپل منزل ته را ورسیدلي دپاته نجونو درک و نه لګیده چې چیرته او له چا سره ولاړې.

د زنا ځایو څخه اخوا نور د لیدنو کتنو ځایونه یا (Assignation Houses) او (Call Houses)دي چې په دې خاطر تیار ساتل کیږی چې که «شریف » وګړی او ښځې کله وغواړی یو د بل سره ووینې نو هلته د هغوی د لیدنو کتنو له پاره تیارې نیول کیږی. د ځینو څخه را څرګندیږي چې هلته په ښار کې د (۷۸) دغسې کورونه او ماڼۍ شته . په یوه بل ښار کې (۴۳) او په یوه بل کې (۳۳) داسې ځایونه موجود دی. دغه ځایو ته یواځې ناواده شوې ښځې نه ورځې بلکه ډیرې واده شوې ښځې هم هلته خپل سکون تر لاسه کوي.

د یوه مشهور اصلاح غوښتونکې(ریفارمر Reformer) وینا ده چې: [د نیویارک د واده شوو وګړو یو په دري برخه داسې ده چې د اخلاقي او جسماني پلوه خپلو ازدواجي مسؤلیتونو ته وفاداره نه دي او د نیویارک حال د هیواد د نورو برخو دحالاتو څخه ډیر توپیر نه لري.

د امریکا د اخلاقو د مصلحینو یوه ټولنه چې د ( Commettee of Fourteen) په نامه یادیږي . ددې ټولنې د اړخه د بد اخلاقۍ د مرکزونو لټون او دهیواد د اخلاقي حالت د څیړنې او د اخلاقو د اصلاح په خاطر د عملي لارو چارو د راپیدا کیدو کار تر ډیره حده پورې تر سره شوی. دهغې په راپورونو کې ویلې شوي چې په امریکا کې چې څومره د نڅا ځایونه ، نایټ کلبونه Night Clubs او د حسن او ښایست ځایونه( Beauty Saloons) او د لاسونو دښایسته کولو دکانونه(Manicure Shops) د مالش او چاپې کولو ځایونه (Massage Rooms) او د ویښتانو دښایسته کولو دکانونه(Hair Dressings) شته ، ټول په قحبه ځایو تبدیل شوي بلکه د هغوی نه یې هم بدتر حال غوره کړې دي. دا ځکه چې هلته د نه بیانیدونکې افعالو ارتکاب کیږي.

## خبیثه ناروغتیاوې :

دفواحشو ددې ډیرښت حتمي زیبښې د خبیثه ناروغتیاو خپریدل دي. ګومان کیږي چې د امریکا نږدې (۹۰ ) سلمه خلک په دغه ناروغیو ککړ دي. د« انسائیکلو پیډیا بریټانیکا» د څیړنو نه معلومیږی چې دهغې ځای په دولتي روغتونو کې په منځنۍ کچه هر کال د اتشک د دوه لکو او د سوزاک د یو لک او شپیته زره ناروغانو علاج کیږي. (۲۵) روغتونونه دهمدې ناروغتیاو د درملنو له پاره ځانګړې شوي دي. خو ددولتي روغتونو په ځای خلک شخصي درملتونو ته د درملو په خاطر رجوع کوي چې د اتشک (۲۱) سلمه او د سوزاک (۲۹) سلمه یې د ناروغانو په ډله کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (۳۰) او (۴۰) زرو تر منځ کوچنیانو مرینه یوازې د میراثي اتشک په واسطه صورت نیسي. د سوزاک د ماهرینو د تخمیني په اساس (۲) سلمه ځوان وګړي په دغه موضي ناروغتیا ککړ دي چې په هغوې کې واده شوي هم شته او ناواده شوي هم.

دښځو دځانګړو ناروغتیاو پوهان وایي چې د واده شوو ښځو په جنسي غړو چې څومره عملیات کیږي د هغوې څخه (۷۵) سلمه داسي دي چې د سوزاک اغیز پرې پیدا کیږي.

## طلاق او بیلتون :

په دغسې حالاتو کې ښکاره ده چې د کورنۍ نظم او د ازدواج مقدس اړیکې په خپل ځای نه پاته کیږي. په ازادۍ سره ځانته روزی پیدا کونکي ښځې چې د شهواني اړتیاو پرته دخپل ژوند په هیڅ اړخه کې نارینه و ته اړتیا نه لري او د واده پرته ورته هم په ډیره اسانۍ سره نارینه پیدا کیدای شي واده یو عبث او فضول کار ګڼي.

نوي فلسفي او ماده پاله فکرونو د هغوې د وجدان څخه دا تصور هم لرې کړې چې د واده پرته د کوم نارینه سره اړیکې ټینګول هم کوم عیب ناکه کار دي. ټولنه دغې چاپیریال دومره بې احساسه کړې چې څوک هم دا ډول ښځو ته د نفرت یا ملامت په سترګو نه شي کتلې.

«قاضي لینډسي» د امریکایې عامو نجونو د افکارو ترجماني په دې ټکو سره کړیده.

[زه ولې واده وکړم زما تر خنګ چې په دې تیرو دوو کالو کې کومو نجونو ودونه کړي دي، دهغې د هرو لسو څخه پنځه په طلاق منتج شوې دي. زه پو هیږم چې په دې وخت کې هره نجلۍ د محبت په معامله کې د ازادۍ فطري حق لري. مونږ ته د حمل نه د خوندی پاته کیدو تدبیرونه هم پوره پوره معلوم دي نو په دې خاطر دا خطر هم لرې کیدای شي چې د یوه حرامي کوچني پیدا کیدل کوم ستونزمن کار وګرځي. مونږ داډ من یو چې رواجي لارې او طریقې په نورو لارو او طریقو باندې بدلول د عقل غوښتنه ده.]

ددا ډول آندونو لرونکې بې شرمه ښځې که څیرې کوم احساس واده تیاروي هم، نو هغه یوازې او یوازې د محبت او میني جذبه وي. لیکن د غه جذبه هم د زړه له کومې نه وي. او یوازې د یوه عارضي کشش پایله وي. او د نفسي غوښتنو د نشې د ښکته کیدونه وروسته بیا د میړه او ښځې تر منځ الفت او محبت نه پاته کیږي. د مزاج او عاداتو ډیر کوچني اختلاف دهغوې تر منځ منافرت او تفریق پیدا کوی.

«لینډسي» لیکي چې [په (۱۹۲۲م) کې په (ډینوور) کې دهر واده تر څنګ د طلاق او تفریق پیښه هم منځته راغلې او ددوه ودونو تر منځ د طلاقو یوه پیښه هم منځته راغلي.]

دا یوازې د (ډینوور) حالات نه دي بلکه د امریکا د ډیرو ښارونو حالات همد غسې درواخله او بیا مخته لیکي چې :[د طلاقو او جدایي پیښې مخ په زیاتیدو دي او که چیرې همدغه حالت پاته شو لکه څنګه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومیږی نو په اغلب ګمان چې په هیواد کې چې خومره د واده لایسنسونه ورکول کیږي په هماغه اندازه به د ا طلاقو پیښې هم منځته را ځي. ](Revolt of Modern Youth "p.211-214)

څه وخت د مخه د ډیټرویټ(Detriot) په ازادو خپرونو( Free Press ) کې په دغه حالاتو یوه مقاله خپره شوه چې دهغې یوه جمله داسې ده: [دنکاحګانو کمښت ، د طلاقو زیادښت او دنکاح پرته د ناجائزو تلپاتې او یا مؤقتو اړیکو زیاتوالي ددې معنې لري چې مونږ د حیوانیت په لور روان یو. د کوچنې دپیدا کولو فطري غوښتنه له منځه تلونکې ده ، د پیدا شوو کوچنیانو په هکله غفلت کیږي او ددې خبرې احساس له منځه ځي چې کورنۍ او دکور ابادي د تهذیب او ازاد حکومت د بقا او پایښت له پاره اړین دي. ددې برعکس د تهذیب او حکومت به امورو کې ډیره بې درده بې پروائي را پیدا کیږي. د طلاق او تفریق ددغه ډیرښت علاج اوس دا ښوول کیږی چې باید (Comissionate Marriage)«ازمیښتي نکاح» ته رواج ورکړل شي خو دا علاج هم د اصل ناروغتیا څخه ډیري بدې پایلې لري]

د ازمیښتي نکاح معنې داده چې نر او ښځه په« زړه طریقه Old Fashion » د واده پرته تر یوه وخته پورې یو دبل سره واوسي ، که چیرې ددې یو ځای والي په واسطه ددوې زړونه یو له بله سره و لګیدل نو واده دې وکړي او که نه ، نو دواړه دې یو دبل څخه جدا شي او بل چیرته دې خپل قسمت او بخت و ازمایي. د ازمیښت په دوران کې به د اولاد د پیدا کیدو مخه نیسي. څکه چې دکوچنې دپیدا کیدو سره سم هغوې باید نکاح وکړي. دا هغه څه دي چې په روسیه کې داز اد محبت یا د (Free Love) په نامه یادیږي.

## ولسي ځان وژنه :

نفس پالنه ، د ازدواجي مسؤلیتونو نه کرکه او نفرت ، د کورني ژوند څخه بې زاره کیدل او د ازدواجي اړیکو نه پایښت ، ښځه دخپل فطري مورنۍ جذبې څخه ډیره لرې کړې چې په نسواني جذباتو کې تر ټولو اشرف او اعلي روحاني جذبه ده ، او پایښت یې نه یوازې د تمدن او تهذیب له پاره اړین دي بلکه دانسانیت پایښت هم په همدې جذبې کې را نغښتې دي.

دحمل منه کول ، دحمل اسقاط او دکوچنیانو وژل دهمدغې جذبې د مړینې نه راپیدا کیږي. د حمل د منعې کولو معلومات د ټولو قانوني بندیزونو سره سره په امریکا کې د هر ځوان هلک اوهرې ځوانې نجونې په واک کې شته.

دحمل د منه کولو درمل او وسایل په پوره ازادۍ سره په درمل پلورنځیو او دوکانونو کې پلورل کیږي. عامي ازادې ښځې خو پریږده ، د لیسو او او پوهنتونو شاګرداني هم دغه الات او درمل تل له ځانه سره ساتي.

قاضي «لینډ سي» په دې هکله لیکي چې:

[د یوې لیسې (۴۹۵) کمه عمره نجونو په خپله ماته اقرار وکړ چې هغوې د هلکانو سره جنیسي اړیکې تجربه کړې دي. دهغوې د ډلې څخه یوازې (۲۵) نجونې داسې وې چې حمل یې په ګیډه شوې و. په پاته نجونو کې ځینې اتفاقاً خوندي پاته شوې وې. لیکن زیاتو دحمل دمنه کولو په هکله اغیزمن تدبیرونه نیولې و. دحمل دمنه کولو په هکله د هغوې پوهه دومره زیاته ده چې عام خلک یې د پوهیدو څخه عاجز دي.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیغلي یا ناواده شوي نجوني دا تدبیرونه په دې خاطر استعمالوي چې د هغوي په ازادۍ کې کوم خنډ پیدا نه شي. واده شوي ښځې په دې خاطر دهغې نه ګټه پورته کوي چې د کوچني د پیدا کیدو په خاطر نه یوازې په هغوي د روزنې او ښوونې بار باریږي بلکه دمیره څخه د طلاق او بیلتون د اخستو په وخت کې هم دا لوې خنډ ګرځي. دا ډول ټولو ښځو په دې خاطر دموروالي څخه نفرت پیدا کړې چې د ژوند څخه د پوره خوند اخیستلو له پاره هغوي ته د جنجال نه د خوندي پاته کیدو اړتیا ده. او ددې تر څنګ دکوچني په پیدا کیدو سره دهغوي په ښایست کې هم توپیر را پیدا کیږي.(**Macfaddin, Manhood and Marriage**)

په هر صورت لاملونه چې هر څه دې خو د (۹۰) په سلو کې د ښځو او میړونو تر منځ اړیکې داسې دي چې د هغې فطري پایلې (دحمل منه کول ) د همدې وقایوې تدابیرو له لارې صورت نیسي او پاتې پنځه په سلو کې داسې پیښیې دي چې هلته اتفاقا حمل صورت نیسي دهغوې له پاره بیا د اسقاط او دکوچنیانو د وژلو لارې پرانستې دي.

«لینډسي» وایې چې:[په امریکا کې لږ تر لږه هر کال (۱۵) لکه کوچنیان دحملد اسقاط له لارې ضایع کیږي او په زرګونو نور کوچنیان د پیدا کیدو څخه وروسته وژل کیږي ].(۲۲۰م مخ)

## دانګلستان حالت :

زه نه غواړم دغو غمناکو پیښو ته نور هم تفصیل ورکړم خو مجبوریم چې په دغه برخه کې د «جارج رائلي سکاټ» دکتاب(**A History of Prostitution**)[د فحشاء د تاریخ] نه څو اقتباسات را واخلم. ددې کتاب لیکونکې پخپله انګلیس دې. نوموړې د خپل هیواد د اخلاقي حالت انځور په دې ټکو کې وړاندې کوي.

[یو ډول هغه ښځې دې چې ژوند یې په دې پورې تړلې چې دخپلو وجودو په کرایه ورکولو سره ځانته روزي وګټي. د دوي نه پرته یو زیات شمیر نورې ښځې دي ،اود هغو شمیره ورځ په ورځ زیاتیږي ، چې د ژوند د اړتیاو د لاسته را وړلو په خاطر نورې لارې لټوي او تر څنګ یې فاحشه توب او زنا هم کوي. تر څو په خپل عاید کې ډیر والې راوړي. داد کسب ګرو فاحشو څخه څه ډیر توپیر نه لرې خو هغوي په دغه نومونو نه نومول کیږي ، مونږ دا ډول ښځو ته غیرکسب ګرې فاحشې(**Amateur Prostitution**) ویلې شو. ددغې شوقي یا غیر کست ګرو فاحشو ډیربښت نن سبا دومره دي چې په تاریخ کې هیڅکله هم دومره نه و. د ټولنې د ښکته طبقې څخه نیولې تر پورته طبقې پورې ټولې ښځې په کې شاملې دي. که چیرې د غو معزوزو ښځو ته به کومه کنایه کې هم فاحشه وویلې شي نو دوې د اور سکروټه شي خو دهغوې په دغه نارضایت باندې حقیقت نه شي بدلیدای. په هر حال حقیقت همدا دي چې دهغوې او نورو د فاحشو تر منځ په اخلاقي معیار کې هیڅ توپیر نه شته . اوس د یوې ځوانې نجونې له پاره بد چلنې او بې باکې د فیشن حیثیت لرې او د سیګرټو څکول ، ترخه شراب استعمالول ،په شونډو سرخې لګول ، د جنسي اړیکو او دحمل د مخنیوي په هکله د خپلې پوهې څرګندول ،په فحش لیکنو باندې بحث اوخبرې کول دا ټول شیان دهمغې فیشن له ډلې څخه شمیرل کیږي. همدا راز دداسې ښځو او نجونو شمیره ورځ په ورځ زیاتیږې چې د دواده ترمخه ، پرته له کومې ستونزې، صنفي اړیکې جوړوې او هغه نجونې ډیر په سختۍ موندل کیږي چې د کلیسا په وړاندې د نکاح د وفا د تړون په وخت کې په سهي معنا پیغله پاته شوې وي .]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکوال لږ څه مخته ځي او ليکي چي: [د هر څه د مخه د ارايش شوق ووينئ چې د هغه له امله په هره نجلۍ کې د نوي فيشن د قيمتي کاليو او ښايست د زياتوالي مختلف ډوله سامانونو د رانيولو حرص راپيدا شوې. دا دا هغه بې بندو باره فاحشه ګرۍ په وسايلو کې تر ټولو لوې لامل دې.]

هر هغه ځوک چې ليدونکې سترګې ولري نو په اسانۍ سره کتلي شي چې هغه په سلګونو او زرګونو نجونې چې هره ورځ د هغوې تر سترګو کيږۍ عموماً دومره قيمتي کالي اغوندي چې د هغې خپل جايز معاش او مزدوري په هيڅ صورت د هغې د دا ډول قيمتي لباس بار نه شې پورته کولې. لهذا نن دا خبره همدومره سهي ده څومره چې نيمه پيړۍ مخته سهي وه. چې نارينه د هغوې له پاره کالي اخلي خو فرق دا دې چې هغه وخت به هغه سړې ، د هغوې پلار ، وررور يا ميړه و او اوس د هغې پر ځاې څه نور خلک دي.

د دغې ډول حالاتو په راپيدا کيدو کې د ښځو ازادي هم پوره پوره دخيله ده ، د تيرو څو کالو راهيسي په نجونو د والدينو کنترول تر دې حده پورې کم شوې چې هغه ازادي چې (۳۰ ) يا (۴۰ ) کاله پخوا هلکانو ته هم ور په برخه نه وه خو نن نجونو ته ورپه برخه شوې ده.

يو بل مهم لامل چې په ټولنه کې په پراخه پيمانه د جنسي خپل سرۍ د خپريدو سبب شوې دادې چې ښځې مخ په زياتيدونکې توګه په تجارتي کاروبار ، دفترې دندو او نورو ډول ډول کارونو کې ورننوځې او هلته شپه او ورځ د نارينه و سره د خلط ملط کيدو موقع په لاس ورځې. دې کار د ښځو او نرو اخلاقي معيار ډير را ښکته کړې او تر څنګ يې د نارينه و د اقدام په وړاندې د ښځو د مزاحمت ځواک هم ډير را کم کړې دې او د دواړو صنفونو شهواني اړيکې يې د ټولو بنديزونو څخه ازدې کړې دې. اوس د ځوانو نجونو په ذهن کې د واده او پاکيزه ژوند تصور هم نه شته. ازادانه خوشحاله وخت تيرول چې پخوا به يوائې خپلسري نارينه ورپسې ګرځيدل اوس هره نجلۍ د هغې پسې منډې تررۍ وهي. پيغلتوب او بکارت ته د يو ارتجاعی آند په سترګو کتل کيږۍ او د نوې زماني نجونې خو هغه يو مصيبت ګڼي . د هغوې په آند د ژوند خوند په دې کې را نغښتې چې د ځوانۍ په دوران کې د نفس د لذتونو جام ښه په ډک زړه و چښل شي. د همدې ځيز د لټون په خاطر هغوې د نڅا ځايو د نائيټ کلبونو ، د هوټلونو او چاې خوړلود ځايونو شاوخوا ګرځې را ګرځې او په همدې ارزو هغوې د يوه ناپيژندل شوې سړې سره د هغه په موټر کې چکر وهلو ته هم تيارې وي. يا په بل عبارت هغوې پخپله د خپل نفس د غوښتنې سره هم خپل ځان داسې يو چاپيريال ته وررسوي چې جنسي جذبه نوره هم را وپاروي او بيا چې د دې کومي طبيعی زبيښې دې د هغوې نه د وي ويريږې هم نه ، بلکه هغه ته ښه راغلاست هم وايې.

## پريکنده پوښتنه :

زمونږ د هيواد په ګډون په ګڼو نورو شرقي هيوادو کې هم چې کوم وګړې د پردې ممانعت کوي نو د هغوې په وړاندې په حقيقت کې د ژوند همدغه ياد کړل شوې انځور موجود دې. د همدغې ژوند ځلاندو وړانګو د هغوی حواس اغيزمن کړې دې. د همدغه افکار و اخلاقي اصولو او د همدغې مادې او حسي ګټو او خوندونو روښانو اړخونو د هغوې په زړه او دماغ پنجې ښخې کړې دې. په دې خاطر هغوې د پردې نه کرکه او نفرت کوي. سره له دې چې د دوې اخلاقي فلسفه د هغه غربي اخلاقي فلسفي سره تو پير لري چې دوې پرې ايمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري او عملا دهغې ګټو او لذتونو د تر لاسه کولو په مخ کې خنډ وي چې دې وګړو دخپل ځان له پاره هدف ټاکلې.

اوس دا پو ښتنه چې د ژوند ددغې انځورد تیاره اړخ یعني دهغې دعملي زیښښو د منلو له پاره هم دا وګړي تیار دي او که نه ؟

نو په دې خبره کې دهغوې تر منځ یووالې نه شته ، یوه ډله په دغه زیښښو پوهیږي او دهغې منلو ته هم تیار دي. دهغوې په وړاندې په حقیقت کې دا د غربي ژوند یو روڼ اړخ دي نه تیاره اړخ. یوه بله ډله دا تیاره ګڼې او دهغې دپایلو منلو ته تیار نه دی. مګر دهغې په هغه ګټو باندې یې زړونه له لاسه ورکړي چې ددې ډول ژوند سره تړلې دي. دریمه ډله نه خو په دې افکارو پوهیږي او نه یې د پایلو څخه واقفیت لري او نه په دې خبره غور کوي چې ددې افکارو او دهغې د پایلو تر منځ څه ډول اړیکي شتون لري. هغوې یوازې هماغه کار کوي چې په نړۍ کې یې رواج موندلې وي .

دغه دري واړه ډلې په حقیقت کې دومره سره را نژدې شوي او رانښتي چې د خبرو اترو او بحث په وخت کې ډیر وخت دا توپیر نه شی کیداې چې زمونږ مخاطب دکومې ډلې پورې تړلې دي . دهمدغې اختلاط په اساس غلطه خیړنه مخته راځي. په دې خاطر دې ته اړتیا ده چې دا دري واړه ډلې یو له بله جدا کړل شي او ورسره د هغوې دحیثیت په اندازه خبره وشي.

## شرقي غرب پالونکي:

لمړۍ ډله په همغه فلسفي افکارو او تهذیبي اصولو پوخ باور لري چې غربي تهذیب او تمدن پرې ولاړ دي. دوي د نوي اروپا د جوړونکو په څیر د آندلرونکي او د ژوند مسایلو ته د غربي زاویې څخه ګوري او د خپلو خپلو هیوادونو تمدني او ټولنیز ژوند د غربي نقشې مطابق جوړول غواړي.

ددوي له آنده ، د ښځو د ښوونې او روزنې هغه اخري موخې دادي چې هغوې د ګټې وړتیا تر لاسه کړي او تر څنګ یې د زړه راښکون سره سره له لطیفه فنونو څخه هم پوره پوهه او واقفیت ولري. په کورنۍ کې دښځې صحیح حیثیت دهغوې په وړاندې همدا دي چې هغه د سړي په څیر یو ګټور غړې وګرځي او په ګډه بودیجه کې خپله ونډه وا چوي ، په ټولنه کې دښځې اصل ځاې د هغوې له آنده همدغه دي چې هغه دخپل ښایست او نازو نخرو له مخې په ټولنیز ژوند کې یو لطیف عنصر ور زیات کړي . دخپلو خوندورو خبرو په واسطه د زړونو تودوخه نوره هم زیاته کړي. دخپلې موسیقۍ په واسطه د غوږونو پردې و تخنووي او دخپلې نڅا په واسطه په نفسونو کې لار را پیدا کړي ، هغوې هڅه کوي چې د خپل جسم ټوله ښکلا راڅرګنده کړي تر څو د ځوانانو زړونه خو شحاله ، سترګې یې یخې او سړه وینه یې ګرمه شي. دهغې په وړاندې په ولسي ژوند کې دښځې کار ددې نه اخوا نور څه نه دي چې هغوې دې ټولنیز کارونه کوي، ښاري او مشورتي غونډو ته دې ځې، په کنفرانسونو او کنګرو کې دې ګډون کوي ، د سیاسي ، مدني او اقتصادي ستونزو په حل کې دې خپل فکر او ذهن مصرف کړي. په لوبو ، سپورتونو او د منډو او ځغاستو په مسابقو کې دې برخه واخلي. لنډه دا چې ټول هغه څه دې وکړي چې د کوره دباندې دي او دهغه څه سره هیڅ کارونه لري چې دکور دننه دي.

هغوی همدغه ژوند ته نمونه یې ژوند وایي. دهغوې په وړاندې د نړۍ د پرمختګ همدغه یوه لاره ده او په دې لار د تللو په مخکې چې څومره پخواني اخلاقي آندونه خنډ شوې دي هغه له یوه سره لغو او باطل دي. ددغې نوي ژوند له پاره پخواني اخلاقي ارزښتونه (Moral Values) په هغه ډول په نوی ارښتونو تبدیل کړي لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه چي اروپايانو تبديل کړی و. مالي ګټي او نوي جسماني نندارہ دهغوي له آنده ډير ارزښتناکه ده. او دهغي په پرتله حيا او عصمت ، پاکوالي او اخلاق په ازداواجي ژوند کي وفادار پاته کيدل ، د نسب ساتنه او په دي ډول نور شيان نه يوازي دا چي بي ارزښته بلکه د تياره فکری يوه نمونه وه. چي د له منځه وړلو پرته يې د پر مختګ په لور قدم نه شو اينبودل کيداي. دا وګړي په حقيقت کي په غربي دين باندي ايمان لرونکي و او په کوم ليد يې چي ايمان راوړی و ، په شرقي هيوادونو کي يې دهغې د خپرولو له پاره د ټولو هغو تدبيرونو ځخه ، چي په اروپا کي ترې کار اخستل شوي و ، کار واخيست.

## نوي اداب :

د ټولو تر مخه د هغوي هغو ليکنو ته وګوري چي د ذهنونو د تيارولو له پاره تر ټولو ستر ځواک جوړوي.
ددوي تش په نامه ادب کي... چي په اصل کي بي ادبي ده... ددي هڅه کيږي چي د نوي نسل مخي ته دغه نوي اخلاقي فلسفه په ډيره ښکلي بڼه وړاندي کړي او د همدي لاري پخواني اخلاقي ارزښتونه د زړه او د ماغز رينبو ځخه بيرون را وکاږي. دنموني په توګه زه دلته د اردو ادب ځو نموني وړاندي کوم.

د هيواد يوي مشهوري مياشتنی مجلي د (خوږ سبق) تر عنوان لاندي يو اوږود مضمون نشر کړ. ددي مضمون ليکونکي داسي يو شخصيت دي چي د اعلي روزني خاوند ، په ادبي حلقو کي مشهور او په يوه ستر منصب باندي کار کوي. د مضمون لنډيز دادي چي:[يوه ځوانه نجلی له خپل استاد نه د سبق د ويلو له پاره ناسته وه ، د سبق په دوران کي يې د استاد مخي ته د خپل يوه ځوان دوست د محبت ليک کيښود ترځو د ځواب له پاره يې ترې مشوره واخلي. هغې دخپل دغه محبوب سره د چايو په يوه ټولنه کي کتلي و. هلته کومې ښځي ددي دواړو تر منځ پيژندګلوي کړي وه. ددوي تر منځ دهمغي ورځي ځخه يو بل ته نژديوالي او د ليکنو لړی پيل شوي وه اوس دغه نجلی غواړي د خپل استاد ځخه د ميني او محبت د ليک اخلاقي ځواب تر لاسه کړي. استاد هڅه کوي چي دا نجلی د بي هوده او عبث فکر نه واړوي او د لوست په لور يې متوجه کړي ، نجلی په ځواب کي استاد ته وايي چي:(لوست خو زه غواړم چي ويې کړم خو داسي لوست چي زما د ويښي دخوبونو او اميدونو په بريالتوبو کي له ماسره کومک وکړي ، نه داسي لوست چي له همدا اوسه ما زړه کړي. استاد ترې پوښتنه کوي چي ايا ددي ښاغلي نه پرته اخوا نور دوستان هم لري ؟ شاګرده ځواب ورکوي چي ځو نور هم دي مګر په دي ځوان کي يوه ځانګړ تيا ده چي هغه په ډير خوند سره مارا پاروي. استاد ورته وايي چي که چيري ستا پلار ددي ليک له ليکني ځخه خبر شي نو ځه به درپيښ شي ؟ شاګرده ځواب ورکوي او وايي چي ايا پلار به مي د ځوانی په وخت کي دا ډول ليکونه نه وی ليکلي؟ هغه خو ډير فيشني سړي دي. ځه د حيرانتيا وړ نه ده چي اوس به يې هم ليکي. الله دي نه کړي زوړ شوي خو نه دي. استاد ورته وايي چي: له اوس نه پنځوس کاله وړاندي دا تصور هم شوني نه و چي د کومي شريفي کورنی نجلی ته ځوک د ميني ليک واستوي . نجلي ورته وايي چي ايا دهغي وخت خلکو يوازي د بد ذاته خلکو سره مينه کوله. دا خو دهغي وخت بد ذات ډير په مزو کي او شريفان يې په ډير بد حالت کي وو. دمضمون اخري ټکي چي ليکونکي پري دخپل ادبي ظرفيت ټوله هڅه تمامه کړي دادي چي:[مونږ ځوانان ستر مسؤليت لرو ، هغه خوښئ او لذتونه چي زمونږ مشرانو او پخوانيو له لاسه ورکړي مونږ يې بايد بيرته را ژوندي کړو او هغه د قهر او ددرواغو عادتونه چي تر اوسه ژوندي پاته دي بيرته ښخ کړو. ]

(c) ketabton.com: The Digital Library

په يوې بلې ادبي مجله کې نژدې يو نيم کال دمخه يوه لنډه قصه د «پښيمانی» تر عنوان لاندې نشر شوه چې لنډيز يې په دې توګه دی.

د يوې معززې کورنۍ کوژده شوې نجلۍ د بل سړي سره سترګې جنګوي. دخپل پلار په نه موجوديت کې او دمور نه په پټه هغه خپل دوست کورته رابلي دهمدغه ناروا اړيکو په واسطه ښځې ته حمل پيدا کيږي. ددې وروسته هغه خپل دغه کار دخپل ځان له پاره حق ګڼي او په زړه کې د ځان سره داسې استدلال کوي چې: زه ولې خفه شم ، زړه مي ولې و غورزيږي... ايا زما ضمير ما ملامتوي ؟ ايا زه په خپلې کمزورتيا باندې پښيمانه يم ؟ ممکن هو ! ليکن دهغې رومانتيکې روڼې سپوږمۍ شپه خو زما د ژوند په يادونو کې په طلايي الفاظو ليکل شوې ده. د ځوانۍ مست وختونه او دهغې ياد زه دخپل ځان له پاره ډيره ستره خزانه ګڼم.

ايا زه دهغو وختونو د بيا دراوستلو په لاره کې دهر څه قربانولو ته تياره نه يم ؟ نو بيا ولې زما زړه رپيږي ؟ د کومې ګناه ويره ده ؟ ايا ما ګناه کړې ؟ نه ما خو ګناه نه ده کړې. زما د ګناه څخه چاته څه زيان رسيږي.؟ ما خو قرباني ورکړه. قرباني دهغې له پاره ، کاشکې چې ما دهغې له پاره نوره قرباني هم ورکړې واى... زه د ګناه څخه نه ويريږم ليکن زه ددغې ويره ونکې ټولنې نه ويريږم چې هغوي به څنګه څنګه د شک په سترګو ماته ويني . اخر زه ولې دهغوي نه وويريږم ؟ د خپلې ګناه په خاطر ؟ خو اخر زما ګناه څه ده ؟ ايا هغه څه چې ما کړې د ټولنې بله کومه نجلۍ يې نه کوي ؟ هغه طلايي شپه او هغه يوازيتوب ، هغه خومره ښايسته وه ، هغه څنګه خپلې شونډې زما په شونډو کيښودې او خپلې غيږې ته يې زه ورکش کړم. او زور يې را کړ....اف ، دهغې د ګرمې او معطرې سينې سره زه څومره په ډاډمنه توګه و ښښتم.، ما ټوله نړۍ په لغته ووهله او خپل ټول هر څه مې د عيش په هغه لحظو باندې قربان کړل. بيا څه و شول ؟ بل چا به څه کړې واې؟ ايا په نړۍ کې کومه ښځه په داسې وخت کې ددغسې لمحو سره ټکر کولې شي؟ ګناه ! ما هيڅکله نه ده کړې ، زه هيڅکله پښيمانه نه يم ، زه يو ځل بيا همغسې کولو ته تياره يم ، عصمت ! عصمت څه شې دې ؟ يوازې پيغلتوب ؟ يا د فکرونو پاکوالې ؟ زه باکره نه يم ، ليکن ما خپل عصمت له لاسه نه دې ورکړې ؟ د فساد نه ډکه ټولنه چې څه کولاې شي هغه دې وکړي هغه زما څه کولې شي ؟ هيڅ ؟ زه د هغوي د احمقانه ګوت نيونې څخه ولې نا ارامه شم ؟ زه دهغوي د پس پسکو څخه ولې وويريږم ؟ ولې خپل مخ ژيړ کړم ؟ زه د هغوي د بې معنې خندا او تمسخر څخه ولې ځان پټ کړم ؟ زما زړه وايې چې ما صحيح کار کړې ، ډير ښه مې کړي ، نو زه بيا ولې د غلې په څير و ګرځم ؟ ولې په ډانګ پيپلې توګه اعلان و نه کړم چې ما دغسې کړي او ډير مې ښه کړي؟

دا هغه استدالال او طرز فکر دې چې زمونږ د زماني اديبان يې هړي نجوني ، ممکن خپلې خور او لور ته هم ورښوول و غواړي. دهغوي ښوونه دا ده چې کله هم يوې ځواني نجونی ته د ۱۴ مې په شپه ګرمه سينه تر لاسه شي نو بيا دی د هغې پورې ځان ورو نښلوي ، ځکه چې په داسې وخت کې همدا يوه لاره ممکن ده او هره ښځه چې دداسې حال سره مخ شي نو هغه به ددې کار پرته نور څه ونه کړي. دا کار ګناه نه بلکه قرباني ده. او نه ترې عصمت ته کوم زيان ور رسيږي. ددې کار په واسطه عصمت کې نور هم ډيرښت را ځي ، بلکه دا يو داسې روښانه کار دې چې بايد د يوې ښځې د ژوند په تاريخ کې په طلايي ټکو سره و ليکل شي او د هغې هڅه بايد داوي چې د هغې د ژوند ټول کتاب د همداسې طلايي ټکو څخه ډک وي ، نو که چيرې هغوي په دا عصمته ښځو باندې ګوتنيونه کوي نو هغوي بيا فسادي او ډير ويونکي دي. هغوي په خپله ملامته دي چې دداسې فدا کارو نجونو په خلاف خبره کوي داسې تيرې کونکې ټولنه چې دومره ښه کارته بد وايې هيڅکله ددې وړ نه ده چې د هغې څخه ويره محسوس شي او د داسې د خيرد کار په کولو سره خپل ځان پټ و ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر اوس نوي ادب د هر کور لور اونګور د پخوانې وختونو د فحشاو څخه لس قدمه نوره هم مخته وړي ، ځکه چې دا د بد معاشۍ او فحش کارۍ د ملاتړ له پاره د اخلاقو نوې فلسفه را پیداکوي.

په یوې بله مجله کې د (لیور ) په نوم یوه قصه خپره شوې ، لیکوال یې داسې سړې دې چې پلار یې د ښځو د اخلاقي روزنې له پاره د ډیرو ښو لیکوالانو څخه و اوپه همدې اساس هغه د هیواد د اردو ژبې ویونکو ښځو ترمینځ پوره محبوبیت درلود . په دې قصه کې لیکوال د یوې ځوانې نجونې کرچار(کریکټر) په ډیر ښه انځور کې د نمونې په توګه خپلو خویندو ته وړاندې کوي ، چې دواده ترمخه یې د خپل لیور دښایسته ځوانۍ په تصور ، په خپل و جود کې لړزه محسوسوله. هغې په پیغلتوب کې دا نظر او فکر درلود چې هغه ځوانې چې خاموشه او دسکون نه ډکه تیره شي د هغسې ځوانۍ او کمزورتیا ترمنځ هیڅ تو پیر نه شته زما له نظره ددغه ډول جذباتو سره چینه باید د حسن او عشق کشمکش وي ، ددغه فکر او ارادې سره چې کله دا نجلۍ واده شوه ، نو دخپل ږیره ور میړه په کتلو یې جذبه او احساس مړاوې شو. او د مخکې څخه د جوړې شوې نقشې په اساس یې پریکړه وکړه چې د خپل میړه د ورور سره ناروا اړیکې ټینګې کړې او ددې خبرې فرصت ورته ډیر ژر په لاس ورغې. ځکه میړه یې د لوړو تحصیلاتو په خاطر لندن ته ولاړ خو ښځې یې د خپل میړه او وروریې د خپل ورو د نشتوالې څخه پوره پوره ګټه پورته کړه او د زړه د اخلاصه یې په خیانت لاس پورې کړ.

لیکوال دغه قصه په خپله دهغې زناکارې فاحشې د خولې څخه لیکلې ځکه چې هغې دا قصه خپلې یوې ناواده شوې ملګرې ته کټ مټ لیکلې وه او ټول هغه مراحل یې په تفصیل سره بیان کړې و چې دهغې په واسطه دهغې او لیور اړیکې تر دې ځایه پورې رسیدلې و . هغې په خپلې لیکنې کې په خپل هیڅ کار د شرم احساس نه دې کړې ، یواځې هغه څه چې پاتې و هغه د جنسي عملیې عکس و چې هغه یې په کمره کې نه و ثبت کړې او ډیره شونې ده چې دا یې په دې خاطر پریښې وې چې لیدونکې او لوستونکې په خپله په تخیل سره دغه کمښت پوره کړي.

که ددې نوې ادب پر تله د فرانسې د ادب سره وشي چې دهغې څو مثالونه مونږ مخته بیان کړل نو په ډاګه به شي چې دا قافله دهمغې لارې څخه د همغې منزل په لور روانه ده چې د فرانسې ولس پرې تللې و ، دوې د ژوندانه دهمدغه نظام په لور په فکري او اخلاقي توګه ذهنونه تیاروي او دا په داسې حال کې چې ښځې یې د ځانګړې توجه وړګرځولې ترڅو په هغوې کې د حیا او عزت په نوم څه شې پاته نه شي.

## نوې تمدن :

د اخلاقو دغه نوې فلسفه او د ژوند دغه نوې آند او لید د ژوند په ډګر کې ځانته نه دي ، بلکه د پانګه وال تمدن نظام او د غربې د یموکراسۍ اصول هم ور سره پوره پوره ملګرتیا کوې او دغه ټول ځواکونه یو دبل سره د ژوند هغه انځور جوړوي چې په غربې ټولنو کې د پخوا څخه شتون لرې . دوې د جنسي مسائلو په هکله ډیرې زیاتې فحش لیکنې او عکسونه خپروې او دغه ټول د مکتبونو ، لیسو او پوهنتونو شاګردانو ته په پراخه پیمانه ورسیږې. اوس د بې عصمته ښځو لوڅ عکسونه د هر اخبار ، مجلې ، دوکان او هر کور دښایست وسیله ګرځیدلې. په هرکور او بازار کې هغه کیسټونه ، (CD) اوټیپونه په اوچت اواز غږیږي چې په کې د اخلاقو څخه لویدلې او چټلې سندرې ترغوږو کیږې. د سینما ګانو ټول کره وړه د شهواني جذباتو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

را پاروونکو فلمونو ولاړ دی او د سیمنا په پردو باندې د بې حیایې فلمونه په دومره شوق او ذوق سره خپروي چې د هرې نجونې او هلک سترګې د همدغې لو بغاړې په فلمي ژوند دربېږي او همغه د خپلې لارې مشال ګرځوي او کله چې د دغسې فلمونو د کتلو وروسته دواړه صنفونه د سینما څخه بهر راوځی نو دهغوې را پاریدلې جذبات او د عشق ولولې هرې لورې ته د عشق او رومانس موقع لټوي.

د ژوند د پانګه وال نظام په برکت په لویو ښارونو کې د غه ډول حالات ډیر په تیزی سره را پیدا کیږي ځکه هلته ښځې د خپلې روزی د پیدا کولو له پاره محبوریږي. او د همدغې ظالمانه نظام په بسپنې دحمل د مخنیوې تبلیغات، د درملونو او وسائلو سره یو ځای میدان ته را دانګې.

نوې جمهوري نظام چې برکتونه یې د انګلیس او فرانس په واسطه شرقي هیوادو ته را رسیدلې له یوه اړخه یې ښځو ته په سیاسي او ټولنیزو کړو وړو کې لاره پرانستې ده او د بله اړخه یې داسې اداري او دفتري نظام جوړ کړې چې په کې د سړو او ښځو یو ځای کیدل او خلط کیدل یو حتمي کار ګرځي او دبله اړخه یې قانوني بندیزونه دومره نرم کړي چې نه یوازې د فواحشو اظهار بلکه د هغه عملي ارتکاب هم جرم نه ګڼل کیږی. په دې حالاتو کې چې کوم وګړي د ژوند په دې لار په خلاص زړه تلل غواړي د هغوې په اخلاقو او ټولنیزو کړو وړو کې پوره بدلون را ځي ، د هغوې ښځې اوس په داسې کالیو کې بهر را وځي چې نژدې په هرې ښځې باندې د فلم د لوبغاړې ګمان کیږی. هغوې پوره بې باکه دی. دهغوې د لباسونو د تیزو رنګونو استعمال او په ښکلا او سنګار باندې اهتمام په دې دلالت کوي چې هغوې د ځانونو څخه جنسي مقناطیس جوړول غواړی. د بې حیایې دا حال دې چې د غسل د کالیو په اغوستو سره د سړو سره یو ځای لمبیدل او په همدې حال کې د عکسونو اخیستل او په اخبارونو کې یې په خپرولو هم د دغه شریفو کورنیو ښځې د شرم احساس نه کوي بلکه د شرم سوال هم نه پیدا کیږي. د نوو اخلاقي تصوراتو په اساس د انساني وجود ټولې برخې یو برابر دي که چیرې د لاسونو ورغوی او د پښو تلې لو څیدای شي نو د ورنونو، سینو او تیونو په بربنډولو کې څه حرج دې؟ د ژوند خوندونه چې ټولیزیا مجموعي نوم یې فن(Art) دې د خلکو په وړاندې د هر اخلاقي بندیز څخه پورته بلکه پخپل ځای د اخلاقو معیار دي. په دې اساس پلار او ورور په هغه وخت کې په خوشحالۍ نه مریږي چې د سترګو په وړاندې یې پیغله لور او خور په ستیج د نڅاکوونکو معشوقي لوبه په ډیره بهتره توګه تر سره کوي او په سلونو لیدونکې ترې خوند اخلي او دهغې په هرې آدا باندې د افرین لاسونه پړکوي. مادې سوبه چې بل نوم یې د ژوندانه موخې هم دي د هغوې له آنده د هر هغه شوني شیز څخه ډیر ارزښتناکه دي چې دهغې په قربانولو دا تر لاسه کیدای شی. هرې نجونې چې ددغې هدف په لاسته را وړلو او په ټولنه کې یې دهمدې لارې خپل محبوبیت ، لیاقت او وړتیا وښوده نو که چیرې هغې خپل عصمت له لاسه ورهم کړ نو ګویا چې هیڅ یې د لاسه نه دي ورکړي، بلکه هر څه یې موندلې دي . په همدې اساس دهغې په ذهن کې دا خبر له سره راګرځي نه ، چې د نجونو او هلکانو سره یو ځای په لیسو او پوهنتونو کې درس ویل او یا د ځوانو نجونو په یوازې ځان اروپاته د ښووني او روزنې له پاره تلل هم کوم د نیوکې وړ کار ګڼل کیږي.

## دغرب پالو پریکړه :

دا هغه خلک دي چې دهر چانه زیات په پردې او حجاب باندې نیوکه کوي. دهغوې په وړاندې دغه پرده داسې یو سپک او باطل شیز دې چې د تردید له پاره یې دهغې پسې ملنډې وهل او هغه مسخره کول بسنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دا رويه بلکل همغسې ده لکه چې يو انسان نه غواړي په انساني مخ باندې د پوزې د موجوديت اړتيا احساس کړي او په دې اساس په هغوي وګړي پورې ملنډې وکړي چې په مخ باندې يې پوزه موجوده وي. دداسې جاهلانه خبرو او استدلال په واسطه يوازې جاهل او نا پوه خلک تر اغيز لاندې راتلای شي ، دوې که چيرې کوم معقوليت او پوهه ولري بايد په دې پوه شی چې زمونږ او دهغوي تر منځ په ارزښتونو کې ډير زيات توپير شتون لري . هغه څه چې مونږ يې با ارزښته ګڼو هغه د هغوي په وړاندې بې ارزښته دي نو په دې اساس د ژوند هره هغه عملي لار چې مونږ يې اړينه ګڼو نو پرته له شکه دهغوي په وړاندې هغه يو غير ضروري کار دې مګر دداسې بنسټيز اختلاف په وخت کې يوازې کم عقل سړې د اصلي اختلافي مسائلو پر ځای په فرعې مسائلو کې ځان مصروفولای شي.

د انساني ارزښتونو په تاکلو کې يوازېني پريکنده څيز د فطرت قوانين دي ، دهمدې فطري قوانينو له مخې چې د انسان خلاصون او سو به نغښتې وي نو په اصل کې همغه د قدر وړ دي. راځئ چې دهمدغې معيار په رڼا کې ووينو چې ستاسې ارزښتونه سهي دي او که زمونږ ؟ هغه علمي دلايل چې له تاسې سره دي هغه راوړئ او کوم دلايل چې له مونږه سره دي مونږ به همغه را وړاندې کړو بيا به نو د ريښتونو پوه انسانانو په څير ووينئ چې وزن کومې لورې ته دروند دې. په دې توګه که مونږ د خپلو ارزښتونو ميعار درست ثابت کړ نو بيا تاسې واک لرئ چې هغه ارزښتونه چې د علم او عقل په بنسټ بنا شوې و منئ او يا د هغه ارزښتونو پسې ځغلئ چې يوازې او يوازې د نفساني ميلانو او غوښتنو په بنسټ تاسې غوره کړې دي خو په دې دويم صورت کې به ستاسې موقف دومره کمزورې شوې وي چې بيا به زمونږ د تګلارې پورې د خندا په ځای تاسې پخپله د خندا وړ وګرځئ.

## دويمه ډله :

تر دې وروسته زمونږ په مخ کې دويمه ډله ده . په لومړۍ ډله کې غير مسلمان او تش په نوم مسلمانان دواړه ډلې شاملې دي. خو دا دويمه ډله ټوله په مسلمانانو باندې مشتمله ده. ددې خلکو تر منځ د پوره حجاب او نيمه بې حجابۍ اصطلاح استعماليږي. دغه ډله د «مذبذبين بين ذالک ، لا الي هؤ الاء و لا الي هؤ الاء» سهي مصداق ګرځيدلې ، ديوه اړخه دوې د اسلامي جذبې خاوندان دي. د اخلاقو تهذيب ، شرافت او د سيرت د پاکوالي هغه معيارونه مني چې اسلام راوړاندې کړي. خپلې ښځې د حيا او عصمت په ګانه ښايسته او خپل کورونه د اخلاقي نا پاکيو څخه دپاک ساتلو غوښتونکې دي او دهغې زيبښو چې د غربي تمدن او ټولنيزو اصولو د پيروۍ کولو څخه را پيدا کيږي منلو ته تيار نه دي . خو د بله اړخه د اسلامي ټولنيزو اصولو او قوانينو په ماتولو سره وررور ورو خپلې ښځې ، لونې او خويندې د غربي تمدن او تهذيب په لور وړې. دا خلک په دې غلطي انګيرنې کې ککړ دی چې نيمايي شرقي او نيمايې غربي طريقې به سره يو ځای کړي او ددواړو تهذيبونو د فوايدو څخه به ګټه پورته کړي. يعنې دهغوي په کورونو کې اسلامي اخلاق هم خوندي و ساتل شي او دکورنۍ د ژوند نظام يې هم په خپل ځای پاته شي او تر څنګ يې په ټولنيز ژوند کې، د غربي ټولنې د زيانونو او بديو پرته ، دهغې ګټې ، لذتونه او مادي پر مختګونه را ټول کړي. مګر اول خو ددې دواړو مختلطو تهذيبونو نيمايي نيمايې څانګې را غونډول او يو د بل سره پيوندول درست کار نه دي. ځکه ددغسې پيوند څخه د اخيستونکې جوړښت څخه د ګټو پر ځای زيانونه ډير را پيدا کيږي ، او بله دا چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعقل او فطرت په خلاف ده چې په لمړيو کې د اسلام د مضبوط نظام د بنديزونو په نرمولو سره او خلک د دې قانون د ماتولو سره داشنا کولو نه وروسته بيا دا لړۍ په دې ځاې چې تاسې يې د زيان نه خالي ګڼئ و دريږي. ددغه نيم لوڅو کاليو رواج ، ددې ښايسته کولو او ارايش رواجونه ، ددوستانو محفلونو کې ورځ په ورځ زياتيدونکې دلچسپې داد غرب په څير د نجونو تربيه ، امکان لري چې ژر خپل اغيز و نه ښيئ او ډير ممکن دې چې موجوده نسل دهغې دزيانونو څخه تر يوه وخته خوندی پاته شی ، ليکن دا ګومان کول چې را تلونکې نسلونه به دهغې څخه خوندې پاته شی يوه ستره نا پوهي ده ځکه چې په تمدن او ټولنه کې د غلطو طريقو رواجول په پيل کې ډير معصوم او پاک وي خو د يو نسل څخه تر بل نسله پورې اوبيا تر دريم نسل پورې په ورتللو سره دغه ډير کم پيل په ډيره ستره غلطي باندې تبديليږي. په خپله په اروپا او امريکا کې هم د ټولنې کوم جوړښت چې په کومو غلطو اصولو باندې شوې ، دهغې پوره پوره پايلې اوس په دريم او څلورم نسل کې را څرګندې شوې دې نو بيا ددې غربې او اسلامې طريقو يو ځاې کيدل او امتزاج او دغه نيمه بې حجابې په اصل کې کوم مستقل او پايښت لرونکې څيز نه دې په اصل کې دهغې فطري ميلان د غربيت په لور دې او هغه خلک چې په دې لارې ځې هغوې بايد په دې پوه شي چې هغوې اوس ددې سفر پيل کړې دې نو که چيرې هغوې په خپله دهغې اخري منزل ته و نه رسيږي نو دهغوې اولاد او د اولاد اولاد به ضرور ورته رسيږي.

## پريکنده پوښتنه :

په دغسې حالاتو کې ،د مخکې تلو تر مخه ، دې خلکو ته دښه غور او فکر نه وروسته د څو بنسټيزو پوښتنو په هکله پريکړه کول په کار دې او هغه دا چې:

ايا تاسې د غربې نظام دهغو پايلو منلو ته تيار ياست چې په اروپا او امريکا کې منځته راغلې او هغه دهمدې نظام طبيعې او حتمي زيبښې دې ؟

ايا تاسې دا غواړئ چې ستاسې په ټولنه کې هم همغسې هيجان پيدا کونکې شهوانې چاپيريال موجود وي ؟ ستاسې په ولس کې دی هم همغسې بې حيايې ، بې عصمتې او د فحاشۍ وده وکړي ؟ دخبيثه ناروغيو وبا خپره شي ؟کورنۍ او د کورنۍ نظام له منځه واړ شي ؟ طلاق او بيلتون ډيرښت و مومي ؟ځوانې ښځې او نارينه په ازادانه توګه شهوت رانې وکړي ؟ او دحمل په منه کولو ، دحمل داسقاط او د اولاد په وژلو نسل منقطع شي ؟ او ان تر دې چې کم عمره کوچنيان د وخت ترمخه جنسي ميلانات پيدا کړي ؟او د هغې په وجه دهغوې په ذهني وده او نشو نما کې دپيل سره سم سستې را پيدا شي ؟

که چيرې د مادې ګټو وټو او حسې لذتونو په خاطر تاسې ددې ټولو شيانو زغم ته تيار ياست نو پرته له ځنډه په غربې لارو ولاړ شئ ، او د اسلام نوم په ژبه مه اخلئ. خو په دې لارې د تللو تر مخه تاسې بايد د اسلام سره د خپلو اړيکو د پريکولو اعلان وکړئ تر څو تاسې له دې وروسته ددغې نوم په اخستلو سره څوک و نه غولوي ، او ستاسې رسوايې د اسلام او مسلمانانو له پاره د ننګ او عار سبب و نه ګرځي.

خو که چيرې تاسې دهغې پايلو منلو ته تيار نه ياست او تاسې ته دداسې صالح او پاکيزه تمدن اړتيا وي چې هلته پاک اخلاق او نيک خوی وده و مومي، هلته انسان د خپل عقلي او روحاني او مادي پر مختګ له پاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکونه نه ډک چاپیریال و مومي ، هلته چې نارینه او ښځه د حیواني جذباتو څخه خوندي پاته وي او دخپل بهترین استعداد او وړتیاو مطابق خپلي تمدني دندې تر سره کړي هلته چې د تمدن د بنسټ تیږه یعني کورنۍ په پوره ځواک سره موجوده وي ، هلته چې نسلونه خوندي وي او د نسلونو د توپیر فتنه سر را پورته نه کړي ، هلته چې د انسان کورني ژوند د سکون او ارامتیا جنت او دهغوې د اولاد له پاره د یوه مشفقانه روزني ځاي او دکورنۍ د ټولو غړو له پاره دهمکارۍ او ګډ کارد تعاون نمونه وي. نو ددې موخو د تر لاسه کولو له پاره دغرب په لور د تګ نه ځان ژغورل په کار دي ځکه چې هغه بلکل په مخالف لوري حرکت کول دي او دغرب په لور تلل او بیا شرق ته رسیدل په عقلي ډول یو ناشوني کار دي که چیرې په حقیقت کې ستاسې موخې همدغه وي نو بیا د اسلام لار خپله کړئ.

مګر په دې لاره د قدم داینبودلو نه تر مخه باید هغه غیر معتدلې مادي ګټې او حسي لذتونه د زړه نه وکاږئ چې د غربي تمدن زړه وړونکې مظاهر یې تاسې ته تر مخ ږدي ، دهغې آندونو او فکرونو څخه به هم زړه او دماغ پاکوئ چې د اروپا څخه یې په مستعاره توګه راخیستي ، دهغو موخو او مقاصدو څخه به هم ځان بیلوئ چې د غربي تمدن او ټولنې څخه راخیستل شوي دي. اسلام ځانته موخې او مقاصد لري هغه خپل ټولنیز اند لري ، هغه داسې یو ټولنیز نظام جوړول غواړي چې دهغې د موخو او مقاصدو او اټولنیز نظام سرسره سم دهغې د بنسټیزو اصولو غوښتنه ده او بیا دخپل دغه ټولنیز نظام ساتنه د یوه ځانګړې دسپلین له مخې کوي چې دهغې په ټاکلو کې د ډیرې زیاتې پوهې او حکمت نه کار اخیستل شوي او د انسان د نفسیاتو ساتلو پوره رعایت په کې شوې دی چې دهغې پرته دغه ټولنیز نظام خوندي نه پاته کیږي. داد افلاطون د جمهوریت په څیر کوم خیالي او وهمي نظام (utopia) نه دي بلکه په څوارلسو پیړیو کې د ډیرو زیاتو ازمیښتونو څخه تیر شوې او په دغې اوږدې موده کې یې په هیڅ هیواد یا ولس کې دهغې خرابیو لسمه برخه هم نه ده څرګنده شوې کومې چې د غربي تمدن په پایلو کې د یوې پیړۍ په دوران کې را منځته شوي دي. نو که چیرې مونږ ددغه محکم او ازمویل شوي ټولنیز نظام څخه ګټه پورته کول غواړو نو دهغې د اصولو او ډسپلین په پوره پوره مراعات کول په کار وي. او دا حق به هیچاته هیڅکله هم نه وي ور په برخه چې د خپل عقل څخه د راویستلې او یا دنورو څخه د زده کړو خامو افکارو او نه ازمیښت شوو لارو کومې چې د اسلام د ټولنیز نظام د طبیعت او اصولو پر خلاف وي حتما په اسلام کې ور ځاي کړي.

څرنګه چې دریمه ډله د بې عقلو او ناپوهو وګړو نه جوړه شوې چې په هیڅ توګه د فکر کولو ، پوهیدو او یا راې ورکولو صلاحیت نه لري نو په دې اساس هغه د توجه وړنه بریښي نو ښه به داوي چې مونږ هغوې له نظره وغورځوو او مخته قدم کیږدو.

## دفطرت قوانین :

فطرت د ټولو شیانو په څیر انسان هم د «زوجین» یعني د جوړې په شکل کې پیدا کړي. دا جوړه (نارینه او ښځه) په طبیعي توګه یو دبل په لور میلان لري. خو د نورو حیواناتو د مطالعې څخه په ډاګه شوي چې دهغوې تر منځ د طبیعي میلان موخې د خپل نسل پاینبت دي. په همدې خاطر ددوې تر منځ میلان یوازې تر هغه حده پورې دي چې د نسل د پاینبت له پاره اړین وي. دحیواناتو په طبیعت کې داسې ځواک اینبودل شوي چې د جنسي اړیکو د ټینګولو د ټاکلې حد څخه د تجاوز اجازه نه ورکوي. ددې برعکس په انسانانو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنسي میلان غیر محدود ، غیر منضبط او د ټولو حیواناتو په پرتله ډیر دي. ددي له پاره د وخت او موسم کوم بندیز نه شته .دهغي په پیدا ینبت کي کوم داسي ټاکلي مقررات نه شته چي هغه د جنسي غو ښتني د پوره کولو څخه منه کړي. ښځه او نارینه د یوه بل لوري ته تل میلان لري هغوي په خپل منځ کي یو د بل دجذب او د جنسي راښکود نه پاي ته رسیدونکي ځواک لري. دهغوي په زړونو کي د صنفي محبت او عشق یوه ډیره ستره بلنه ایښودل شوي ده . دهغوي د جسم جوړښت او دهغي په تناسب دهغي رنګ او شکل او دهغي لمس او دهغي په یوه یوه برخه کي د مقابل صنف له پاره کشش او راښکود پیدا کړل شوي. دهغوي اواز ، تګ ،دهغوي هره اداء ، کړنه....او په هر شي کي د راښکود یو ځواک پروت دي او په شاوخوا نړۍ کي یې داسي بې شمیره وسایل خپاره شوي دي چي ددوارو جنسي غوښتني په حرکت راوړي او هغه د یو بل لوري ته مایلوي. دهوا لګیدل ، د اوبو روانیدل ، د ګیاه رنګ ، دګلونو ښایسته بوي ، د مرغانو په زړه پوري اوازونه ، یعني د فطرت د ښایست هیڅ داسي مظهر به نه وي چي په مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه ددي تحریک لامل و نه ګرځي.

بیا دانسان د جسماني نظام یوه څیړنه وکړئ نو درته څرګنده به شي چي په هغي کي د ځواک څومره ستره خزانه پټه کړل شوي ده. هغه په یوه وخت کي د ژوند نیزو اړیکو ځواک هم دي او د صنفي اړیکو د جوړښت او راښکود ځواک هم.

همدغه غدي(**Glands**) چي دي غړو ته د ژوند ماده (**Harmone**) وررسوي او په هغي کي چالاکي ، توانایي ، ذهانت ، او د عمل کولو ځواک پیدا کوي ، همغوي ته دا کار هم ورسپارل شوي چي دوي کي د جنسي اړیکو ځواک هم را پیدا کړي. ددي ځواک راپاریدونکي جذباتو ته نمو ورکړي. د همدي جذباتو د راپارولو له پاره ښایسته شکل او مختلف وسایل او دهمدغي الاتو څخه د اغیزمن کیدو د وړتیا وسایل، دهغوي سترګو دهغوي غوږونو او دهغوي بویونکو او لمس کوونکو حسونو ته ،او ان تردي چي مخلیه ځواک ته هم ور ورسوي.

د قدرت همدغه کړچار د انسان په نفساني ځواکونو کي هم تر سترګو کیږي ، دهغي په نفس کي چي څومره متحرک ځواکونه پیدا کیږي دهغي ټولو اړیکي ددي قوي د بلنو سره یو ځاي کیږي . یوه هغه بلنه ده چي دهغي دخپل وجود دساتني او د خپل ذات د خدمت له پاره کار کوي ، بله هغه بلنه چي هغه د مقابل جنس سره د اړیکو له پاره مجبوروي ، د ځوانۍ په وخت کي یعني هغه وخت چي د انسان عملي قوتونه په پوره عروج کي وي نو دغه دویمه بلنه دومره ځواکمنه وي چي ډیر وختونه هغه لومړنۍ بلنه تر اغیز لاندي راوړي او د هغي ددغي اغیز له مخي انسان څومره مجبوریږي چي هغه د خپل ځان د لاسه په ورکولو او دخپل ځان د هلاکولو د خطر څخه هم نه ویریږي.

## د تمدن په پیدا ینبت کي د صنفي راښکود اغیز :

دا ټول هر څه د څه له پاره ؟ ایا یوازي د نسل د پاینبت په خاطر ؟ نه -- ځکه چي د انساني نسل د پاینبت په خاطر دومره تناسل ته اړتیا هم نه شته لکه څومره چي د ماهیانو ، وزو او همداسي د نورو حیواناتو د نسلونو له پاره ورته اړتیا ده. نو بیا څه علت دي چي فطرت ددي ټولو نسلونو په نسبت په انسانانو کي دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنسي ميلان ډير پيدا كړي ؟ او دهغې له پاره يې د پارولو تر ټولو ډير وسايل پيدا كړي دي ؟ ايا دا ټول د انسان د جنسي خوند او لذت په خاطر دي ؟

داسي هم نه ده، فطرت هيڅكله هم خوند او لذت په خپل ذات كې موخه نه ده ګرځولې بلكه د يوه لوې خدمت د تر سره كولو له پاره او د انسان او حيوان د مجبورولو په خاطر جنسي لذت او خوند ته رشد وركوي تر څو هغه خپل كار و كړي او په پوره دلچسپۍ سره يې سرته ورسوي.

اوس فكر وكړئ چې په دې كار كې فطرت كوم ستر مقصد تر مخه لري. تاسي چې څومره فكر كوئ ددې پرته بل هيڅ كوم علت نه شئ موندلې چې فطرت د نورو ټولو نسلونو پر خلاف د انساني نسل څخه يو متمدن نسل جوړو ل غواړي.

په همدې اساس يې د انسان په زړه كې د صنفي محبت او عشق هغه بلنه ايښې چې نه يوازې د جسماني اتصال او د تناسل دفعل غوښتنه كوي. بلكه يوه تلپاتې ملګرتيا ، او د زړه تړاو اود روحاني جذبې غوښتنه هم كوي. په همدې خاطر په انسانانو كې صنفي ميلان دهغې د جنسي قوت په پرتله ډير زيات ايښودل شوې دي. په هغې كې چې څومره صنفي غوښتني او صنفي كشش ايښودل شوي كه هغه ددې ځواک په تناسب بلكه د هغې د لسمې برخې په تناسب هم جنسي عمل تر سره كړي نو قوت به يې ځواب وركړي او د طبيعي عمر درسيدو نه مخته به دهغې جسماني ځواک پاې ته ورسيږي. دا ددې خبرې ښكاره دليل دې چې په انسان كې د صنفي راښكود د ډيرښت موخه دا نه ده چې هغوې د ټولو نورو حيواناتو څخه ډير جنسي عمل وكړي ، بلكه د هغې له مخې نارينه او ښځه يو دبل پورې اړوند ه وي او دهغوي په تلپاتو اړيكو كې استمرار او پايښت را پيداكوي. په دې خاطر يې په ښځې كې د صنفي راښكود او صنفي غوښتنو تر څنګ د شرم ، حيا او د تمانع او تيښتې او د خنډ د ايجادولو ماده ايښې ده او دا ماده لږو ډيره په هره ښځه كې پيدا كيږي. دغه د تيښتې او منه خرنګوالي كه څه هم د نورور حيواناتو په ښځينه طبقه كې هم شته خو د انسانانو په ښځينه صنف كې دهغې ځواک او كميت ډير زيات دې او هغه يې د شرم او حيا د جذبې په اساس نور هم ځواكمن كړي دي. ددې څخه دا را څرګنديږي چې په انسان كې د صنفي راښكود موخې يو تلپاتې تړاو دې نه دا چې هر صنفي راښكون په يوه جنسي عمل باندې متج شي.

په دې خاطر يې د انسان كوچنيان د نورو حيواناتو د كوچنيانو څخه ډير كمزوري او بې وسه پيدا كړي. د نور حيواناتو پر خلاف د انسان كوچني تر څو كالو پورې د مور او پلار ساتنې او روزنې ته اړتيا لري او په هغې كې دخپل ځان د ساتنې قابليت او استعداد ډير كلونه وروسته را پيدا كيږي. ددې څخه هم يو هدف دادې چې د ښځې او نر اړيكې يوازې تر جنسي پولو پورې محدود نه وي بلكه ددې اړيكو زيښنه هغوي يو له بل سره په خپل منځې اړيكو او بسپني باندې مجبوروي.

په دې خاطر د انسان په زړه كې داولاد مينه د ټولو نورو حيواناتو څخه ډيره ايښودل شوې ده. حيوانات تر ډيرې كمې مودې پورې د خپلو اولادونو د روزنې وروسته د هغوې څخه جدا كيږي. بيانو دهغوې تر منځ هيڅ ډول اړيكې نه پاته كيږي. بلكه يو له بله سره پيژندګلوې هم له لاسه وركوي خو انسان د روزنې د لمړني وخت څخه وروسته هم دخپل اولاد سره مينه كوي . ان تردې چې د اولاد مينه او محبت د اولاد اولاد (لمسو ) ته هم وررسيږي. او د انسان د خپل غرضه حيوانيت اغيز د محبت تر اغيز لاندې دومره مغلو بيږي چې هغه هر هغه څه چې د خپل ځان له پاره يې غواړي له هغه زيات دخپل اولاد له پاره غواړي او دهغې په زړه كې ارزو را پيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کيږي چې د امکان تر پولو پورې خپل اولاد ته ميراث  ورکړي. دمحبت ددغې جذبې دپيدا ابينت نه د فطرت يو موخه دا هم کيداې شي چې د ښځې او نارينه صنفي اړيکي په يوې  تلپاتې  رابطی تبديلي کړي او بيا دغه اړيکې د يوې کورنۍ د جوړښت بنسټ و ګرځوي او بيا د  ويني داړيکو د محبت لړۍ ډيرې کورنۍ يو د بل سره د مصاهرت په تار تړي او بيا د مينو او محبتونو ګډون د هغوې تر منځ دکومک او تعاون له پاره بنسټيزي اړيکې را پيدا کړي او په دې ترتيب يوه ټولنه او يو تمدن را منځته شي.

## د تمدن بنسټيزه ستونزه :

ددې نه دا ځرګنده شوه چې دغه صنفي ميلان چې د انسان د جسم په رګ رګ او دهغې د زړه او روح په هرې ځنډې کې ايښودل شوې نو دهغې د بسپني په خاطر په ډيره پراخه پيمانه د کائناتو په هره ذره کې اسباب او محرکات ايښودل شوې دې.

ددې موخې دادې چې انسان د وګړيز ژوند څخه د ټولنيز ژوند په لاره بوځي . فطرت همدغه ميلان د انساني تمدن دمحرکه قوت بنسټ ګرځولې او د همدغې ميلان او کشش په واسطه ددواړو صنفونو تر منځ تړون را پيدا شوې او بيا د همدغې تړون له مخې ټولنيز ژوند(Social Life ) پيل شوې.

کله چې دا خبره ثابته شوه نوبيا دا  هم په خپله را په ډاګه کيږي چې د ښځې او نر تر منځ د اړيکو خبره په اصل کې د تمدن بنسټيزه مسئله ده . او د همدغې مسئلې په صحت او ټينګښت پورې  دتمدن اصلاح او فساد ، دهغه ښه والې او بد والي ، او دهغه ځواک او کمزوري ، تړلې ده. دانسا نيت په دواړو اړخونو (نارينه او ښځه ) کې هم حيواني اړيکې يا به بل عبارت يوازې جنسي او مطلق شهواني اړيکې شتون لري چې هدف يې د انساني  نسل پايښت دې او دويم يې انساني اړيکې دي چې موخه يې د ګډو ګټو له پاره د خپلو خپلو استعدادونو او دخپلو خپلو فطري ورتياو سره سم مرسته او بسپنه ده. دهمدې تعاون له پاره دهغوې صنفي مينه د اتصال د يوې نقطې په څير کار کوي او دغه حيواني او انساني عناصر دواړه يو ځاې په يوه وخت کې دهغې څخه د تمدن دکاروبار د چلولو خدمت هم اخلي او دهمدې کاروبار د جاري ساتلو له پاره د نورو وګړو دپيدا کولو خدمت هم تر سره کوي. دتمدن اصلاح او فساد تکيه په دې وي چې ددواړو عناصرو ګډون ډير متناسب او په انصاف برابر وي.

## دغوره او صالح تمدن غوښتنې:

راځئ چې اوس دغه ستونزه و څيړو او په ډاګه کړو چې د يوه صالح تمدن له پاره د ښځې او نر تر منځ په حيواني او انساني اړيکو کې د انصاف او برابرۍ نه ډک متناسب ګډون څه ډول را منځته کيداې شي؟ او په دې ګډون کې که کومه بې اعتدالي را منځته کيږي نو څه ډول دغه تمدن د فساد په لور بيايې.

### لمړۍ:- د جنسي ميلان تعديلول:

تر ټولو مهمه او لمړنۍ پوښتنه پخپله همدغه جنسي راښکون او ميلان دي  چې څنګه بايد تر ولکې لاندې راشي. مخته مونږ بيان کړل چې په انسان کې دغه ميلان د نورو ټولو حيواناتو  په نسبت ډير قوي او ځواکمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. نه يوازي دا چي انساني وجود کې د جنسي ميلان ځواکونه په پوره ځواک سره موجود دی بلکه بيرون هم په دغه پراخه کائناتو کې بې شميره جنسی محرکات خواره واره پراته دي. دا هغه څه دي چي فطرت پخپله دهغې انتظام کړې. که چيرې انسان په خپله هم دخپلې توجه او د ايجاد د قوت نه کار واخلي او دهغې د زياتولو او هغه ته د پر مختګ د ورکولو اسباب او وسايل برابر کړي او د تمدن داسې يوه لاره خپله کړي چي په هغې باندې د هغې جنسي تنده نوره هم زياته شي او بيا دهغې تندې دماتولو له پاره څه اسانتياوي هم را پيدا کړي نو په دې توګه به دا د هغه د مطلوب حد نه ډير تيرې وکړي. په انسان کې حيواني عنصر دهغه په انساني عنصر باندې غلبه پيدا کوي او دغه حيوانيت د هغه انسانيت او تمدن دواړه له منځه وړي.

د صنفي اړيکو او دهغې د اساساتو او محرکاتو هر شي فطرت ډير خوند ناکه پيدا کړي مګر څنګه چي مونږ مخکې ورته اشاره وکړه فطرت د دې خوند مساله ، يوازې د خپلو اهدافو يعنې د تمدن د اباديدا او له پاره په کار اچولې او که دا خوند د خپلو پولو څخه تيرې کوي او يا انسان په همدې خوند کې په مکمله توګه مصروفيږي نو دا يوازې د تهذيب او تمدن د ړنګيدو سبب نه ، بلکه د انسان د هلاکت او نابودۍ سبب هم کيداې شي. او په کراتو کراتو همداسې شوې هم دي. هغه ولسونه چي له منځه تللي دهغې نښې او تاريخ ووينئ و به ګورئ چي شهوانيت په هغوې کې د خپلو پولو څخه ډير تيرې کړې و. دهغوې ادبيات دهمداسې جذباتو را پارونکو ليکنو څخه ډک او دهغوې تخيلات ، د هغوې قصې د هغوې شعرونه ، دهغوې عکسونه ، مجسمې ، عبادت ځايونه او د اوسيدو ځايونه.... ټول په دې خبره ګواه دي کوم ولسونه چي همدا اوس د تباهۍ په لور روان دي د هغوې حالات هم ووينئ. هغوې خپل شهوانيت د فن ، لطيف ادب ، ذوق او ښکلا اوداسې نورو ښايسته نومونو باندې نوموی خو د تعبير په بدلولو حقيقت نه بدليږي. دا کوم څيز دي چي په ټولنه کې ښځه د ښځو نه ډيره د نارينه و ناستې ته او نارينه د نارينه و څخه ډير د ښځې په لور رغبت پيداکوي؟ ولې په ښځو او نارينه و کې د ښکلا او ارايش مينه ورځ په ورځ ډيريږي؟ هغه څه شې دي چي دهغې په اساس ښځې دخپل وجود يوه برخه لوڅوي او دسړو له لورې د نورور لا زياتو لوڅولو «هل من مزيد» غوښتنه ترې کيږی؟ څه عوامل دي چي لوڅ عکسونه ، لوڅې مجسمې او لوڅه نڅا د ټولو زياته خوښول کيږی؟ څه عوامل دي چي په سينما کې نندارچيانو ته تر هغه وخته هيڅ خوند اولذت نه محسوسيږي تر څو چې د عشق او محبت لوبې په کې نه وي او د جنسي اړيکو خبرې يا حرکات نه وي اجرا شوي؟ دا او داسې نور ډير کارونه که د شهوانيت ښکارونددوي نه وي نو څه دي؟ په هغه تمدن کې چي په دې ډول غير معتدل او نا انډول شهواني چاپيريال را پيدا شي نو دهغې انجام به د تباهۍ پرته نور څه وي؟ په داسې ماحول کې د جنسي ميلاناتو تيزوالې او د پرلپسې پارونې په وجه حتمي ده چي نسلونه به کمزوري کيږي د جسماني او عقلي قوتونو نشو نما به خرابيږي. ذهني پراګندګي به را پيدا کيږي[١]

*(١) يو ډاکټر ليکي چي بلوغ د پيل وخت د ډيرو مهمو بدلونو سره يو ځاې را ځي. د نفس او جسم په مختلفو کړو وړو کې په دغه وخت کې يو انقلابي کيفيت را پيدا کيږي او يو هر اړخيزه وده او نمو صورت نيسي. انسان ته په دغه وخت کې د دغه تعييرات دزغملو او د هغې د نشو نما دلاسته راوړو په خاطر خپل ټول ځواک ته اړتيا محسوسوي په دې خاطر د ناروغيو په مقابل کې ځواک ډير کمزوري کيږي. عامه نشو نما ، د غړو لوئيدل او دنفساني او جسماني بدلونو دغه اوږده مرحله ، چې انسا ن په کې د کوچنيتوب څخه د ځوانۍ په لور قدم اخلي يو ډير سترې کوونکې عمل دي چې په دغه دوران کې طبيعت ډيرزيات مصروف او په جدو جهد کې اخته وي. په دغه وخت کې په هغه باندې د معمول څخه زيات کوم بار باروول درست کار نه دي. په ځانګړې توګه صنفي عمل او شهواني هيجان دهغې له پاره ډير تباه کونکې ثابتيږي.*

(c) ketabton.com: The Digital Library

*د جرمني يو روحاني پوه ليکي چې: څرنګه چې د جنسي غړو اړيکې د لذت او جوش د غير معمولي هيجاناتو (sensations) سره يو ځای وي په دې خاطر دغه غړي زمونږ د ذهني ځواکونو يوه لويه برخه د خپل ځان په لورې راکاږي يا په بله معنې په هغې باندې د ډاکې د اچولو له پاره هر وخت تيار وي که چيرې هغوی ته پرې غلبه تر لاسه شي نو دغه انسان تمدن ته د خدمت پر ځای په وګړيز لذت کې ډوبوي. دغه ځواکمن حالت چې د هغې جسم ته ور په برخه شوې د انسان صنفي ژوند د لړې نبوييدنې په اساس د اعتدال څخه دبې اعتدالۍ په لور وړې او د ګټې په ځای زيان بخښونکې ثابيتږي. د روزنې مهم هدف بايد داوي چې د دغه خطر څخه مخنيوې وکړل شي.*

---

فحاشي ډيرښت مومي ، دخبيثه ناروغيو وبا خپره شي ، دحمل د مخنيوې او اسقاط او همدا راز د کوچنيانو د وژلو غورځنګونه پيل شي . ښځې او نر د حيواناتو په څير يو له بله سره يو ځای شی ، څنګه چې فطرت په هغوې کې ميلانات دحيواناتو څخه ډير قوې پيدا کړې نو هغه دغه قوتونه د فطرت په خلاف استعمال کړي او په خپل جنسي ميلان کې د نورو څخه مخته شی. ان تردې چې د بيزوګانو او وزو څخه هم مخ په وړاندې ولاړ شی. پر ته له شکه دا ډول حيوانيت نه يوازې دانساني تمدن او تهذيب په له منځه وړلو کې بلکه پخپله دانسانيت په له منځه وړلو کې ستر رول لوبوي او هغه خلک چې پرې ککړ دي هغوې د اخلاقي انحطاط داسې کندې ته ور غورځوي چې دو باره يې بيا د راوتلو شونتيا هم نه وي. د هغې تمدن پايښت چې بنسټ يې په تفريط ولاړ وي ،هم په همدې ډول دې. همدا راز لکه څنګه چې د جنسي اړيکو د حد نه تيريدل زيانمن دي په همدې توګه هغه د حد نه په زياته توګه تر فشار لاندې د راوړو په واسطه نور هم زيانمن ثابتيږي. د تمدن هغه نظام چې انسان د دنياپريښولو ، فقر ،رهبانيت او ګوښه کښيناستو لورې ته را کاږي هغه اصلاً د فطرت سره جګړه کوي په داسې حال کي چې فطرت د خپل مقابل لورې له خوا هيڅکله هم د ماتي سره نه مخ کيږي بلکه په خپله مقابل لورې ماتوي.

په ډاګه ده چې يوازې د رهبانيت او ګوښه کيناستو آند دهيڅ تمدن بنسټ نه شې جوړيداې ،ځکه چې هغه په خپل ذات کې د تمدن او تهذيب نفي کوي.. البته په زړونو کې د رهبانيت دآند د ځاې پر ځاې کيدو څخه به په تمدني نظام کې يو داسې غير جنسي چاپيريال منځته را شي چې هلته به په خپله جنسي اړيکو ته سپک ، د کرکې او نفرت وړ او چټل کار په سترګو کتل کيږي او دهغې څخه به ځان ژغورنه يو لوړ اخلاقي معيار ګڼل کيږي او د هرې لارې چې شوني وي د دې اړيکو د له منځه وړلو هڅه به کيږي. خو د جنسي ځواک تر فشار لاندې نيول د ټول انسانيت تر فشار لاندې نيولو سره برابر دي هغه ځان ته له منځه نه ځې بلکه د خپل ځان سره د انسان ذهانت ، عقلي ځواک ، وړتيا ، حوصله ، هوډ ، نارينتوب او .... ټول له منځه وړي. د هغې د فشار لاندې دراوړو په واسطه د انسان ټول ځواکونه تر فشار لاندې را ځي او د هغې وينه يخه او منجمد يږي . په هغې کې د را پاڅيدو وړتياوې له منځه ځي. ځکه چې د انسان تر ټولو لويه محرکه قوه همدغه جنسي ځواک دې. د يوه صالح تمدن لمړۍ دنده همدا ده چې د انسان د افراط او تفريط څخه د انسان د جنسي ځواک مخه و نيسي او د اعتدال لا رې ته يې راولي ، او په مناسبو اصولو باندې يې منضبط او کنټرول کړي.

د ټولنيز نظام جوړښت بايد داسې و شي چې هغه له يوه اړخه څخه د غيرې معتدلو (Abnormal) هيجاناتو ټول هغه وسايل له منځه يوسی چې انسان يې د خپلې ارادې او دخپل لذت پالنې له لارې پيدا کوي او د بله اړخه د فطري (Normal) هيجاناتو دتسکين له پاره داسې لاره پرانيځې چې په خپله د د فطرت د غوښتنو مطابق وي.

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-د کورنۍ جوړښت:

اوس په ذهن کې پخپله دا پوښتنه را پیدا کیږي چې بیا نو د فطرت لاره کومه او څه ډول ده ؟ ایا په دې هکله یې مونږ بلکل په تیاره کې پرې ایښې یو چې د سترګو په پټولو سره په هر شي چې وغواړو ، لاس کیږدو او بیا همغه د فطرت غوښتنه وګڼو ؟ یا د فطرت په قوانینو باندې د غور او فکر کولو په اساس مونږ د فطرت اصلي غوښتنې ته رسیږو ؟ شاید ډیر خلک د هماغه اول حالت منونکي وي نو په دې خاطر هغوی د فطرت په قوانینو د فکر کولو پرته (کیف ما اتفق ) هر څه چې غواړی تر لاسه یې کړي همغه د فطرت اراده ګڼي. خو کله چې یو پلټونکي د حقیقت د پلټنې له پاره راو ځي نو یو څو قدمه مخته هغه ته دا را په ډاګه کیږي چې ګویا فطرت په خپله د خپلې غوښتنې په لور ګوته پورته کوي او هغې لوري ته اشاره کوي.

دا په ډاګه ده چې د ټولو حیواني ډلو په څیر انسان هم د زوجینو یعنې دوه صنفونو په شکل پیدا شوي دي او دهغوي تر منځ د صنفي رابښکود د پیدا کیدو څخه د فطرت لمړنۍ غوښتنه په خپله د انسان پایښت دې. خو د انسان څخه د فطرت غوښتنه یوازې دا نه ده بلکه دهغې څخه پورته څه نورې غوښتنې ترې هم لري او دلږ دقت وروسته مونږ ته په ډاګه کیږي چې هغه غوښتنې څه او څه ډول دي ؟

دهر څه تر مخه چې په کوم شي نظر لویږي هغه دادې چې د ټولو حیواناتو بر عکس د انسان کوچنې دپالنې او روزنې له پاره ډیر زیات زحمت ، مشقت ، ربړ او توجه ته اړتیا لري که چیرې هغه یوازې د یوه حیوانی وجود په څیر واخیستل شي بیا هم مونږ وینو چې هغه دخپلو حیواني غوښتنو او اړتیاو د پوره کولو یعنې د غذا د لاسته راوړو او دخپل نفس څخه ددفاع له پاره د ورتیا د لاسته راوړو په خاطر څو کالو ته اړتیا لری. په هغه لمړنیو دوه درې کالو کې خو هغه دومره بې وسه وي چې د مورد پرلپسې تو جه پرته ژوندي هم نه شي پاته کیداې.

دا ښکاره ده چې که انسان د وحشت په هر څومره لمړنۍ او ابتدائي مرحله کې هم وي بیا هم مطلق حیوان نه دې په یوه ډول نه یوه ډول مدنیت د هغې په ژوند کې حتماً موجود وی او د همدغې مدنیت په اساس د اولاد پالنې په فطري غوښتنه باندې یې لا محاله نورې غوښتنې هم ورزیاتیږي . یودا چې د کوچنې په روزنه کې د ټولو هغه تمدني وسایلو څخه کار واخیستل شی چې دهغې پالونکې ته میسرې وې ، بل دا چې کوچنې داسې و پالل شي چې په کوم تمدني ماحول کې هغه پیدا شوې هلته د تمدن د کارخانې د پرمخ بیولو او د پخوانیو کارکونکو د ځاې دنیولو له پاره تیار وي. بیا نو تمدن چې څومره پرمخ تللې او اعلي درجې ته رسیدلې وي نو دغه دواړه غوښتنې هم په همدغه اندازه درنې او مهمې وي. که له یوه اړخه د اولاد روزنې اړونده وسایل او لوازم مخ په زیاتیدو وي نو د بله اړخه تمدن نه یوازې د خپل پایښت له پاره د خپلې سویې مطابق ښه روزل شویو او پوه کارکونکو ته اړتیا لري بلکه دخپل نشو نما ، او وړاندې تګ په خاطر دا غوښتنه کوي چې هر نسل د پخواني نسل څخه په ښه توګه را پورته او وروزل شي یا په نورو ټکو ، دهر کوچنې پالونکې هغه کوچنې د خپله ځانه ښه روزي ، او دا هغه ایثار او قرباني ده چې د انسان څخه دخپل ځان د پالنې د جذبې ځارول هم غواړی.

دا دانساني فطرت غوښتنې دي او ددې غوښتنو اولین مخاطب ښځه ده ، سړې د یوه ساعت له پاره د ښځې سره یو ځاې کیږي او بیا د تل له پاره دهغې څخه او ددغه یو ځاې کیدو د مسؤلیت څخه جدا کیداې شی خو ښځې ته ددې یو ځاې کیدو طبیعي زیښنه په کلونو کلونو بلکه د تل له پاره پاته کیږی. دحمل د پیدا کیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته لېر ترلږه ترپنځه کالو پورې دغه پايلې د هغې پسې ورښتې وي ، نو که چیرې د تمدن ټولې غوښتنې پوره کول وي نو بيا خو دهغې معنې داده چې ترنورو پنځلس کالو پورې هغه ښځه چې د يوه ساعت له پاره يې د سړي ترڅنګ په خوند او لذت کې تيرکړې و ددې مسؤليتونو بار په اوږو اخلي ، پوښتنه داده چې د يوه ګډ کار د مسؤليت د ترسره کولو له پاره به څنګه يوازې يو اړخ تيار شي ؟ ترڅو پورې چې ښځه د ميړه د بې وفائي له ويرې څخه خلاصون و نه مومي ترهغې به هغه ته دخپل کوچني د پاللو پوره ډاډ نه وي او ترهغې چې هغه دخپل ژوند د اړتياو د برابرولو دمسؤليت څخه فاغه نه وي نو دداسې لوې بار د پورته کولو له پاره به څنګه تياره شي ؟

دکومې ښځې چې کوم قوام(**Protector Provider** ) يا کوم ساتونکې ،ملاتړ کونکې او تهيه کونکې نه وي نو هغې ته پرته له شکه د حمل اخيستل يو مصيبت او پيښه بلکه يوه ستره بلا وي چې دهغې څخه د خلاصيدو غوښتنه په هغې کې په طبيعي توګه را پيدا کيږي. نو بيا به هغه دغه ډول کوچنې ته څنګه ښه راغلاست ووايي.

بې له شکه چې دا يو ضرورت دې.....که د انساني نسل د بقا ، تمدن او پرمختګ له پاره اړتياوې...نو پرته له شکه دې ته هم اړتيا ده چې کوم سړې چې کومه ښځه حامله کړې نو بيا به هماغه ددې ښځې سره په ګډه دا بار پورته کوي خود دې ګډون له پاره به هغه (سړې ) څنګه را ضې کړل شي ؟ هغه خو فطرتاً ځان غوښتونکې دې. ترهغې چې د نسل د بقا او پايښت پورې اړه لرې نو دهغې برخه کار خو هغه په هماغه وخت کې پای ته ورساوه چې ښځه يې حامله کړه. دهغې وروسته دغه بار يوازې د ښځې سره تړلې دې او سړې سره په هيڅ ډول تړاو نه لرې. ترهغې چې د صنفي راښکون پورې اړه لرې نو دهغې له مخې هم هغه نه شي مجبوريداې چې دهغې ښځې سره يو ځاې په مسؤليت کې را و نغاړل شي. که هغه وغواړی هغه (ښځه ) به پريږدې له بلې سره او بله به پريږدي د بلې سره به اړيکې پيدا کړي او په هرې ځمکې کې به (لکه دحيوا په څير ) تخم شيندې او د مسؤليت له احساس نه پرته به پر مخ ځې.

نو که چیرې دا خبره يوازې د هغې دخوښې پورې پريښوول شي نو هيڅ علت نه شته چې هغه دې پخپله خوښه دا بار پورته کړي نو بيا څه شې دا مجبوروي چې هغه دې دخپلو لاسو تناکې په دغه ښځه او دهغې په بچې مصرف کړی؟ ولې هغه ددې ښځې پرځاې د يوې بلې ښايسته نجلۍ سره خپل اړيکې نه ساتي ؟ ولې هغه د غوښې او پوستکې يوه بيکاره ټوټه د خپلې مزدورۍ په پيسو و پالي ؟ولې دهغه د ژړا په واسطه خپل خوب خراب کړي ؟ ولې دهغې کوچني شيطان په واسطه خپل ځان زيانمن کړي چې هر څه مات راماټ کړي او ټول کور د چټليتا نه ډکوي او د هيچا خبره پرې اغيز نه کوي ؟

فطرت تر ډيره ځايه ددې ستونزې دحل له پاره په خپله اهتمام کړې دې. هغه په ښځه کې ښايست ، خوږلني ، د زړه راښکو توان او د محبت له پاره د ايثار او ځان ځارنې کولووړتياوې وديعت کړي ترڅو ددې وسيلې په واسطه دنارينه په خپلغرضه وګريز توب باندې سوبه تر لاسه کړي او هغه پرخپلو دغه صلاحيتونو کې اسير او بندې کړي. هغه په کوچنې کې هم دتسخير يو عجيب ځواک پيدا کړي ترڅو هغه دخپل تکليف وركوونكي ، بربادوونکي او د ... ټولو منفي ځانګړتيا وسره سره بيا هم خپل مور او پلار دخپل محبت په دام کې راښکيل کړي خو يوازې داشيان دومره ځواک نه لرې چې انسان دخپلو اخلاقي ، فطري ، تمدني دندو د ترسره کولو په لار کې د اوږدې مودې له پاره د زيان ، تکليف او قرباني د ګاللو له پاره چمتو کړي. اخر دانسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره دهغې ازلي دښمن هم ملګرې دې چې د فطرت د لارې څخه يې دکږولو فرصت يو ثانيه م له لاسه نه ورکوي.

دا د دين معجزه ده چې هغې انسان ، ښځه او نارينه دواړه ، د نسل او تمدن له پاره قربانۍ ته تيار کړي او ددغه ځان غوښتونکې ځناور څخه يې انسان جوړ کړې. دا د الله جل جلاله له اړخه را ليږل شوې پيغمبران دي چې هغوې د فطرت ارادې په سهي توګه و پيژندلې او د ښځې او نر تر منځ يې د صنفي اړيکو او تمدني کومکونو سهي شکل ددوې تر منځ نکاح وښووله. د همغوې د ښوونې او روزنې په واسطه د نړۍ په هر ولس او د نړۍ په هرې څنډې کې نکاح رايج شوه ، دهمغوې د ښوولې شوو اخلاقي اصول په واسطه په انسان کې دومره روحاني وړتياوې را پيدا شوې چې هغوې د دغه خدمت ، تکليفونه اوزيانونه و زغمې او که نه حق خو دادې چې دمور اوپلار څخه دکوچني بل کوم لوې دښمن نه شته. دهمغوې له لورې د ټولنيزو اصولو او ظوابطو په اساس دکورني نظام بنسټ ايښول شوې چې د همدې نظام د سختې نيونې په اساس نجونې او هلکان په دغه دمسؤليت نه د ډکو اړيکو په ټينګولو او ګډ عمل کولو باندې مجبوروي. او که نه د ځوانۍ دحيواني غوښتنو ځواک دومره سخت وي چې يوازې د اخلاقي مسؤليت احساس دکوم بهرني ډسپلين نه پرته هغوې د شهوت د ازاد استعمال څخه نه شی ايسار ولای. د شهوت جذبه په خپل ځای د ټولنې دشمنه(**Anti Social**) ده . دا د ځان غوښتنې او انفراديت په لور د ميلان پيدا کولو جذبه ده چې په کې ثبات اوپايښت نه شته د مسؤليت احساس نه لري ، دا يوازې د وختي خوند اخيستلو په خاطر دي. ددې بلا مسخر کول او په ټولنيز ژوند کې ورڅخه کار اخيستل څه اسانه کار نه دي. دا دنکاح قانون او کورنۍ نظام دي چې کولای شي دا( ديو ) او (پيرې) په بوتل کې ننه باسي. دهغې څخه شرارت او بد نظمي وکاړي او هغه د نارينه او ښځې دهغه خپل منځې کومک او ګډ عمل تابع کړي چې د ټولنيز ژوند د تعمير له پاره ورته اړتيا ده که دا نه وی نو د انسان تمدني ژوند پای ته رسيږي او د حيوان په څير به اوسي او بالاخره د انساني نسل موجوديت به له ګواښ سره مخ شي.

نو د جنسي ميلان د بې اعتدالۍ د مخنيوې او دهغې د فطري غوښتنو د تسکين او اشباع له پاره چې کومه لاره په خپله فطرت ټاکلې ده هغه داده چې د ښځې او نارينه تر منځ د نکاح له لارې تلپاتې اړيکې ټينګ کړل شي او دهمدې اړيکو له لارې کورني ژوند جوړښت و مومي.

دتمدن ددغه پراخه کارخانې د پرمخ بيولو له پاره چې کومو پرزو ته اړتيا ده هغه د کورنۍ په همدغې کوچنۍ فابريکه کې جوړيږي . دلته د نجونو او هلکانو ځوانې ته د رسيدو سره سم د دغه فابريکې چلوونکو ته دا فکر پيدا کيږی چې د امکان تر حده پورې هغوې ته داسې جوړې پيدا کړي چې يو د بل له پاره ډيرې مناسبې وي تر څو د هغوې د يوځای کيدو څخه ډير بهتر او ښه نسل و زيږيږي ، بيا دغه نسل ددغې فابريکې د غړي په څير هڅه کوي چې څومره يې بهتر ولای شي همغومره يې بهتره کړي. پرځمکې باندې دخپل ژوند دهماغه لمړنۍ شيبې څخه کوچني ته په کورنۍ کې د محبت ، ساتنې او روزنې داسې چاپيريال په لاس ورځي چې دهغې د ودې له پاره د(آب حيات ) په څير ارزښت لري . په حقيقت کې په کورنۍ کې هغه خلک د کوچني تر څنګ وي چې نه يوازې ورسره مينه کوي بلکه د زړه د تل نه غواړي چې کوچنې چې په کومه مرتبه کې پيدا شوې دهغې نه لوړه مرتبه ورته په لاس ورشي. په نړۍ کې دغه جذبه يوازې په مور او پلار کې پيدا کېدای شي ځکه دا همغوی دي چې غواړي اولاد يې له هره اړخه په بهتر اوښه حالت کې او دهغوې نه په پورته درجه کی وروزل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې توګه هغه پرته له ارادې او په غیر شعوري توګه را تلونکې نسل د اوسني نسل څخه د بهتر کیدو او د انساني پر مختګ له پاره د لارې د جوړولو هڅه کوي ، د هغوې په دغه هڅه کې هیڅ ډول خپل غرضې نه کتل کیږي. هغوې د خپل ځان له پاره څه نه غواړي بلکه د خپل اولاد د بري او خوښۍ هیله من دي. او د هغې نه یو بریالي او غوره انسان جوړول د خپل محبت بدله ګڼي. د غسې مخلص کارکونکي او بې غرضه خادمان به تاسې ته د کور د کارخانې څخه بیرون چیرته په لاس ورشي چې د بشریت د ښیېګڼې له پاره نه یوازې بې عوضه کار کاوي. بلکه خپل وخت ، ارام ، ځواک ، وړتیا او هر څه په دې لاره کې ځاروي او په هغه ځیز خپل هر څه ځارول غواړي چې میوه یې نوروته رسیږی او د خپلو ټولو هڅو ښه بدله په دې کې ګوري چې د نورو له پاره هغه بهتر کارکوونکي او ښه خادم جوړ کړي دې ایا په نړۍ کې له دې ستره او پاکه اداره بله پیدا کیداې شي.

انساني نسل د خپل پاینښت له پاره او انساني تمدن د خپل تسلسل او ارتقا له پاره هر کال د غسې په میلیونو میلیونو جوړو ته اړتیا لري چې په خپلې خوښې او رضا سره خپل ځان د دغه خدمت او مسؤلیتونو له پاره را وړاندې کړي ، او د نکاح په کولو سره د دغه ډول نورې ډیرې کارخانې جوړې کړې. د غه ستره کارخانه چې په نړۍ کې کار کوي په همدې تر تیب مخته ځي چې د غه ډول رضا کار په خپله خوښه د خدمت له پاره را پورته شي او د دې کار خانې له پاره انسانان تیار کړي. که چیرې نوې کار کونکي نه وي او د طبیعي عواملو له امله پخواني کار کونکي بیکاره شي او د کاره ووځي نو د کار خلک به ورځ په ورځ کمیږي او یوه ورځ به د غه جوړه شوې د نیاګۍ بې ځوکه پاته شي. هر انسان چې د تمدن د غه ماشین چلوي ، د هغې دا د نده یوازې دا نه ده چې تر خپل ژوند پورې یې و چلوي بلکه دا هم ده چې د خپل ځاې د نیولو له پاره د خپل ځان په ځیر د نورو وګړو د تیارولو هڅه و کړي.

په دې تر تیب که وکتل شي نو د نکاح حیثیت یوازې دا نه دې چې هغه د جنسي جذباتو د تسکین په خاطر یوه روا او جایزه لاره ده. بلکه په حقیقت کې دا یوه ټولنیزه دنده ده. دا په وګړي د ټولنې فطري حق دې او وګړي ته په دې هکله هیڅ ډول واک نه دې ورکړل شوې چې هغه دې د نکاح کولو او یا د نه کولو پریکړې حق د خپل ځان له پاره خوندي و ساتي. ځوک چې د کوم معقول علت پرته د نکاح کولو څخه مخ اړوي نو هغه د ټولنې غدار او بیکاره عنصر (**Parasites**) دي هر ځوک چې پر ځمکه پیدا شوې هغه د لمړنۍ ساه اخیستو وروسته د ځوانۍ تر رسیدو پورې د دغه بې حده او بې حسابه پانګې څخه ګټه پورته کړي چې تر هغې پخوانیو نسلونو ورته تیاره کړې ده . د همغوې د جوړ شوي کړچار په بنسټ هغه د ته د ژوندي پاته کیدو ، غټیدو او د ودې کولو موقع په لاس ورغلې. هغه په دې مرحله کې یوازې ګټه کړې او نورو ته یې هیڅ نه ده ورکړې . ټولنې د همدغې موخې له پاره د هغه ناقص ځواکونه د تکمیل په لور په روانو لو کې خپله پانګه مصرف کړی چې کله هغه د څه ورکولو وړتیا پیدا کوي نو بیا به یې ورکړي اوس نو که هغه لوې شي او د خپل ځان له پاره د وګړیزې ازادۍ او خپلواکۍ غوښتنه وکړي او ووایې چې زه یوازې خپلې غوښتنې پوره کول غواړم. او د هغو مسؤلیتونو بار په اوږو نه اخلم چې د دې غوښتنو پورې تړلې وي. نو هغه په حقیقت کې د دغې ټولنې سره غدارې کوی ، د هغه د ژوند هره شیبه تیرې او بې انصافي ده. که چیرې په ټولنه کې شعور موجود وی نو هغه د غه مجرم ته د محترم سړې او محترمې ښځې او مقدس روحاني په ځاې د یوه غل ، ډاکو او جعل ساز په سترګه کوري ، مونږ که غوښتې وې او که نه ، د ټولنې د هغه پانګې او ذخیرې وارثین یو چې زمونږ څخه مخکینو نسلونو مونږ ته پرې ایښې دي. اوس مونږ په دې پریکړه کې څنګه ازاد پاته کیدې شو چې د هغه فطرت د قانون په اساس چې مونږ ته یې په میراث پریښې دي ، د هغې غوښتنې پوره کړو یا نه کړو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې نسل تيارکړو يا نه کړو چې د انساني نسل ددغې پانګې او ذخيرې وارث وي دهغې د سنبالولو له پاره نور وګړي تيار کړو يا نه کړو؟ لکه څنګه چې مونږ په خپله ورته تيار کړل شوي يو.

## ۳-د جنسي خپل سريو مخنيوي :

دنکاح او د کورنۍ د جوړښت سره سم دې ته هم اړتيا ده چې د نکاح د چوکاټ نه بيرون د جنسي غوښتنو د تسکين لارې په کلکه و تړل شي. ځکه چې د هغې پرته د فطرت هغه موخې نه پوره کيږي دکوم له پاره چې هغه د نکاح او کورنۍ د جوړښت غوښتنه کوي.

د لرغوني جاهليت په څير ددغې نوي جاهليت په زمانه کې هم ډير خلک زنا يو فطري عمل ګڼي او دهغوي له آنده نکاح د تمدن زيږنده او يو اضافي شي دي. هغوي فکر کوي چې لکه څنګه چې فطرت هره وزه د هر وز له پاره او هره سپې د هر سپي له پاره پيدا کړې . په همدې ډول يې هره ښځه د هر سړي له پاره پيدا کړې او فطري لار همدا ده چې کله هم جنسي غوښتنه وي ، موقع او فرصت برابر وي اود دواړو اړخونو وګړي په دې راضي وي نو دهغوي تر منځ همداسې جنسي عمل تر سره کيداې شي لکه څنګه چې د څناورو تر منځ تر سره کيږي خو حقيقت دادې چې دا دنساني فطرت ډير غلط تعبير دي.

دې خلکو انسان يوا ځې حيوان تصور کړې نو کله چې دوې د فطرت لفظ استعمالوي ، دهغې څخه يې موخې د حيواني فطرت وي نه انساني فطرت . هغو خپرو ورو اړيکو ته چې دوې فطرت وايې هغه دحيواناتو له پاره ضرور فطري دې خو د انسان له پاره هيڅکله هم فطري نه دې. هغه نه يوازې د انساني فطرت پر خلاف دې بلکه دخپلو اخري زيبينبو په اعتبار سره د هغه حيواني فطرت په خلاف هم دې چې په انسان کې موجود دې. په دې خاطر چې په انسان کې انسانيت او حيوانيت دوه جلا شيان نه دی بلکه په حقيقت کې د دواړو په يو ځاې کيدو سره يو شخصيت جوړتيږې او ددواړو غوښتنې يو د بل سره داسې تړاو پيدا کوي چې کله هم د يوه له هدف څخه مخ واړول شي نو د بل موخه په خپله له منځه ځي.

په زنا کې انسان په ځرګند ډول داسې احساسوي چې لږ تر لږه دحيواني فطرت غوښتنه خو پوره کوي ځکه چې د تناسل او دنسل د بقا او پايښت مقصد يوازې د جنسي عمل له لارې پوره کيږی. که دنکاح په چوکاټ کې وي او که نه. خو هغه څه چې مونږ بيان کړل که په هغې نظر واچول شی نو و به کتل شي چې دا کار لکه څرنګه چې انساني فطرت ته زيان رسوي ، په همدې تر تيب حيوانی فطرت ته هم زيانمن ثابتيږي. انساني فطرت غواړي چې په جنسي اړيکو کې ثبات او پايښت شتون ولري تر څو کوچني د مور او پلار د ګډو هڅو په واسطه نمو وکړي او تر يوې مودې پورې سړي نه يوا ځې د کوچني بلکه د کوچني د مور کفالت هم وکړی. که چيرې سړې ته دا يقين نه وي چې کوچني ددې خپل دې نو بيا خو به هغه د هغې د پالنې له پاره دهيڅ ډول ستونزو زغملو ته تيار نه وي او نه به دا وزغمي چې دهغې وروسته دې د هغه دمال وارث همدې شی ، په همدې تر تيب که ښځې ته دا يقين نه وي چې کوم سړې چې دا حامله کوي ،ددې او ددې د کوچني کفالت ته تيار نه دې نو هيڅکله به د حمل ستونزې او دهغې د راتلونکو زيبينبو د زغم له پاره تياره نه شی ، که د کوچني په روزلو کې مور او پلار کومک و نه کړی نو دهغې د ښووني او روزنې اخلاقي ، ذهني او اقتصادي حيثيت به هيڅکله هغه معيار ته و نه رسيږي چې د هغې په واسطه هغه د انساني تمدن کوم ګټور کار کوونکې و ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ټول د انساني فطرت غوښتني دي او کله چې د دغه غوښتنو څخه په مخ اړولو سره يوازې د حيواناتو په څير د ښځې او نارينه تر منځ موقتي اړيکي جوړ شي نو هغه پخپله د حيواني فطرت د غوښتني (توالد اوتناسل) څخه هم مخ اړول دي ځکه چې په هغه وخت کې (توالد اوتناسل ) دهغه په ذهن کې نه وي ، په دغه وخت کې يوازې جنسي اړيکي د نفس د غوښتنو د پوره کولو او د لذت او خوند اخيستلو له پاره وي چې له يوه سره د فطرت د موخي په خلاف دي.

د نوي جاهليت بيرغچيان په خپله هم دغه اړخ کمزوري ويني او په دې خاطر هغوي ددې له پاره يو نوي استدلال ورزياتوي. هغوي وايي چې که د ټولني دوه وګړي يو د بل سره په خپله خوښه يو ځاې څو ساعته مزې چړچې وکړي نو په دې کار کې به ټولني ته اخر څه زيان ور سيږی چې دهغوي په دې خوښې کې مداخله وکړې؟ ټولنه به هغه وخت د مداخلي حق لري کله چې يو وګړي په بل تيري کوي ، يا بل غولوي او يا د کومي ټولنيزی ستونزې سبب شي خو کله چې دا يوه خبره هم نه وي او يوازې ددوه وګړو تر منځ د ساعت تيرۍ او خوند معامله وي نو بيا ټولنه دهغوي په منځ کې د ورننوتلو هيڅ حق نه لري ، د خلکو په شخصي امورو کې که چيرې مداخلت صورت نيسي نو بيا خو شخصي ازادې هسې يو بې معني لفظ ګرځي.

د وګړيزې ازادۍ دغه تصور د( ۱۸ مې او ۱۹ مې) پيړيو دهغه جهالتونو څخه يو دې چې تياري يې د علم او خيړنې د لمړني څرک د را پيدا کيدو سره سم له منځه ځي. د لږ څه فکر وروسته يو انسان دا خبره درک کولاې شی چې د هغې ازادۍ غوښتنه چې د وګړو له پاره کيږی هغه په ټولنيز ژوند کې هيڅ ځاې نه لري ، څوک چې داسې ازادی غواړي هغوي ته په کار دي چې ځنګل ته ولاړ شي او د حيواناتو په څير ژوند تير کړي ، انساني ټولنه خو په اصل کې د علايقو او اړيکو دداسې يوه جال نوم دې چې په کې د هر وګړي ژوند د نورو بې شميره وګړو سره تړلې وي، هغوي يو په بل اغيز کوي او يو د بل څخه اغيزمن کيږي ، په دغې ټولنيزو اړيکو کې د انسان هيڅ کړو وړه ته شخصي او وګړيز نه شی ويل کيداې او نه دداسې کوم شخص فعل تصور کيداې شی چې دهغې اغيز په ټولنيزه توګه په ټوله ټولنه پرې نه وځي. افعال او کړه وړه خو پريږده په زړه کې پټ داسې خيال هم نه شته چې زمونږ په وجود او دهغې څخه په منعکس کيدو سره په نورو اغيز و نه کړي. زمونږ د زړه او جسم د يو يو حرکت پايلي چې زمونږ څخه منتقل کيږي تر لرې لرې ځايو پورې رسيږي چې زمونږ علم د هغې احاطه نه شی کولاې. نو په داسې حال کې به دا څنګه وويل شي چې د يوه وګړی د يوه ځواک استعمال به د هغې دذات نه پرته په بل چا باندې څه اغيز نه کوي ، په دې خاطر هيڅوک دهغې پورې کار نه لري او هغې ته بايد په خپلو کړو وړو کې پوره پوره ازادي وکړل شي . که چيرې ماته ددې ازادي نه راکول کيږي چې په لاس کې لرګي واخلم او چيرته چې غواړم هلته ولاړ شم ، خپل موټر مې چې څنګه خوښه وي هغسې و چلوم ، په خپل کور کې څومره غلاظت چې را ټولولې شم راټول يې کړم ،که دا او داسې نور وګړيز کړه وړه د ټولنيزو اصولو تابع وی نو بيا ولې زما شهواني ځواک په ځانګړی توګه ددې وړ دې چې هغه دکومي ټولنيزی ظابطی پابندي و نه کړي او ماته بلکل ازادي وي چې څنګه يې چې و غواړم همغسې تری کار واخلم.

دا خبره چې يو نارينه او ښځه که په يوه ځانته پټ ځاې کې په خپله رضا او خوښه د خوند او لذت په خاطر څو ساعته وخت تيروي ، په ټولنيز ژوند کوم خاص اغيز نه لري ، د کوچنيانو په څير خبره ده. په حقيقت کې د هغې اغيز يوازې په هماغه ټولنه نه پريوزي چې دوې ورپورې اړه لري بلکه اغيز يې په ټول انسانيت پريوزي او همدا راز دهغې اغيز يوازې په موجوده نسل پورې محدود نه پاته کيږی بلکه د راتلونکو نسلونو پورې هم رسيږي ، نو په هغو ټولنيزو اړيکو باندې چې انسان تړلې دې دهغې څخه هيڅ وګړې په هيڅ ځاې کې ، ان

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کوم خوندي ځاي کي هم جدا نه شي پاته کيداي. په بندو کوټو کي ،دديوالونو تر منځ هم ، هغه همداسي د ټولنيزو ژوند پوري اړوند دی لکه څنګه چي په کوم بازار يا محفل کي وي. کله چي هغه په يوازيتوب کي خپل توليدي ځواک د يوي عارضي او غير نتيجه لرونکي خوند او لذت له پاره ضايع کوي ، په هغي وخت کي هغه په ټولنيز ژوند کي د بدنظمۍ د خپرولو او د نسل په حق تلفۍ او ټولني ته د بي شميره اخلاقي ، مادي او تمدني زيانونو په رسولو کي مشغول وي. هغه د خپلي ځان غوښتني له امله په ټولو هغه ټولنيزو ادارو باندي ګذار کوي چي د ټولني د يو وګړي په صفت يي تري ګټه پورته کړي خو دهغوي په قيام او پايښت کي د خپلي ونډي د اخيستو او ادا کولو څخه ډډه کوي.

ټولني ، چي د ښاروالۍ څخه نيولي تر رياسته پوري، د مکتب نه نيولي تر عسکری ځواکه پوري ، د کارخانو څخه نيولي د علمي خيړنو تر مرکزونو پوري ، څومره اداري چي جوړي کړي دي ټولي يي په همدي باور جوړي کړي چي هر وګړي چي ددي ادارو څخه ګټه پورته کوي نو دهغي په جوړښت او پر مختګ کي دي خپله واجبي ونډه واخلي، خو کله چي دي بي ايمانه خپل شهواني قوت داسي استعمال کړ چي په هغي کي د توالد او تناسل او اولادنو د روزني د مسؤليت قبلولو نيت له سره وي نه ، نو هغي په خپل يو ګذار سره تر خپل حده پوري ددي ټولنيز نظام ريښي ووهلي او پري يي کړي ، نوموړي هغه ټولنيز ترون مات کړ چي هغه د انسان په حيث په کي ګډون کړي و. هغه خپل بار پخپله د پورته کولو په ځاي په نورو د ټول بار د ورباړولو هڅه کړي. هغه کوم شريف انسان نه دي بلکه يو غل او خائن دي دهغي سره نيک سلوک د ټول انسانيت سره ظلم او تيري دي.

په ټولنيز ژوند کي د فرد د مقام په پيژندلو سره دا خبره جوته کيږی چي ټول هغه ځواکونه چي مونږ ته را کړل شوي دي هغه يوازي زمونږ د خپل ځان له پاره نه ، بلکه مونږ سره د ټول انسانيت يو امانت دي او مونږ به دهغوي په هکله د ټول انسانيت تر مخ ځواب ورکونکی او سو. که چيري مونږ خپل ځان يا د خپلو ځواکونو څخه څه ضايع کړو يا دخپلي غلطۍ په اساس خپل ځانته پخپله زيان رسوو نو زمونږ ددي کار اصلي حيثيت دا نه دي چي هغه څه چي زمونږ و هغه يا خو مونږ ضايع کړی يا مو زيانمن کړي بلکه دهغي حيثيت دادي چي د ټولي بشري نړۍ له پاره چي کوم څه زمونږ سره امانت و په هغي کي مونږ خيانت وکړ. او د خپل دغي عمل په واسطه مو ټول انسانيت زيانمن کړ. په نړۍ کي زمونږ موجوديت په خپله په دي خبره ګواه دي چي نورو د تکليفونو بار پورته کړ او د ژوند رڼا يي مونږ پوري را ورسوله ، نو مونږ دي نړۍ ته راغلو ، بيا دولتی نظم زمونږ د ځان ساتنه وکړه ، د روغتيا اداري زمونږ د صحت او روغتيا په هکله توجه وکړه ، په لکونو انسانان يو د بل سره يو ځاي شول او مونږ ته يي د ژوند اړتياوي را پوره کړي ، ټولو ټولنيزو ادارو يو د بل سره په تعاون زمونږ روزنه وکړه او زمونږ څخه يي هغه څه جوړ کړل چي اوس يو ، نو ايا د ټولو جايزه بدله به همدا وي؟

ايا دا به انصاف وي چي دکوم ځان او دکومو ځواکونو په وجود ، پايښت او وده کي د نورو دومره ونډه وي او هغه مونږ ضايع کړو او يا يي د ګټورو کيدو پر ځاي يي مضر وګرځوو؟ ځان وژنه په همدي خاطر حرامه کړل شوي. په لاس باندي شهوت کونکي (مستمني ) ته په همدي خاطر د نړۍ حکيم ملعون (ناکح اليد ملعون ) ويلي دي. د لوط عليه السلام د قوم عمل په همدي بنسټ بدترين جرم ګرځيدلي او زنا هم په همدي خاطر وګڼزه تفريح او ساعت تيري نه ده بلکه په ټولي انساني ټولني تيري او ظلم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زنا او ټولنيز تيري :

فکر وکړئ چې زنا سره څومره زياتې ټولنيزې ناروغتياوې نژدې او ژورې اړيکې لري.

۱-د هر څه د مخه يو زنا کار خپل ځان د خبيثه ناروغيو په لمن کې ورغورځوي ، او په دې توګه نه يوازې د خپلو جسماني ځواکونو ټولنيزو ګټو ته زيان رسوي ، بلکه ټولنې او نسل ته هم زيان اړوي.د سوزاک په هکله هر ډاکټر به درته داو وايي چې د متيازو کولو دلارې دغه ناروغي په پوره ډول کله هم نه جوړيږي. د يوه لوی ډاکټرو بنا ده چې [يوځل سوزاک د تل سوزاک ] دغې څخه ځيګر اغيزمن کيږي ، مثانه ، انثيين او نور غړي ډير وخت په رنځ اخته کيږي او تر څنګ يې د نورو ناروغيو له پاره هم زمينه برابروي او د تلپاتې شنډتوب ، شونتيا هم ترې را پيدا کيږي. خو د اتشک د ناروغۍ په هکله هر څوک په دې نه پو هيږي چې ټول جسماني نظام ترې مسموم کيږي ، د سر نه تر پښو پورې هيڅ داسې غړې ، بلکه د جسم هيڅ برخه به داسې نه وي چې پرې ددې موذي ناروغۍ زهر اغيز و نه کړی. دا ناروغي يوازې د ناروغ جسماني ځواکونه له منځه نه وړي بلکه د مختلفو لارو څخه نورو بې شميره غړو ته رسيږي او بيا د همدې ناروغتيا په اساس د ناروغ اولاد او دهغې د اولاد اولاد په دغه بې قصوره سزا محکوميږي. دکوچنيانو ، ړندو ، ګونګيانو ، کڼو او کمعقلو پيدا کيدل دهغه څو لحظو دخوند اخيستنې يوه معمولي پايله ده چې يوه عياش پلار دخپل ژوند يوه ارزښتناکه پانګه ګڼلې وه.[1] (۱)[ اوس په دې څو وروستيو لسيزو کې د زنا بل سوغات ايډز يا (HIV)دې چې ټوله نړۍ يې لړزولې ، ددې ناروغتيا نوم مرګ دې اوتر اوسه يې پوره علاج نه دې پيدا شوې (ژباړن )]

۲-په خبيثه ناروغتياو باندې دهر زناکار اخته کيدل حتمي نه دې مګر دهغې اخلاقي کمزوريو څخه دهيڅا خوندې کيدل شوني نه دي چې د زنا سره په لازمي توګه تړلې دې ، بې حيايې، غولونه ، درواغ ، بدنيتي ، خپل غرضي ،د نفس غلامي ، بې صبري ، حيراني ، تلون ، بې ثباتي او بې وفايي ، دا ټولې د زنا هغه اغيزې دي چې پخپله د زاني په نفس باندې مرتب کيږی. هغه وګړي چې دغه ځانګړتياوو ته په خپل ځان کې وده ورکړې نو دهغې د کمزرويو اغيز يوازې د جنسي معاملاتو تر حده پورې نه را نغښتل کيږي. بلکه د ژوند په هر اړخ کې دهغې له اړخه دغه تحفه ټولنې ته رسيږي. که چيرې په يوه ټولنه کې په ډيرو خلکو کې داسې اوصاف وده وکړی نو دهغې په واسطه هنر(ارټ Art) ، ادب ، تفريحات ، او لوبې، علوم او فنون ، صنعت او حرفت ، ټولنه او اقتصاد ، سياست او عدالت ، عسکري خدمت او ملکي انتظام يعني هر شي ترې اغيز من کيږي. په ځانګړې توګه په جمهوري نظام کې چې د وګړو يو يو اخلاقي ځانګړتيا دټول ولس په ژوند کې منعکس کيږي ، ديو ولس د ډيرو وګړو په مزاج کې چې کوم ثبات نه وي دکوم ولس چې ډيره کې چې د وفا ، ايثار ،په نفس د کنترول او دداسې نورور وړو اوصافو څخه عاري وي نو دهغوې په سياست کې به استحکام او ثبات له کومه راشي ؟

۳-د زنا د جايز کولو سره دا هم لازميږي چې په ټولنه کې د فاحشه ګرۍ کاروبار تلپاته او جاري وي. څوک چې دا وايي چې يو ځوان سړې ته د تفريح او ساعت تيرۍ حق ورپه برخه دې نو هغه ددې تر څنګ دا هم وايي چې په ټولنه کې دې د ښځو يوه داسې ډله موجوده وي چې له هره اړخه د پستې او ذلت په اخري مرتبو کې وي ، نو دا ښځې به له کومه ځايه راځي ؟ هغوې خو به په همدغه ټولنه کې را پيدا کيږی ، په هر حال به هغه حتماً د چا لور وې اويا به د چا خور. هغه په لکونو ښځې چې د يو يو کور ملکه ، د يوې يوې کورنۍ بنسټ ايښودونکې او د څو څو کوچنيانو پالونکې جوړيداې شي ، هغوې با زار ته راوستلې کيږي، تر څو د عمومي تشنابونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خير د کوڅه ډبو سرو د اړتياو د رفع کولو ځاې و ګرځي. دهغوي څخه د ښځې توب هغه شريفانه ځانګړتياوې اخيستل کيږي ، هغوي ته د ناز د پلورلو روزنه ورکول شی ، هغوي دهمدې کار له پاره تياريږي چې خپل محبت ،خپل زړه ،خپل جسم ، خپل حسن او خپلې نخرې هره ګړۍ په يوه نوې اخيستونکې باندې وپلوري ، او ديوه نتيجه ورکونکې او ميوه پيدا کونکې خدمت پر ځاې ټول عمر د کوڅه ډبو نارينه و د تسکين او نفس پالنې نا نځکې ترې جوړې شي.

۴-د زنا د جواز څخه دنکاح تهذيبي او قانوني حثيت ته حتما زيان رسيږي ، ان تر دې چې نکاح له منځه ځي او يوازې اويوازې زنا پاته کيږي. اول د زنا په لور ميلان کوونکو ښځو او نارينه و کې دا صلاحيت ډير لږ پاته کيږی چې سهي ازدواجي ژوند تر سره کړي ،ځکه چې کومه بدنيتي ، بد نظري او کوڅه ډبي په دوې کې د زنا له امله پيدا کيږی اوتر څنګ يې په داسې خلکو کې د جذباتو بې ثباتي او په نفسي غوښتنو باندې دکنترول دنه درلودلو کومه کمزوري وده کوي هغه دهغې صفاتو له پاره وژونکې زهر دي چې د بريمنده ازدواجي اړيکو له پاره ورته اړتيا ده. دا خلک که د نکاح په مبارکه رسۍ کې هم و تړل شی بيا هم دهغوي تر منځ نيک سلوک ، يو په بل باور او هغه د ميني وفاداره اړيکي هيڅکله هم جوړښت نه مومي چې بهتر نسل ترې وزيږيږي او دخوښيو نه ډکه کورنۍ جوړه کړي.

بيا نو چيرته چې د زنا له پاره اسانتياوي وي نو هلته عملا دا نا شوني ده چې د نکاح متمدنه طريقه وده ومومي ، ځکه کومو وګړو ته چې د مسؤليت د منلو پرته د نفسي غوښتنو د تسکين نورې مواقع ور په برخه وي هغه څه اړتيا لري چې نکاح و کړي اوپه خپل سر د مسؤليتونو دروند بار ورباركړي؟

۵-د زنا د جواز او رواج په واسطه نه يوازې د تمدن ريښې له منځه ځي بلکه په خپله د انسان ريښې هم غوځيږي. لکه چې تر مخه مو ثابته کړه چې په ازادانه جنسي اړيکو کې د ښځې او نارينه و دواړو څخه دهيڅ يوه دا خوښه نه وي او نه کيداې شی چې د نسل د پايښت خدمت تر سره کړي.

۶-کوم کوچنيان چې د زنا له لارې ټولنې ته وړاندې کيږي هغوي ته حراميان ويل کيږي. په نسب کې دحلال او حرام بيلتون يوازې يو احساساتي مسئله نه ده لکه چې ځيني ناپوه خلک پرې ګمان کوي ، بلکه د ډيرو اړخونو څخه د حرامي کوچنيانو پيدا کول پخپله په کوچني او انساني تمدن باندې يو ستر تيرې دې. اول دا چې په هغه وخت کې ددې کوچني نطفه داسې جوړيږي چې پر مور او پلار دواړو خالص حيواني جذبه مسلطه وي. د يوې واده شوې جوړې په زړونو کې چې د جنسي عمل په وخت کې کوم پاک انساني جذبات موجود وي، هغه هيڅکله هم په ناجايزه توګه يو ځاې شوې جوړې کې موجود نه وي. دوې خو يوازې د حيوانيت جوش او ولولې سره را يو ځاې کړې وي او ددوې تر منځ په دغه وخت کې ټولې انساني ځانګرتياو ې له منځه تللي وي.په دې خاطر يو حرامي کوچني دخپل مور او پلار دحيوانيت وارث وي او بيا هغه کوچني چې د ښه راغلاست له پاره يې نه مور تياره وي او نه پلار ،او هغه پخپله هم د يوه مطلوب شی په خير نه بلکه د يوه نا ځاپي غم په خير د والدينو منځته را لويدلي او دپلار دمحبت او امکاناتو نه تل بې برخې وي.نو کله چې هغه يواځې د مور يو اړخيزه روزنه و مومي او هغه هم د بې رغبتۍ او نا خوښۍ په حالت کې. هغه ته چې د نيا ، نيکه ،کاکا ، ماما او د کورنۍ د نورو غړو پالنه ور په برخه شوې نه وی ، نو هغه په هر حال د يو ناقص او نامکمل انسان په څير وده کوي. نه هغه سهي کريکتر پيدا کولی شي او نه يې صلاحيتونه را برسيره کيداې شی، او نه ورته د پر مختګ او کار کولو پوره پوره وسايل مهياوي. هغه پخپله هم ناقص ، بې وسيله

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بې يارو مددګار او مظلوم وي او دتمدن له پاره هم دومره ګټور نه ثابتيږي. څومره چې هغه دحلالي په صورت کی دتمدن له پاره ګټور ثابتيداي شو.

د ازادو شهوت پالونکو له آنده د کوچنيانو د ښووني او روزني له پاره يو ولسی نظام ته اړتيا ده تر څو کوچنيان د والدينو د ازادانه اړيکو له لارې وزيږيږي او ولس د هغوي روزنه وکړي او د تمدن د خدمت له پاره يې تيار کړي. ددې خبرې څخه ددې خلکو موخې دادې چې د ښځو او نارينه و ازادي او دهغوي و ګړيز ژوند خوندی وي او دهغوي نفساني غوښتنې د نکاح په بنديزونو کې د را بنديدو پرته د نسل د توليد او دهغوي د روزنې اړتياوې تر سره شي. خو دا ډيره عجيبه خبره ده ، هغه وګړو ته چې د اوسني نسل وګړيز ژوند دومره ګران دي هغوې د راتلونکي نسل له پاره د ولسي روزنې يا دولتي تربيې دداسې سيستم وړانديز کوي چې په هغه کې د انفراديت د ودې او د شخصيت د ارتقا هيڅ امکان نه شته. په دغسې يوه سيستم کې چې په زرګونو او لکونو کوچنيان په يوه وخت د يوې نقشې، يوې قاعدې او يورنګ اصولو لاندې روزل کيږي هلته د کوچنيانو انفرادي ځانګړتياوې نه نمو کولاې شی او نه را څرګنديداې شی. هلته خو د هغوي تر منځ يو شان والې او مصنوعي برابري پيدا کيږی. ددې کارخانې څخه به په هماغه توګه ديوه ډول شخصت لرونکي کوچنيان راوځي لکه څنګه چې د کومې کار خانې څخه د اوسپنې پرزې په يوه ډول قالب کې اچول شوي وي. دوي غواړي د باټا د بوټانو په څير انسانان تيار کړی ، هغوي ته دانه ده معلومه چې د کوچنې د شخصيت جوړول يو ډير ظريف هنر دې او دا هنر يوازې په يوه وړوکې کارخانه کې صورت نيسي ، هلته چې د هر مصور توجه يوازې او يوازې په يوه تصور باندې متمرکزه وي . په يو لوبه کار خانه کې ، چيرته چې مزدوران يو ډول عکس د لکونو په شمير کې تياروي نو هلته به دا هنر (ارټ Art ) د پر مختګ او ترقی په ځای غارت کيږي او له منځه به ځي.

بيا د ولسي ښووني او روزنې په دغه ډول سيستم کې به تاسې ته دداسې کار کوونکو اړتيا پيدا کيږي چې د ټولنې له اړخه د کوچنيانو د روزلو کار په غاړه واخلي او دا هم په ډاګه ده چې دداسې خدمت د تر سره کولو له پاره داسې کاروکونکي موزون اوبرابر وي چې په خپلو غوښتنو او جذباتو باندې کنټرول ولري او د اخلاقي انضباط خاوندان اوسي. او که نه نو هغوي به په کوچنيانو کې څه ډول اخلاقی انضباط را پيدا کړي.

اوس پوښتنه داده چې داسې وګړي به تاسې له کومه راوړئ؟ تاسې خو ولسي ښوونه او روزنه د همدې له پاره جوړول غواړئ چې ښځې او نارينه د خپلو نفسي غوښتنو د پوره کولو له پاره ازاد پريښوول شی او په دې ترتيب تاسې په ټولنه کې د اخلاقي انضباط او نفسي غوښتنو د کنټرول تخم له منځه وړئ نو بيا به د ړندو په کلي کې د سترګو او ليد خاوند څنګه پيدا شي؟ او څوک به نوې نسل ته د سمې لارې لارښوونه وکړي؟

۷-د زنا له لارې چې کوم خپل غرضي انسان يوه ښځه د کوچنی مور جوړه وی نو ددې ښځې ژوند د تل له پاره تباه کيږي اوپرې دذلت ، عمومی نفرت او د مصيبتونو داسې غررا لويږي چې بيا په ټول ژوند کې ددې ستر بار نه سر نشي را ويستلاې.

نوې اخلاقی اصولو ددې ستونزې حل داسې وړاندې کړې چې هر ډول موروالې ته برابر حق ورکړل شی که هغه د نکاح په بند کې وی او يانه. ويل کيږې چې مور والې په هر حال د احترام وړ دې.او دا چې کومې نجلۍ د خپلې ناپوهۍ او سادګۍ په اساس دموروالې دروند بار په غاړه اخيستې وي نو دا به په هغې ظلم او تيرې وي چې ټولنه هغه د طعن او لعن لاندې و نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمړۍ خو دا حل داسې دې چې په هغې کې که فاحشه ښځو ته هر ځو مره ارا متياوي وي خو د ټولنې له پاره په هر اړخيزه توګه يو مصيبت دې. ټولنه چې په فطري توګه د حرامي کوچنی مور ته دکوم ذلت او نفرت په سترګو ويني هغه له يوه اړخه وګړي د ګناه او بدکارۍ څخه منه کوی او د بله اړخه دا پخپله ټولنه کې د اخلاقي حس او شعور ژوندي پاته کيدو يوه نښه ده. که چيرې د حرامي او حلالی کوچنيانو ميندې برابرې و ګڼل شي نو دهغې معنا داده چې د ټولنې څخه د خير او شر ، نيکۍ او بدۍ ، ګناه او ثواب تو پير له منځه تللې او که فرض کړو چې دا کار دې وشي نو ايا په ريښتيا سره به هغه ستونزه حل شی چې د يوه حرامی کوچنی مور ته را پيښيږي ؟

تاسې په خپل خيال کې د حلالې او حرامي کو چني ميندې برابرې او مساوي ګڼلاې شئ خو فطرت هغوي دواړو ته مساوي حق نه ورکوي او په حقيقت کې هغوې هيڅکله هم مساوې کيداې نه شي ، دهغوې مساوات د عقل ، منطق ، انصاف ، حقيقت او هر شی پر خلاف دې. اخر هغه بې عقله ښځه چې د خپلې شهواني غريزې په ليونتوب کې يې خپل ځان د داسې خپل غرضه سړې په غيږ کې ورواچاوه چې نه دهغې او نه د هغې د کوچني کفالت ته تياروی ، څنګه به دهغې پوهې او عاقلې ښځې په څير وګڼل شي چې خپل جذبات يې تر هغه وخته پورې تر ولکې لاندې کړې وی تر څو چې ورته يو مسؤل او ذمه وار سړې نه وې پيدا شوې ؟ څه ډول عقل به دا دواړه برابر کړي ؟ خو تاسې به هغې بې عقلې ښځې ته هغه کفالت او ساتنه ، د زړه له کومې ملګرتيا ، د ميني نه ډکه ساتنه ، دخيراو ښيګڼې نه ډکه پالنه ، د زړه قرار او ډاډ له کومه ځايه را وړئ کوم چې يوازې يوې ميړه لرونکې ښځې ته ور په برخه کيداې شي ؟ايا تاسې د هغې کوچني ته دپلار شفقت او د ټولې پلرنۍ لړۍ محبت او پاملرنه د کوم بازار څخه را نيولاې شئ ؟ تاسې هغوې ته يوازې او يوازې د قانون په زور د غه نفقه تر لاسه کولائ شئ ، مګر ايا يوې مور او يو کوچني ته په نړۍ کې يوازې د نفقي اړتيا ده ؟
نو دا حقيقت دې چې د حرام او حلال موروالې د يوه شان کولو څخه ګناه کونکو ته چې هر څومره بيروني تسلي هم ورکړل شی بيا به هم دغه شيان د هغوې د بې عقليو او حماقتونو طبيعې پايلې اوددې پايلو څخه داسې پيدا شوې کوچنيان دحقيقي زيان څخه خوندې نه شي پاته کيداې.
ددې اسبابو او ذرايعو څخه دا خبره په ډاګه شوه چې د ټولنيز ډاډمن ژوند د قيام او سالمې ودې له پاره دې ته اړتيا ده چې په ټولنه کې په غوڅه توګه د نامشروع جنسي عمل څخه مخنيوې وشي او د شهواني جذباتو دتسکين او اشباع له پاره يوازې او يوازې يوه دروازه چې د نکاح دروازه ده پرانيستې پريښودل شی.
وګړوته د زنا ازادۍ ورکول او دهغوې سره بې ځايه رعايت کول په ټولنې تيرې ، بلکه د ټولنې وژل دي. هغه ټولنه چې دغه معامله سپکه ګڼي او زنا ته يوازې د وګړو د ساعت تيرۍ (Having a good time) په سترګو ګوري او له نظره يې غورځوي او د ازاد تخم شنيدلو (Sowing Wild Oats) دفعل سره د سترګو پټولو څخه کار اخلي ، نو دا ډول ټولنه په اصل کې يوه جاهلې ټولنه ده ، هغوې ته د خپلو حقوقو په هکله شعور هم نه شته ، هغوې دخپل ځان سره په خپله دشمني کوي که چيرې هغوې ته دخپلو حقوقو شعور وې او په دې و پو هيږې اوځان پرې هم و پوهوي چې په جنسي اړيکو کې د وګړيزې ازادۍ څومره بد اغيز چې په ټولنيزو ګټو پر يوزې نو بيا به هغوې دې کار ته هم په همغه سترګو کتلاې لکه غلا ، ډاکې ، اود قتل عمل ته چې ګوري. بلکه دا دغل څخه هم بد تر دې. غل او قاتل او ډاکو زيات نه زيات يوه وګړي يا يوې کورنۍ يا څو وګړو ته زيان ور رسولې شي. خو زاني په ټولې ټولنې او د دې ټولنې په راتلونکې نسلونو باندې ډاکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غورځوي. هغه په یوه وخت کې د لکونو او میلیونو انسانانو څخه غلا کوي ، دهغې د جرم زیبښې د ټولو څخه ډیرې او تر لرې لرې پورې غزیدلې دي.
کله چې دا و منل شي چې د وګړو دخپل غرضه لاس غزونو د مخنیوي په خاطر د ټولنې په بسپنه سره د قانون ځواک ته اړتیا ده او کله چې په همدې بنسټ ، غلا ، قتل ، لوټول، جعل کاري ، د خلکو حقوق غصبول جرم ګڼل شوي وي او د بندیز او مخنیوي له پاره یې د جزا قانون نافذوي نو بیا خو هیڅ علت نه شته چې د زنا په معامله کې هم قانون د ټولنې محافظ او ساتونکې نه وي او هغه یو جزایي جرم و نه ګڼل شي.
د اصولي حثیت له مخې هم دا ښکاره ده چې نکاح او زنا دواړه یو ځای په یوه وخت کې د ټولنې د نظام برخه نه شی ګرځیدای ،که چیرې یوه وګړې ته د مسؤلیتونو د منلو پرته د نفس د غوښتنو د تسکین اجازه ورکړای شی نو بیا خو د همدې کار له پاره د نکاح ټاکل یو بې معنا شئ دې. ددې مثال داسې دې لکه چې په ریل ګاډې کې بې ټکټه سفر کول هم جایز وي او بیایې د سفر کولو له پاره د ټکټ اخیستلو له پاره اصول هم ټاکلي وي ، هیڅ د عقل خاوند دغه دواړه طریقې په یوه وخت کې نه شی استعمالولې ، معقوله لار خو داده چې یا خو د ټکټ اصول له یوه سره له منځه یوسي او که دا اصول ټاکل شوي وي نو بیا دې د ټکټ پرته سفر کول د سزا وړ جرم و ګرځول شي. په همدې توګه د نکاح او زنا په هکله هم دواړه یو ځای مخکې وړل یو غیر عملي او نا معقول کار دې که چیرې د تمدن له پاره د نکاح مسئله اړینه وي لکه څنګه چې مو په د لایلو ثابت کړه نو دهغې سره دې ته هم اړتیا ده چې زنا جرم و ګرځول شي١.
(١)-[یوه عامه غلطه انګیرنه داده چې ویل کیږي چې د نکاح څخه دمخه یوه ځوان ته د هغه د نفسي غوښتنو د تسکین له پاره لږ څه موقع او فرصت ورکول اړین دي. ځکه چې په ځوانۍ کې د جذباتو د جوش کینول ستونزمن کار دې او که دا جذبه تر فشار لاندې و نیول شی نوزیانمنه ثابتیږی. خو دغه خبره چې په کوم بنسټ کیږی هغه له یوه سره غلطه ده که چیرې د جذباتو دغه ډول جوش د ولکې لاندې را نه وړل شی نو دغه غیر معمولي (Abnormal) حالت دې او په (Normal) نارمل وګړي کې دا صفت د غلط تمدني نظام په واسطه را ولاړیږي. زمونږ سینما ګانې ، لیکنې ، فحش مجلې ، لوڅ عکسونه ، سازو سرود ، او په دغه ټولنه کې د لوڅو بربنډو ښځو د سړو او ځوانانو سره اختلاط دا ټول هغه عوامل دی چې یو نارمل انسان د شهواتو له اړخه په یوه غیرمعمولي انسان بدلوي ، او که نه په یوه ډاډمن او ارام چاپیریال کې عامو ښځو او نارینه و ته دغسې غیر نورمال هیجان هیڅکله هم نه را پیدا کیږی. چې د ذهن او اخلاقو د روزنې له لورې هغه دولکې لاندې را نه وړل شی. او دا تصور چې د ځوانۍ په وخت کې د جنسي عمل نه اجرا کول روغتیا ته زیان رسوي ، د یوې مغالطې پرته نور څه نه دي. په اصل کې د روغتیا او اخلاقو دواړو دغه غلط معیارونه باید بدلون و مومي د کومو په اساس چې نکاح ستونزمنه اوزنا اسانه ګرځیدلې ده.]
د جاهلیت د ځانګړتیاو څخه دا هم یوه ځرګنده ځانګړتیا ده چې د کومو شیانو زیښښې چې محدودې وي او ژر او په محسوس توګه مخته راځي نو هغه درک کیدای شی خو د کومو زیبښې چې پراخه او تر لرې لرې پورې د رسیدو په اساس غیرې محسوس وي او ډیر وروسته را په ډاګه کیږی نو هغوي ته کوم ځانګړې اهمیت نه ورکول کیږي بلکه د اعتنا وړ هم نه ګڼل کیږي. د غلا ، وژلو او ډاکې اچولو په څیر امور مهم او د زنا په څیر امور غیر مهم ګڼلو علت همدغه دي. هغه وګړي چې په خپل کور کې د طاعون د ناروغتیا موږکان ساتی یا ساري ناروغتیاوې خپروي د جاهلیت تمدن هغه دمعافي وړنه ګڼی ، ځکه چې د هغې دغه کار په ځرګند ډول زیانمن دي خو هغه زنا کار چې د خپل دغه فعل په واسطه د تمدن ریښې غوځوي نو ځرنګه چې دهغې زیان رسونه د محسوس کیدو په ځای معقوله بریښې په دې خا طر هغه جاهلانو ته له هره اړخه معقول او د رعایت وړ ښکاري ، بلکه هغوې دا درک کولای هم نشي چې اخر د هغې په دغې عمل کې د جرم کومه خبره پټه ده ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیرې د تمدن بنسټ د جاهلیت پر ځاې پر عقل او علم او فطرت باندې ولاړ وي نو دا طرز عمل هیڅکله هم نه شي غوره کیدلاې.

## ۴-دفحاشې دمخنیوي لارې چارې:

هر هغه کار چې د تمدن له پاره زیانمن وي د هغې د بندلولو له پاره یوازې دا بسنه نه کوي چې هغه یوازې په قانوني توګه جرم وګرځول شی او سزا ورته وټاکل شي بلکه بنایې د دې تر څنګ دغه لاندې څلور تدبیرونه هم باید تر لاس لاندې و نیول شي.

- باید د ښوونې او روزنې له لارې د وګړو ذهنیت سهي کړاې شي او د هغوې د نفسونو دومره اصلاح وکړاې شي چې هغوې په خپله ددې قبیح عمل څخه کرکه وکړي او ګناه یې و بولي او اخلاق او وجدان یې ددې ګناه د ارتکاب څخه منه کړي
- ټولنیز اخلاق او عمومی راې او فکر ددې ګناه او ددې جرم په خلاف دومره را وپارول شی چې عام وګړي هغه یو عیبجن او د شرم وړ کار وګڼي او کوونکې ته یې د کرکې اونفرت په سترګو وکتل شي تر څو هغه وګړي چې روزنه یې نامکمله وي یا یې اخلاقی وجدان کمزورې وي د عمومي راې د څواک له لارې ددې جرم د ارتکاب نه منه شي.
- په ټولنیز نظام کې باید ټول هغه وسایل او اسباب له منځه یوړل شی چې د جنسي جذباتو پاروونکې او د زنا په لور هڅوونکي وي او تر څنګ یې هغه اسباب هم دامکان تر پولو پورې لرې کړل شی چې وګړي په دغه فعل کولو مجبوروي.
- په تمدني نظام کې داسې بندیزونه او ستونزې را پیدا کړل شي چې که چیرې کوم وګړې دداسې عمل د ارتکاب نیت هم وکړي نو په اسانۍ سره یې و نه شی کولاې.

دا څلور داسې تدبیرونه دي چې په صحت او ضرورت باندې یې عقل ګواهي ورکوي.
فطرت دهمدې غوښتنه کوي او د ټولې نړۍ تعامل هم همدغه دي چې د ټولنې قانون چې کوم شیان جرم وګڼي دهغې د مخنیوي په خاطر د تعزیر تر څنګ ددغه څلورو تد بیرونو استعمال هم اړین ګڼل کیږي . اوس که چیرې دا مسلمه وې چې د جنسي اړیکو خپریدل د تمدن له پاره مهلک او تباه کونکی وي او د ټولنې په خلاف د یو ستر جرم حیثیت لری نو حتما به دا هم و منل شی چې دهغې د مخنیوې له پاره د سزا تر څنګ د ټولو هغه اصلاحي او مخنیوي کوونکې تدبیرونو استعمالول اړین دي کوم چې پورته یاد کړل شو . ددې له پاره د وګړو تر بیه هم ضروري ده او عامه افکار هم دهغې د ممانعت له پاره باید تیار کړل شی، دتمدن ددایرې څخه د ټولو هغه شیانو ویستل په کار دي چې د وګړو شهواني جذبات را پاروي ، د ټولنیز نظام نه هم د ټولو هغه بندیزونو لرې کول په کار دي چې د نکاح له پاره ستونزی پیدا کوي او د ښځو او سړو په اړیکو کې داسې بندیزونه لګول په کار دي چې که چیرې هغوې د ازدواج ددایرې نه بهر د جنسي اړیکو د ټینګولو په لور میلان هم ولري نو دهغوې په لاره کې ډیر خنډونه حائل شی. زنا د یو جرم او ګناه په څیر د منلو وروسته هیڅ د عقل خاوند به ددغه تدابیرو پر خلاف یو لفظ هم و نه شی و یلاې.
ځیني وګړي دغه ټول اخلاقی او ټولنیز اصول مني دکومو په بنسټ چې زنا یوه ګناه منل شوې خو هغوې په دې اصرار کوي چې دهغې په خلاف د جزایې او انسدادي تدبیرونو دکارولو پر ځاې یوازې اصلاحي تدبیرونو اختیارولو باندې اکتفا په کار ده ، هغوې وایې چې د ښوونې او روزنې په واسطه په خلکو کې دومره داخلي احساس ، دهغوې په ضمیر کې دومره څواک او دهغوې په اخلاقي وجدان کې دومره زور

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدا کړل شی چې هغوي په خپله ددې ګناه څخه منه شي. او که نه د نفس د اصلاح پر ځای د تعزیري او انسدادي تدبیرونو اختیارولو معني داده چې تاسې د سړو سره د کوچنیو په څیر سلوک کوئ ،بلکه د انسانیت توهین او سپکاوې کوئ. مونږ هم د هغوی دغه وینا تر دې حده پورې منو چې د انسانیت د اصلاح له پاره تر ټولو غوره او بهتره لار هماغه ده چې هغوي یې بیانوي. د تهذیب هدف همدغه دې چې د وګړو په باطن کې داسې ځواک را پیدا کړاې شي چې د هغې په واسطه هغوې د ټولنې د قوانینو درنښت او احترام وکړي او په خپله د هغوي خپل ضمیر هغوې د اخلاقي قوانینو له مخالفت څخه منه کړي. په دې اساس دوګړو په ښوونه او روزنه ډیر وخت مصرفیږي خو ایا په واقعی توګه تهذیب خپل دې موخې ته رسیدلې شي ؟ ایا په حقیقت کې د ښوونې او اخلاقی روزنې د وسایلو په واسطه وګړي دومره مهذب شوې دې چې د هغوي په باطن باندې پوره باور وشي او د ټولنیز نظام د ساتنې په خاطر په بهر کې هیڅ ډول تعزیري او منه کونکې تدبیرونو ته اړتیا نه وې پاته ؟ پخوانې وخت پریږدئ کوم ته چې تاسې تیاره زمانه وایې دغه شلمه پیړی، دغه منوره پیړی ، ستاسې تر مخ ده . اروپا او امریکا ته چې تر ټولو زیات مهذب او پر مخ تللې هیوادونه دي څیر شئ دکومو چې هر وګړي تعلیم یافته دې او دخپلو وګړو په لوړې روزنې فخر کوي ایا هلته روزنې او دنفس اصلاح د جرایمو او قانون ماتونې څخه مخنیوي کړې دې؟ایا هلته غلا نه کیږي ؟ ډاکې نه اچولې کیږی؟ قتل منه کیږي ؟ د جعل کاری او فریب ، ظلم او فساد پیښې نه پیښیږي ؟ ایا هلته په وګړو کې د اخلاقي مسؤلیتونو احساس دومره لوړ شوې چې اوس دهغې سره د کوچنیانو په څیر سلوک و نه کړائ شي ؟ نو که چیرې واقعیت دغسې نه وي که چیرې په دغه روښانو وختونو کې هم د ټولنې نظم او قانون یوازې د وګړو اخلاقي وجدان ته نشې پریښوول کیداې که چیرې اوس هم په هر ځاې کې د انسانیت سپکاوې په دې کیږی چې د جرایمو د مخنیوې له پاره د تعزیري او انسدادي قوانینو دواړه ډوله تدبیرونه استعمالیږی نو بیا به څه علت وی چې یوازې د جنسي اړیکو په هکله تاسې ته دغه «توهین» د زغم وړ نه وي. یوازې په دغه معامله کې ولې هغه دکوچنیانو سره د «سترو» په څیر سلوک کولو باندې تاسې دومره زیات اصرار کوئ. لږ څه فکر وکړئ او ووینئ چې چیرې ستاسې په زړونو کې خو کوم غل پټ نه دې ؟

ویل کیږي چې کوم شیان چې تاسې شهوانی محرکات ګڼئ او دتمدن د دایرې څخه یې باسئ هغه خو ټول د فن (Art) جمال او ذوق روح دي. دهغې په ویستلو سره به په انساني ژوند کې د ظرفیت چینه وچه شی په دې خاطر د تمدن ساتنه او د ټولنې اصلاح چې په هر ترتیب کول وي داسې یې وکړئ چې لطیفه فنونو او د جمال ذوق ته په کې زیان و نه رسیږي.

مونږ هم ددې وګړو نظر سره تر دې ځایه پورې اتفاق کووو چې (Art) او د جمال ذوق په حقیقت کې ارزښتناکه شیان دي چې دهغې ساتنه بلکه پر مختګ ته یې اړتیا ده خو د ټولنې ژوند او ټولنیزه کامیابي د هغې څخه ډیر ارزښتناک شې دې چې د فن او جمال Art په لارکې نه شي قربانیداې که چیرې فن او جمال وده کول غواړی باید داسې لاره غوره کړي چې د عامې ټولنې د ښیګړو سره همغږی وي. هر هغه فن او جمال چې ټولنه دخوشحالی او نجات په ځاې د فساد او هلاکت په لور وړي هغې ته په ټولنه کې د ودې کولو اجازه نه شي ورکول کیداې.

دا زمونږه وګړیز او یا کورنې لید نه دې بلکه همدغه دعقل او فطرت غوښتنه ده. ټوله نړی د غه اصولاً مني او عمل پرې هم کوي. هغه شیان چې په نړی کې د ټولنیز ژوند دتباه کیدو او د فساد عوامل ګڼل کیږی هغه هیڅکله هم د فن (Art) او ذوق جمال په نومونو نه شې زغمل کیداې دمثال په توګه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکنې چې د غلا ، ډاکې ، فتنې ، فساد او قتل په لور احساسات را پارونکې دي هغه په هيڅ صورت د هغو د ادبي ښيګڼو په خاطر بايد روا ونه ګڼل شي. په هغه ادب کې چې د طاعون يا سيل د ناروغۍ د خپرولو په لور ترغيب ورکول کيږي هغه په هيڅصورت د زغم وړ نه دې. کومه سينما يا تياتر چې د بدامنۍ او بغاوت په لور خلک را بولي هغه ته د نړۍ هيڅ حکومت د نمايش او ننداريې اجازه نه ورکوي، هغه عکسونه چې د ظلم ، فساد او د شر او شرارت د جذباتو ښکاروندوې وي يا په کومو کې چي د تسليم شوو اخلاقي اصولو پولي له منځه ځې هغه که هر ځومره د فن د کمال نه ډکې وي هيڅ قانون او هيڅ ټولنه هغه ته د قدر په سترګه نه شي کتلې ، د جيب پرې کولو فن که څه هم ډير لطيف فن دې او د لاس د صفايي کمال دې خو هيڅوک هغه ته د ودې ورکولو له پاره تيار نه دې. جعلې نوټونه ، بنک چيکونه او د ګڼ شمير نورو اسنادو په تيارولو کې بهترين ذهنونه په پوره مهارت او فن سره کارکوي خو هيڅوک ددې (Art) فن د پر مختګ او هغه ته د ودې ورکو له پاره تيار نه دی. په ټګۍ او دوکه کې انساني دماغ څه څه ډول کمالونه ښئ مګر هيڅ مهذبه ټولنه دغې کمالونو ته د قدر په سترګه نه ګوري. بس دغه اصول په خپل ځاې مسلم دی چې ټولنيز ژوند ، دهغې امن ، دهغې ښيګڼې او ګټې دهر لطيف فن او د جمال د هر ذوق څخه ډير ارزښتناکه دی. او په هيڅ ارټ (Art) يا فن باندې قربانيداې نه شي. البته په هغه څه کې چې اختلاف دې هغه دادې چې مونږ يو شې د ټولنيز ژوند له پاره زيانمن بولو خونور داسې نه کوي ، که چيرې په دې هکله دهغوې فکر هم همداسې شي لکه زمونږ چې دې نو هغوې به هم په (Art) فن او دجمال په ذوق باندې د همغسې بنديزونو د لګولو اړتيا محسوس کړي لکه مونږ يې چې محسوسو.

دا هم ويل کيږي چې د ناروا جنسي اړيکو د مخنيوي له پاره د سړو او ښځو تر منځ خنډونه واقع کول او په ټولنه کې دهغوې پر ازادانه اختلاط باندې بنديزونه لګول دهغوې پر اخلاقو او دهغوې په سيرت باندې د حملې کولو په معنې دي. ددې نه دا په ډاګه کيږی چې ګويا ټول وګړي بد اخلاقه شوې دې. او دا چې دداسې بنديزونو لګونکو ته خو نه په خپلو ښځو باور شته او نه په خپلو نارينه و. خبره خو ډيره معقوله ده ، را ځئ چې د استدلال په همدغه طريقه لږ څه و غږيږو. چې هرې دروازې ته قلف وراچول کيږي دا کار ددې اعلان مترادف دې چې ګويا ددې کور مالک د ټولې نړۍ خلکو ته د غلو په نظر ګوري. همدا راز دهر پوليس موجوديت ددې ګواهي ورکوي چې حکومت خپل ټول رعايا و ته د بد معاشانو به سترګو کتلي ، هغه اسناد چې په راکړې ورکړې کې ليکل کيږی هغه ددې خبرې دليل دې چې يو اړخ بل اړخ ته دخائن په سترګو ګوری. د جرايمو د ارتکاب دمخنيوي له پاره چې هر تدبير نيول کيږی د هغې په وجود کې دا مفهوم شامل دې چې ټول هغه په امکانی توګه مجرمين ګڼلې شوې په کومو چې ددې تدبيرونو اغيز شوې وي . د همدې داستدلال له مخې تاسې هر وخت غله ، بد معاشه، خائن ، د شکمن چال چلند خاوندان ياست، خو ستاسې عزت النفس ته هيڅ زيان نه دې رسيدلې ، نو بيا څه سبب دې چې يوا ځې په دې يوه معامله کې ستاسی احساسا ت دومره نازکه شوې دي ؟

اصل خبره هماغه ده چې مونږ ورته اشاره وکړه ، دکومو خلکو په ذهن کې چې د پخوانيو اخلاقی افکارو لږ څه اغيز پاته وي هغوې که څه هم زنا او جنسي خپل سري بده ګڼي مګر دومره ډيره يې بده نه ګڼی چې دهغې د مخنيوي له پاره يو کلک قدم واخلي ، په همدې خاطر د اصلاح او د بديو څخه دمخنيوي دتدبيرونو په اړه زمونږ او دهغوې په نظر کې اختلاف دې. که چيرې د فطرت حقايق په مکمله توګه هغوې ته را څرګند شی او هغوې په دغه خبره په مکمله توګه پوهه تر لاسه کړي نو هغوې به بيا حتما

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ سره په دې هکله هم نظري شي چې انسان چې ترڅو انسان دې او ترڅو پورې چې په هغې کې دحيوانيت عنصر موجود دې تر هغې وخته پورې هيڅ داسې تمدن چې د وګړو د غوښتنو او دهغوې د لطف اولذت نه پورته ورته د ټولنيز ژوند ښيګڼې او ګټې ارزښت ولري نو بيا ددغه ډول تدبيرونو څخه غافل نه شي پاته کيداي.

## ۵-د ميړه او ښځې ترمنځ د اړيکو سهي آند:

د کورنۍ د جوړښت او د جنسي بې لاريو د مخنيوي نه وروسته چې کوم شی د يوه صالح تمدن له پاره اړين دې هغه د ښځې او نارينه ترمنځ د اړيکو د سهي شکل او نوعيت ټاکل دي. د هغوې حقوق بايد د عدل او انصاف مطابق و ټاکل شي، دهغوې ترمنځ بايد مسؤليتونه په پوره او ښه توګه وويشل شي او په کورنۍ کې دهغوې مراتب او دندې په داسې توګه و ويشل شی چې په اعتدال او برابرۍ کې يې کوم توپير را نه شي. د تمدن په ټولو مسايلو کې تر ټولو مهمه او پيچلې مسئله هم داده خو انسان ددغې ستونزې په حل کولو کې ډير وخت د ناکامۍ سره مخ کيږي.

ځيني ولسونه داسې دي چې هلته ښځه په سړي باندې قوام(مشره ) ګرځول شوې ده خو مونږ ته هيڅ داسې مثال په لاس نه راځي چې ددې ډول ولسونو څخه کوم ولس د تهذيب او تمدن پورته پوړ ته رسيدلې وي. لږ تر لږه د تاريخي معلوماتو دخيرې له مخې د هيڅ داسې ولس نښې په نظر نه راځي چې ښځه يې حاکمه کړې وي بيا يې په نړۍ کې عزت اوځواک ترلاسه کړې وي. يا يې کوم مهم کار ترسره کړې وي.

برعکس ډيرو ولسونو بيا سړي په ښځو باندې قوام(حاکم اومشر ) ګرځولې خو دغې کار ډير وخت د ظلم او تيرې بڼه خپله کړې ده. د ښځې څخه يې وينځه جوړه کړې ، دهغې تذليل او تحقير يې کړې ، هغې ته هيڅ ډول ټولنيز او تمدني حقوق نه دې ورکړې ، هغه دکورنۍ يو ډير ادني خادم او د سړي له پاره د شهوت پوره کولو يوه اله ګرځول شوې او دکورنه بهريې که د ښځو يوه ډله دعلم او تهذيب په ګاڼه ښايسته کړې هم وي نو يوازې په دې خاطر چې هغوې د سړو جنسي غوښتنې په ډير په زړه پورې ډول سره پوره کړې او سړو ته د خپلې موسيقۍ د اوريدو لذت او دخپلې نڅا او نازو ادا څخه دکتلو لذت او د خپلو جنسي حرکاتو دکمالاتو څخه د جسم له پاره لذت تيار کړې. دا د ښځو د توهين او سپکاوي تر ټولو زياته د شرم نه ډکه لاره وه چې د نارينه و نفس پالنې ايجاد کړې ده. او هغه ولسونه چې دغه لار يې خپله کړې پخپله هم د زيانمن کيدو څخه خوندي نه دي پاته شوی.

نوې غربي تمدن دريمه لار خپله کړې يعنې دا چې د ښځو او نارينه و ترمنځ برابري را وړي ، ددواړو مسؤليتونه يو شان کړي ، دواړه د کار په يوه ډګر کی مسابقه وکړې ، دواړه خپله روزي په خپله و ګټي او دخپلو اړتياو کفالت په خپله وکړي. د ټولني د تنظيم دغه قاعده تر اوسه پورې تکميل شوې نه ده. ځکه چې د سړي فضيلت اوبرتري اوس هم په ډاګه ده ، د ژوند په هيڅ اړخ کې هم ښځه د نر سره برابره نه ده او هغو ي ته تر اوسه ټول هغه حقوق پوره نه دي ور په برخه شوي چې د پوره مساوات او برابرۍ په صورت کې بايد ورته ور په برخه شوي واي. ليکن تر کومه ځايه چې دغه مساوات قايم کړل شوي هغه له اوس نه په ټولنيز نظام کې فساد خپور کړې ، ددې تر مخه مونږ په پوره وضاحت سره دهغې پايلې څيړلې دي چې اوس يو ځل بيا تبصرې ته اړتيا نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه درې واړه ډوله تمدن د عدل ، توازن او تناسب څخه خالي دي، ځکه چې هغوی د فطرت د لارښونو په پوهيدو او دهغې په مطابق د لارې په خپلولو کې لنډ پالي کړي. که چيرې د سليم عقل څخه کار واخستل شي نو څرګنده به شی چې فطرت په خپله ددې مسايلو حل وړاندې کړې . بلکه ې دا هم په اصل کې د فطرت ستر ځواک دي چې دهغه له امله ښځه د هغو مره غورځيدو څخه ژغورل شوې څومره چې دهغې د غورځولو هڅه شوې او دهغومره لوړيدو مخه يې نيول شوې چې سړو يې هڅه کړې.
د افراط او تفريط دغه دواړه اړخونه انسان د غلط فکر کولو او د خپلو پستو خيالاتو تر اغيز لاندې خپل کړي. خو فطرت عدل او تناسب غواړي او په خپله دهغې صورت جوړوی .
هيڅوک ددې څخه انکار نه شی کولې چې د انسان په څير ښځه او نر دواړه برابر دي ، دواړه د انسانيت دوه برابرې برخې دي ، د تمدن په جوړښت کې ، دتهذيب په تاسيس او وده کې او دانسان په خدمت کې دواړه برابر ګډون لري. دواړه زړه ، ذهن ، عقل ، جذبې ، غوښتنې او بشری اړتياوې لري. دتمدن د اصلاح او ښيګڼو له پاره ددواړو نفس د تهذيب ، دماغي روزنې ، او عقلي او فکري ودې ته يو شان اړتيا لري. ترڅو د تمدن په خدمت کې هر يو خپله خپله ونډه واخلي ، په دې اعتبار سره د مساوات خبره وروسته ده او دا د هر صالح تمدن دنده ده چې د نارينه و په څير ښځو ته هم دهغوی د فطري وړتياو او صلاحيت په مطابق د پر مختګ موقع او فرصت برابر کړي . هغوی په علم ، پوهې او ښه روزنې باندې ښايسته کړي ، هغوی ته د نارينه و په څير تمدني او ټولنيز حقوق ورکړي او هغوی ته په ټولنه کې دعزت ځای ورکړي ، تر څو په هغوی کې د نفس د عزت احساس را پيدا شي. او په هغوی کې هغه بهترين بشری صفات وده وکړي چې يوازې د نفس د عزت او احساس په واسطه را پيدا کيدای شي. هغه ولسونو چې ددغسې برابری او مساوات نه مخ اړولې او خپلې ښځې يې نا پوه ، ناروزل شوې ، ذليله او دمدنيت د حقوقو څخه بې برخې کړې هغوی پخپله د پستی او دذلت په کنده کې پريوتې دي. د ذليلو ميندو په غيږ کې دعزت خاوندان ، دناروزل شوو ميند په غيږ کې ښه روزل شوو او د پست فکره ښځو په زانګو کې د ستر او اعلی فکر انسان نه شي جوړيدای.
خو د مساوات يو بل اړخ دادې چې د ښځې او نارينه دکار ډګر يو وي ، دواړه يو شان کار وکړی ، دواړه د ژوند د ټولو اړخونو مسؤليتونه يو ډول په اوږو واخلي او دتمدن په نظام کې ددواړو حيثيتونه پوره برابر وي. د دې د تائيد له پاره دساينسي علومو دمشاهداتو او تجربو څخه دا ثابتوی چې ښځې او نر د خپل جسماني استعداد او قوت له اړخه يو له بله سره مساوي (**Equipotential**) دي خو دا خبره چې دهغوی تر منځ دغه ډول برابري شته ددې له پاره کافي نه ده چې د فطرت موخې هم همدا دی چې د دواړو څخه يو ډول کار واخلي ، دا سې نظريه قايمول تر هغې درسته نه ده چې تر څو ثابته نه شي چې ددې دواړو جسماني نظام هم يو دي ، په دواړو باندې فطرت د يوه ډول خدماتو بار اچولې دې او ددواړو نفسي کيفيت هم يو شان دې تر او سه چې انسان څومره علمي تجربې کړې دهغو له مخې ددغو درې واړو پوښتنو ځواب منفي په لاس راځي.
د ژويو دعلم (**Biology**) د څيړنو څخه په ډاګه کيږی چې ښځه د شکل او صورت او دکار د غړو څخه نيولې د جسم د ذراتو او نسيجي حجراتو (**Protein Molecules of Tissue Cells**) پورې په هر برخه کې له نارينه څخه پوره تو پير لري ، په هغه وخت کې چې رحم کې د کوچني صنفي جوړښت( **Sex Formation**) صورت نيسي نو دهماغه وخته ددواړو صنفونو جسماني جوړښت يو دبل څخه په مختلفه توګه وده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښځې جسماني نظام په داسې ډول جوړېږي چې هغه د کوچني د پيدا کيدو او دهغې د روزنې له پاره تياره وي ، دجنين دمرحلې څخه نيولې د بلوغ تر وخته پورې دهغې د وجود وده دهمدغې وړتيا دتکميل له پاره کيږی او همدغه شی دهغې د راتلونکې ژوند لاره ټاکې.
د ځوانی په مرحله کې د مياشتني مرض (حيض) د ورځو لړی پيليږي چې دهغې په واسطه دهغې دوجود د ټولو غړو فعاليت تر اغيز لاندې راځي. د ژوي غيړونکو پوهانو او دغړو پلټونکو د څيړنو څخه دا ثرګنديږي چې دمياشتنی ناروغتيا له ا مله په ښځه کې دغه لاندې بدلونونه منځته راځي.

1. په وجود کې د تودوخې د ساتنې ځواک کميږي په دې خاطر دهغې د وجود څخه تودوخه ډيره خارجيږی او د تودوښې درجه لاندې لويږي.
2. نبض سستيږي ، د وينې فشار کميږي.
3. په(**Endocrines**) غدو ، (**Tonsils**) ټانسلونو او (**Lymphatic Glands**) لمفاتيک غدو کې بدلون را پيدا کيږي.
4. پروټيني تحول(**Protien Metabolism**) کې کمښت پيدا کيږی.
5. د فاسفيټس او کلورايډونو په وتلو کې کمښت را ځي او هوايي تحول يا ( **Gaseeous Metabolism** ) کې نزول او انحطاط پيدا کيږی.
6. په هضم کې ګډوډي را منځته کيږی او د غذا د پرو تيني برخې او وازدې په جذبيدو کې کمښت راځې .
7. د تنفس په وړتيا کې لړوالي او د اواز په غړو کې ځانګړي بدلونونه را پيدا کيږی.
8. په غړو کې سستوالي او په احساساتو کې کمښت پيدا کيږی.
9. د ذهن او فکر دمرکز دهم اهنګ (**Consentratos**) کولو حالت او توانايي کميږی.

دغه بدلونونه يوه صحتمنده ښځه دناروغتيا حالت ته دومره ورنژدې کوي چې په هغه وخت کې د صحت او ناروغتيا تر منځه يو ثرګند خط کښل ستونزمن وي.(۲۳ سلمه) داسې ښځې وي چې مياشتني ناروغتيا يې پرته له کوم تکليف څخه تيريږي . يو ځل د(۱۰۲۰ ) ښځو په هکله څيړنه او تحقيق وشو چې دهغوي څخه(۸۴ سلمه ) داسې وې چې هغوي ته دمياشتنی ناروغتيا په وخت کې دردونه او ترځنګ يې نورې ستونزې هم را پيدا کيدې.
«ډاکټر اميل نووک» چې د ښځينه ناروغيو لوی متخصص دی وايي چې حايضه(دوينې په ناروغتيا ککړې ) ښځې په عمومی توګه د لاندې ستونزو سره مخامخ کيږي:
[سردرد ، ستړتيا ، د غړو ماتوالي ، عصبي کمزورتيا ، په طبيعت کې تنبلې ، د مثانې نا ارامي ،د غذا د هضم د نضام خرابوالي او په ځينو حالاتو کې قبضيت ، کله کله وچ قي کول.]
يو زيات شمير داسې ښځې هم وي چې د هغوي تيونو کې نرم او نرې درد را ولاړيږی خو کله کله هغه په ډير دورند او سخت درد باندې هم بدليږي ، د ځينو ښځو د (تايي رابډ ) غده پرسيږي چې د هغه په واسطه ستونې درنيږي ، ډير وختونه د بد هضمی شکايت ترې پيدا کيږی او د تنفس او ساه اخستنې په وخت کې تکليف را پيدا کوي.
«ډاکټر کريګر» چې د ثومره ښځو معاينه کړې دهغوي څخه نيمايې داسې دي چې د مياشتني ناروغتيا په وخت کې د بد هضمی څخه ناا رامي وي او په اخرې ورځو کې قبضيت ورته پيدا کيده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «ډاکټر کب هارډ» وينا ده چې داسې ښځې ډېرې کمې په نظر راځي چې د حيض په وخت کې ورته کوم تکليف نه وي پيدا شوي. ډېرې داسې هم ليدل شوي چې د سر درد ، سټړتيا ، د نامه لاندې درد او د توکانو په کمښت اخته کيږي. په طبيعت کې يې خرابولاې راځي او زړه يې غواړي چې و ژاړي.
ددې حالاتو په بنسټ دا خبره درسته ده چې د مياشتنې ناروغتيا يا حيض په وخت کې ښځه په حقيقت کې ناروغه وي او دا يوه ناروغي ده چې هره ښځه پرې هره مياشت اخته کيږي.
ددغې جسماني بدلونو اغيز د ښځې په ذهني قوت او د غړو په فعاليت هم پرېوځي ، په (۱۹۰۹م) کې «ډاکټر وايسهوسکي (Voicechevsky)» دخپلو پرلپسې او زورو څېړنو څخه دا پايلې تر لاسه کړې چې د حيض په وخت کې ښځې کې د افکارو په تمرکز او د دماغي کارو په ځواکونو کې کمښت را پيدا کيږي. «پروفيسور تراچسکاريکي (Krschiskersky)» دخپلو رواني څېړنو په پايلو کې ليکي: چې دحيض په وخت کې دښځې عصبي نظام ډېر اشتعال قبلونکې وي. په احساساتو کې يې ناهمواري او سستي را پيدا کيږي. دمرتبو انعکاساتو دمنلو صلاحيت يې کم او ډېر وخت له منځه ځي. چې د هغې له مخې دهغې هغه افعال او کړه وړه هم درست نه شي پاته کيداې چې په ورځنې ژوند کې يې په خپله کول ، کومه ښځه که د بس کلينره وي دحيض په وخت کې به غلط ټکټ ورکوی او په شميره کې به مترددوي ،د حيض په وخت به ډريوره ښځه خپل موټور ډېر په ويره ويره چلوي او په هر موړ کې به د ويرې احساس کوي ، او يوه ټايپسته ښځه به غلط ټايپ کوي او په کلاره به يې کوی، الفاظ به ترې پاته کيږی ، غلطې جملې به جوړوي ، د يوې وکيلې ښځې د استدلال وړتيا سهي نه پاته کيږی او د يوې قضيې په وړاندې کولو کې دهغې ددماغ او ادبياتو دواړو قوت غلطې کوی، د يوې قاضۍ ښځې د پوهې او فهم او پريکړې قوت تر اغيز لاندې راځي غرض دا چې په دغه وخت کې د ښځې دماغي او د اعصابو فزيولوژې تر ډېره ځايه پورې سسته او غير فعاله وي ، دهغې غړې په پوره توګه دهغې د ارادې لاندې حرکت نه کوي ، بلکه يو اضطراري حرکت دهغې په ارادې باندې غالبيږي او دهغې د پريکړې او ارادې قوت زيانمن کوی ، دهغې څخه مجبورانه اعمال صادريږي په دغه وخت کې دهغې دعمل ازادی په خپل ځاې نه پاته کيږي او نه هغه د کم مسؤليت نه دډک کار کولو وړتيا لرې.
«پروفيسو لاپنسکي (Lapinsky)» په خپ لکتاب ( The Development of Personality in Woman ) کې ليکي چې حيض ښځه د خپل عمل د ازادی نه بې برخې کوي ، هغه په دغه وخت کې د اضطراری حرکاتو غلامه وي او په هغې د کار کولو يا نه کولو ځواک کمښت مومي. دا ټول بدلونونه په يوې صحتمنده ښځه کې را ځي او په اسانۍ سره پر مخ ځي او د ناروغتيا شکل خپلولې شي ، داسې پيښې په ريکارډ کې ډېرې زياتې دي چې دحيض په وخت کې ښځې د ليونيو په څير وي، په ډېرې وړې خبرې باندې په قهر يږې او وحشيانه او احمقانه حرکتونه کوي ان تردې چې ځينې د ځان وژنې هڅې هم کوي او دا کومه غير معمولي خبره نه ده.« ډاکټر (Kraft Ebing)» ليکي چې: مونږ په ورځنې ژوند کې وينو چې کومې ښځې د نرم مزاج خاوندانې ،د ښه سليقې لرونکې او د نيک خويې مالکانې دي دحيض په وخت کې دهغوې دغه حالت بدليږي او وخت په وخت پرې د توپان په څير را ګرځي. هغه په هره خبره غوريږي. جنګ ته تياره وی او ځان ته ناسته خوښوي ، نوکران ، اولاد او ان تر دې چې ميړه ټول ترې نالانه وی ، هغه د بيګانه خلکو سره هم په ډېره بده توګه ناسته پاسته کوي. او ځينې نور د فن خاوندان د ډېرو څېړونو او تحقيق وروسته دې پايلو ته رسيدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي چې ډېروخت د ښځو څخه جرايم د حيض په وخت کې صادرېږي ځکه چې هغوي په دغه وخت کې تر کنټرول لاندې نه وي ، يوه نيکه ښځه په دغه وخت کې غلا کولای شی خو بيا به په خپل دغه عمل باندې ورته شرم ورځی.

«وينبرک (Weinberg)» په خپلو څېړنو او مشاهداتو کې ليکې چې په ځانوژونکو ښځو کې (۵۰ سلمه) داسې دي چې د حيض به وخت کې يې دا کار کړي وي ، په همدې توګه د «ډاکټر کرافټ ايبنګ» نظر دا داې چې که چېرې د بالغو ښځو د جرم په هکله کومه محکمه تحقيق او کار کوي نو ارو مرو دي پلټنه وکړی چې دغه جرم خو دحيض په حالت کې نه دي شوي.

دمياشتنې ناروغی یاحض څخه زيات دحمل وخت د ښځې له پاره ډېر دروند او سخت وي ، ډاکټر (Reprev) ليکې چې د حمل په وخت کې د ښځې د جسم څخه دفضلاتو را وتل ډېر وخت د لوړې وهلو د حالت نه هم په ډېر مقدار سره وي ، په دغه حالت کې د ښځې قوت په هيڅ توګه د جسماني او دماغي کار توان نه لري کوم حالت چې د حيض په وخت کې په ښځه راځي هغه که چيرې په نارينه راشي يا دحمل د وخت نه پرته په بل وخت په ښځه راشي نو بلکل د ناروغتيا حکم به پرې کيږي. د حمل په و خت کې د څو مياشتو له پاره دهغې عصبي نظام مختل وي ، دماغي توازن يې خرابيږي او ټول رواني عناصر يې د پرلپسي بدنظمی په حال کې وی. هغه د ناروغتيا او صحت تر منځ زوړنده وي او يو کوچنې ټکان هغه د ناروغتيا تر مرحلې پورې ورسوي ، د «ډاکټر فشر» ونيا ده چې يوه صحتمنده ښځه هم د حمل په وخت کې په ډېر ستر نفسي کشمکش او نا ارمتيا کې اخته وي ، فکر يې پريشانه وي ، ذهن يې خپور وي ، د شعور ، غور ، تفکر او پوهې صلاحيتونه يې ډېر کم وي ، «هيولاک ايليس» او «البرټ مول» او د ځينې نورو پوهانو ټولو نظر دادې چې دحمل د وخت په اخري مياشت کې ښځه بلکل ددې وړ نه وي چې کوم جسماني يا دماغي کار تري واخستل شي ، دحمل د وضعې نه وروسته دبې شميره ناروغيو د را پيدا کيدو انديښنه موجوده وي ، د زچګۍ زخم د هر قسم مکروب د جذبولو له پاره اماده وي.

دحمل دمخه حالت ته د تللو تر وخته پورې په غړو کې يو حرکت پيليږي چې ټول جسماني نظام د ګډوډۍ سره مخ کوي. که چيرې کومه ځانګړې پيښه و نه شی ، نو بيا هم اصلي حالت ته د ګرځيدو له پاره جسم ته څو اونۍ په کار دې. په دې ترتيب دحمل د استقرار نه وروسته تر يوه کاله پورې ښځه په حقيقت کې ناروغه او يا لږ تر لږه نيمه ناروغه وی او دهغې د کار ځواک د عامو حالاتو په نسبت سم نيمايي بلکه تر نيمايي هم کم پاته کيږی.

بيا د رضاعت يا شيدې ورکولو داسې وخت وی چې په حقيقت کې ښځه دخپل ځان له پاره نه بلکه دهغه امانت (بچي) له پاره ژوند کوی چې فطرت ورته سپارلي دي. دهغې د وجود انرژي د هغې دکوچني له پاره شيدې جوړې ، هغه غذا چې ښځه يې خوري ، دهغې څخه يوازې همدومره دهغې جسم ته ځي چې د هغې د ژوندي پاته کيدو له پاره ورته اړتياوي ، پاته ټوله د شيدو په جوړولو کې مصرفيږي ، له دې وروسته تر اوږدې مودې پورې د کوچنی په پالنه ، ساتنه او روزنه خپله ټوله توجه مرکوز وي.

په اوسني وخت کې د رضاعت يا شيدو ورکولو د ستونزې حل داسې ښوول شوې دې چې کوچنيان په بهرنيو غذاګانو ماړه کړې. خو دا سهي حل نه دي ، ځکه فطرت چې د کوچني د ودې او نمو له پاره کوم وسايل د مور په سينه کې پيدا کړې هيڅ شې د هغې سهي بدل نه شی کيداې. کوچنې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ځکه بې برخې کول د ظلم او خپل غرضې پرته نور څه نه دي ، د کوچنیانو ټول ډاکټران په دې خبره یو شوې دي چې د کوچني د سالمې ودې له پاره د مور د شیدو څخه بله ښه غذا نه شته.
که څه هم اوس دکوچنیانو د روزنې له پاره د نرسنگ کورونه او روزنتونونه جوړ کړل شوې دي تر څو میندې له خپلو کوچنیانو بې غمه او دکور څخه بیرون کارونو کې مصروفې شي خو په هیڅ نرسنگ کور اویا روزنتون کې د مورنې شفقت مثال نه موندل کیږي ، د کوچني والې لومړې وختونه چې کوم محبت او مینې ته اړتیا لري هغه دکرایه شوو او مزدورو پالونکو په زړونو او سینو کې کله شته ، د کوچنیانو د روزنې دغه نوې لارې چارې تر اوسه د ازمیښت څخه نه دې تیرې شوې. تر اوسه پورې هغو نسلونو میوه نه ده ورکړې چې دکوچنیانو د روزنې په دې نوو کارخانو کې تر روزنې لاندې نیول شوي ، تر اوسه دهغوی اخلاق د هغوی کړنې د نړۍ تر مخ نه دي راغلي چې ددې تجربې د کامیابۍ او ناکامۍ په هکله نظر ورکړي .لهذا ددې طریقې په اړه به دا دعوا کول مخکې د وخته وی چې نړۍ د مور دغیرې بدیل پیدا کړي. لږ تر لږه دا حقیقت په خپل ځای دی چې د کوچني فطري روزنتونځای دهغې د مور غیږه ده.
اوس په دې خبره د لږ عقل خاوند هم پوهیږي چې که چیرې د ښځې او نارینه دواړو جسماني او دماغي ځواک او استعداد بلکل مساوي هم وي ، بیا هم فطرت په دواړو باندې مساوي بار نه باروي. د نسل د پایښت په خاطر د تخم شنیدلو پرته د سړي په غاړه بل کوم کار نه دې وراچول شوې. ددې وروسته هغه بلکل ازاد دي ، د ژوند په کومه څانگه کې چې هغه غواړي کاروکړي کولاې یې شي.
بر عکس ددې خدمت ټول بار د ښځې په اوږو وراچول شوې دي ، دهمدې بار د پورته کولو له پاره ښځه دهغه وخته څخه تیارول کیږي چې لا د مور په گیډه کې دغوښې د یوې ټوټې په څیر پرته وي. په دې اساس دهغې د وجود ټول ماشین دهمدې له پاره تیاریږي. په دې خاطر په هغوی باندې د ځوانۍ په ټولو وختو کې دحیض میاشتنۍ ناروغي راځي چې په هره میاشت کې ددرېو څخه نیولې تر اوه یا لسو ورځو پورې دوام کوي په دې وخت کې هغوی دکوم لوې مسؤلیت د پورته کولو یا د جسماني او دماغي کار د تر سره کولو له پاره پوره وړتیا نه لري. په همدې اساس هغوی دحمل نه تر مخه او وروسته تر یوه کاله پورې ډیرې ستونزې گالي ، او په حقیت کې هغوی په دغه وختونو کې نیم ځانه اوسي ، همدا راز په هغوی د رضاعت دوه کاله وخت ډیر ستونزمن تیریږي. هغوی پخپله وینه د انسانیت فصل ته وده ورکوي او دخپلې سینې په ویالو هغه خړوبه وی. د نسل د پایښت په خاطر هغه د کوچني لومړني څو کاله په همدا سې تکلیف او ستونزو کې تیروي چې د شپې خوب او د ورځې ارام پرې حراموي ، او هغه خپله ارامتیا ، لطف ،خوښې غوښتنې ،لنډه دا چې هر څه په دغه راتلونکې نسل باندې ځاروي. کله چې دهغې دغه حال وي نو فکر وکړی چې اوس د عدل غوښتنه څه ده ؟ ایا دا عدل او انصاف دې چې د ښځو څخه دهغو فطري مسؤلیتونو د ادا کولو او په ځای راوړلو غوښتنه هم وشي چې سړې ورسره په کې شریک نه وی، او بیا دهغو تمدني او ټولنیزو مسؤلیتونو بار هم پرې د نارینه و سره برابر وربار کړل شي چې دهغې د وړلو له پاره نارینه د فطرت له لورې د ټولو مسؤلیتونو څخه ازاد پریښوول شوې. هغوی ته وویل شی چې تاسې ټول هغه مصایب هم و زغمۍ چې فطرت ستاسې په اوږو اینبې دي او بیا زمونږ تر څنگ د ډوډۍ دپیدا کولو ستونزې هم زمونږ سره برابرې پورته کړئ ، سیاست او عدالت ، صنعت او حرفه ، تجارت او زراعت او دامن په

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیام او د وطن نه ددفاع په خدمتونو کې هم زمونږ سره برابری شریکې اوسئ. زمونږ په ټولنه کې به زمونږ زړونه هم خوشحالوئ او زمونږ له پاره دعیش و عشرت ، خوښئ او لذت وسایل هم برابروئ ؟ دا په اصل کې عدل نه بلکه تیري او ظلم دې ، مساوات نه بلکه نابرابري ده.

دعدل غوښتنه خو باید داوی چې په هغه چا چې فطرت تر هر څه زیات بار وراچولې په هغوې د تمدن تر ټولو سپک بار ور واچول شي. او په چا چې فطرت هیڅ بار نه دې ورا چولې په هغوې دتمدن تر ټولو دروند بار وربار کړل شي او هغې ته داهم ور وسپاري چې هغه دې د کورنۍ روزنه او ساتنه هم وکړی.

یوازې دا نه چې په ښځې دکورنه بهر د مسؤلیتونو بار اچول ظلم دې بلکه په حقیقت کې هغه د هغه نارینه ئي خدمتونو د تر سره کولو ور نه ده چې پورته یاد کړل شول. ددې کارونو له پاره همغسې کار کوونکې موزون کیداې شی چې د کارکولو ځواک یې ثابت وي او په پرلپسې توګه خپلې دندې په پوره اهلیت سره سرته رسوي او په فزیکې او دماغی ځواکونو یې باور کیداې شی خو په هغو کار کوونکو چې تل په هره میاشت کې د یوې کافي مودې له پاره د نه اهلیت او بې کفایتۍ ناروغتیا پرې حمله کوي او دکار کولو ورتیا یې د مطلوبه معیار څخه په مکرره توګه ښکته پریوباسي نو هغه به په څه ډول ددغه مسؤلیتونو بار پورته کړی.

دهغې عسکری ځواک یا بحري ځواک په حال غور وکړئ چې د ښځو څخه جوړ شوې وي ، او د جنګ په وخت کې څو سلمه د میاشتنۍ ناروغتیا له امله د فعالیت توان له لاسه ورکړي ، یو خاص شمیر د ولادت یا کوچنې د زیږدو په حالت کې په شفاخانو کې پرتې وي او یو شمیر د حامله کیدو په اساس دکار ورتیا و نه لري.

د فوځ مثال خو تاسې ویلاې شئ چې هغه د ډیرو سختو دندو د اجرا کولو سره اړیکې لري. خو پولیس، عدلیه ، ادارات ، سفارتي خدمات ، د اورګاډی ، صنعت حرفي او تجارت.... او په دې کې کوم کارونه داسې دي چې په پرلپسې توګه د باور ور قابلیت او اهلیت ته اړتیا نه لري ؟

نو هغه څوک چې د ښځو څخه د نارینه و کار اخستل غواړی نو دهغوې مطلب شاید دا وی چې یا خو له ټولو ښځو څخه دښځیتوب صفت سلب کړي او په دې توګه انساني نسل ته د پاې ټکي کیږدي. او یا دا چې د هغوې څخه څو فیصده لازما دناښځیتوب د سزا له پاره و ټاکي او یا دا چې دتمدن د ټولو معاملاتو د اهلیت معیار د تنزل سره مخ شي. خو که چیرې تاسې ددې څخه هر صورت اختیاروې ،خوښځې د نارینه و د کارونو له پاره تیارول د فطرت د غوښتنو پر خلاف کار دې او داسې نه دانسانیت له پاره ګټور دې او نه په خپله د ښځې له پاره. ځکه چې د ژویو د پوهې له مخې ښځه دکوچنې د ساتنې او روزنې له پاره جوړه کړل شوې ،په دې خاطر د رواني علامو په دایره کې هم هغې ته هماغه صلاحیتونه ورکړل شوې چې دهغې د فطري دندې د ادا کولو له پاره ورته اړتیا ده لکه محبت ، همدردي ، مهرباني او زړه سوې ، حساسوالې او جذباتیتوب او څرنګه چې په جنسي ژوند کې سرې ته فعل او ښځې ته دانفعال مقام ورکړل شوې په دې خاطر ښځې ته ټول هغه صفتونه ورکړل شوې چې د هغې د ژوند دغه منفعلانه اړخ کار کولو ته تیار وي. هغه ته د سختۍ او شدت پر ځاې نرمي او نزاکت ورکړل شوې ، هغه ته د اغیزناکه کولو په ځاې د اغیزمن کیدو ، د فعل پر ځاې د انفعال ، د سختیدو او ښنیدو په ځاې د ټیټیدو اوملایم کیدو صلاحیت ورکړل شوې ، هغوې ته د زړورتوب او جرئت پر ځاې د بې زړه توب او تیښتې خاصیت ورکړل شوې ، ایا ددغه ځانګړتیاو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګ هغه کله هم د دغه کارونو له پاره موزون ثابتیداي شي ؟ او د ژوند په هغه کارونو کې سوبه موندلاي شي چې سختي ، تحکم ، مقابلي او سوړ مزاجۍ ته اړتیا لري ؟او د نرمو جذبو پر ځاي قوي ارادو او پریکنده اراده غواړي ؟ د انساني تمدن په داسې اړخونو کې د ښځې راوړل په خپله د ښځې ضایع کول هم دي او د تمدن د دې اړخونو ضایع کول هم.

په دې کې د ښځو له پاره ارتقانه بلکه انحطاط دي .د ارتقا معني دا نه ده چې د چا طبیعي ورتیاوی تر فشار لاندي رواړل شي او له منځه یوړل شی او په هغې کې په مصنوعي توګه هغه وړتیاو ي را پیدا کړل شی چې په فطري توګه په هغې کې نه وي موجود ، بلکه د ارتقا معني داده چې قدرتي وړتیاوو ته وده ورکړل شی هغه را وټوکول شي او ورته د ښه نه د بهتر عمل کولو زمینه برابره کړل شی، په دې کې ښځو ته کامیابی نه بلکه ناکامي ده ، د ژوند په یو اړخ کې ښځې کمزورې دي سړې ځواکمن دی ،خو په بل اړخ کې سړي کمزوري او ښځې ځواکمنې دي ، تاسې ښځې په هغه اړخ کې چې کمزورې دي د سړو سره برابری ته راکاږئ چې طبیعي پایلې به یې دا وي چې ښځې به تل د نارینه و څخه کمزورې وي تاسې چې هر څومره تدبیرونه وکړئ دا شونې نه ده چې د ښځو له ډلې څخه ارسطو ، ابن سینا ، کانټ ، هیګل ، شکسپیر ، سکندر ، نیپولین ، سید جمال الدین افغان ، صلاح الدین ایوبی ، نور الدین زنګي او محمد بن قاسم ، سلطان محمود غزنوي.... په څیرو ګړي را پیدا کړئ خو تر ځنګ یې که د ټولې نړې سړي خپل سرونه خوږ کړي نو هغوې به په خپل ټول جنس کې یوه معمولي مور هم پیدا نه شي کړاې.

په دې کې پخپله د تمدن ګټه نه شته بلکه زیان دې ، انساني ژوند او تهذیب ته چې څومره د زیږوالي ، سختۍ او قوت اړتیا ده په هماغه اندازه ورته د رقت ، نرمۍ او لطافت اړتیا هم ده ، لکه ځنګه چې ښه عسکري قوماندانانو ته د بهترینو منتظمینو او اداره چیانو اړتیا ده په هماغه اندازه بهترینو میندو ، ښه ښځو او کورودانو ته اړتیا ده که د دواړو عناصرو څخه هر یو ساقط شي نو انساني تمدن ته به یې ډیر زیان رسیږي.

دا هغه ویش دې چې پخپله فطرت د انسان د دواړو جنسونو تر منځ کړې دې. ژویو ، غړیو او رواني علومو ټولو دې لورې ته اشاره کړې چې د کوچني د پیدا کیدو ، او پاللو خدمت ښځو ته سپارل یو داسې پریکنده حقیقت دې چې پخپله په انساني تمدن کې ورته یو دایره ځانګړې کړل شوې ده ، او هیڅ مصنوعي تدبیرونکو لا تر اوسه داسې ځواک نه دې پیدا کړې چې د فطرت دغه پریکړه بدله کړي ، یو صالح تمدن هغه دې چې لمړۍ خو دا پریکړه لکه ځنګه چې ده همغسې و مني او ښځې ته خپل سهي مقام ورکړي او ورته په ټولنه کې د عزت مرتبه ورکړي د هغې تمدني او ګړیز حقوق ورکړي په هغوې یوازې د کورنۍ دمسؤلیتونه بار وا چوي او دکورنه بهر مسؤلیتونه او دکورنۍ قوامیت سړو ته وسپاري ، هغه تمدن چې دا دې ویش د له منځه وړلو هڅه وکړي هغه که څه هم په ډاګیزه توګه څه ظاهری پرمختګ کولې شي خو بلاخره دداسې تمدن تباهي یو حتمي امر دې ځکه کله چې پر ښځه باندې د سړي په څیر برابر مسؤلتیونه وړ واچول شی نو هغه بیا د خپل ځان څخه د فطري مسؤلیتونو بار ایسته غورځوي چې پایلې یې نه یوازې د تمدن بلکه دانسانیت بربادي هم ده .که چیرې ښځه دخپل فطري جوړښت په خلاف هڅه وکړي نو تر یوه نه یوه حده پورې د سړي د ټولو کارونو بار په اوږو اخیستې شی خو سړې هیڅکله هم د کوچني دپیدا کیدو او روزلو وړتیا نه شي تر لاسه کولاې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فطرت ددغه ویش د په نظر کې نیولو سره دکورنۍ د تنظیم اوپه ټولنه کې دښځې او سړي دندې په لاندې توګه ویشل کیداې شی:

1. د کورنۍ له پاره د روزۍ پیدا کول ، دهغه ملاتړ او ساتنه کول ، او د تمدن دمحنت غوښتونکو خدمتون پاي ته رسول د سړي کار دي او د هغې ښوونه او روزنه باید داسې وشي چې هغه ددغو اهدافو د تحقق له پاره ډیر زیات ګټور ثابت شي.
2. د کوچنیانو روزنه ، کورنۍ دندې او دکورني ژوند نیکمرغي او ارامتیا ، او دهغې څخه جنت جوړول د ښځې کار دې باید د ښځې د ښې ښوونې او روزنې اهتمام وشي تر څو دهمدې موخو د تحقق له پاره ښه جوګه شي.
3. دکورنۍ د نظم او ډسپلین د ساتلو له پاره یو کس ته د قانوني پولو په داخل کې د حاکمیت پوره واک ور په برخه وي تر څو کورنۍ دخپلسرۍ او اړو دوړ څخه وساتي.
4. داسې وګړي یوازې سړي کیداې شي ځکه چې دکورنۍ هغه غړي چې دماغي اوقلبی حالت یې د میاشتنۍ ناروغۍ په دوران کې ثابت نه پاته کیږی دداسې واکمنۍ او اختیاراتو د استعمال وړ نه شی ګرځیداې.
5. د تمدن په نظام کې ددغه ویش او ترتیب دځاي په ځاې ساتلو له پاره باید مناسب احتیاطي ترابیرو نیول شي تر څو ساده ډوله او بې عقله خلک د خپلې بې عقلۍ له وجې د نارینه او ښځو دکار اوفعالیت د ساحو په ګډولو او مخلوطولو سره د صالح تمدن نظام برباد نه کړي.

## انساني تیرو تنې :

په تیرو مخونو کې مو د خالصو علمي څیړنو ، مشاهداتو ، تجربو او دلایلو په مرسته ددې د ثابتولو هڅه وکړه چې که چیرې د انساني فطرت د غوښتنو او د انساني ذهني کمزورتیاو او جسماني جوړښت د دلائلو د لحاظ په ساتلو سره د تمدن یو سهي نظام ترتیب کړل شی نو د جنسي اړیکو تر حده باید دهغې نظام اصول او مبادي څه ډول جوړښت ومومي ؟

په دې څیړنه کې هیڅ غموض نه شته. ټول هغه څه چې ویل شوي علمي ثابت حقایق او د حکمت پخې خبرې دي چې د علم او عقل خاوندان پرې ټول پوهیږي. خو که د انساني عاجزۍ کمال ته وکتل شی او دتمدن هغه نظام چې د انسان په لاسو جوړ کړل شوي تر نظره تیر کړل شي نو دا به را په ډاګه شي چې ددې نظام په یوه اړخ کې هم د فطرت معلومې لاربښوونې او غوښتنې په بشپړ او متناسب ډول په نظر کې نه دي نیول شوي. دا په ډاګه ده چې انسان په خپله د خپل فطرت د غوښتنو څخه بې خبره نه دي او نه دهغه څخه په خپله خپل ذهني کیفیات او جسماني ځانګړتیاوې پټې پاته دی ، خو ددې تر څنګ دا حقیقت بلکل څرګند دي چې تر اوسه پورې هغه د هیڅ کوم داسې معتدل نظام په جوړولو بریالې شوې نه دې چې د هغه په اصولو او مناهجو کې په پوره توازن سره د ټولو فطري غوښتنو ، ځانګړتیاو او د ټولو ګټو او صالحو اهدافو رعایت شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## حقیقت ته د نه رسیدو ریښتوني لاملونه :

د هغې علتونه هماغه دي چې د هغې په لوري مونږ د دې کتاب په لومړیو پاڼو کې یادونه وکړه ، دا دانساني فطرت کمزورتیا ده چې د هغې نظر د کومې مسئلې په ټولو اړخونو باندې احتوې نه کوي ، تل یو اړخ تر نورور زیات د انسان توجه ځان ته را اړوی ، نو کله چې هغه یوې لورې ته مایل شي نو نور اړخونه یې بلکل د نظر نه پټ او غائب شي او یا یې قصدا پریږدي. د ژوند په ډیرو ورو او وګړیزو چارو کې د انسان دغه کمزوري په ډاګه په نظر راځي ، بیا نو څه ډول شوني ده چې د تمدن او تهذیب دغه پراخه مسایل چې د هغوې څخه هر یو په خپل ځان کې بې شمیره پټې او ښکاره څنډې لري د دې کمزورتیا د اغیز نه خوندي پاته شي. د پوهې او عقل په پانګې انسان حتما سرفرازه کړل شوي دي خو عموما د ژوند په معاملاتو کې یوازې عقل د هغې لارښوونه نه شی کولای. جذبات او میلانات لومړی هغه یوې خوا ته وړي بیا چې کله هغه یو خاص لورې ته ځي نو بیا په عقل استدلال کوي او د پوهې نه کومک غواړی. په دغه حالت کې پخپله د هغه پوهه هغه ته د معاملې بل اړخ ور په ګوته کوی او د هغې خپل عقل هغه په یو لور یتوب باندې متنبه کوی. خو بیا هم هغه خپله غلطی نه مني بلکه خپله پوهه او عقل مجبور وي چې د همدغې میلان د تائید له پاره دلائل او تأویلات برابر کړي.

## څو ښکاره مثالونه :

د ټولني د کومې ستونزې په هکله چې مونږ بحث او څیړنه کوو ، په هغې کې د انسان همدغه یو اړخیزتوب د پوره افراط او تفریط سره ډاګیزه دي. یوه ډله د اخلاقو او روحانیت په لور دومره را کاږه شوي او تر دې حده پوري غلو کوي چې د ښځې او نر جنسي اړیکې له یوه سره د نفرت ورې عمل بولی. مونږ دغه بې اعتدالی په بودایي ، مسیحي او یو شمیر هندو مذهبونو کې کتلې شو او دا د همغې اغیز دي چې تر اوسه پوري د نړی په یوې لوې برخې کې جنسي اړیکو ته په بده سترګه ګوري ، که څه هم هغه د ازدواج په دایره کې وي او یا د هغې څخه بیرون او ازاد اړیکې وي.

ددې پایلې دا شوې چې د دغه ډول آند پیروانو د رهبانیت غیرفطري او غیر مهذب ژوند د اختلاف او د نفس د پاکوالي موخه ګڼلې په دې اساس د انسانی نسل ډیرو وګړو ، چې ښځې او نارینه دواړه په کې شامل دي، خپل ذهني او جسماني ځواکونه د فطرت نه په انحراف او یا د فطرت سره په جنګ کې ضایع کړی . او کومو وګړو چې د فطرت غوښتنو ته مثبت ځواب هم ویلې هغه هم په دې آند ،لکه څوک چې مجبوراً خپله کومه ناولې اړتیا پوره کوی. ښکاره ده چې دا سې اړیکې نه د ښځې او میړه په منځ کې محبت او مینه پیدا کولې شی او نه تري کوم صالح او پر مختللې تمدن منځته را تلای شي.

یوازې دا نه بلکه په ټولنیز ژوند کې د ښځې د مرتبې د را پریوستلو مسؤلیت هم تر ډیره ځایه پوري د همدغې تش په نامه اخلاقي آند په غاړه دي ، د رهبانیت پالونکو ، جنسي کشش یوه شیطاني وسوسه او د کشش محرکه قوه یعني ښځه یې د شیطان د ایجنټ تر نامه لاندې و نومولـه او هغه یې د یوه ناپاکه وجود په څیر چې د هغې څخه نفرت کول یې ،دهر هغه وګړي له پاره اړین دي چې د نفس پاکولای غواړی. په مسیحي ، بودایي او هندي کتابونو کې د ښځې په هکله همدا ډول آند موجود دي. او هغه ټولنیز نظام چې د همدې آند په اساس جوړ شوې وي او په هغې کې چې ښځې ته کومه مرتبه ورکړل شوې نو اوس د هغې په هکله انداز لګول کوم ستونزمن کار نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې برعکس يوې بلې ډلې د انسان د جسماني غوښتنو مراعات کړې خو په هغې کې يې دومره غلو کړې چې انساني فطرت خو پرېږده د حيوانيت غوښتنې او اړتياوې يې هم له آنده غورځولې دي. په غربي تمدن کې دا کيفيت دومره را څرګند شوې چې اوس يې که د پټولو هڅه هم وکړی نو پټولې يې نشي. دهغوې په قانون کې زنا کوم جرم نه دې البته هغه څه چې جرم ګڼل کيږي هغه جبر او اکراه ده ، يا د کوم بل چا په قانوني امورو کې مداخله کول دي. که دا دواړه خبرې نه وي ، نو بيا زنا (د جنسي اړيکو خپريدل ) په خپل ځاي کوم جنايي جرم نه ، بلکه کوم د شرم وړ اخلاقي عيب هم نه ګڼل کيږي. ځکه چې دا کار لږ تر لږه د حيواني فطرت سره برابردې ، ليکن هغوې ددې څخه پښه وړاندې کيښوده او د جنسي اړيکو حيواني موخي يعني د نسل پيدا ښيت او دهغې پاېښت يې هم له نظره و غورځاوه او هغه يې يوازې د جسماني لطف اولذت ذريعه جوړه کړه. دلته يې د رارسيدو سره سم هماغه انسان يې چې په(احسن تقويم) باندې پيدا شوې ، (اسفل سافلين ) ته ور ورساوه . تر هر څه لمړی هغه د انساني فطرت څخه په انحراف د حيواناتو په څير جنسي اړيکې اختيار کړی چې د هيڅ تمدن بنسټ نه شی ګرځيدلې. بيا هغه د خپل حيواني فطرت څخه هم انحراف وکړ او ددې اړيکو فطري زيښنه ، يعنې د اولاد پيدا کيدل يې هم بند کړل ، تر څو په نړی کې د هغې د توکم د پاته کيدو په خاطر نسل دنيا ته را نه شی.

يوې ډلې د کورنی اهميت محسوس کړ خو هغه يې ددومره بنديزونو سره را يو ځاي کړه چې وګړې يې په کې را تاو اورا نغښتې پريښود. د نورو دحقوقو او دندو په اجرا کې يې توازن پرې نه ښود . ددې يو څرګنده نمونه د هندوانو کورنې جوړښت دې. هغوې د ښځې له پاره د ارادې او عمل هيڅ ډول ازادي نه ده ورکړې، په تمدن او اقتصاد کې يې هغوط ته هيڅ ډول حقوق نه دې پريښې ، که هغه پيغله وې نو وينځه ده ،که ښځه وې نو وينځه ده ، که مور وې او که کونډه وی د وينځې حيثيت لري او ان تردې چې د وينځې څخه هم بد تر ژوند لری. دهغې په برخه يوازې ددندو اجرا کول دي ، د حقوقو په کور کې يې دډير ستر صفر څخه اخوا نور څه نه شته.

په دغه ټولنيز نظام کې ښځه دهماغه لمړی ورځې څخه د يوې بې ژبې ځناور په څير بدليږي تر څو په هغې کې دځان پيژندنی شعور هم را و نه ټوکيږی. پرته له شکه چې ددغې آند په واسطه د کورنی بنسټ ډير ټينګښت پيدا کړې او د ښځې د سرکشۍ ټول امکانات يې له منځه وړې ، خو د ټولنې نيمايي برخه يې ذليله او خواره کړې ، دغه ټولنيز نظام په حقيقت کې په خپل جوړښت کې د خرابوالي ډير خطرناک حالات را پيدا کړې چې پايلې او زيښنې يې اوس هندوان په خپله احساسوي.

يوې بلې ډلې د ښځې د مرتبې د پورته کولو هڅه کړې او هغې ته يې د ارادې او عمل ازادی ورکړې خو په هغې کې يې دومره غلو کړې چې د کورنی پولې يې پرې له منځه وړې . ښځه ، لور او زوې ټول ازاد ، ان تر دې چې د کورنی کوم سر او پالونکې هم معلوم نه وی ، هيڅوک په بل باندې واکمني نه لري ، ميړه د خپلې ښځې څخه د يو ښتنې حق نه لری چې تا شپه چيرې سبا کړه ، د لور نه پلار يو ښتنه نه شې کولې چې ته له چاسره او چيرته ځې ، ميړه او ښځه په حقيقت کې دوه برابر دوستان دی چې د مساوي شرايطو په اساس را يو ځاي شوې. يو کور جوړوي چې په هغې کې يې د اولاد حيثيت دهغې کوچنی ډلې د کوچنيو غړو په څير دې. د مزاج او طبيعت يو ډير کوچنې اختلاف هم دغه جوړښت هر وخت د خطر سره مخ کولاي شی ، ځکه چې د اطاعت او فرمانبرداری په څير عنصر ، چې د هر نظم د ځاي په ځاي ساتلو له پاره اړين دي ، په دغه ډله کې بلکل نه شته ، دا هغه غربي ټولنه ده چې دهغې مشران د تمدن او ابادی د اصولو په پوهه کې د پيغمبری دعوه لري. که دهغوې ددې دعوې حقيقت معلومول غواړئ نو د اروپا او امريکا په کومې يوې محکمې کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طلاقو او نکاح یا په کومې محکمې کې د کوچنیانو د جرایمو د قضایاو( Juvenile Court) حال په خپله وویئ. همدا اوس چې د انګلستان د کورنیو چارو وزارت په دې هکله کومه شمیره خپره کړې د هغې څخه را په ډاګه کیږي چې په کم عمره نجونو او هلکانو کې د جرایمو شمیره ورځ په ورځ زیاتیږي او د هغې علت یې دا بیا ن کړې دې چې د کورنۍ ډسپلین او نظم و ضبط کمزوري شوې. په دې هکله د (۱۹۳۴م Blue Book of crime statistics for کتاب و ګورئ).

په انسان او یا په ځانګړې توګه د ښځې په فطرت کې چې د شرم او حیا کومه ماده ځاې پر ځاې کړاې شوې ده په هغې د پوره پوره پوهیدو او عملاً په لباس او ژوند دود کې په واقعي ډول د هغې په پلې کولو کې هیڅ انساني تمدن بریالې شوې نه دی ، شرم او حیا د انسان او په ځانګړې توګه د ښځې د بهترینو صفاتو نه شمیرل کیږي. خو په لباس او ټولنیز ژوند کې د هغه را مخته کیدل د کومې عقلي طریقې او یا بهترینو اصولو له مخې نه دې شوې ، د ښځې د ستر صحیح حدود ټاکل او په پوره توګه دهغه د خوندي پاته کیدو له پاره هیچا هم کوښښ نه دې کړې ، د ښځې، او نر لباس او د هغوې په ادآبو او کړو وړو کې دحیا کولو له پاره هیڅ ډول اصول نه دې ټاکل شوې. په معاشرت کې ښځه او نر ، ښځه او ښځه ، نارنیه او نارینه ، تر منځه د حجاب له پاره مناسبه او معقوله حد بندی نه ده شوې ، د تهذیب او عامه اخلاقو له آنده چې دا خبره څومره مهمه ده نو په هماغه اندازه ورسره د تغافل نه کار اخیستل شوې ، دهغې څخه یې څه رسم و رواج ته پرې ایښې ، حال دا چې رسم و رواج د ټولنې د حالت د بدلیدو سره بدلیدونکې شې دې. او څه یې د خلکو د شخصې غوښتنو پورې تړلې. حال دا چې نه د شرم او حیا د جذبې له مخې ټول وګړې یو شان دی او نه هر وګړې د سلیم ذوق او انتخاب سهې قوت لري چې د خپلې همدې جذبې په واسطه په خپله ځانته کومه مناسبه طریقه اختیار کړې.

ددې پایلې دا شوې چې د مختلفو ډلو ټپلو په کالیو او ګډ ژوند کې د حیا او بې حیایې یو عجیب ګډون تر نظره کیږي چې په هغې کې کوم عقلي مناسبت ، یو شان والي ،برابري او یا د څه اصولو پابندي نه تر سترګو کیږي. په شرقي هیوادونو کې دا شیان تر یوه حده پورې محدود دي. خو د غربي ولسونو په کالیو او معاشرت کې چې کله د بې حیایې عنصر ډیر زیات و غوړید ، نو هغوې له یوه سره د شرم او حیا ریښې غوڅې کړې. د هغوې نوې آند دادې چې په اصل کې شرم و حیا کومه فطري جذبه نه ده بلکه دا جذبه یوازې د لباس اغوستنې عادت را پیدا کړې ، د عورت پټول او حیا درلودل د اخلاقو پر ښایست پورې هیڅ اړه نه لری بلکه دا په حقیقت کې د انسان دجنسي غوښتنو د تحریک او را پارونکو عواملو څخه یو عامل دې. [دا هماغه نظر دې چې(wester marck) په خپل کتاب(The history of Human marriage) کې کښلې دې]

د بې حیایې د همدغې فلسفي عملي تفسیر هغه نیم لوڅ لباس ، د جسماني ښایست مقابلې ، لوڅه نڅا ، لوڅ عکسونه په ستېجونو باندې د فحاشۍ مظاهرې او عریانۍ په لور چټکه ځغاسته ، یوازې د حیوانیت په لور د انسان ورتګ دې او همدغه بې اعتدالي د مسئلې په بل اړخ کې هم تر سترګو کیږي.

هغو چې اخلاق او عصمت ته اهمیت ورکړې هغوې د ښځې ساتنه د یوه روح لورنکې ، عقل او پوهې لورنکې او یوه ژوې په څیر نه بلکه د یوه بې روحه زیور او د یوه ارزښتناکه کانۍ په څیر کړې او د هغې د ښوونې او روزنې اړتیا یې له یوه سره له نظره غورځولې. حال دادې چې د تمدن او تهذیب د ښه والي له پاره دښځې ښوونه او روزنه هم همدغومره اهمیت لري لکه څومره یې چې د سړې په هکله لري. خو هغوې چې د ښوونې او روزنې اهمیت احساس کړې نو بیا یې د اخلاقو او پاک لمنۍ اهمیت له نظره غورځولې او دیو بل حیثیت څخه یې د تهذیب د له منځه وړلو له پاره لاره جوړه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کومو وکړو چې د فطرت د ویش ساتنه کړې هغوی د تمدن او ټولنې په خدماتو کې یوازې د کور د ادارې او دکوچنیانو د روزنې مسؤلیت د ښځې په غاړه اچولې او په سرې یې د روزۍ د لاس ته راړلو مسؤلیت وربار کړې ، خو په دې ویش کې یې هم توازن و نه شو ساتلای ، هغوی د ښځې څخه ټول مالي حقوق سلب کړل ، په وراثت کې یې د هر ډول حق څخه بې برخې کړه ، د ملکیت ټول حقوق سړې ته منتقل شول او په دې توګه یې په اقتصادی اړخ کې ښځه بې لاسه او بې پښو کړه ، د ښځې او نر تر منځه یې اړیکې په واقعیت کې د بادار او وینځې تر منځ اړیکې وګرځول ، ددوی په مقابل کې یوه بله ډله را پورته شوه ،هغوی د بې انصافۍ د له منځه وړلو تکل وکړ او ښځې ته یې د هغې د تمدني ، ټولنیزو اومالي حقوق د اعاده کولو اراده وکړه خو دا وګړې د یوې بلې غلطۍ مرتکب شول ، دهغوی په ذهنونو باندې د مادیت غلبه وه په دې خاطر هغوی ښځه د اقتصادي او تمدني غلامۍ نه دخلاصون معني دا وګڼله چې هغه دې هم د سړي په څیر د کور یو ګټور وګړې شی او د ټولنې د ټول مسؤلیتونو په پورته کولو کې د سړي سره برابره ونډه ولري. د مادیت له آنده په دې طریقه او لاره کې ډېر جذابیت پروت و ځکه چې په دې ترتیب نه یوازې د سړې په اوږو بار سپک شو ، بلکه د مالی وسایلو او د دولت د لاسته راوړو او د عیش او عشرت د وسایلو په برابرولو کې دوه برابره ډېروالې راغې ، ددې نه اخوا د ولس د عمراني او اقتصادي چارو د پر مختللو له پاره دوه دوه لاسونه او دماغونه زیات کړل شو ، او په دې ترتیب د تمدن په ارتقاء کې ډېر تیزوالي پیدا شو.

خو دمادي او اقتصادي اړخونو په لور ددومره زیات میلان پیدا کیدلو پایله دا شوه چې نور اړخونه چې اهمیت یې ددې اړخ څخه په هیڅ ډول کم نه دې دهغوی د سترګو نه پناه پاته شو او ډېرهغه اړخونه چې هغوی پرې پوهیدل هم ، قصدا یې پرېښودل. د فطرت د قانون په پوهیدو سره سره چې د هغوی خپلې علمي څیړنې پرې ګواهي وایې بیا هم هغوی دهغې په خلاف قدم واخیست ، هغوی د ښځې سره د انصاف اوعدل کولو دعوه وکړه خو په حقیقت کې د بې انصافۍ لورې ته ولاړل هغوی ښځې ته د برابرۍ د ورکولو دعوه وکړه مګر په حقیقت کې یې نا برابري منځته راوړه چې ثبو ت یې په خپله دهغوی په علومو او فنونو کې تر لاسه کیږي.

هغوی د تمدن او تهذیب اصلاح کول غوښتل خو په واقعیت کې یې دهغې د تخریبولو او له منځه وړولو له پاره ډېر ویروونکې اسباب او وسایل تیار کړل چې تفصیلا یې په خپله د همدې بیان کړل شوو پیښنو او پخپله د همدوی په واسطه د تیار کړل شوو شمیرو د مخې را څرګندیږي.

ښکاره ده چې هغوی ددې فعالیتو څخه بې خبره نه دې لیکن لکه څنګه چې مونږ مخته بیا کړل دا د انسان کمزورتیا ده چې هغه پخپله دخپل ځان له پاره د قانون په جوړولو کې د ټولو مصلحتونو د اعتدال او تناسب لحاظ نه شې ساتلای. هغوی د نفس د غوښتنو له مخې په افراطی توګه په یوې لورې لاهو کیږی او کله چې لاهو شی نو بیا ډېرې ښیګنې دهغه له نظره پټې پاته کیږی او د نورو ډېرو ښیګڼو اوحقیقتونو د کتلو او پوهیدو تر څنګ دهغوی په لور دلیدلو څخه سترګې پټوي.

ددغه قصدي او ارداي ړوندوالي ښه ثبوت به مونږ ددې نه زیات بل پیدا نه کړو لکه څنګه چې ددوی دخپل یو ړوند آندي لیکنه دلته را نقل کړو. د روس نامتو ساینس پوه انتون نیملوف(Anton Nemilov) چې یو پوخ کمونست دې په خپل کتاب [(The biological Tragedy of Woman)چې ددغه کتاب انګلیسي ژباړه په لندن کې په۱۹۳۲م کال کې شوې ]د ساینسي تجربو او مشاهدو له مخې د ښځې او نارینه تر منځ د فطري نابرابرۍ په ثابتولو کې نژدې دوه سوه پاڼې توري کړې خو بیا پخپله د همدې ساینسی څیړنې وروسته لیکي چې:[نن سبا که دا وویل شي چې ښځې ته د تمدن په نظام کې محدود حقوق ورکړل شوې نو ډېر خلک به دهغې تائید وکړي. مونږ په خپله ددې وړاندیز سخت مخالف یو ، مګر مونږ خپل نفس باید په دې ونه غولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د ښځې او نر ترمنځ په عملی ډګر کې مساوات پیدا کول ساده او اسان کار دې. د نړۍ په هیڅ ځاې کې د ښځې او نر د مساوات له پاره دومره هڅې نه دي شوي لکه څومره چې په روسیه کې شوي دي. په هیڅ ځاې کې په دې هکله دومره د تعصب نه پورته او فیاضت نه ډک قوانین نه دي جوړ شوي لکه څومره چې په شوروي کې جوړ شوي. خو ددې هر څه سره سره واقعیت دادې چې په کورنۍ کې د ښځې په حالت او حیثیت کې ډیر لږ بدلون راغلی نه یوازې په کورنۍ کې بلکه په ټولنه کې هم.](۷۲ مخ )

[تر اوسه پورې د نر او ښځې ترمنځ د نابرابرۍ تخیل ، نه یوازې په هغه طبقو کې چې په ذهني توګه کمزورې دي ، بلکه د شوروي اتحاد د لوړو اوروښانفکرو اقشارو ترمنځه هم همدا تصور او په خپله په ښځو کې ددې تصور اغیز دومره زور پروت دې چې که چیرې د هغوې سره د برابرۍ سلوک وکړاې شی ، نو هغوې هغه د سرې د مرتبې نه ډیر ښکته ګڼی ، بلکه هغه د سرې په کمزورۍ او نه سرېتوب حمل کوی ، که چیرې مونږ په دې هکله د کوم ساینس پوه ، کوم مصنف ، کوم شاګرد ، کوم تاجر ، یا د کوم پوخ کمونسټ د افکارو په لټه کې شو نو ډیر ژر به دا حقیقت مونږ ته را په ډاګه شی چې هیڅکله هم هغوې ښځه د خپل ځان سره برابره نه ګڼي. که چیرې د اوسنۍ زماني کوم ناول ولولئ ، که څه هم هغه دکوم ازاد فکره لیکوال له خوا لیکل شوي وي، خو په ډاډمنه توګه به په هغې کې په یو ځاې نه یو ځاې کې داسې جملې راغلې وې چې د ښځې په هکله به په کې د هغې تخیل چغلی کړې وي.]( ۱۹۵/ ۱۹۴ مخونه ).

ددې علت دادې چې دلته انقلابي اصول د یوه ډیر مهم حقیقت سره ټکر خوري ، یعنې ددې حقیقت سره چې د بیولوژۍ (Biology ) له نظره د دواړو جنسونو ترمنځه برابري نه شته او په دواړو برابر بار او مسؤلیت نه دې ا چول شوې. اوس که دغه لاندې اقتباس ولولئ نو بیا په خپله ترې نتیجه واخلئ.

«رښتیا خبره خو داده چې په ټولو کارکونکو (Workers ) کې د جنسي ګډوډۍ (Sexual Anarchy ) ننبې را بر سیره شوې دي ، دا دخطرنه ډک حالت دې چې د سوسیالیست نظام د تباه کولو او له منځه وړلو اخطار ورکوي ، دهرې ممکنې لارې څخه یې باید مقابله وشی ځکه چې په دې محاذ جنګ کول ډیر ستونزمن کار دې. زه دداسې پیښو په زرګونو نمونې وړاندې کولې شم چې ترې دا په ډاګه کیږي چې شهوانې خپل سرې ( Sexual Licentiousness ) نه یوازې په ناپوهه خلکو کې بلکه د کارګرانو په لوړو تعلیم یافته وګړو کې چې د پوهې له اړخه پوره رسیدلي دي ،هم خپره شوې.»

دغه عبارت په خپله ددې ګواه دې چې له یوه اړخه پخپله اعتراف کوی چې د ښځې او نر ترمنځه فطرت پخپله مساوات نه دې پیدا کړې. په عملي ژوند کې هم د مساوات د راپیدا کولو هڅې نه دې بریالي شوې او ترکومه حده پورې چې د فطرت سره په جنګ جګړه کې دغه ډول مساوات هم جوړ کړل شوې دې د هغې زیښنه داشوه چې د فحاشۍ یو ستر سیلاب راغلې چې د ټولنې ټول نظام یې د خطر سره مخامخ کړې دې د بله اړخه دا دعوه چې په ټولنیز نظام کې دښځې پر حقوقو هیڅ ډول بندیزونه باید و نه لګول شی او که چیرې داسې وشي نو مونږ یې مخالفت کوو ددې نه اخوا ددې امر بل څه ثبوت نه شته چې انسان جاهل نه دې بلکه دعلم ، پوهې او عقل خاوند او د هر څه څخه باخبره د خپل نفس د غوښتنو داسې غلام دې چې د هغې له مخې خپلې علمي څیړنې هم باطلوي او د خپلو تجاربو او مشاهداتو نفي کوی. هرې لورې ته خپلې سترګې ترې او یوازې د نفس د غوښتنو تابع اوپه دې لاره کې تر انتها پورې ځان رسوي. خو ددې افراط په خلاف دهغوې خپلو علومو ډیر قوي دلایل وړاندې کړې ، که څه هم غوږونه یې څومره واقعات واورې او سترګې یې هر څومره ناوړه نتایج ووینې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[افرأيت من اتخذ الهه هواه و أضله الله علي علم وختم على سمعه و قلبه و جعل على بصره غشاوة فمن يهديه من بعد الله افلا تذكرون (الجاثيه ۲۳)]
«نو ايا تا كله دهغه چا په حال باندې غور كړى دى چې هغه خپلې نفسي غوښتنې خپلې معبودې و گرځولې، او الله هغه له علم او پوهې سره په گمراهۍ كې و غورځاوه ا و دهغه پر زړه ، او غوږونو باندې يې مهر وواهه او دهغه پرسترگو يې پردې و غوړولې ؟ له الله نه وروسته اوس بل څوک دې چې هغه ته هدايت وكړى ؟ ايا تاسې څه درس نه اخلئ؟»

## د اسلامي قانون د اعتدال څرنگوالي:

دبې اعتدالۍ او د افراط او تفريط په دې نړۍ كې يوازې يو ولسي نظام شته چې په كې په پوره توگه اعتدال او برابري موندل كيږي. په هغې كې د انساني فطرت ټول اړخونه ان تر دې چې دهغه ډير پټ اړخ هم رعايت شوې دى. د انسان جسماني جوړښت او دهغې حيواني غوښتنې او دهغې انساني خوې او دهغې نفسى ځانگړتياوې او فطري بلنو په اړوند د ډيرزيات مكمل او تفصيلي علم څخه كار اخيستل شوې دى. دهغې د هر يو څيز د پيدا ينبت څخه چې د فطرت كوم هدف دې نو هغه يې په پوره كمال د يوه سره دهمدې لارې پوره كړې دې او بل هيڅ كوم مقصد تري كه څه هم ډير كوچنې وي نه زيانمن كيږي. او بالاخره دغه ټول اهداف يو ځاي د هغې لوې هدف د لاسته راوړو او پوره كولو له پاره بسپنه كونكوې ثابتيږى چې پخپله د انسان د ژوند اخري هدف دى. دغه اعتدال ، توازن او تناسب دومره مكمل دې چې هيڅ انسان يې دخپل عقل او هڅو په واسطه منځته نه شي راوړې. دا په داسې حال كې چې دا ناشونې ده چې د انسان په لاس په جوړو شوو قوانينو كې به په هيڅ ځاى كې خامي نه وى ، دا نه يوازې نا شونې بلكه بلكل ناممكن ده . په خپله د قوانينو جوړول خو لا پريږده ، يو معمولي انسان ، تر څو چې د فوق العاده سليم طبيعت خاوند نه وي،د دغه معتدل او متوازن او د حكمتونو ډك قانون په حكمتونو باندې په پوره توگه پوهيداې هم نه شي.اوبيا هغه چې په كلونو كلونو يې علوم او تجربې نه وي تر لاسه كړي او بيا په كلونو كلونو يې غور او فكر پرې نه وي كړې، دا حقيقت درک كولاې هم نه شي .زه ددې قانون تعريف له دې امله نه كوم چې ما په اسلام ايمان راوړې بلكه په اصل كې ما په اسلام په دې خاطر ايمان راوړې چې ماته په اسلام كې پوره توازن ، كامل تناسب او د قوانينو سره يو شي والي په نظر را ځي چې په ليدلو يې زما زړه گواهي وركوي چې په يقين سره ددې قانون جوړونكې د ځمكې او اسمانونو خالق او په پټه او ښكاره هر څه پوه دې او حق هم همدا دې چې په مختلفو اړخونو كې ښوييدلې او لاهو شوې انسان ته د عدل او برابرى نيغه لاره هماغه ښوولي شي.

[ قل اللهم فاطر السماوات والارض عالم الغيب و الشهادة آنت تحكم بين عبادک في ما كانوا فيه يختلفون (الزمر ٣۲ )]

(ووايه ، اى الله ! د اسمانونو او ځمكې پيدا كوونكيه ! په پټ او ښكاره باندې پوهيدونكيه ، همدا ته به د خپلو بندگانو په مينځ كې دهغه څه په هكله فيصله وكړې چې هغوى په كې اختلاف كوې )

## داسلام ټولنيز نظام

### 1. اساسي نظريات:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام د ځانګړتیاو څخه یوه داده چې هغه د خپل قانون په حکمت پخپله رڼا هم اچوي ، په ټولنه کې د ښځې او سړي ترمنځ د اړیکو د ټینګولو له پاره چې کوم قانون اسلام وړاندې کړې د هغې په هکله پخپله اسلام مونږ ته وایې چې د هغې قانون بنسټ د حکمت په څه ډول اصولو او د فطرت په کومو حقیقتونو ولاړ دې.

## دزوجیت اساسي مفهوم:

په دې لړ کې تر ټولو لومړی هغه حقایق چې په ډانګ پیلي توګه په قران کریم کې بیان شوې هغه دادي:

(و من کل شيءٍ خلقنا زوجین لعلکم تذکرون )[الذاریات ۴۹]

( او مونږ د هرشي جوړې پیدا کړې دي ښایي تاسي پند واخلئ]

په دې قرانی ایت کې د زوجیت د قانون (Law Sex ) د هر اړخیزتوب لوري ته اشاره شوې ، د نړۍ پیدا کونکې پخپله ،دغه راز په ډاګه کوي چې د هغه د کائیناتو دغه ټول ماشین د زوجیت (Pairs ) په قاعدې باندې جوړ کړل شوې دې او څومره کارخانې چې تاسي په نړۍ کې وینئ دا ټولې د جوړو (Pairs )د تزویج یوه کرشمه ده.

اوس په دې غور وکړئ چې زوجیت وایې څه ته ؟ زوجیت په اصل کې دادې چې په یوه څیز کې فعل وي او په بل کې قبول او انفعال ، په یوه شي کې اغیز وي او په بل کې اغیزمن کیدل. همدغه فعل او انفعال ، اغیز او اغیزمن کیدل ، د فاعلیت او قابلیت اړیکې ددوو شیانو ترمنځ د زوجیت اړیکې دي ، ددې اړیکو په واسطه ټول ترکیبات جوړېږي مومی او د همدغې ترکیباتو څخه د پیدا ینبت ټوله کارخانه چلیږي. په کائناتو کې چې څومره شیان دي هغوي ټول په خپله طبقه کې زوج اوزوج ، او جوړه جوړه پیدا شوي دي او دهرو دوو میړه او ښځو ترمنځ په اصلي او اساسي حیثیت سره د زوجیت اړیکې شته چې یو فاعل دې او بل قابل او منفعل. که څه هم د مخلوقاتو په هره طبقه کې ددې اړیکو کیفیت مختلف وي مثلا یو زوجیت هغه دې چې په احادو او عناصرو کې موندل کیږي ، بل هغه دې چې په مرکباتو کې پیدا کیږي او بل هغه دې چې په نمولرونکو اجسامو کې په نظر را ځي ، او بل هغه دې چې په حیواناتو کې موجود دې ، دغه ټول زوجیتونه د نوعیت ، کیفیت او فطري مقاصدو له اړخه یو د بل سره تو پیر لري خو اصل زوجیت په ټولو کې هماغه یو ډول دي .په هر نوع کې ، هغه که د هري طبقي پوري مربوط وي ، د فطرت اصل مقصد یعني د ترکیب واقع کیدل ، او د ترکیب د شکل د لاسته راوړلو له پاره دي ته اړتیا ده چې د میړو او ښځو څخه په یوه کې د فعل قوت وي او په بل کې د انفعال.

د پورتني ایت د دغه مفهوم د پوهیدونه وروسته له هغه څخه د زوجیت د قانون دري لومړني اصول ثابتیږي .

لمړی: د هغې فارمول له مخې چې الله جل جلاله ټول کائنات پیدا کړي او کومه طریقه یې چې د خپلې کارخانې د پرمخ بیولو ذریعه ګرځولې هغه هیڅکله هم نه شي کیداې چې ناپاکه او ذلیله وا وسي بلکه هغه د خپل اصل له مخې ډیره پاکه او محترمه ده او همداسي باید واوسي. دکارخانې مخالفین هغه ګنده او د نفرت وړ ګڼلي شي، ډه ډه ورڅخه کولاي شی ، مګر پخپله د کارخانې صانع او مالک هیڅکله هم دا نه غواړی چې دا کار خانه بنده شي ، دهغې منشاء خو داد ه چې ددې ماشین ټولې پرزې کار وکړي او د خپلې برخې ټول کارونه سرته ورسوي.

دوېم: فعل او انفعال دواړه ددې کارخانې د چلولو له پاره یو شان اړین دي ، د فاعل او منفعل دواړو وجود په دې کارخانې کې یو شان اهمیت لری ، نه د فاعل په فعلي حیثیت کې کوم عزت دې او نه د منفعل په انفعالي حیثیت کې کوم ذلت . د فاعل کمال دادې چې په هغې کې د فعل قوت او د فاعلیت کیفیات موجود وي تر څو هغه د زوجیت د فعلي اړخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار په ښه توګه تر سره کړي او د منفعل کمال دادي چې په هغې کې انفعال او د انفعالیت کیفیت موجود وي تر څو هغه د زوجیت د انفعالي او قبلولو د اړخه خدمت په ښه توګه تر سره کړي.

د یوه معمولی ماشین پرزې هم که کوم وګړي د هغې د اصلي ځایه څخه لرې کړي او د هغې څخه هغه کار اخیستل وغواړي چې هغه د هغې کار له پاره جوړې شوې نه وي نو د غسې وګړي احمق او جاهل ګڼل کیږي. اول خو هغه ته په دغه ډول هڅه کې کوم بریالیتوب نه تر لاسه کیږي او که چیرې هغه ډیر زور و لګوي نو همدومره به وکړي چې ماشین به مات کړي.
همداسې حال د زوج فاعل ،د زوج منفعل په ځاې ، یا دزوج منفعل د زوج فاعل پر ځاې د اینښوولودې. داسې فکر او هڅه کولې شی چې د بریالیتوب په هیله د نور حماقت ثبوت هم وړاندې کړي ، خو ددې ماشین جوړونکې هیڅکله داسې نه کوي ، هغه د فاعل پرزې د فعل په ځاې کې ږدی او په همدغه حیثیت سره د هغې روزنه کوي ، او د منفعل پرزې د انفعال په ځاې کې ږدي او دهغې د انفعالي استعداد روزنه کوي.

دریم–فعل په خپل ذات کې په قبول او انفعال باندې یو ډول برتري لري. دا برتري په دې معنې نه ده چې په فعل کې عزت دې او په مقابل کې یې انفعال ذلیل ګڼل کیږی ، بلکه فضیلت او برتری یې په اصل کې د غلبې او قوت او اغیز په معناو ده ، کوم شې چې په بل شی باندې فعل کوي هغه په دې خاطر پرې کوي چې هغه پرې غالب وي ، دهغې په مقابل کې طاقتور دې او په هغې د اغیز کولو قوت لري او هر هغه څه چې ددغه فعل اغیز قبلوی او د هغې څخه منفعل کیږی دهغې د قبول او انفعال علت دا ګڼل کیږی چې هغه مغلوب دې ، دهغې په مقابل کې کمزورې دې او د اغیزمن کیدو استعداد لری. لکه څنګه چې د فعل د واقع کیدوله پاره د فاعل او منفعل دواړو وجود یو ډول ضرور دې نو په دې توګه دا هم ضروري ده چې په فاعل کې غلبه او داغیز قوت موجود وي او په منفعل کې د مغلوبیت د منلو اغیز او استعداد. ځکه که دواړه په یوه وخت کې یو شان وي او یوته په باندې غلبه نه وي وریه برخه. نو دهغې څخه یوهم دبل اغیز نه شي منلاې او فعل بلکل نه واقع کیږي ، که چیرې په رخت او تږته کې هم همغسې سختي وي لکه په ستنه کې چې شته نو بیا د ګنډلو فعل نه تر سره کیږي ، که چیرې په زمکه کې نرمي نه وي چې د یوې او یوم غلبه و منې نو بیا خو زراعت او کور جوړونه ناممکن ګرځي.

یعنې په نړی کې چې څومره افعال واقع کیږي ، دهغوې څخه به تر هغه وخته یو هم واقع نه شی چې د یوه فاعل په مقابل کې یو منفعل نه وي او منفعل د زوج فاعل داغیز نه د مغلوبیدو صلاحیت و نه لري. په میړنو او ښځو کې د فاعل زوج د طبیعت غوښتنه داده چې په هغې کې غلبه ، قوت او تحکم وي ، چې ورته نارینتوب او مردانګي وایې ، ځکه چې د یوې فعلي پرزې په حیث دخپل خدمت په تر سره کولو کې هغه ته همداسی کیدل په کار دي. خو ددې برعکس د منفعل زوج د انفعالي فطرت غوښتنه داده چې په هغې کې نرمي او نزاکت او لطافت او اغیزمن کیدل موجود وي چې ورته ښځیتوب ، یا نسائیت یا نسوانیت ویل کیږي . ځکه چې د زوجیت انفعالي اړخ دهمدغه صفاتو په واسطه سوبمن کیږي. هغه وګړي چې په دغه پټه او راز نه پوهیږي نو هغوې یا د فاعل ذاتي فضیلت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عزت هم معني اخلي او منفعل په خپل ذات کې ذليل ګڼي ، او يا له يوه سره د هغه فضيلت ځخه په انکار کولو سره په منفعل کې هم د هماغسې صفاتو د را پيدا کولو هڅه کوي چې په فاعل کې موجود وي. خو هغه انجنير چې دغه واړه پرزې يې جوړې کړې دي هغه يې په دې ماشين کې داسې نصب کړي چې د عزت له اړخه دواړه يو شان او د روزنې او هدف له اړخه دواړه برابرې مګر د فعل او انفعال په طبيعت کې چې د غالبيت او مغلوبيت غوښتونکې دي په کې را څرګند شي ، تر څو دزوجيت منشاء او موخې پوره کړاې شي ، نه دا چې دواړه داسې کاڼې و ګرځي چې ماتيدې خو شي خو په خپلو کې کوم امتزاج او يا کوم ترکيب قبلولاې نه شي. دا هغه اصول دي چې د زوجيت د لمړنې مفهوم ځخه تر لاسه کيږي. يوازې د يو مادي موجوديت او وجود په حيث د ښځې او نر زوج کيدل ددې غوښتنه کوي چې د هغوې په اړيکو کې دا اصول مراعت کړل شي لکه چې په مخته تګ سره به تاسې ته په ډاګه شي چې د اسمانونو او ځمکو پيدا کوونکي چې د معاشرت کوم قانون جوړ کړي په هغې کې ددغه درې واړو اصولو پوره پوره رعايت شوې دي.

## د انسان حيواني فطرت او دهغې غوښتنې:

اوس يو قدم نورهم مخته ولاړ شئ ، د ښځې او نارينه وجود يوازې يو مادي وجود نه بلکه حيواني هم دې. نو په دې حيث سره به، دهغوې يو د بل زوج کيدل د څه شي غوښتنه کوي ؟

قران فرمايې: [..... جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَمِنَ الْأَنْعَامِ أَزْوَاجًا ۖ يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ ۚ .... ﴿١١﴾ «الشورا١١-»]

[الله تاسې ته پخپله ستاسې ځخه جوړې پيدا کړې او په حيواناتو کې يې هم جوړې پيدا کړې ، تر څو په دې توګه تاسې د ځمکې پر مخ خپاره کړي]

او په بل ځاې کې فرمايې چې:

[نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ ..... ﴿٢٢٣﴾ (البقرة ٢٢٣)] [ستاسې ښځې ستاسې فصلونه دي]

په لمړي آيت کې يې د انسان او حيوان دواړو د جوړو د جوړولو يو ځاې يادونه وکړه او دهغې ګډ مقصد يې دا بيان کړ چې دهغې د زوجې اړيکو ځخه د تناسل لړۍ جاري وي. په دوېم آيت کې يې انسان د حيوان ځخه جدا کړ او دا يې په ډاګه کړه چې د حيواناتو په ډلو کې ددغه ځانګړې نسل په ميره او ښځه کې د فصل او دهقان په څير اړيکې شتون ولري . دا يو بيا لوژيکې حقيقت(Biological fact) دې. د بيولوژې له آنده غوره تشبيه چې ښځې او نارينه ته کيداې شي هغه همدا ده. ددغې دواړو آيتونو ځخه درې نور اصول را په ډاګه کيږي.

۱: الله تعالې د ټولو حيواناتو په څير دانسان جوړې هم ددې مقصد له پاره جوړې کړې دې چې د هغې د جنسي اړيکو ځخه انساني نسل دوام پيدا کړي. دا د انسان د حيواني فطرت غوښتنه ده چې رعايت کول يې اړين دې. الله جلا جلاله انساني نسل ددې له پاره نه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدا کړي چې دهغې ځو وکړي په ځمکه باندې د خپل نفس پالنه وکړي او بس له منځه ولاړ شي . بلکه دهغې اراده د یوه ټاکلي وخت پورې د انساني نوع پاینبت دي . ددې تر څنګ یې د انسان په حیواني فطرت کې جنسي میلان په دې خاطر پیدا کړې چې دهغې له مخې میړه او ښځه یو له بله سره یو ځای شي او د الله تعالې د ځمکې د ابادی له پاره د نسل د پیدا کیدو لړی جاري و ساتي. هغه قانون چې د الله تعالې له اړخه راغلي هیڅکله هم جنسي میلان له منځه وړونکي او فناکونکي نه شی کیدای او نه د هغې څخه د نفرت او دمکمل لرې والي تعلیم ورکوونکي کیدای شي. بلکه په هغه کې یې په لازمي توګه دومره ځای ایښې دې چې انسان د خپل فطرت دغه غوښتنه په ښه توګه پوره کړای شي.

۲: ښځې او نر ته دفصل او دهقان په څیر د مشابهت دورکولو څخه دا په ډاګه کیږي چې د انساني جوړې «میړه او ښځې» اړیکې د نورو حیواناتو د زوجینو د اړیکو څخه تو پیر لري. د انساني حیثیت نه پرته دحیواني اعتبار له مخې هم دهغوی د واړو جسماني ترکیب یې دغسې جوړ کړي چې په اړیکو کې یې باید داسې پاینبت موجود وي لکه څنګه چې ددهقان او فصل په منځ کې وي. لکه څنګه چې په پټي کې ددهقان کار یوازې تخم شیندل نه ، بلکه دهغې سره دې ته اړتیا هم شته چې هغه یې په اوبو خړوبه کړی. سرّه ورکړي او دهغې ساتنه وکړي. په همدې ترتیب ښځه هم همغسې ځمکه نه ده چې حیوانات په کې څری او که ځوک په کې تخم ورواچوي نو د یوه خپل سري نیالګې په څیر په کې را وټوککیږي. بلکه کله چې میوه نیسي نو دې ته اړتیا ده چې دهقان دهغې پالنه وکړي او دهغې د حفاظت او خوندي ساتنې ټول بار په خپلو اوږو پورته کړی.

۳: د انسان په زوجینو (جوړو ) کې چې کوم جنسي کشش شته هغه د بیولوژیکي اړخه هماغسې دي لکه چې په نورو حیواناتو کې چې میندل کیږي. د یوه جنس هر غړې د مقابل جنس دهر غړي په لور حیواني میلان لري او د تناسل ستره غوښتنه چې د هغې په طبیعت کې اینښودل شوې ده، ددواړو صنفونو ټول وکړي یو د بل لورې ته راکاږی. په دې اساس د کائناتو دپیدا کونکي له خوا جوړ شوي قانون د انسان د حیواني فطرت ددې کمزوري اړخ څخه هیڅکله هم بې پروا کیدای نه شي ځکه چې په هغې کې د جنسی خپراوي ( Sexual Anarchy ) په لور ډیر زیات میلان پټ پروت دې چې د خوندي ساتلو د ځانګړیو تدابیرو پرته یې په ولکې کې ساتل شوني نه دي. او که چیرې یو ځل د ولکې او کنترول څخه ووځې نو د انسان څخه پوره حیوان بلکه په حیواناتو کې هم دتر ټولو نه پستې درجې ته یې د لویدلو څخه هیڅ شی نه شي درولې.

[لَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ فِيٓ أَحۡسَنِ تَقۡوِيمٖ ۝٤ ثُمَّ رَدَدۡنَٰهُ أَسۡفَلَ سَٰفِلِينَ ۝٥ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٖ ۝٦ ( التین ۲-۴ )]

(انسان مو په ډیره ښه بڼه پیدا کړ–بیا مو رد کړ دې تر ټولو ټیټو ټیټ ته - مګر هغه چې ایمان یې راوړې او کړي یې وې سم سم عملونه–نو دوې لره به وي بدله تلپاتې )

(c) ketabton.com: The Digital Library

انساني فطرت او دهغې غوښتنې :

لکه څنګه چې مو مخکې په تفصيل سره بيان کړل چې حيواني طبيعت ، د انساني خلقت په تهداب کې د ځمکې او بنسټ په څير دې او په همدې ځمکې او تهداب باندې د انسانيت تعمير جوړ کړل شوې دې.

د انسان د انفرادې وجود او دهغې د نسل د پايښت له پاره چې د کومو شيانو اړتيا ده دهغې اړتياو د پوره کولو او لاس ته راوړنو له پاره الله تعالي دانسان په حيواني طبيعت کې هر څه ايښې دي. مګر د الهي فطرت منشاء هيڅکله هم دا نه ده چې د هغې ارزوګانو څخه دې کومه يوه پوره نه کړل شي ، يا دې ددې وړتياو څخه کومه يوه د فنا سره مخ کړي. ځکه چې دا ټول شيان په هر حال اړين دي او دهغې پرته انسان او دهغې نسل ژوندې نه شي پاته کيداې. مګر فطرت دا غواړي چې انسان د خپلو دغو ارزوګانو د پوره کولو له پاره او دهغې د وړتياو څخه دکار اخيستلو په وخت کې يوازې حيواني لاره خپله نه کړي ، بلکه دهغې انساني طبيعت چې د کومو امورو غوښتنه کوي او په هغې کې چې د حيواني امورو څخه پورته کومه غوښتنه شته دهغې له اړخه دهغې طريقه بايد انساني وي ، دهمدغې غرض له پاره الله تعالي شرعي حدود ټاکلي دي ترڅو د انسان ټول کړه وړه په يوه قانون کې را ونغاړي.. ددې تر څنګ يې دا اخطار هم ورکړې دې که چيرې مو د افراط يا تفريط لار غوره کړه او ددغې حدودو څخه تجاوز وکړئ نو خپل ځان به په خپله په هلاکت کې وا چوئ.

لکه چې فرمايي:

[.....وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَقَدۡ ظَلَمَ نَفۡسَهُۥۚ .... ﴿١﴾ ( اطلاق-1 )]

[چا چې د الله له پولو څخه تيري وکړ هغه ګويا په خپله په خپل ځان تيري او ظلم کړې دې]

اوس ووينئ چې په جنسي معاملاتو کې قران مجيد د انساني فطرت د کومو ځانګړتياو او غوښتنو په لور اشاره کوي:

الف - په انساني فطرت کې چې د انساني اړيکو کوم شکل اينبوول شوې دې دهغې تفصيل دادې چې:

[وَمِنۡ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنۡ خَلَقَ لَكُم مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ أَزۡوَٰجٗا لِّتَسۡكُنُوٓاْ إِلَيۡهَا وَجَعَلَ بَيۡنَكُم مَّوَدَّةٗ وَرَحۡمَةًۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾ ( الروم ٢١ )]

( او دهغه له نښانو څخه (بله ) داده چې هغه ستاسې له پاره همدا ستاسې له جنس نه ميرمنې پيدا کړې ترڅو چې تاسې له هغو سره ارام تر لاسه کړئ او ستاسې (دښځې او خاوند ) په منځ کې يې مينه او خواخوږي پيدا کړه. په باوري ډول په دې کې دهغو خلکو له پاره ډيرې نښانې دي چې غور او فکر کوي. )

[...هُنَّ لِبَاسٞ لَّكُمۡ وَأَنتُمۡ لِبَاسٞ لَّهُنَّۗ .... ﴿١٨٧﴾ (بقرة ١٨٧ )]

[هغوې ستاسې لباس دي او تاسې دهغوې لباس ياست.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې ترمخه چې په کوم آيت کې د انسان اوحيوان ،دوارو ، د جوړو د پيدا کولو يو ځاې کومه يادونه شوې هلته د زوجينو د پيدا ښت هدف يوازې د نسل پايښت په ګوته شوې و. اوس د حيوان څخه په را بيليدو د انسان دا ځانګړتياوې بيانوي چې په هغوي کې د زوجيت يو بل ستر مقصد هم شته او هغه دا چې د هغوي ترمنځ اړيکي دې يوازې شهواني نه وي بلکه هغه دې په ميني او محبت ولاړې وي. د هغوي ترمنځ دې د زړونو او روحونو د يو ځاې کيدو تعلق وي. هغوي دې يو د بل راز لرونکې او د غم او خوښۍ په وخت کې يو د بل سره شريک واوسي. دهغوي ترمنځ داسي يو ځاې والي او تړون وي لکه څنګه چې په لباس او جسم کې وي ، ددوارو جنسونو دغه اړيکي د انساني تمدن د عمارت د جوړولو د بنسټ تيږه ده لکه چې مونږ ترمخه په پوره تفصيل سره بيان کړل . ددې ترڅنګ د «لِّتَسۡكُنُوٓاْ إِلَيۡهَا » څخه هم دې لورې ته اشاره کوي چې د ښځې په وجود کې د نارينه و له پاره د سکون او راحت سرمايه پرته ده. او د ښځې فطري خدمت هم همدا دې چې هغه د نارينه دغه د هڅو او هاند او ستونزو ډکه دنيا د سکون او راحت په يوې ځنډې بدله کړي.

دا د انسان کورني ژوندډې چې غرب يې دمادي ګټو په خاطر له يوه سره اهميت له نظره غورځولې. په داسې حال کې چې د تمدن او آبادۍ په برخه کې چې څومره اهميت نورو ځانګو ته ورکړل شوې همغومره اهميت بايد دې ځانګې ته هم ورکړل شې څکه دمدني ژوند دپرمختګ له پاره دې ځانګې ته همدومره اړتيا شته لکه څومره چې نورو ځانګو ته اړتيا ده.

ب- دا جنسي اړيکي يوازې د ميړه او ښځې ددوه اړخيزه ميني او محبت غوښتنه نه کوي بلکه ددې غوښتنه هم کوي چې کوم اولاد چې د دغه اړيکو په پايلو کې پيدا کيږي دهغې سره هم بايد ژور روحاني اړيکي شتون ولري. الهي فطرت ددې له پاره د انسان ، په ځانګړې توګه د ښځې جسماني جوړښت او دحمل او رضاعت په طبيعي توګه داسې انتظام کړې چې د هغې په رګ رګ او ريښې ريښې کې د اولاد سره مينه ځاې پرځاې شوې ده .لکه چې قران مجيد کې فرمايي:

[..... حَمَلَتۡهُ أُمُّهُۥ وَهۡنًا عَلَىٰ وَهۡنٖ وَفِصَٰلُهُۥ فِي عَامَيۡنِ .... ﴿١٤﴾ (لقمان-١۴ )]

[د هغې مور هغه په کمزورۍ سره په خپله ګيډه کې و ساته او دده په (شيدو ) ورکولو يې دوه کاله و لګيدل]

[...... حَمَلَتۡهُ أُمُّهُۥ كُرۡهٗا وَوَضَعَتۡهُ كُرۡهٗاۖ وَحَمۡلُهُۥ وَفِصَٰلُهُۥ ثَلَٰثُونَ شَهۡرًاۚ....... ﴿١٥﴾ (الاحقاف١۵)]

( دهغې مور په پوره تکليف سره هغه په ګيډه کې و ساته ، د تکليف سره يې و زيږاوه او دهغې په حمل او شيدو ورکولو يې ديرش مياشتې و لګيدې]

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا ډول د سرې حال هم دې ، که څه هم د اولاد په محبت او مینه کې له ښځې څخه کم دې.

[...زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلۡبَنِينَ..... ﴿١٤﴾ (ال عمران ۱۴)]

[ښایسته کړل شوې دې دخلکو له پاره د مرغوبو شیانو محبت لکه د ښځې او اولاد]
دغه فطري محبت د انسان او انسان ترمنځ د ویني او خپلولۍ رېښې جوړوي ، بیا
دهمدغې ریښو په واسطه کورنۍ او د کورنیو نه قبیلې او ولسونه جوړیږي او دهغې د اړیکو
څخه تمدن مینځه ته را ځي.

[وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ مِنَ ٱلۡمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُۥ نَسَبًا وَصِهۡرًا ۗ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا ﴿٥٤﴾ ](
الفرقان ۵۴)

[ او هماغه ذات دې چې له اوبو نه یې یو بشر پیدا کړ بیا یې له هغه نه د نسب او خسرګنۍ
دوه بیلا بیلې لړۍ و غځولې . ستا پروردګار د ستر ځواک خاوند دی]

[يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ
أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴿١٣﴾ ] (الحجرات ۱۳)

[اې خلکو مونږ تاسې له یوه نارینه او یوې ښځې نه پیدا کړئ او بیا مو تاسې قومونه او
قبیلې وګرځولئ ترڅو چې تاسې یو تربله سره و پیژنئ . په حقیقت کې د الله په وړاندې له
تاسې نه تر ټولو زیات عزتمند هغه څوک دې چې په تاسې کې تر ټولو زیات پرهیزګاروي
په باوري ډول الله په هر څه پوهیدونکې او باخبره دې.]
د رحمنو ، نسبونو او خپلولیو رېښې په اصل کې د انساني تمدن لومړنۍ او طبیعې
مؤسسات او بنسټونه دي او دهغې د جوړښت انحصار په دې دې چې اولاد دخپل معلوم او
پیژندل شوي مور و پلار څخه وي او نسب یې خوندي وي.
(ج)- د انساني فطرت غوښتنه دا هم ده چې هغه د خپلو زحمتونو زیښنې او د خپلو ګټو وټو
څخه که څه پریږدي نو هغه دې خپل اولاد او دوستانو ته پریږدي ، هغه چاته چې ټول عمر یو
دبل سره د ویني او رحم په رشته کې را نغاړلي وي.

[... ۗ وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٍ فِى كِتَٰبِ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىۡءٍ عَلِيمُۢ ﴿٧٥﴾
(الانفال ۷۵)

( د الله په کتاب کې د ویني خپلوان یو د بل زیات حقدار دي په یقیني ډول الله په هر څه باندې
پوهیږی . )

[... ۚ وَمَا جَعَلَ أَدۡعِيَآءَكُمۡ أَبۡنَآءَكُمۡۚ .... ﴿٤﴾ (الاحزاب ۴ )]

(c) ketabton.com: The Digital Library

( او څوک چې تاسې په ځويوالي بللې وي ،هغه الله ستاسې زوې نه دې ګرځولې . )
پس د ميراث د ويش له پاره هم د نسب خونديتوب ضروري دې.
(د )- د انسان په فطرت کې د حيا جذبه يو ه فطري اوپيدا اينبتي جذبه ده. دهغې د وجود ځيني برخې داسې هم شته چې د هغې د پټولو خواهش الله جل جلاله د هغه په طبيعت کې اينبې دې. همدغه طبيعي غوښتنه ده چې دهماغه لمړيو ورځو څخه يې انسان په يو ډول نه يو ډول لباس اغوستن باندې مجبور کړی دې ، په دې هکله قران په پوره قاطعيت سره د نوې دور د نظرياتو او افکارو ترديد کوي. هغه وايي چې د انساني جسم هغه برخې چې د ښځې او نر له پاره د جنسي جاذبيت سبب ګرځي دهغې ښکاره کو لو باندې د شرم احساس او دهغې د پټولو هڅه د انساني فطرت غوښتنه ده خو شيطان غواړي چې هغه برخې بايد خلاصې وي لکه چې فرمايي:

[فَوَسْوَسَ لَهُمَا ٱلشَّيْطَٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وُۥرِيَ عَنْهُمَا مِن سَوْءَٰتِهِمَا .... ﴿٢٠﴾
(الاعراف٢٠)]

( بيا شيطان ادم عليه السلام او دهغې ښځه تيرويستل تر څو دهغوې په جسم کې چې کومې برخې دهغوې نه پټې کړل شوې وې هغه برخې هغوې ته را بربنډې کړې. ) ]

[... فَلَمَّا ذَاقَا ٱلشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ ٱلْجَنَّةِ .. ﴿٢٢﴾
(الاعراف٢٢)]

( او کله چې هغوې د هغې ونې څخه څکه وکړه نو هغوې ته د هغوې د وجود پټې برخې را ښکاره شوې نو هغوې بيا ،هغه برخې ، د جنت د ونو په پاڼو پټولې )
بيا قران وايي چې الله جل جلاله لباس په دې خاطر نازل کړ چې هغه ستاسې له پاره د ستر پټولو وسيله هم وی او د زينت او ښايست وسيله هم. خو يوازې د ستر پټول کافي نه دې دهغې سره ضروري ده چې ستاسې په زړونو کې تقوې ( د الله جل جلا له نه ويره ) هم وی.

[يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَٰرِي سَوْءَٰتِكُمْ وَرِيشًا ۖ وَلِبَاسُ ٱلتَّقْوَىٰ ذَٰلِكَ خَيْرٌ ۚ ذَٰلِكَ مِنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿٢٦﴾ (الاعراف٢٦ )

(اې د ادم بچيانو !مونږ تاسې ته کالي نازل کړي دي چې ستاسې د بدن شرم ځايونه و پوښي او ستاسې د بدن د ساتنې او ښکلا وسيله هم وي او ډيره غوره جامه د پرهيزګاری او تقوې جامه ده .دا د الله له نښانو څخه يو ه نښانه ده. په کارده چې خلک ورڅخه درس وا خلي. )
دا د اسلام د ټولنيز نظام له پاره اساسی اصول دي ددغې تصوراتو په ذهن کې د نيولو نه وروسته ددې ټولنيز نظام تفصيلي شکل ووينئ چې د همدغې اصولو په بنسټ جوړ شوی دې. ددې مطالعې په دوران کې تاسو بايد په ژوره توګه دا پلټنه وکړئ چې هغه نظريات

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې اسلام يې د خپل قانون اساس ګرځوي او په عملي او تفصيلي توګه يې نافذوي تر کومه ځايه په کې يو شان والي ، برابري ، منطقي اړيکي او مطابقت قايم پاته کيږی. د انسان په لاس جوړ شوي ځومره قوانين چې مونږ وليدل د هغوي ټولو ګډه او ښکاره کمزوري داده چې د هغوي د اساسي نظرياتو او عملي تفصيلاتو تر منځ پوره منطقي اړيکي نه شته. په اصولو او فروعو کې يې پوره تناقض ليدل کيږی. هلته چې کوم کليات بيانيږي دهغي مزاج يو ډول دي او د عمل له پاره چې کوم احساس او جذبه جوړيږي دهغي مزاج څه بله لاره خپلوی ، د فکر او تعقل په اسمانونو کې يو ډول نظر وړاندي کوي خو کله چې د اسمانونو څخه راښکته او په عملي ډګر کې داخل شی او خپلي نظريې ته د عمل کالي وراغوندی نو بيا دلته په عملی ډګر کې په داسې نورو مسايلو کې ورک شی چې هغه خپله نظريه يې هم له ياده ووځی ، د انسان په جوړ کړل شوو قوانينو کې يو هم داسې قانون نه شته چې ددغسې کمزورتياو څخه خالی وی.

اوس تاسې په ډيره ژوره توګه هغه قانون ووينئ چې د عربستان په شګلوړه کې يو نالوستې انسان د نړيوالو تر مخ وړاندي کړ چې دهغې په ترتيبولو کې هغه د هيڅ قانون جوړونکې غونډی او يا کومي انتصابی کميټې څخه مشوره وانه خيسته . اياتاسې ته دهغې په کوم ځاي کې کومه منطقي بې ربطي او يا د تناقض کوم څرک تر سترګو کيږی ؟

## داسلام ټولنيز نظام

### ۲-اصول او ارکان :

د ټولنې د تنظيم په لړ کې تر ټولو مهمه پوښتنه ، لکه چې مونږ په يوه بل ځاي کې هم ورته اشاره کړې وه، د جنسي ميلان د کاواکی او خپراوی څخه مخنيوي اود يوه قانون ، ظابطي او چوکاټ په حدودو کې يې اچول دي. ځکه چې د هغې پرته دتمدن چوکاټ جوړيداي نه شي او که جوړ هم شي نو د هغې چوکاټ دماتيدو او انسان په ډيربد اخلاقي او ذهني سقوط کې د پريوتو څخه د خوندي پاته کيدوبله لاره نه موندل کيږي. په دې خاطر اسلام د ښځې او نر خپلمنځي اړيکي په مختلفو حدودو کې رانغاړي او په يوه مرکز کې يې سره را ټولوي .

۱:- محرمات:

د هر څه تر مخه اسلامي قانون ټولې هغه ښځې او نر يو بل ته حرام کړي چې يو دبل سره په يو ځاي کې د اوسيدو يا د ډيرو نژدې اړيکو په لرلو سره مجبور دي. د نمونې په توګه :[

حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمۡ أُمَّهَـٰتُكُمۡ وَبَنَاتُكُمۡ وَأَخَوَٰتُكُمۡ وَعَمَّـٰتُكُمۡ وَخَـٰلَـٰتُكُمۡ وَبَنَاتُ ٱلۡأَخِ وَبَنَاتُ ٱلۡأُخۡتِ وَأُمَّهَـٰتُكُمُ ٱلَّـٰتِىٓ أَرۡضَعۡنَكُمۡ وَأَخَوَٰتُكُم مِّنَ ٱلرَّضَـٰعَةِ وَأُمَّهَـٰتُ نِسَآٮِٕكُمۡ وَرَبَـٰٓٮِٕبُكُمُ ٱلَّـٰتِى فِى حُجُورِكُم مِّن نِّسَآٮِٕكُمُ ٱلَّـٰتِى دَخَلۡتُم

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِهِنَّ فَإِن لَّمْ تَكُونُواْ دَخَلْتُم بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ وَحَلَٰٓئِلُ أَبْنَآئِكُمُ ٱلَّذِينَ مِنْ أَصْلَٰبِكُمْ وَأَن تَجْمَعُواْ بَيْنَ ٱلْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٢٣﴾ ﴿٢٤﴾ (النساء ٢٣ )]

( پرتاسي حرامي کړاې شوي ستاس ميندې، لوڼې ،خويندې، ترېندې ، تورېګانې، وريرې، خورزې، او ستاسي د تى شريکي خويندې، او ستاسي دښځو ميندې او ستاسې د ښځو هغه لوڼې (پرکتې)چې ستاسې په غېږکى پالل شوى دې، دهغو ميرمنو لوڼې چې ستاسې ورسره د ميږه ميرمني اړيکه راغلي وي او که(يوازې نکاح ورسره ترل شوي وي او ) د ميږه ميرمنې تماس مو نه وي نيولې نو (د هغو په پرېښودو او دهغو له لوڼو سره په نکاح کولو کي ) پر تاسې څه ګناه نشته او ستاسې د هغو زامنو ميرمني چې ستاسې له پښت نه وي او دا هم پر تاسې حرامه ده چې دوه خويندې يو ځاي په نکاح کړئ ، مګر هغه څه چې مخته تير شوي دي ، الله جل جلاله بښونکې او مهربان دې. )

د حرمت دقانون په ايجادولوېې دا اړيکې د جنسي ميلان څخه دومره پاک کړې چې ددې خپلوانو د ډلي څخه هيڅ يو نر او ښځه د بل په لورې د جنسي کشش تصور هم نشي کولاې.

(دهغو خبيثو او حيوان صفته وګړو پرته چې حيوانيت يې په هيڅ ډول اخلاقي حدودو کې نه شي را تلاې.)

۲:- د زنا حراموالي:

ددې حدودو د تاکلو وروسته يې بل بنديز دا لګولي چې تولې هغه ښځې هم حرامې دې چې بلفعل د بل چا په نکاح کې وي. (وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُمْ .....(سورة النساء۲۴ )

( اوميرونبې ښځى مګر هغه چې ستاسې په واک کې وي ، دا پر تاسو ليکلي الهي فريضه ده او له دې نه سيوا درته روا کړې شوې ، چې په خپل مال سره يې دنکاح کوونکو په حيث لټه وکړئ ، نه د زناکوونکو په حيث ، نو که په دې(مال) سره موله دې نه تمتع اخيستل غوښتل ، نو فرض مهر يې ورکړئ او له مهر نه وروسته په هغه څه کې کومه ګناه دربانده نشته چې په خپلو کې ورباندې راضى شئ بې شکه چې الله باحکمته پوه دې )

ددې پورته يادو کړل شوو نه وروسته چې کومې ښځې پاته کيږې د هغوې سره هر ډول بې بندوباره جنسي اړيکې تينګول حرام ګرځول شوې دي. لکه چې فرمايې:

(وَلَا تَقْرَبُواْ ٱلزِّنَىٰٓ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ فَٰحِشَةً وَسَآءَ سَبِيلًا ﴿٣٢﴾ ) ( بني اسرائيل ۳۲ )

[زنا ته ورنژدې کيږئ هم مه، ځکه چې هغه بې حيايې ده او ډيره خرابه لاره.]

۳:- نکاح:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددغه ډول حدودو او بنديزونو په لګولو د جنسي بې لارېو ټولې دروازې تړل شوي دي.خو د انسان د حيواني فطرت دغوښتنې او د قدرت د کار خانې دټاکلې لارې د جاري ساتلو په غرض د يوې دروازې پرانستو ته اړتيا وه ، نو هغه دروازه يې د نکاح په شکل کې پرانسته ، او ورته يې وويل چې دا اړتيا اوس تاسې پوره کړئ . خو د منتشرو او بې بندو باره اړيکو له لارې نه ، او په پټه او په غلچکي توګه هم نه، او په بې حيايې سره هم نه ، بلکه په ډانګ پيېلې اعلان سره يو ځاې ،تر څو ستاسې په ټولنه کې دا خبره په ډاګه وي چې فلانکې سړې او فلانکۍ ښځه يو د بل د ژوند ملګري شول . ( ... وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَآءَ ذَٰلِكُمۡ أَن تَبۡتَغُواْ بِأَمۡوَٰلِكُم مُّحۡصِنِينَ غَيۡرَ مُسَٰفِحِينَۚ ...... فَٱنكِحُوهُنَّ بِإِذۡنِ أَهۡلِهِنَّ وَءَاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِ مُحۡصَنَٰتٍ غَيۡرَ مُسَٰفِحَٰتٍ وَلَا مُتَّخِذَٰتِ أَخۡدَانٍۚ ﴿٢٥﴾ ......(النساء۲۵))

او له تاسې څخه چې څوک ددې وس نه لري چې له اصيلو مسلمانو ښځو ( محصناتو ) سره نکاح وکړاې شي نو ( دوې دې ) دهغوې څخه ( په نکاح کړي ) چې ستاسې ښې لاسونه يې مالکان شوي ، چې ستاسو د مؤمنو وينځو څخه دي. الله تعالي ستاسې د ايمان په حال ښه پو هيږي. تاسې ټول د يوې ډلې خلک ياست ، له دې امله دهغو د پالونکو په اجازه له هغوې سره نکاح وکړئ او په ښه (معروفه ) توګه دهغوی مهر ورکړئ. تر څو چې هغوې د نکاح په بند کې خوندي ( محصناتې ) پاتې شي. په ازدې شهوات رانۍ پسې و نه ګرځئ او نه په غلا او په په پټه ياراني وکړئ ، نو کله چې هغوې د نکاح په چوکاټ کې خوندی شي او بيا وروسته له هغه کومه بدلمني غوره کړي نو پر هغوی باندې د هغه مجازات نيمايی دې چې د اصيلو ښځو ( محصناتو ) له پاره ټاکل شويدي . دا اسانتيا له تاسې څخه د هغو کسانو له پاره منځ ته راوړل شوې ده چې له هغو سره دميرمنې نه لرلو له مخې د حدودو ماتولو انديښنه وي خو که تاسې له زغم نه کار واخلئ نو دا ستاسې له پاره غوره ده او الله تعالي ښښونکې او مهربانه دې. )

دلته د اسلام د اعتدال په لارې لږ څه غور وکړئ. کومې جنسي اړيکې چې د ازدواج د دايرې نه بيرون حرامې او د نفرت وړ دي ، هغه يې نه يوازې د ازدواج په دايره کې جايز بلکه يو نيک ، مستحسن ، د ثواب او اجر کار ګڼلې دي.

اسلام د نکاح کولو حکم کوي او دهغې څخه ځان ساتونکو او اجتناب کوونکو ته د نفرت په سترګو ګوري ، ددې تر څنګ د ميړه او ښځې تر منځ داسې اړيکې ټينګيدل په خپل ذات کې يو ستر عباد ت ګڼي ان تر دې چې که ښځه د خپل ميړه د جائزې او روا غوښتنې څخه د ځان ژغورلو په خاطر نفلی روژه و نيسي يا په لمانځه او تلاوت کې مشغوله پاته شي نو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ثواب د ترلاسه کول په ځاي ګناهګاريږي. په دې هکله د نبی اکرم صلي الله عليه وسلم د حکمت نه ډکه وينا وولولئ:

( عليکم بالبائة فانه اغض للبصر واحصن للفرج فمن لم يستطع منکم البائة فعليه بالصوم و ان الصوم له و جاء ) (ترمذي: ابواب النکاح و في هذا المعني حديث في کتاب النکاح للبخاري).

[ تاسي ته نکاح کول په کار دی ځکه چې هغه سترګې له بده نظره ساتي او د شرم ځاي د خوندی ساتلو ډير غوره تدبير دي. او څوک چې ستاسي له ډلي نه د نکاح کول قدرت و نه لري هغوي دې روژې و نيسي ، ځکه روژه شهواني ځواک کمزوري کوي. )

( و الله انی لاخشاکم الله و اتقاکم له لکنی اصوم و افطر و اصلي و ار قدوا تزوج النساء فمن رغب عن سنتي فليس مني. ) ( بخاري کتاب النکاح ).

[ په الله تعالي سوګند چې زه د الله تعالي نه په ويره کې او د هغې د نارضايتي نه د خوندي کيدو په هکله له تاسي ټولو نه زيات يم ، خو ماته و ګورئ چې روژه نيسم او افطار هم کوم لمونځ کوم او د شپې ويده کيږم هم ، او د ښځو سره نکاح هم کوم ، دغه زما لاره ده او هغه څوک چې زما د لاري پيروي و نه کړي نو هغه له ما سره هيڅ ډول اړيکي نه لري. ]

( لاتصوم المراة و بعلها شاهدا الا باذنه ) [ بخاري باب الصوم ]

[ ښځه د خپل ميړه په شتون کې دهغې د اجازې پرته نفل روژه نه شی نيولې. ]

( اذا باتت المراة مهاجره فراش زوجها لعنتها الملائکة حتي ترجع ) ( بخاري کتاب النکاح ]

[ هغه ښځّه چې د خپل ميړه څخه لرې والې وکړی ، دهغې نه جدا شپه تيره وي ، پر هغې ملائکې تر هغې پورې لعنت وايي ترڅو چې بيرته دميړه سره نه وي يو ځاي شوي. ]

( اذا راي احدکم امراة فاعجبته فليات اهله فان معها مثل الذي معها ) ( ترمذي: باب ماجاء الرجل يري المراة فتعجبه ).

[ کله چې ستاسي څخه څوک کومه ښايسته ښځه ووينې او دهغې ښايست پرې اغيز وکړي نو خپلې ښځې ته دې ورشي ځکه چې د هغې سره هماغه څه شته چې دهغې سره و. ]

ددې ټولو احکامو او لارښونو څخه د شريعت هدف دادي چې د جنسي کاواکې ټولې دروازې وتړل شي ، د جنسي اړيکو دايره د ازدواج په داخل کې را ونغاړل شي. ددې دايرې نه دباندې چې تر کومه حده پورې شوني وي د جنسي ميل ميلان له منځه ولاړ شي او هغه خوځښتونه چې د طبيعت پر غوښتنه يا د اتفاقي پيښو په واسطه را پيدا کيږي ، دهغې د تسکين له پاره يو مرکز جوړ شی ، د سړي له پاره خپله ښځه او د ښځې له پاره خپل خاوند ... تر څو انسان د ټولو غير طبعي او دخپله ځانه دراپيدا شوو هيجاناتو او د جنسي عمل دخپريدو څخه د خوندي پاته کيدو په صورت کې د خپل را غونډ کړل شوي ځواک (conserved energy) سره يو ځاي د تمدن د نظام خدمت وکړی او د جنسي محبت او کشش هغه ماده چې الله تعالي ددې کارخانې د پرمخ بيولو له پاره په هر نر او ښځه کې پيدا کړې ،ټوله د يوې کورنی د تخليق او دهغې د ټينګښت له پاره په مصرف ورسيږي.

ازدواج له هره اړخه غوره دې ځکه چې هغه د انساني او حيواني فطرتونو غوښتنه ده او د الهي قانون اهداف تر سره کوي او د ازدواج نه کول د هره اړخه يو نامعقول کار دې ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه به ددوو بدیو ښځه یوه حتما له ځانه سره لري خو دا چي انسان به دفطرت د قانون غوښتنه نه پوره کوي او خپل خواکونه به د فطرت سره په جنګ کي مصروفوي او یادا چي د فطرت د غوښتنو ښځه په مجبوریت سره به د غلطو او ناروا لارو ښځه خپلي جنسي غوښتني پوره کوي.

۴:- د کورنۍ تنظیمول:

دجنسي میلا دشتون له مخي د کورنۍ د جوړښت او دهغي د ټینګښت وروسته اسلام کورني ژوند تنظیموي، او دلته هم په پوره توازن سره د فطرت د قانون د ټولو هغو اړخونو رعایتول خوندي ساتي چي یادونه یي تر مخه وشوه.

د ښځي او نر د حقوقو په ټاکنه کي چي په کوم ډول د عدل او انصاف ښځه کار اخستل شوي د هغي تفصیلات ما په خپل یوه ځانګړي کتاب کي چي «د میړه او ښځي د حقوقو» تر عنوان لاندي چاپ شوي خپاره کړي. دهغي کتاب د مطالعي په واسطه به تاسي ته په ډاګه شي چي ددواړو صنفونو تر منځ چي تر کومه حده پوري مساوات پیدا کیداي شي هغه اسلام جوړ کړي دي، خو اسلام هغه مساوات نه مني چي د فطرت د قانون پر خلاف وي. د انسان په ځير چي کوم حقوق سړي ته ورکړل شوي هماغسي ښځي ته هم ورکړل شوي (لهن مثل الذي علیهن) خو نارینه یا زوج ته د فاعل په ځير ذاتي فضیلت (د عزت په معني نه بلکه د غلبي د تقدم په معني) [و للرجال علیهن درجة](القرة ۲۲۸).

په دي ترتیب دښځي او نر تر منځ د فاضل او مفضول دفطري اړیکو په منلو سره اسلام د کورنۍ تنظیم په لاندي بنسټونو جوړ کړي دي.

۱:- دنارینه قوامیت:

په کورنۍ کي نارینه ته د قوام (مسؤل) حیثیت ورکړل شوي یعني هغه دکورنۍ حاکم او ساتونکي دي، او دهغي د اخلاقو او کړووړو څارګر دي، په ښځه او بچیانو د هغه اطاعت فرض دي (په دي شرط چي هغه د الله تعالي او دهغي د رسول د نافرمانۍ حکم و نه کړي) او په هغه باندي د کورنۍ له پاره د روزۍ د ګټلو او د ورځني ژوند د اړتیاو د پوره کولو مسؤلیت وربار کړل شوي دي.

[ٱلرِّجَالُ قَوَّٰمُونَ عَلَى ٱلنِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ ٱللَّهُ بَعۡضَهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ وَبِمَآ أَنفَقُواْ مِنۡ أَمۡوَٰلِهِمۡۚ... ﴿٣٤﴾ (النساء۳۴)]

(سړي په ښځو باندي قوام دي او دا دهغه فضیلت په اساس چي الله تعالي دهغوي ښځه یوه ته په بل ورکړي او په دي علت سره چي هغه په هغوي باندي «د مهر او نفقي په شکل کي» خپل مال مصروفوي).

(الرجل راع علي اهله وهو مسؤل «بخاري کتاب النکاح»

(نر د خپلي ښځي او کوچنیانو حکمران دي او دخپل دغه رعیت په هکله د الله تعالي په مخکي ځواب ورکونکي دي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

[فَٱلصَّٰلِحَٰتُ قَٰنِتَٰتٌ حَٰفِظَٰتٌ لِّلۡغَيۡبِ بِمَا حَفِظَ ٱللَّهُۚ «النساء ۳۴»]

(نیکي ښځې د خپلو مېړنو اطاعت کوونکې ، او د الله تعالی په توفیق سره د خپلو مېړونو په نشتوالي کې د هغوی د ناموسونو خوندي ساتونکي اوسي.)

(قال النبي صلي الله علیه وسلم: «اذا خرجت المراة من بیتها و وزجها کاره لعنها کل ملک في السماء و کل شئ موت علیه غیر الجن و الانس حتي ترجع. «کشف الغمه»)

[نبي صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي کله چې ښځه د خپل مېړه د اجازې پرته له کوره ووځی نو د اسمان هره ملایکه پرې لعنت وایې او د جن او انس پرته هر شي چې دا پرې تیریږي ، لعنت پرې وایې ، تر هغې چې دا ښځه بیرته نه وې را ګرځیدلي.]

[وَٱلَّٰتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَٱهۡجُرُوهُنَّ فِي ٱلۡمَضَاجِعِ وَٱضۡرِبُوهُنَّۖ فَإِنۡ أَطَعۡنَكُمۡ فَلَا تَبۡغُواْ عَلَيۡهِنَّ سَبِيلًاۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيّٗا كَبِيرٗا «النساء ۳۴»]

(او د کومو ښځو څخه چې تاسې د سرکشۍ او نافرمانۍ ویره لرئ نو هغوی ته نصیحت وکړئ «که نصیحت و نه مني» نو دویده کیدو په ځایونو کې ورسره اړیکې بند کړئ «که بیا هم په خبره پوه نه شی» نو بیا یې تأدیب کړئ که چیرې ستاسې اطاعت یې وکړ نو بیا پرې د تیرې له پاره هسې بهانې مه لټوئ ، باور ولرئ چې له پاسه الله تعالي شته چې لوی او ډیر ستر پوه دي)

همدا راز نبي صلي الله علیه وسلم فرمایې:

[لا طاعة لمن لم یطیع الله «روا احمد» و من حدیث: لا طاعة في معصیة الله «رواه احمد من حدیث بن حصین»]

(د نبي کریم صلي الله علیه وسلم وینا ده : هغه څوک چې د الله تعالي اطاعت و نه کړي تاسې دهغې اطاعت و نه کړئ ، د الله تعالي په نافرمانۍ کې د هیچا فرمانبرداري نه کیږي.

فرمانبرداری یوازی په معروفو کې ده «داسې حکم کې چې جایز او معقول وي»)

[وَوَصَّيۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيۡهِ حُسۡنٗاۖ وَإِن جَٰهَدَاكَ لِتُشۡرِكَ بِي مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٞ فَلَا تُطِعۡهُمَآۚ إِلَيَّ مَرۡجِعُكُمۡ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ۝٨ «عنکبوت ۸»]

(او مونږ انسانانو ته لارښوونه کړې ده چې هغوی د خپلو والدینو سره په ډیر ښه شان سلوک وکړي خو که چیرې هغوی تا ته حکم وکړي چې تاسې زما سره کوم شریک جوړ کړئ د کوم له پاره چې نه له تاسې سره او نه له هغوي سره» کوم دلیل شته، نو په دغسې حکم کې د هغوي اطاعت مه کوئ.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دي توګه د کورنۍ جوړښت داسې شوي چې په هغې کې يو کس مشر او د امر خاوند وي.
ځوک چې په دي نظم کې د ګډوډيدو د راوستلو هڅه وکړي نو دهغې کس په هکله د نبي صلي الله عليه وسلم وعيد دادي:

[من افسد امراة علي زوجها فليس منا «كشف الغمة»]

(ځوک چې د ميړه او ښځې تر منځ د اړيکو د خرابيدو هڅه وکړي د هغې کس له مونږ سره هيڅ اړيکي نه شته «زمونږ له ډلې ځخه نه دي»)

## ۲:- د ښځې د کار چاپيريال:

د کورنۍ په تنظيم کې ښځه د کور مسؤله تاکل شوې ده، د روزۍ او مال د پيدا کولو مسؤليت دهغې د ميړه په غاړه دي او دهمدغې مال په واسطه دکورنظم و نسق جوړول ددې کار دي.)

[المراة راعية علي بيت زوجها و هو مسؤلة «بخاري باب قوا انفسكم و اهليكم نارا»]

(ښځه د خپل ميړه دکور حاکمه ده او هغه د خپل حکومت په چاپيريال کې دخپلو اعمالو له پاره ځواب ورکونکې ده.)

ښځه د داسې ټولو دندو د سرته رسولو ځخه مصؤنه او خوندی کړل شوي چې دکور نه د بيروني امورو پورې اړوند وی. د نمونې په توګه:

- په ښځې د جَمعي لمونځ واجب نه دي «ابوداود باب الجمعه للمملوک و المراة»
- په ښځې جهاد هم فرض نه دي که څه هم د اړتيا په وخت کې د مجاهدينو خدمت ته ور دانګلی شي لکه چې په راتلونکو پاڼو کې به يې په تفصيل سره ولولئ.
- ښځې ته په جنازه کې ګډون هم ضروری نه دي بلکه دهغې نه يې بنده کړې ده «بخاري باب اتباع النساء الجنائز»
- په ښځې د جماعت لمونځ او مسجدونو ته تګ هم لازمي کړل شوي نه دي، که څه هم د څه بنديزونو او شرايطو سره مسجد ته د تللو اجازه ورته شوې خو هغه هم غوره نه دي ګڼل شوي.
- ښځې ته د محرم نه پرته د سفر کولو اجازه هم نه ده ورکړل شوې «ترمذي ماجاء في كراهيته ان تسافر المراة وحدها – ابوداود باب المراة تحج بغير محرم»

يعني په هره طريقه د کور ځخه د ښځې وتل ښه او غوره کار نه ګڼل کيږی او دهغې له پاره په اسلامي قانون کې په کور کې پاته کيدل بهترين کار ګڼل شوي دي. لکه څنګه چې د الله تعالي د وينا له مخې ورته د «وقرن في بيوتكن» الفاظ استعمال شوي دي.

[ځينې خلک وايي چې دا حکم د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د پاکو بيبيانو او د امت د ميندو له پاره ځانګړي شوي، ځکه چې د آيت پيل د «يا نساء النبي» ځخه کيږی خو په دغه ټول آيت کې چې کومې لارښوونې شوی دي په هغوي کې به کومې داسې لارښوونې وي چې يوازې د امهات المؤمنين پورې ځانګړې شوې وی؟

دلته ويل شوې دی چې: «که چيرې تاسې پرهيزګارانې ياست نو د چاسره په نرمه او خوږه لهجه «چې ميلان ترې را ځرګنديږي» خبرې مه کوئ، دا په دې خاطر چې که د چا په زړه کې څه خلل وي هغوي ستاسې په اړوند په زړه کې څه هيلې را پيدا نه کړي. کومه خبره چې کوئ نيغ په نيغه يې وکړئ. په خپلو کورونو کې ناستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسئ ، د جاهلیت سنیگار مه کوئ او بهر مه گرځئ ، لمونځ ادآء کړئ ، زکات ورکړئ د الله تعالي او دهغه د رسول «صلي الله علیه وسلم» اطاعت وکړئ ، الله تعالي غواړی له تاسي څخه نا پاکي لرې کړي. ]
په دي لاربښوونو غوروکړئ په هغې کې کومه داسي خبره ده چې د عامو مسلمانو ښځو له پاره به نه وی ؟ ایا مسلماني ښځې باید پرهیزګاري نه اوسي ؟ ایا هغوي دې د پردیو خلکو سره د محبت په انداز کې خبري وکړي ؟ ایا هغوي دې د جاهلیت سینګار وکړي او په کوڅو او بازارو کې دې وګرځي ؟ ایا هغوي دې لمونځ او زکات او د الله تعالي او دهغه د رسول «صلي الله علیه وسلم» د اطاعت څخه انحراف وکړي ؟ ایا الله تعالي هغوي په ناپاکۍ کې ساتل غواړي ؟ که چیرې دا ټول عبادات د ټولو مسلمانانو ښځو له پاره عام وی نو بیا یوازې د «وقرن في بیوتکن» امر ولې د نبي کریم علیه السلام پاکو بیبیانو له پاره ځانګړې شي ؟
په اصل کې دا غلطه انګیرنه په دې خاطر را پیدا شوي چې د آیت په پیل کې خلکو ته دا ټکی تر سترګو شو چې « اې دنبي ښځو ! تاسي د عامو ښځو په څیر نه یاست» لیکن د بیان شکل دادې چې لکه څنګه چې کوم شریف کوچنی ته وویل شي چې « ته دعامو کوچنیانو په څیر نه یې چې په بازارونو کې وګرځی او بیهوده منډې ترړې ووهي ، ته باید پاکیزه واوسي ،» دداسي ویلو څخه هدف دا نه دې چې د نورو کوچنیانو له پاره بازاري کیدل او بیهوده حرکتونه کول یوه غوره کار دي او په ښه تمیز سره اوسیدل د هغوي په حق کې کوم مطلوب شیز نه دي بلکه دهغي څخه د اخلاقو د ښایست یو معیار جوړول هدف دې تر څو هر هغه کوچني چې د شریفو کوچنیانو په څیر ژوند کول غواړی دغي معیار ته د رسیدو هڅه وکړي.
په قرآن کې ښځو ته د پند ورکولو دغه طریقه په دې خاطر استعمال شوې چې د عربي جاهلیت په ښځو کې همدغسې ازادي موجوده وه لکه څنګه چې نن په اروپا او امریکا کې ده ، د نبي کریم صلي الله علیه وسلم په واسطه په تدریج سره هغوی د اسلامي تهذیب پیرو وګرځیدې او دهغوي له پاره اخلاقي پولې او د ټولنې ضوابط و ټاکل شول. په دغه حالت کې د امهات المؤمنین ژوند په ځانګړې توګه منضبط کړل شو . تر څو هغوي د نورو ښځو له پاره نمونه وګرځي او دعامو مسلمانانو په کورنو کې د هغوي د تګلارې تقلید وکړل شي [ همدغه نظر علامه ابوبکر په خپل کتاب احکام القران دریم ټوک **۵۵** مخ کې یاد کړې او لیکلی یې دي چې :( که څه هم دغه حکم د نبي کریم صلي الله علیه وسلم او دهغې د ښځو په هکله نازل شوي دي خو هدف یې عام دي او نور ټول مسلمانان هم ورسره ګډ دي ، ځکه چې مونږ دهغي په پیروی باندې مامور یو . او هغه ټول احکام چې د هغه له پاره نازل شوي دي زمونږ له پاره هم دي ، پرته له هغې امورو څخه چې دهغې په هکله وضاحت شوي چې هغه امور د هغوي له پاره ځانګړي دي. ]
الله تعالي تاسي ته اجازه درکړې چې تاسي دخپلو اړتیاو له پاره د کوره وتلای شئ. خو دا ډول اجازه یې یوازې د حالاتو په خاطر ورکړې او د اسلام د ټولنیز نظام ددې قاعدې چې «د ښځې د کار دایره دهغې کور دي» دا یوازې او یوازې وسعت او رخصت دي او په همدې پاته کیدل په کار دي.

۳:-ضروري بندیزونه:

بالغو ښځو ته په خپلو شخصي کارونو کې پوره ازادي ورکړل شوې خو هغوي ته تر دې حده پورې خپلواکي نه ده ورکړل شوې لکه څومره چې یو بالغ نارینه ته ورکړل شوې دنمونې په توګه:
نارینه په خپل واک سره چیرته چې وغواړی تللای شی ، خو ښځه که پیغله وي او که واده شوې او یا کونډه وي په هر حال کې اړتیا لري چې د سفر په وخت کې ورسره یوه محرم موجود وی، لکه چې فرمایي:
[لایحل لامراة تؤمن بالله و الیوم الاخر ان تسافر سفرا یکون ثلاثة ایام فصاعدا الا ومعها ابوها واخوها او زوجها او ابنها او ذومحرم منها ]

(c) ketabton.com: The Digital Library

(هرې هغې ښځې ته چې په الله تعالي او د اخرت په ورځ ايمان لري دا روا نه ده چې هغه درې ورځې او يا دهغې څخه ډېر سفر وکړي پرته له دې چې دهغې سره دهغه پلار يا ورور يا ميړه يا زوي يا کوم محرم نارينه وي.)

[و عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلي الله عليه وسلم انه قال: لا تسافر المراة مسيره يوم و ليلة الا و معها محرم و العمل علي هذا عند اهل العلم(ترمذي باب ماجاء في اكراهة ان تسافر المراة وحدها )]

(ابو هريرة رضي الله عنه د نبي کريم صلي الله عليه وسلم له خولي فرمايي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم وفرمايل چې ښځه دې د يوې شپې او ورځې په اندازه يوازې سفر نه کوي تر هغه چې کوم نارينه محرم ورسره نه وي )

[و عن اي هريرة رضي الله عنه ايضا ان النبي صلي الله عليه وسلم قال لايحل لامراة مسلمة تسافره مسيرة ليلة الا و معها رجل ذوحرمة منها «ابوداود باب المراة تحج بغير محرم»]

(دابو هريرة رضي الله عنه څخه دا هم روايت دي چې نبی کريم صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د هيڅ يوې مسلماني ښځې له پاره دا روانه ده چې «په يوازې ځان»د يوې شپې سفر وکړي مګر دا چې کوم خپل محرم ورسره وي )

په دې رواياتو کې چې د سفر د ټاکلو له پاره څه اندازه ټاکل شوي ، هغه ددې ثبوت دي چې د يوې ورځې يا دوه ورځو پوښتنه ترې نه را پيدا کيږي بلکه اهميت يوازې ددې خبرې دي چې ښځې ته په يوازې ځان د سفر داسې اجازه مه ورکوئ چې د فتنې سبب ګرځي. په همدې اساس نبي کريم صلي الله عليه وسلم د سفر د اندازې د ټاکلو د اړتيا اهتمام نه دي کړي او په مختلفو حالاتو کې يې د وخت او موقع په نظر کې نيولو سره د سفر مختلفې اندازې ښوولې دي.

نارينه ته د خپلې نکاح په هکله پوره پوره ازادي ورپه برخه ده ، د مسلمانو يا دکتاب د خاوند و ښځو «کتابيانو» سره له چا سره چې و غواړي نکاح کولې شی ، وينځې هم ساتلای شی خو ښځې ته هيڅکله هم په دې هکله پوره واک نه دې ورکړ شوي چې هغه دې د کوم غير مسلمان سره واده وکړي. لکه چې فرمايي:[... لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ... «الممتحنه ١٠»]

(نه دا د هغوي له پاره حلاله ده او نه هغوي ددې له پاره حلال دي )

ښځه د خپل غلام څخه هم تمتع «جنسي خوند» نه شی اخيستلای لکه څنګه چې قرآن سرې ته د وينځې څخه د تمتع «جنسی خوند» او ګټې اخيستو اجازه ورکړې ، دغسې اجازه ښځې ته نه شته ، دحضرت عمر رضي الله عنه په وخت کې يوې ښځې د «ماملکت ايمانکم......» په غلط تعبيرولو سره ، د خپل غلام سره يو ځای شوه،کله چې سيدنا عمر رضي الله عنه ته خبر ورسيد نو هغه دا مسئله د صحابه و شورا ته وړاندې کړه او ټولو په اتفاق سره فتوا ورکړه چې:[قبحها الله تاولت کتاب الله فغيرت تاويله ] (هغې د الله دکتاب غلط تاويل او معني کړې ده.)

يوې بلې ښځې د سيدنا عمر رضي الله عنه نه د همداسې يوه کار اجازه و غوښته ، هغه هغې ښځې ته په سختۍ سره و فرمايل:(لن تزال العرب بغير ما منعت نساؤها «کشف الغمه للشعراني» )

(د عربو خير ښيګڼه تر هغې پورې ده چې ښځې يې خوندي وي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غلامانو او کافرانو پرته په ازادو مسلمانو نارینه وکې ښځه د خپل ځان له پاره د میړه ټاکنه کولې شی خو په دې کار کې هم دهغوی له پاره د خپل پلار، نیکه، او ورور او نورو خپلوانو د نظر اخستل ضروري دي. که څه هم خپلوانو ته داحق نه شته چې د ښځې درضا او رغبت پرته یې له چاسره نکاح وکړي. لکه چې نبی کریم صلي الله علیه وسلم فرمایي: [الایما حق بنفسها من ولیها] (کونډه د خپلې نکاح په هکله د ولي څخه زیات حق لري) او [لا تنکح البکر حتي تستأذن] (پیغلې نجونې تر هغې په نکاح مه ورکوئ تر څو چې مو ترې د نکاح کولو اجازه نه وی غوښتې.) خو د ښځې له پاره هم دا مناسبه نه ده چې د خپلې کورنۍ د مسؤلینود راي او نظر پر خلاف د هر چار سره چې و غواړي نکاح وکړي په دې خاطر په قران مجید کې هر چیرته چې د نارینه د نکاح حکم شوي نو هلته د «نکح ینکح» صیغه استعمال شوې چې معنې یې پخپله د نکاح کولو ده، د نمونې په توګه [و لاتنکحوا المشرکات] (د مشرکو ښځو سره نکاح مه کوئ)

[فانکحوهن باذن اهلهن] (د هغوی سره د هغوی د کورنیو د اجازې وروسته نکاح وکړئ)

خو هغه ځای چې د ښځې د نکاح پورې اړه لري هلته په عامه توګه په باب افعال کې د نکاح صیغه استعمال شوې چې معنې یې نکاح کول دي د نمونې په توګه: [انکحوا الایامي منکم «النور ۳۲»] (د خپلو کونډو ښځو سره نکاح وکړئ) او [و لا تنکحوا المشرکین حتي یؤمنوا «البقرة ۲۲۱»] (د ښځو نکاح د مشرکانو سره مه ترئ تر څو چې هغوی ایمان را نه وړی). ددې معنې داده چې لکه څنګه چې واده شوې ښځه د خپل میړه تابع اوسي، همدا راز ناواده شوې ښځه هم د خپلې کورنۍ د مسؤلو وګړو تابع وی خو دا تابعیت په دې معنې نه دې چې هغې ته د ارادې او عمل ازادې نه وي ورپه برخه، یا هغې ته په خپله معامله کې واک نه وې تر لاسه، بلکه دا په دې معنې ده چې ټولنیز نظام د ګډوډیو څخه وساتل شي. د بهرنیو فتنو څخه د کورنۍ د اخلاقو او معاملاتو خوندی ساتل د سرې په اوږو دي او د همدغې نظم په خاطر په ښځې دا فرض کړل شوي چې هر ځوک چې د دې نظم مسؤلیت په غاړه و لري نو دهغوې اطاعت وکړي که هغه د هغې پلار وي، ورور وي یا میړه وي.

**۴:- د ښځو حقوق:**

په دې ترتیب اسلام د «بما فضل الله بعضهم علي بعض» د یوه فطري حقیقت د منلو سره یو ځای د «وللرجال علیهن درجة» ته هم سهي ځای ټاکلی دی، د ښځې او نر د بیولوژیکي او رواني اړخونو تر منځ د رعایت له مخې چې کوم توپیر شته، هم هغه په واقعي توګه منې، او څومره تو پیر چې ددوې تر منځ موجود دي په همغې اندازه یې ساتي او دهمدې تو پیر په اساس دهغوې دندې او مرتبې ټاکي.

ددې وروسته یوه ډیره مهمه پوښتنه د ښځې دحقوقو په هکله را پورته کیږی؟ ددغې حقوقو په ټاکلو کې اسلام، په ځانګړې توګه، ددې درې خبرو لحاظ کړې دي.

I. دا چې نارینه ته دکور د نظم او ادارې په خاطر کوم حاکمانه واک ورکړل شوي باید هغه دهغې څخه داسې ناروا ګټې پورته نه کړي چې د هغې له مخې د ظلم او تیرې مرتکب وګرځي او نه داسې وکړي چې د تابع او متبوع اړیکې یوه له بله سره د وینځې او بادار په اړیکو بدل کړي.

II. دا چې ښځې ته ټول داسې فرصتونه برابر کړي چې دهغې نه په ګټې سره، هغه د خپل ټولنیز نظام په پولو کې دننه، خپلو فطري صلاحیتونو ته وده ورکړې او په تعمیر او تمدن کې په ښه توګه ونډه واخیستلاي شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

III. داسې چاپېريال جوړکړي چې په کې ښځو ته د پر مختګ او برياليتوبونو لوړو مرتبو ته رسيدل شوني شي .خو دهغې پر مختګ او برياليتوبونه چې هر څه وي بايد د ښځې په حيث وي.ځکه چې نر جوړيدل خو نه دهغې حق دې ،او نه د نارينه په څير ژوند تيروني له پاره دهغې تيارول په خپله همهغې او تمدن دواړو ته ګټور ،او نه د نارينه په څير ژوند کولو کې هغه سوبمنده کيداې شي.

د پورته درې واړو موادو په نظر کې نيولو سره چې اسلام کوم پراخه تمدني او ټولنيز حقوق ښځو ته ورکړي او د عزت او شرف کومه لوړه مرتبه يې ورکړې ده او بيا يې چې د همدې حقوقو او مراتبو دخوندی ساتلو په خاطر په خپلو قانوني او اخلاقي لارښونو کوم تلپاتې ضمانتونه ورکړي دې دهغې نمونه د نړۍ په هيڅ يو پخواني او يا نوي ټولنيز نظام کې نه موندل کيږي. دنمونې په توګه:

۱:- اقتصادي حقوق:

تر ټولو مهم او اړوند څيز چې دهغې په واسطه په تمدن کې د انسان حيثيت جوړيږي او يا د کوم په واسطه چې د انسان حيثيت خوندي پاته کيږي هغه دهغې د اقتصادي حثيت ټينګښت دې. د اسلام نه پرته نورو ټولو قوانينو ښځه داقتصادي اړخه ډيره کمزورې کړې او همدغه اقتصادي بې وسي ، په ټولنه کې د ښځې د غلامۍ تر ټولو ډير ستر لامل ګرځيدلې.

اروپا ددغې حالت د بدلون هڅه وکړه مګر داسې چې ښځه يې د مال په ګټلو مجبوره کړه خو دهغوې دا هڅه د يوې بلې خرابۍ لامل شوه . اسلام د اعتدال منځنۍ لار غوره کړې . اسلام ښځې ته د وراثت پراخه حقوق ورکړي . ښځه د پلار ، ميړه ، اولاد او نورو نږدې خپلوانو څخه ميراث وړي۱.

[۱/ په وراثت کې دښځې برخه د سړي په نيمايي ده. ددې علت دادې چې ښځې ته د نفقې او مهر حق ور په برخه شوې دې. چې سړې ترې بې برخې دې . د ښځې نفقه يوازې دهغې په خاوند واجب نه ده بلکه دميړه د نه موجوديت په وخت کې پلار ، ورور ، زوې او نورو خپلوانو باندې دهغې کفالت واجب دې ، نو کله چې په ښځه باندې هغه مسؤليتونه نشته کوم چې په يوه سړي باردې نو په وراثت کې د هغې حقوق هم بايد هومره نه وي لکه د سړي چې دي. ]

همدا اراز د ميړه له خوا ورته مهر هم ورکول کيږي. او د ټولو هغه اړخونو څخه چې ورته مال ور رسيږي په هغې کې ورته د ملکيت او تسلط پوره پوره حقوق ورکول شوي دي. په دغه مال کې نه دهغې پلار ، نه دهغې ميړه او نه بل څوک تصرف او مداخله کولې شي. ددې نه اخوا که هغه په تجارت کې خپله پانګه په کار واچوی او يا پخپله مزدوري وکړي او څه ګټه وټه ترلاسه کړي نو دهغې مالکه هماغه پخپله ده. خو ددې ټولو ترڅنګ د هغې نفقه په ميړه باندې واجب ده ، ښځه چې د هرڅومره ډير مال او پانګې لرونکې وي دهغې ميړه دهغې د نفقې څخه بري الذمه کيدې نه شي . په دې ترتيب په اسلام کې د ښځو اقتصادي حيثيت دومره ټينګښت مومي چې ډيروختونه هغه د سړي څخه په ډير ښه حالت کې اوسي.

۲:- مدني حقوق:

- ښځې ته دميړه د غوره کولو پوره پوره حق ورکړل شوي . دهغې د رضا او خوښې پرته هيڅوک دهغې نکاح نه شي کولاې او که هغه پخپله خوښه دکوم مسلمان سره نکاح وکړي نو هيڅوک يې مخنيوې نه شې کولې خو که چيرې دهغې انتخاب داسې يو څوک وي چې دهغې دکورنۍ د مرتبې څخه ښکته وي نو په دې حال کې دهغې خپلوان پرې نيوکه کولې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ديوه ناخوښه ، ظالم او بې كاره ميړه په مقابل كې ښځې ته د فسخ او بيلتون پراخه حقوق وركړل شوي دي.
- هغه واكمنى چې اسلام ميړه ته په ښځې باندې وركړې دهغې په استعمال كې د نيک سلوک لارښوونه شوې . قران مجيد فرمايي چې «..و عاشروهن بالمعروف..» (د ښځو سره نيک او ښه سلوک و كړئ.) او «ولا تنسوا الفضل بينكم...»( په خپل منځې اړيكو كې فياضي او سخاوت له پامه مه باسئ. )

نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمايي چې:[ خيركم خيركم لنسائه و الطفهم باهله....] ( ستاسې له منځه ښه او غوره خلک هغوي دي چې د خپلو ببيبانو سره نيک سلوک كوي او د خپل اهل و عيال سره د لطف او مهرباني معامله كوي ).

دا يوازې اخلاقي لارښوونه نه ده ځكه كه چيرې ميړه دخپلې واكمنۍ او ځواک په استعمال كې د ظلم او تيرى څخه كار واخلي نو ښځې ته د قانون څخه دكومک غوښتلو پوره حق ورپه برخه دي.

- كونډو ، طلاقو شوو ښځو او ټولو داسې ښځو ته چې نكاح يې د قانون په اساس فسخ شوى وي او يا د تفريق دحكم په اساس دخپلو ميړونو څخه بيلې شوي وي ددويمي نكاح غير مشروط حق وركړل شوې او دا يې ډاګيزه كړې چې پر هغوي باندې د پخوانى ميړه او يا نورو خپلوانو هيڅ حق نه پاته كيږى. دا هغه حق دي چې ترنن ورځې پورې په امريكا او اروپا كې او يا نورو ،په اصطلاح پرمختللو ، هيوادونو كې ښځو ته لا تراوسه نه دي وربه برخه شوې.
- په تعزيري او جزايى قوانينو كې دښځې او سړى ترمنځ پوره مساوات او برابري په نظر كې نيول شوې ده. د ځان ، مال او عزت خوندى ساتلو كې اسلامي قوانين د نر اوښځې ترمنځ هيڅ ډول توپير نه مني.

**٣:- دښځو ښوونه او روزنه:**

ښځو ته ددينې او دُنيوى علومو د زده كړې نه يوازې اجازه وركړل شوې بلكه دهغې ښوونه او روزنه هغومره اړينه ده لكه څومره چې د نارينه و اړينه ده. له پيغمبر صلي الله عليه وسلم څخه چې ددين او اخلاقو ښوونه څومره نارينه و تر لاسه كوله په هماغه اندازه ښځو ترې هم تر لاسه كوله. هغه د ښځو له پاره ځانګړي وختونه ټاكلي و اوپه هماغه ټاكلو وختونو كې به ښځې د پيغمبر صلي الله عليه وسلم څخه د علم د حاصلولو له پاره را تللې. د هغه په پاكو ببيبانو كې ، په ځانګړې توګه سيدة بي بي عايشة رضي الله عنها نه يوازې د ښځو بلكه د نارينه و معلمه هم وه. او يو زيات شمير سترو سترو صحابه و رضي الله عنهم او تابعينو ترې د حديثو ، تفسير او فقهي پوهه تر لاسه كوله.

اشراف خو پريږده ، نبي اكرم صلي الله عليه وسلم وينځو او غلامانو ته هم د عمل او ادب د ورزده كولو حكم كړې. لكه چې نبي اكرم صلي الله عليه وسلم فرمايي:

[ايما رجل كانت عنده وليده فعلمها فاحسن تعليمها و ادبها فاحسن تاديبها ثم اعتقها و تزوجها فله اجران)بخاري كتاب النكاح )]

(له چاسره چې كومه وينځه وي او هغه هغې ته ښه ښوونه او روزنه وركړي او هغې ته ښه تهذيب او اخلاق ورزده كړي بيا هغه ازاده كړى او واده ورسره وكړي نو هغې ته دوه برابره اجر وركول كيږى )

نو تر كومه چې د تعليم او روزنې پورې اړه لري اسلام د نر او ښځې ترمنځ په هيڅ ډول برترى او امتياز نه دي قايل. يوازې په نوعيت كې يې څه تو پير شته ، د اسلام له نظره د ښځو غوره تعليم دادي چې د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه یوه ډیره ښه ښځه ، غوره مور ، او دکور د سنبالښت بهترینه نمونه جوړه کړل شي. دهغې د کار دائره دهغې کور دي . په دي خاطر ښځې ته په ځانګړې ډول د همغسې علومو ښوونه په کاره ده چې په همدغه چاپیریا ل کي دهغې له پاره ډیر ګټه وره ثابته شي. ددې تر څنګ دهغې علومو زده کړه ورته هم ډیره اړینه ده چې د انسان ښځه انسان جوړوونکې او دهغې د اخلاقو ښایسته کوونکې او دهغې د نظر پراخوونکې اوسي. په داسې علومو او په داسې روزنې او ښوونې باندې د یوې مسلمانې ښځې سنبالښت ته اړتیا ده له دې وروسته که چیرې کومه ښځه ځه د فوق العاده استعداد خاونده اوسی او ددې علومو نه اخوا د نوورو علومو او فنونو زده کړه او دښونې او روزنې اعلې مرتبې ته ځان رسول غواړې نو اسلام د هغوې په لاره کې کوم بندیز نه پیدا کوې په دې شرط چې دهغو شرعې پولو او حدودو څخه تیرې و نه کړې چې شریعت د ښځو له پاره ټاکلې دي.

۴:-دښځې ریښتونې ازادي(Emancipation):

دا خو یوازې د حقوقو یادونه وه خو ددې څخه د هغه عظیم او ستر احسان اندازه، چې اسلام پر ښځو کړې، نشي کیداې .

د انسانې تمدن ټول تاریخ په دې ګواه دي چې د ښځې وجود په نړۍ کې د شرم ، ذلت او ګناه وجود ګڼل کیده، د لور پیدا کیدل د پلار له پاره د عیب نه ډکه او د ننګ خبره وه ، د خسرګنۍ اړیکو ته ډیر سپک کتل کیدل. ان تردې چې د خسر او زوم الفاظ د جاهلیت په هغه دور کې دښکنځلو په معنا وو ، ډیرو ولسونو کې دهمدغه ذلت او سپکوالي نه د خوندې پاته کیدو په خاطر د لونو د وژلو رواج یو کلتور ګرځیدلې و ۱.

[۱:- قران مجید دغه جاهلي ذهنیت په ډیرو ځرګندو ټکو کې داسې بیانوي: وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِٱلۡأُنثَىٰ ظَلَّ وَجۡهُهُۥ مُسۡوَدّٗا وَهُوَ كَظِيمٞ ﴿٥٨﴾ يَتَوَٰرَىٰ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ مِن سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓۚ أَيُمۡسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ أَمۡ يَدُسُّهُۥ فِي ٱلتُّرَابِۗ أَلَا سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ﴿٥٩﴾ «النحل ۵۸-۵۹» )

( او کله به چې یو دهغوې ته د لور د پیدا کیدو خبورسید ، نو دهغې پر مخ به داسې سیورې را خپور شو لکه چې د زهرو غړپ یې څکلې وي. ددې خبر په واسطه به چې کوم د شرم داغ په هغې باندې لګیده دهغې په خاطر به دخلکو څخه پټ ګرځیده او فکر به یې کاوه چې ددې سپک والي سره خپله لور له ځانه سره واخلي او یا دا چې په خاورو کې یې ورښخه کړي. خبردار بد وو هغه څه چې دوې پرې حکم کاوه.)]

نا پوه او جاهل خلک خو پریږده دعلماو او مذهبي پوهو خلکو تر منځ دا پوښتنه تر ډیرې مودې پورې د بحث او څیړنې لاندې وه چې: ایا ښځه د انسانانو په صف کې راځي او که نه؟ او ایا الله تعالی هغوې ته روح ورکړې او که نه؟ د هنداوانو په مذهب کې د ښځو پر مخ د ښودنې اوروزنې دروازې بندې کړل شوې . د مسیحیت او یهودیت له آنده ، ښځه د انسانی ګناهونو بنسټ اېښودونکې او مسؤله ده. په یونانې تمدن کې ښځې ته نه د علم او نه د ثقافت او تهذیب او نه د مدنی حقوقو څخه ورکول کیده. بلکه دغه ټولې دروازې دهغې پر مخ تړلې وې . کله به چې هم دغه څه کومې ښځې تر لاسه کول نو داسې ښځې به عیاشې،او رنډې بلل کیدې. په روم ،ایران او چین کې او همداراز مصر او د انسانې تهذیب په نورو مرکزونو کې نژدې همدغه حال و . د پیړیو پیړیو د مظلومیت او محکومیت او د سپکاوی او حقارت نه ډک سلوک پخپله د ښځو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذهنو ځخه هم د نفس د عزت احساس لرې کړې و. هغوې پخپله هم دا خبره هيره کړې وه چې هغوې نړۍ ته د څه حقوقو سره يو ځاې را غلي او يا دا چې هغوې ته څه د عزت ځاې هم شته !!
نارينه و پر هغوې ظلم او تيرې خپل جايز او روا حقو ګانه او هغوې د دغه ظلم او تيرې زغم دخپل ځان فرض ګانه. د غلامۍ او ښځې توب ذهنيت په هغوې کې دومره وده کړې وه چې هغوې په پوره فخر سره خپل ځان د خپل ميړه وينځه ګڼله او مړونه يې خپل معبودان ګڼل.
اسلام ،په دغه چاپيريال کې نه يوازې په قانونی او عملي بنې سره ، بلکه په فکري توګه هم يو ستر بدلون را منځته کړ . دا اسلام و چې د ښځو او نرو ذهنونه يې بدل کړل. د ښځې عزت او دهغې د حقوقو فکر يې د انسان په دماغ او کوپړۍ کې را پيدا کړ ، نن چې تاسې د ښځو د حقوقو او د ښځو د بيداريدو کوم شعارونه اورئ دا ټول دهغې ولوله پيدا کوونکې اواز غبرګون او انګازې دې چې د محمد صلي الله عليه وسلم د مبارکې ژبې ځخه را پورته شوې چې انساني افکار يې د خپل دغه اواز په واسطه د تل له پاره بدل کړل. دا همدغه محمد صلي الله عليه وسلم و چې نړۍ ته يې په ډاګه کړه چې ښځه همدغسې يو انسان دې لکه څنګه چې نارينه دې. لکه چې فرمايي:
[ياايهاالناس اتقوا ربکم الذي خلقکم من نفس واحدة و خلق منها زوجها «النساء-۱»]
( اې خلکو له خپله هغه رب نه ووېريږئ چې هغه تاسې له يو تن ځخه پيدا کړئ او له هماغه تن ځخه يې د هغه جوړه مينځ ته راوړه. )
د الله تعالي له نظره د ښځې او نر تر منځ هيڅ تو پير نشته، لکه چې فرمايي:
[للرجال نصيب مما اکتسبوا و للنساء نصيب مما اکتسبن « النساء۳۳»]
( هر هغه عمل چې نارينه يې وکړي دهغې ميوه به تر لاسه کړی او هر هغه عمل چې ښځې وکړې د هغې ميوه به تر لاسه کړي )
د ايمان او نيک عمل سره يو ځاې چې د روحاني پر مختګ کومه مرتبه نارينه و ته ور په برخه شوې همغسې مرتبه ښځې ته هم ور په برخه ده که چيرې نارينه ابراهيم بن ادهم جوړيداې شي نو ښځه هم د رابعه بصريه د جوړيدو ځخه هيڅ شې نه شی بندولاې. لکه چې فرمايي:
[فاستجاب لهم ربهم انی لا اضيع عمل عامل منکم من ذکر او انثي بعضکم من بعض.....(العمران ۱۹۵)]
(دهغو پروردګار د هغوې ددعا په ځواب کې وفرمايل چې زه ستاسې د هريو عمل کوونکي عمل نه ضايع کوم که څه هم هغه نارينه وي يا ښځه ، تاسې ټول يو دبل له جنسه ياست.)
[و من يعمل من الصالحات من ذکر او انثي و هو مؤمن فأولئک يدخلون الجنة و لايظلمون نقيرا «النساء»]
(او هر هغه څوک چې نيک عمل وکړی که سړې وي يا ښځه خو مؤمن وي نو دغه ډول خلک به جنت ته داخليږي او په هغوې باندې به د ذرې په اندازه هم ظلم نه کيږی )
بيا همدغه محمد صلي الله عليه وسلم و چې سړو ته يې هم خبر ورکړ او په ښځو کې يې هم دا احساس را پيدا کړ، او ورته يې په ډاګه کړه چې: لکه څنګه چې د سړي حقوق په ښځه دي په همدې تر تيب دښځو حقوقو په سړي هم دي:
[و لهن مثل الذي عليهن بالمعروف «البقرة ۲۸] (په ښځو چې څنګه فرائض دي هماغسې د هغوې حقوق هم دي)
بيا همدغه محمد صلي الله عليه وسلم دې چې ښځه يې د شرم او ذلت دمقام څخه د عزت ستر او لوړ مقام ته ورسوله او همدغه محمد صلي الله عليه وسلم و چې پلار ته يې وويل چې د لور وجود او پيدا ښت ستا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاره ننګ او شرم نه ، بلکه د هغې پالنه او هغې ته خپل حقوق ورکول تا د جنت ور ګرځوي. لکه چې فرمايي:
[من عال جاريتين حتي تبلغا جاء يوم القيمة انا وهو (ضم اصبه) « مسلم»]
( چا چې د دوو نجنو پالنه وکړه ان تر دې چې هغوي دواړه د ځوانی او پيغلتوب مرحلي ته ورسيږي نو د قيامت په ورځ به زه او هغه وګړي دغسې را ځو لکه زما د لاس دا دوه ګوتې چې يوځای دی )
[من ابتلي من البنات بشئ فاحسن اليهن كن له سترا من النار «مسلم»] ( د چا په کور کې چې نجوني پيدا شي او هغوي په بهتره توګه د هغې پالنه وکړي نو همدغه نجونی به هغو ته د دوزخ د تللو تر مخ حائل و ګرځي. )
[خيرمتاع الدنيا النساء الصالحة «نسايي كتاب النكاح»] ( د نړۍ په نعمتونو کې بهترين او غوره نعمت نيکه ښځه ده ).
[حبب الي من الدنيا النساء و الطيب و جعل قرة عيني عي الصلاة « نسايي»]
( د نړۍ په موجوداتو کې ماته تر ټولو غوره او محبوب شيز ښځه او خو شبويې ده او زما د سترګو يخوالې لمونځ دې ).
[ليس من متاع الدنيا شئ افضل من المراة الصالحة «ابن ماجه»]
( د نړۍ په نعمتونو کې د نيکې ښځې څخه بل بهتر نعمت نه شته ).
دا محمد صلي الله عليه وسلم دي چې نارينه ته يې وويل چې د الله تعالي او د هغې د رسول صلي الله عليه وسلم څخه وروسته د قدر ، منزلت ، عزت او نيک سلوک مستحقه ستا مور ده.
[ سأل رجل يا رسول الله صلي الله عليه وسلم من احق بحسن صحابتي ، قال امک ، قال ثم من ؟ قال امک ، قال ثم من ؟ قال امک ، قال ثم من ؟ قال ابوک. «بخاري كتاب الاداب»]
( يوه سړي پوښتنه وکړه يا د الله رسوله ! پر ما باندې د نيک سلوک تر ټولو زيات حق لرونکې څوک دې ؟ ورته يې و فرمايل ستا مور. هغه بيا پوښتنه وکړه بيا څوک ؟ ورته يې و فرمايل ستا مور. هغه دريم ځل بيا و پوښتل چې بيا څوک ؟ ورته يې و فرمايل ستا مور. کله يې چې په څلورم ځل تري و پو ښتل چې بيا څوک ؟ ورته يې وفرمايل ستا پلار. )
[الله حرم عليه عقوق الامهات «بخاري كتاب الاداب»]
( الله تعالي په تاسي باندې د خپلو ميندو نافرماني او د هغوي حق تلفي حرامه کړې ده ).
دا محمد صلي الله عليه وسلم و چې انسان يې د دې حقيقت نه خبر کړ چې د ښځو په فطرت کې د جذباتو ډيرښت د احساساتو نزاکت او د ضد په لور ميلان موجود دې. او الله تعالي هغوي په همدغه فطرت او طبيعت سره پيدا کړی دي او دا د نسوانيت له پاره کوم عيب نه دې بلکه ښکلا ده ، تاسي چې د هغوي څخه کومه ګټه تر لاسه کول غواړئ نو د همدغې فطرت په موجوديت کې يې تري تر لاسه کولای شئ. خو که چيري هغوي د نارينه و په خير د نيغولو او سختولو هڅه وکړئ نو هغوي به ماتې کړئ.
[المراة كالضلع ان اقمتها كسرتها و ان استمتعت بها استمتعت بها و فيها عوج « بخاري باب مدارات النساء»]
په همدې توګه محمد صلي الله عليه وسلم لمړني او اخرني شخصيت دې چې هغه د ښځې په اړه نه يوازې د سړي بلکه پخپله د ښځې ذهنيت هم تبديل کړ او د جاهلي ذهنيت پر ځای يې په کې يو ډير زيا سهي ذهنيت را پيدا کړ چې بنسټ يې په جذباتو نه بلکه په علم او عقل باندې اينبول شوې دې.
بيا يې يوازې د هغوي په باطني اصلاح باندې بسنه و نه کړه بلکه د قانون په واسطه يې د هغوی د حقوقو ساتنه او د نارينه و د ظلم او تيري څخه يې د هغوي د خونديتوب انتظام هم وکړ. او په ښځو کې يې دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيداري را پيدا کړه ترڅو خپل جائزاو روا حقوق و پيژني او دهغې حقوقو دخوندي ساتلو له پاره د قانون څخه کومک ترلاسه کړي.

د عالميانو د سردار محمد صلي الله عليه وسلم په ذات کې ښځو ته داسې يو رحيم ، مشفقق او ملاتړې او دومره ستر محافظ په لاس ورغي چې که په هغوې به لږ څه ظلم او تيرې هم کيده هغو ی به پرته له ځنډه څخه خپل شکايت او ستونزې د نبي اکرم صلي الله عليه وسلم ترمخ ايښودې او نارينه به تل ددې څخه په ويره کې وو چې هسې نه چې ښځې يې د نبي کريم صلي الله عليه وسلم ترمخ د شکايت کولو فرصت ترلاسه کړي. د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه وينا د ه چې ترهغې چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم ژوندې و نو مونږ به د خپلو ښځو سره په خبرو اترو کې ډير احتياط کاوه او له دې به ويريدو چې هسې نه زمونږ په هکله کوم حکم نازل نه شي. خو کله چې نبی اکرم صلي الله عليه وسلم ددې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې نو مونږ دهغوې سره بيا د زړه د اخلاصه خبرې کولې «بخاري باب الوصيايا بالنساء»

ابن ماجه ليکي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم په ښځو باندې د لاس د پورته کولو څخه په عامه توګه ممانعت کړې و يو. ځل حضرت عمر رضي الله عنه شکايت وکړ چې ښځې ډيرې شوخې شوې دي ، دهغوې د مطيع کولو له پاره بايد د هغوې د وهولو اجازه وکړل شي ، هغه اجازه ورکړه . دا معلومه نه ده چې خلکو د کومه وخته راهيسې ددغسې اجازې کيدو انتظار کاوه ؟ په کومه ورځ چې اجازه ورکړل شوه په هغې ورځې ۷۰ کسو ښځو د خپلو ميړنو له لاسه وهل وخوړل. په بله ورځ د نبي اکرم صلي الله عليه وسلم کورته د فرياد کوونکو ښځو يو هجوم راغي. رسول الله صلي الله عليه وسلم دخلکو د راټولولو حکم وکړ او د خطبې له پاره ودريد او ويې فرمايل:

[لقد طاف الليلة بال محمد سبعون امراة کل امراة تشتکي زوجها فلا تجدون اولئک خيارکم]

(نن د محمد کورته اويا کسه ښځې را غلي هرې ښځې دخپل ميړه څخه شکايت درلود ، هغوې چې ددغسې حرکت مرتکب شوی نو هغوې ستاسې ترمنځ هيڅکله نيک خلک نه دي )

د همدې اخلاقي او قانوني اصلاح او ښيګڼې زيبينه داده چې په اسلامي ټولنه کې ښځو ته همغسې لوړه مرتبه ورپه برخه شوې ده چې نمونه يې د نړۍ په هيڅ يوې ټولنې کې هم نه ترسترګو کيږی.

مسلمانه ښځه په دين او دنيا کې دمادی ، عقلي او روحاني اړخه د عزت او پر مختګ هغو لوړو پوړيو ته رسيدلې کومو ته چې سړي ور رسيداې شي په داسې حال کې چې دهغې ښځيتوب په هيڅ يوه مرحله کې هم دهغې په مخ کې خنډ نه واقع کيږي. نن په دغله شلمه پيړۍ کې هم نړۍ د اسلام څخه ډيره وروسته پاته ده ، د انساني افکارو وده او ارتقا تراوسه پورې هم لا هغه مقام ته نه ده رسيدلې کوم ته چې اسلامي رسيدلې دې. غربي ټولنې چې ښځې ته څه ورکړي هغه يې ورته د ښځې په حيثيت نه دې ورکړي بلکه دهغه څخه يې نر جوړ کړې. ښځيتوب يې ورڅخه اخيستې او بيا يې ورکړې ، دهغوې له آنده اوس هم ښځه هماغسې ذليله ده لکه څنګه چې د پخواني جاهليت په وختونو کې وه. دکور ښښتنه ، د ميړه ماندينه او د کوچنيانو مور کيدل د يوې اصيلې او حقيقي ښځې له پاره اوس هم دعزت وړ خبره نه ده. که چيرې ورته وي نو دهغې ښځنو کې سړې يا نرګټې ښځې له پاره ده چې په داسې حال کې چې په جسماني توګه ښځه وي خو په فکرې او ذهنی توګه ترې سړې جوړ شوې وي او په تمدن او ټولنه کې د سړي په څير کار کوي. ښکاره ده چې دا د نسوانيت له پاره عزت نه دې بلکه د نرتوب عزت دې. بيا ددې ذلت او سپکوالي د احساس او ذهني کشمکش (**Inferiority complex**) يو ښکاره ثبوت دادې چې غربي ښځې د نارينه و کالي په فخر سره وا غوندي ، حال دا چې هيڅ نارينه د ښځو د لباس په اغوستن سره بيرون ته د راوتلو فکر هم نه کوي. ښځه کيدل د غربي ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لکونو ښځو له نظره يو سپک او ذليل کار دي په داسي حال کې چي ميړه کيدل د هيڅ يوه نارينه له پاره د سپکوالي موجب نه دي. د نارينه په څير کار کول د ښځو له پاره دعزت وړبريښي په داسي حال کې چي د کورنۍ سنبالښت او دکو چنيانو د روزني په څير خالص ښځينه کارونو کې نارينه د خپل ځان له پار هيڅ عزت نه محسوسوي ، نو بې له ويرې او تردد نه ويلای شو چي غرب ښځې ته د ښځي په حيث هيڅ ډول عزت نه دي ورکړې. دا ټول کار اسلام او يوازي اسلام کړې چي ښځه يې په تمدن او ټولني کې په خپل فطري مقام کې درولي او هغې ته يې د شرف او عزت لوړه مرتبه ورکړې او په سهي معني سره يې د نسوانيت او ښځيتوب درجي ته پورته کړې . اسلامي تمدن ښځه د ښځي او نر د نر په حيث پيژني او ددواړو ځخه جدا جد همغه کار اخلي دکوم له پاره چي فطرت هغوي پيدا کړې دي او بيا هر يو ته په خپل ځاې د عزت ، ترقۍ او بريالیتوبونو هر ډول مواقع برابروي. د هغي تر مخه ښځيتوب او سړيتوب دواړه د انسانيت ضروري برخې دي. دتمدن د جوړښت له پاره دواړه يو ډول اهميت لری. دواړه چي خپلو چاپيريالونو کې کومې دندې تر سره کوي هغه يو ډول ګټه وري دي او يو ډول د قدر او عزت وړ دي. نه په سړيتو کې کوم شرف شته او نه په ښځيتوب کې کوم ذلت او سپکوالي. لکه څنګه چي د سړي له پاره عزت ، ترقي او بريالیتوب په دې کې دي چي هغه دې سړی وي او د نارينه و کارونه دې کوي په همدې ترتيب د ښځي له پاره هم عزت ، پر مختګ او سوکالي په دې کې ده چي هغه دې ښځه وي او د ښځو پورې اړونده دندې دې تر سره کوي.
د يو صالح تمدن له پاره اړينه ده چي ښځه په خپله فطري دايره کې د خپلو ټولو انساني حقوقو څخه برخمنده کړي ، عزت او شرف ورته ورکړې و د ښووني او روزني له لارې د هغې پټ صلاحتيونه را څرګند کړې او په همدغې دايره او چاپيريال کې د هغې له پاره د پرمختګ او بريالیتوبونو لارې پرانيزي.

# دا سلام ټولنيز جوړښت

**۵**:- خوندي ساتنې:

دا د اسلامي ټولنيز نظام ټوله نقشه وه ، اوس د مخکې تګ څخه دمخه ددې نقشي په ځانګړتياو يو ځل بيا رڼا اچوو:

- i. ددې نظام غوښتنه داده چي د امکان تر حده پورې دغه ټولنيز نظام له هر ډول پارونو څخه پاک و ساتل شي تر څو د انسان ذهني او جسماني ځواکونو ته په يوې پاکيزه او د سکون نه ډکې فضا کې د ودې او ارتقا مواقع پيدا شي او هغوې د خپل خوندې او را ټول کړل شوې ځواک سره يو ځاې د ټولني او تمدن په جوړښت کې خپله ونډه واخلي.
- ii. ډيره اړينه ده چي جنسي اړيکي بلکل د ازدواج په دايره کې را ونغښتل شي او ددې دايري نه بيرون نه يوازې د بدکارۍ د خپراوې څخه مخنيوې وشي بلکه فکري انتشار هم تر امکاني حده پورې را محدود کړل شي.
- iii. د ښځي دکار چاپيريال بايد د نارينه و د چاپيريال څخه جدا وي ، دواړو ته دهغوې د فطرت او ذهني او جسماني استعدادونو په بنسټ د تمدن او ټولني ځانګړې دندې وروسپارل شي او دهغوې اړيکي داسي تنظيم شي چي هغوې د جايزو او روا پولو تر منځ يو دبل معاون او مرستندويان و اوسي او دحدودو څخه په تيرۍ کولو سره يو د بل په کار کې خنډونه را پيدا نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

iv. د کورنۍ په نظم کې باید د سړي حیثیت د قوام وي او د کورنۍ پاته ټول عړي د هغې مطیع ، منونکی او فرمان وړونکی او سي.

v. ښځه او سړي دواړه په پوره پوره توګه د انسانی حقوقو څخه برخمن اوسي او دواړو ته د ترقۍ او پرمختګ بهترین فرصت تر لاسه وي خو د دواړو څخه یو هم د هغې حدودو څخه تیرې و نه کړي چې په ټولنه کې د هغوي له پاره ټاکل شوي دي .

د دغسې نقشې پر اساس چې د کوم ټولنیز نظام بنسټ اېښودل شوي هغې ته د څه خوندیکوونکو او ساتونکو شیانو اړتیا ده چې د هغې نظم د خپلو ټولو ځانګړتیاو سره سره پر ځاې و ساتي. په اسلام کې د غه ساتندویه شیان په درې ډوله دي:

- ✓ د باطن اصلاح.
- ✓ تعزیرې او جزایې قوانین.
- ✓ د مخنیوي تدبیرونه.

د خوندي ساتنې او تحفظ د غه درې واړه مواد د ټولنیز نظام د مزاج او اهدافو د په نظر کې نیولو په مناسبت وړاندې شوي او درې واړه یو له بله سره یو ځاې د ټولنې د خوندي ساتلو له پاره کار کوي.

- د باطني یا داخلي اصلاح په واسطه د انسان روزنه په داسې ډول تر سره کیږې چې، پرته له دې چې د بیرون څخه کوم ځواک هغه د دې نظام د اطاعت له پاره مجبور کړي ، هغه پخپله د دغې ټولنیز نظام د اطاعت له پاره تیار شي. د تعزیرې او جزایې قوانیو په واسطه د داسې جرایمو مخه نیول کیږي چې د دې نظام د خرابیدو او د هغې د بنسټونو د ړنګیدو سبب ګرځي.
- د مخنیوي د تدبیرونو به واسطه په ټولنیز ژوند کې داسې لارې او طریقې رواج موندلې شي چې د ټولنې چاپیریال د غیر طبعي هیجاناتو او د مصنوعي بارونو څخه پاکوي او د جنسی بې لارېو امکانات تر اخري حده پورې را کموي. د اخلاقي روزنې په واسطه چې د کومو وګړو د باطن اصلاح مکمله شوې نه وي او هغوي د تعزیرې قوانینو څخه هم ویره و نه لري نو د غه تدابیر او لارې د هغوي مخکې داسې خنډونه پیدا کوي چې د جنسي بې لارېو د میلان سره عملي اقدام کول ورته ډیر ستونزمن ګرځي. د دې تر څنګ دا هغه طریقې او لارې دي چې د نارینه و او ښځو ټولنې په عملي توګه یو له بله څخه جلا کوي. د کورنۍ نظم په سهي اسلامي شکل سره جوړوي او د هغې حدودو ساتنه کوي چې د ښځو او نرو په ژوند کې د توپیر د قایمولو له پاره اسلام ټاکلې دي.
- داخلي اصلاح:

په اسلام کې د امر د اطاعت بنسټ په مکمله توګه په ایمان اېښوول شوي ، څوک چې په الله تعالي ، د هغې له اړخه په رالیږل شوي کتاب (قرآن ) او د هغې له اړخه په رالیږل شوي پیغمبر ، محمد صلي الله علیه وسلم، باندې ایمان لري هماغه د شریعت د اوامرو او نواهیو اصلي مخاطب دې. هغو ته د اوامرو د منلو او د نواهیو څخه د ځان ساتلو له پاره همدومره علم تر لاسه کول بسنه کوي چې وپوهیږي چې: دا د الله امر او دا د الله نهې ده.

کله چې یو مؤمن ته د الله تعالي له کتاب څخه دا ډاګیزه شي چې الله تعالي د فحش او بد کارۍ څخه منه کړې ده نو بیا د هغې د ایمان غوښتنه داده چې د هغې کار د کولو څخه ځان و ژغوري او خپل زړه د هغې په لورې د میلان څخه پاک کړي. که یوې مؤمنې ښځې ته دا څرګنده شي چې الله تعالي او د هغې رسول صلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله عليه وسلم په ټولنيز نظام کې هغې ته کوم ځاې او حيثيت ټاکلې نو د هغې د ايمان غوښتنه هم همدا ده چې په خپله خوښه او خو شحالۍ سره هغه حيثيت و منی او د خپل حد نه تيرې و نه کړي. په همدې ډول د ژوند د نورو اړخونو په څير د اخلاقو او ټولنيز ژوند په دايره کې هم د اسلام د سهي او کاملي اتباع دار مدار په ايمان باندې دي. همدا علت دي چې په اسلام کې د اخلاقو او ټولنې په اړوند د لارښونو څخه تر مخه د ايمان په لور بلنه ورکړل شوې او په زړونو کې د هغې د اېښوولو او ځواکمن کولو څخه هم شوې ده.

دا د داخلي اصلاح هغه اساسي فکر دي چې نه يوازې د اخلاقياتو پورې اړوند دي بلکه د ټول اسلامي نظام پورې تړلې دي .ددې نه وروسته د اخلاقو په دايره کې چې اسلام د ښووني او روزنې له پاره د حکمت او تدبر نه کومه ډکه لارښودلې موږ ورته په لنډه توګه دلته اشاره کوو.

❖ حيا:

مخکې په لنډه توګه دا ويل شوي چې زنا ، غلا ، او درواغ او نور ټول ګناهونه چې انسان يې د حيواني فطرت د غلبې په اساس مرتکب کيږي ، د انساني فطرت پر خلاف دي. قرآن دغسې ټول کړه وړه د « منکر » په هر اړخيز ټکي کې تعبيروي. د «منکر» ټکې ځکه استعمالوی چې دا داسې کړه وړه دی چې انساني فطرت ورسره اشنايي نه لري نو ښکاره ده چې کله د انسان فطرت ورسره اشنا نه وي او حيواني طبيعت پر هغې هجوم راوړي وي او هغه يې ددې افعالو په کولو محبور کړې وي نو بيا په خپله د انسان په فطرت کې کوم داسې څيز بايد موجود وی چې د ټولو منکراتو څخه نفرت وکړي ، حکيم خداې دغه څيز په ګوته کوي او د حيا په نوم يې تعبيروي.

د «حيا» معنې شرم دي. د اسلام په ځانګړې اصطلاح کې د حيا څخه هدف هغه شرم دي چې د کوم منکر په لور مائل کړل شوي . انسان پخپله د خپل فطرت او پرور دګار په وړاندې هغه احساسوي. همدغه حيا هغه ځواک دي چې انسان د فحشاو او منکر څخه منه کوي او که چيرې هغه د حيواني ځواک تر غلبې لاندې کوم خراب عمل تر سره کړې نو همدغه څيز د هغې په زړه غوټې وهي.

د اسلام د اخلاقی ښوني او روزنې لنډيز دادي چې هغه د حيا همدغه پټه ماده د انساني فطرت د ژورتياو څخه راباسي او دعلم ، پوهې او شعور په غذا ورته وده ورکوي او د انساني نفس له پاره يې د يوه کوتوال(عسکر ) په څير ټاکي ، دا دهماغه نبوي حديث تفسير دي چې فرمايلي يې دي ، [و لکل دين خلق و خلق الاسلام الحيا ] ( د هر دين له پاره اخلاق وي او د اسلام اخلاق حيا ده ). او هغه حديث هم په همدغه مضمون رڼا اچوی چې په کې د کائناتو سردار فرمايلي دي [ اذالم تستحي فافعل ماشئت] ( کله چې په تا کې حيا نه وي نو بيا دې چې څه زړه غواړي هغه کوه )« ځکه چې حيا نه وه نو د حيوانی غوښتنو ځواک په تا غلبيږي او بيا هيڅ منکر تا ته منکر نه ښکاري .»

د انسان فطري حيا د يوې داسې اوبلنې او مايع مادي حيثيت لري چې تر او سه يې کوم شکل نه وی اختيار کړې ، هغه خو د ټولو منکراتو څخه د طبيعت په امر نفرت کوی خو په هغې کې سوچ او فکر نه شته په دې اساس هغه نه پو هيږي چې د منکر ديوه ځانګړي فعل څخه ولې نفرت کوي. همدغه ناپوهي په ورو ورو د هغې د نفرت احساس کمزورې کوي ، ان تردې چې د حيوانيت د غلبې په اساس انسان د منکراتو مرتکب کيږي. ددې ارتکاب بيا بيا کول بالاخره د حيا احساس بلکل له منځه وړی. د اسلام د اخلاقي ښووني مقصد د همدغو نا پوهيو لرې کول دي .او اسلام هغې ته نه يوازې د څرګندو منکراتو په هکله معلومات ورکوي بلکه د نفس تر پټو ځايو پورې د نيتونو ، ارادو او غوښتنو چې کومې بدۍ پټې شوې هغه هم ددې مختنه را په ډاګه کوي. او ديوه يوه شی د فسادونو څخه دې ته اګاهي ورکوی تر څو د بصيرت په رڼا کې د هغې څخه نفرت وکړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيا نو اخلاقي تربيت دا روزل شوي شرم او حيا دومره حساسې مرحلې ته رسوي چې د منكر په لور ډير لږ ميلان هم دهغې څخه پټ نه پاته كيږي او د نيت او فكر لږ څه ښوييدل هم هغه د تنبيه كولو پرته نه پريږدي.
په اسلامي اخلاقو كې د حيا دايره دومره پراخه ده چې دژوندانه هيڅ يوه څانګه ترې هم نه پاته كيږي ، تر دې چې د تمدن او ټولنيز ژوند كومه څانګه چې د انسان د جنسي ژوند سره اړيكې ولري په هغې كې هم اسلام د اخلاقو د اصلاح له پاره دهمدغې خيز څخه كار اخيستې هغه په جنسي معامله كې د انساني نفس ډيرې وړې غلطې په ګوته كوي او حيا پرې خبروي او دهغې په كنترول يې توظيفوي ، دلته د تفصيل فرصت نه شته يوازې په يو څو مثالونو اكتفا كوو .

- دزړه غل:

دقانون له نظره د زنا كولو اطلاق يوازې په جسمي يوازې والې باندې كيږي خو د اخلاقو له نظره دازدواج ددايرې نه بيرون د مقابل جنس په لورې هر ميلان د ارادې او نيت په اعتبار سره زنا ده .
د يوې اجنبي ښځې د ښايست څخه د سترګو په واسطه لذت اخيستل دهغې د اواز څخه د غوږونو په واسطه خوند اخيستل ، دهغې سره د خبرو په وخت كې د ژبې اړول او دهغې د كوڅې د ګرد څخه د خوند اخيستلو په خاطر بيا د هغې په كوڅه كې قدم وهل، دا ټول د زنا له پاره مقدمات او په معنوي توګه زنا ده. قانون په دغه ډول زنا ځوک نه نيسي ، دا د زړه غل دى او يوازې د زړه كوتوال هغه نيولې شي. نبوي حديث په دې هكله داسې خبر راكوي:
[العينان تزنيان و زنا هما النظرو اليدان تزنيان و زناهما البطش و الرجلان تزنيان و زنا هما المشي و زنا اللسان النطق و النفس تتمني و تشتهي و الفرج يصدق ذالک كله و يكذبه]
( سترګې زنا كوي او دهغې زنا كتل دي ، لاس زنا كوي او دهغې زنا لاس اوږدول دي ، پښې زنا كوي او د هغې زنا په هغې لاره تلل دي او د ژبې زنا خبرې اترې دي او د زړه زنا ارزو او غوښتنه ده. بالاخره جنسي غړي «شرم ځاى» دې چې يا د هغوې تصديق كوي او يا تكذيب.

- د كتلو فتنه:

د نفس تر ټولو لوې غل نظر يا كتل دي. په دې خاطر قران مجيد او احاديث دواړه تر هر څه د مخه دې لور ته توجه كوي. قران مجيد فرمايي چې:
[قل للمؤمنين......«النور ٣٠-٣١»] ( اې نبي ! مؤمنانو سړو ته ووايه چې خپلې سترګې د «پرديو ښځو د كتلو څخه» و ساتي او دخپلو شرم ځايو ساتنه وكړي. دا د هغوې له پاره ډيره پاكيزه لاره ده هغه څه چې هغوې يې كوي الله تعالى ترې خبر دي. او اې نبي !مؤمنو ښځو ته ووايا ست چې خپلې سترګې « د پرديو سړيو د ليدلو څخه» وساتي او دخپلو شرم ځايو ساتنه وكړي )
حديث شريف كې دي چې:
[ابن ادم لک اول نظرة و اياک و الثانية «الجصاص»] ( يا د بني ادم زويه ! ستا لومړى نظر معاف دي مګر اګاه اوسه چې دويم ځل نظر وا نه چوي ).
سيدنا علي رضي الله عنه ته يې و فرمايل :
[يا علي لا تتبع النظرة النظرة فان لک الاولي و ليس لک الاخرة «ابوداودما يؤمر به من غض البصر»]
( اې علي ! د يوه نظر وروسته بل ځلې نظر مه كوه ، لومړى نظر معاف دي خو دويم نه دي معاف. )

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدنا جابر رضي الله عنه پوښتنه وکړه چې که چیرې ناڅاپې نظر و لګیږي نو څه وکړي ؟ ورته یې و فرمایل: [سمدستي دې نظر بله خوا کړه « ابوداود مایؤمربه..»]

- **د ښایست د ښکاره کولو جذبه:**

د نظر د فتنې یو کار دا هم دي چې د ښځې په زړه کې دا ارزو پیدا کوي چې د هغې ښایست دې وکتل شی. دا ارزو تل څرګنده او په ډاګه نه وی بلکه د ښایست د ښکاره کولو دغه جذبه د زړه په څنډو کې په یوه ځای نه یو ځای کې پټه شوي وي. او هغه د لباس په ښایست ، د ویښتانو په ارایش ، د باریکو «نریو» او شوخو کالیو په اغوستن او همداسې ورو ورو شیانو کې ځان را څرګندوي چې احاطه کول یې د امکانه لرې دي ، قران ددې ټولو له پاره یوه هر اړخیزه اصطلاح د « تبرج الجاهیلیه» ترنامه لاندې استعمال کړې ده. هر هغه زینت او هر هغه ارایش چې د خپل میړه پرته د نورو وګړو د نظر د لذت سبب وګرځی ، د«تبرج جاهلي» په تعریف کې را ځي. ان تر دې چې که چې فیشني بورقي هم د همدې مقصد له پاره ښکلې او د ښایسته رنګ څخه و ټاکل شی چې نظرونه ترې خوند اخلي نو دا هم د «تبرج جاهلیت» په شمیر کې را ځي ، ددې له پاره کوم قانون نشي جوړیدای بلکه ددې اړیکې د ښځې د ضمیر سره تړلې دي . هغې ته پخپله د خپل زړه سره حساب کول په کار دي چې په هغې کې خو کومه ناپاکه جذبه پټه شوې نه ده ، که چیرې پټه وی نو هغه د الله تعالي ددې حکم مخاطبه ده چې فرمایي: [و قرن في بیوتکن ولا تبرجن تبرج الجاهلیة الاولی....«الاحزاب ۳۳»]

د اسلام تر مخه د جاهلیت په زمانه کې چې مو د کوم سینګار او ارایش تظاهر کاوه او ګرځیدئ را ګرځیدئ او س به هغه نه کوئ. هر هغه ارایش او ښکلا چې د هر بد نیت څخه پاکه وي هغه د اسلام ارایش او ښکلا ده او په کوم کې چې ډیر لږ بد نیت هم ورګډ وي نو هغه د جاهلیت ارایش دي.

- **دژبې فتنه:**

د نفس د شیطان بل نماینده ژبه ده. څومره فتنې دي چې د ژبې په واسطه را پیدا کیږي او خپریږي. ښځه او سړي خبرې کوی په داسې حال کې چې کومه خرابه جذبه په کې نه برېښي . خو په زړه کې پټ غل ، په اواز کې خوند او نرمي ، په لهجه کې خوږلني ، په خبرو کې څه خوند را وپاروي . قران مجید دغه غل را نیسي او وایي چې: [ان تقیتن فلا تخضعن بالقول فیطمع الذی فی قلبه مرض و قلن قولا معروفا ...«الاحزاب ۳۲»]

( که چیرې ستاسې په زړونو کې د الله تعالي څخه ویره وي نو په نرمه او خوږه ژبه خبرې مه کوئ ، «څکه»د کوم وګړی چې په زړه کې « د بدنیتی ناروغتیا»وي نو هغوې به ستاسې پوري څه امیدونه تړي ، خبرې چې کوئ نو نیغ په نیغه یې وکړئ ) « لکه څنګه چې یو انسان د بل سره خبرې کوي.»

همدغه د زړه غل دي چې د نورو د روا او ناروا جنسي اړیکو د ښکاره کولو څخه هم خوند اخلي او د اوریدو څخه یې هم. د همدغې ملایمت او نرمښت په خاطر عاشقانه شعرونه ویل کیږی او د عشق او محبت افسانې، ددرواغو او رښتیا په یو ځای کولو سره په هر ځای ځایږي کې بیا نیږي او په ټولنه کې خپریږي. قرآن په دې هکله خبر را کوي چې:

[ان الذین یحبوا ان تشیع الفاحشة......«النور ۱۹»]

( هر هغه خوک چې غواړی چې د مسلمانانو په ټولنه کې بې حیایې خپره کړي ، د هغوې له پاره په دنیا کې هم دردناک عذاب دي او به اخرت کې هم الله پو هیږي او تاسې نه پو هیږئ. )

(c) ketabton.com: The Digital Library

دژبې د فتنې نورې ځانګې هم شته او په هرې ځانګې کې د زړه يو غل نه يو غل خپل کار کوي. اسلام د دغه ټولو څخه خبردې او مونږ ته دغوې څخه خبر راکوي. ښځې ته ددې اجازه نه شته چې د نورو ښځو حالت او کيفيتونه د خپلو ميړونو ترمخ بيان کړي.
[لا تباشرالمرأة تصفها لزوجها كانه ينظر اليها «ترمذي باب ماجاأ في مباشرة المراة المراة»]
( ښځه دې د ښځې سره نه يو ځاې کيږي ، داسې چې د هغې کيفيت خپل ميړه ته داسې بيان کړي چې ګويا هغه په خپله هغه ښځه ويني.)
ښځه او سړې دواړه ددې څخه منه کړل شوي چې د خپلو پټو ازدواجي اړيکو حال دنورو خلکو ترمخه بيان کړي ځکه چې ددې څخه هم فحاشي «بې حيايي» خپريږي ، او په زړنو کې شوق را پيدا کيږی «ابوداود باب من ذكر الرجال ما يكون من اصابته اهله»
د جمعې په لمانځه کې که چيرې امام غلطي وکړي او يا دخپلې کومې غلطئ لورته د هغه د متوجه کولو اړتيا پيدا کيږي نو سړو ته د سبحان الله د ويلو حکوم دې خو ښځو ته لاربنوونه شوې چې يوازې دې لاس و وپړکوي او په ژبه دې څه نه وايي «ابو داود بات الصفيق فى الصلوة-بخاري باب التصفين للنساء»

- د اواز فتنه:

ډيروختونه ژبه خاموشه پاته وی خو د نورو حرکاتو په واسطه د اوريدو اله اغيزمنه کيږي. ددې اړيکې هم د نيت خرابوالې سره تړلې دې او اسلام ددې څخه هم په کلکه مخنيوی کړي دې. [و لايضربن بارجلهن ليعلم ما يخفين مى زينتهن.....«النور۳۱»]
(او هغوې دې په ځمکه پښې دربوونکې نه ګرځی ، ترڅو هغه زينت چې دوې پټ کړې « هغه زيوارت چې دوې دننه په ځان اچولی» را څرګند نه شی ،«د هغې اواز وا نه وريدل شي».)

- دخوشبويې فتنه:

خوشبويې هم دهغو قاصدانو څخه يوه ده چې د يوه شرير نفس پيغام بل شرير نفس ته رسوي ، دا دخبر رسولو ترټولو زياته لطيفه ذريعه ده ، نور خو دا ډير معمولې شې ګڼی خو اسلامې حيا دومره حساسه ده چې دهغې په نازک طبيعت دغه لطيف حرکت هم دروند تماميږي. هغه يوې مسلمانې ښځې ته ددې اجازه نه ورکوي چې د معطرو کاليو په اغوستو سره په لارو کې و ګرځې او يا په محفلونو کې ګډون و کړي ځکه چې که د هغې ښايست او دهغې زينت پټ هم پاته شی نو ګټه به يې څه وی؟ ځکه په فضا کې د هغې د عطرو دبوی په خپريدو سره جذبات پخپله متحرک کيږی. رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي:
[قال النبي صلي الله عليه وسلم: المراة اذا استعطرت فمرت بالمجلس فهي كذا يعنې زانية «ترمذي باب ماجاء في طيب الرجال و النساء» ]
(نبي صلي الله عليه وسلم فرمايلې چې: هره هغه ښځه چې عطر استعمال کړی او دخلکو ترمنځ تيريږي هغه بدکاره ښځه ده.)
[اذشهدت احدا كن المسجد فلا تمسن طيبا «موطا و مسلم» ]
(کله چې ستاسې څخه کومه ښځه مسجد ته راشی نو عطر دې نه استعمالوي )[طيب الرجال ماظهر ريحه و خفى لونه و طيب النساء ما ظهر لونه خفي ريحه «ترمذي باب ماجاء في طيب الرجال و النساء»]
(د نارينه له پاره هغه عطر مناسب دې چې خوشبوي ښکاره او رنګ يې پټ وي او د ښځو له پاره هغه عطر مناسب دې چې رنګ يې ښکاره او خوشبويې يې پټه وي )

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د لوڅوالي فتنه:

اسلام چې د ستر په هکله د انسان د شرم او حیا څومره مکمل او سهي نفسیاتي تعبیر کړي دهغې څواب د نړۍ په هیڅ تهذیب کې نه پیدا کیږي. نن د نړۍ د مهذبو ولسونو هم دا حال دې چې دهغې نارینه وته او هم د ﻫﻐﻮي ښځو ته د جسم د کومي برخي لوڅول او بربنډول د عیب خبره نه بریښي ، هغوي لباس د زینت په خاطر اعوندی نه د ستر په خاطر . خو په اسلام کې د زینت په ځاي ستر ته ډیر اهمیت ورکړل شوي . ښځي او نر دواړو ته یې د جسم د ټولو هغوو برخو د پټولو حکم ورکړي چې یو بل ته د جنسي کشش او میلان سبب گرځی. عریاني ، لوڅوالي او بربنډتوب یو داسي بد عمل دي چې اسلامي حیا یې هیڅکله هم زغملاني نه شي ، نور خو پریږده چې اسلام دا هم غوره نه گڼی چې ښځه او میړه دي یو د بل تر مخ لوڅ لپړ شي.

[اذا اتي احدکم اهله فلیستر و لایتجرد العیرین «ابن ماجه باب التستر عند الجماع»]

(کله چې ستاسې څخه کوم یو خپلې بي بي ته ورشی نو هغه ته په کار دي چې د ستر لحاظ و ساتي بلکل دخرو په څیر دواړه لوڅ لپړ نه شی.

[قالت عائشة مانظرت الي فرج رسول الله صلي الله عیه و سلم «شمائل ترمذی باب ماجاء في حیاء رسول الله»]

(ام المؤمنین بي بي عایشه رضي الله عنها فرمایي چې ما هیڅکله رسول الله صلي الله علیه و سلم لوڅ نه دي لیدلي. ) ددې نه ډیر شرم او حیا داده چې په ځانته والي کې هم ځان بربنډول اسلام ته د زغم وړ نه دي. دا په دې خاطر چې [الله تعالي حق ان یستحي منه] (الله تعالي تر هر څه ډیر حق لري چې دهغې څخه حیا وکړل شي.) په حدیث شریف کې راغلي چې:

[ایاکم و التعري فان معکم من لایفارقکم الا عند الغائط وحین یفضي الرجل الي اهله فاستحبوهم و اکرموهم «ترمذي باب ماجاء في الاستثناء عند الجماع»]

(اګاه واسئ چې کله هم لوڅ و نه اوسئ ، له تاسي سره د الله تعالي ملائکي ملګری دي چې هغوي له تاسي څخه نه بیلیږي. مګر په هغو وختونو کي چې تاسې په کې د حاجت د پوره کولو له پاره ناست یاست یا خپلو ښځو ته ورځئ ، لهذا تاسي دهغوي نه شرم وکړئ او دهغوي د عزت خیال و ساتی.)

دا سلام له آنده هغه لباس ، اصلا لباس نه دي چې بدن تري ښکاري او ستر تري په ډاګه را معلومیږي.

[قال رسول الله صلي الله علیه و سلم نساء کاسیات عاریات ممیلات مائلات رؤسهن کالبخت المائلة لایدخلن الجنة و لایجدن ریحها «مسلم باب النساء الکاسیات العاریات»]

( رسول الله صلي الله علیه و سلم فرمایي چې: هغه ښځي چې لباس واغوندي او بیا هم لوڅي وي او نور خلک خپل ځان ته مایله کوی او پخپله نورو ته میلان کوي او د بخت د اوښ په څیر خپله غاړه د ناز او نخرو څخه کږه وړی. هغوي به هیڅکله هم جنت ته داخلي نه شی او نه به د جنت بوي و مومي).

دلته مونږ څو مثالونه په دې خاطر یادوو چې دهغې څخه د اسلام د اخلاقو معیار او دهغې د اخلاقی روح اندازه و لګیږي.

اسلام د ټولني چاپیریال او دهغې فضا د فحشا ء او منکر د ټولو تحریکاتو څخه پاکول غواړي. ددې ټولو تحرکاتو سرچینه د انسان په باطن کې ده. د فحشا او منکر جراثیم هملته وده مومي او دهماغه ځاي څخه ددغه کوچنیو تحریکاتو اغاز صورت نیسی او په وړاندې تګ سره د ستر فساد موجب ګرځی. جاهل وګړي هغه د معمولي ګڼلو له امله له نظره غورځوي خو د حکیمو او پوهو وګړو له نظره هغه د تمدن او ټولني د تباه کونکو خطرناکو ناروغتیاو ریښې ګڼی ، نو د اسلام اخلاقی ښوونې په باطن کې د حیا داحساس د راپیدا کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره زيات کوشش کوي چې د هغې له رويه انسان پخپله دخپل نفس احتساب کوي او که د بدۍ په لور د ډير
ميلان پيدا کولو احساس هم وکړی نو دخپل ارادي ځواک له لاري هغه له منځه وړي.

▪ تعزيرې يا جزايي قوانين:

په اسلام کې د حزايي قوانينو بنسټيز اصول دادي چې انسان ددولت قانوني منګولو ته تر هغې پورې ورکش
نه کړل شی تر څو چې هغه دتمدن د نظام دله منځه وړلو او خرابولو په خاطر کوم بالفعل حرکت نه وی کړی خو
کله چې هغه داسې کوم حرکت او يا عمل وکړي نو بيا هغه ته د سپکې او خفيفه سزا په ورکولو سره د ګناه د
کولو اوسزا تيرولو عادتول نه دی په کار. د جرم د ثبوت شرائط بايد ډير سخت وي١

[١:- په اسلامي شرعي قانون کې د جرم د ثبوت شرائط عموما ډير سخت دي خو د زنا د جرم د ثبوت شرطونه
تر ټولو سخت دي، په عامه توګه په ټولو معاملاتو کې اسلامي قانون يوازې ددوه ګواهانو موجوديت کافي
ګڼي خو د زنا له پاره لږ تر لږه څلورو ګواهانو ته اړتيا ده.]

خلک د قانون حدودو ته د راوړلو څخه تر هغې چې ممکن وي و ساتئ ٢

[٢:-.... دنبي کريم صلي الله عليه و سلم ارشاد دي تر کومه چې ممکن وي مسلمانان د سزا څخه و ژغورئ که
چيرې د مجرم له پاره دبرائت کومه لاره وي نو هغه پريږدئ«او سزا مه ورکوئ» ځکه چې د امام له پاره په
بخښنه کې غلطي کول ددې نه بهتره ده چې هغه په سزا ورکولو کې غلطي وکړي «ترمذي، ابواب الحدود»]

خو کله چې کوم وګړی د قانون د حکم لاندې راغي نو بيا هغه ته داسې سزا ورکړئ چې نه يوازې نو موړې
پخپله ددا ډول جرم د بيا کولو څخه عاجز شي بلکه نورو په زرګونو انسانانو چې ددې جرم په لور اقدام
کوونکي وي ددغسې عبرتناکې سزا په ليدو سره وويريږي، ځکه چې د قانون مقصد پاکوالي دي نه دا چې
خلک بيا بيا جرم وکړي او بيا بيا سزا وګالي. د ټولنيز نظام د ساتنې له پاره چې اسلامي تعزيراتو کومې
کړنې او افعال جرم او د سزا وړ ګڼلي هغه دوه دي يو زنا او بل (قذف) يعنې په يو چا د زنا کولو تهمت لګول).

١:- د زنا حد:

د زنا په هکله مونږ مخکې بيان کړل چې د اخلاقو له اړخه دا فعل د انسان د انتهايي پستۍ زيبنبه ده. هغه
څوک چې ددې ډول کار مرتکب کيږی هغه په حقيقت کې ددې خبرې ثبوت وړاندې کوي چې دهغې انسانيت
د حيوانيت تر اغيز لاندې راغلې او هغه دانساني ټولنې يو صالح وګړی نه شی ګرځيداي. د ټولنيز ليد له اړخه
دا د هغو سترو جرايمو څخه يو دې چې د انساني تمدن په بنسټ حمله کوي، دهمدغې لاملونو په اساس
اسلام هغه په خپل ځاې د تعزير وړ ګناه بللې، که څه هم دهغې سره بل کوم جرم لکه زور او ځواک او يا
دکوم بل وګړي حق تلفول شريک وي او که نه، د قران مجيد حکم دي چې:

[ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِي فَٱجۡلِدُواْ كُلَّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا مِاْئَةَ جَلۡدَةٖۖ وَلَا تَأۡخُذۡكُم بِهِمَا رَأۡفَةٞ فِي دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۖ وَلۡيَشۡهَدۡ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ۝٢ «النور ٢»]

(زنا کونکي سړي او زنا کونکي ښځه، ددواړو څه هر يو سل دُرّي ووهئ او د
الهي قانون په عملی کولو کې تاسې هيڅکله هم په هغوې ترحم ونه کړئ که چيرې تاسې په الله تعالي او
داخرت په ورځ باندې ايمان لرونکي ياست اوکله چې هغوې ته سزا ورکړئ نو د مسلمانانو څخه دې يو ډله
دهغې د ليدلو له پاره موجوده وي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې هکله د اسلامي قانون او غربي قانون ترمنځ ډېر توپير موجود دې غربي قوانين زنا کول په خپل ځاې کوم جرم نه ګڼي ، دهغې له آنده دا فعل هغه وخت جرم دې چې دهغې ارتکاب په زور او زياتي سره وشي. يا د کومې داسې ښځې سره دا عمل تر سره شی چې دبل چا په نکاح کي وي. يا په بل عبارت ددې قانون له مخې زنا جرم نه بلکه جرم په اصل کي زور او جبر او د نورو حق په لغته وهل دي . اما ددې پرخلاف د اسلامي قانون له مخې دا فعل په خپله جرم دې او د جبر ،اکراه ،زور زياتي او د نورو حق تلفول په دې جرم اضافه يو بل جرم دې. دهمدغه بنسټيز اختلاف په اساس د سزا په هکله هم ددواړو طريقي او لارې بيلې بيلې دې.

غربي قوانين د جبري زنا له پاره په بندي کولو بسنه کوي او دنکاح شوې ښځې سره په زنا کولو سره د ښځې ميړه ته د تاوان ورکول دهغې حق ګڼي. دا سزا د جرم د مخنيوی له پاره نه ده بلکه خلکو ته نور هم جرئت ورکونکې ده په دې خاطر په هغه هيوادونو کې چې دا قانون رائج دې ، د زنا ارتکاب ورځ په ورځ زياتيدونکې دې. ددې په مقابل کې د اسلام قانون په زنا دومره سخته سزا ورکوي چې ټولنه ددغې جرم او ددغه ډول مجرمينو څخه تر يوه وخت پورې پاکه پاته شي. په هغو هيوادنو کې چې په زنا باندې سزا ورکول کيږي ، هلته ددې فعل ارتکاب هيڅکله عام شوې نه دې ، يوځل چې شرعي حدود نافذ کړل شی نو بيا په ټول ولس کې داسې هيبت را پيدا کيږي چې په کلونو کلونو هم څوک ددغه بد کار د ارتکاب جرئت نه شی کولې. همدا راز دمجرمانه ميلان لرونکو وګړو په ذهن باندې يو رواني فشار دې چې ددې لارې څخه دهغوې نفس په خپله اصلاح کيږي. غربي ضمير دسلو دُرّو په وهلو باندې نيوکه کوي د هغې علت دا نه دې چې هغوې نه غواړی انساني جسم ته تکليف ورسول شي. ځکه د هغې اصلی علت دادې چې د هغوې د اخلاقی شعور وده او نشو نما تر اوسه پورې ناقصه ده. هغوې په لومړيو کی زنا يو عيبجن کار ګاڼه خو اوس يې يوه لوبه او تفريح ګڼي ، دکوم څخه چې دوه انسانان د يو څو لحظو له پاره خپل زړونه خوشحالوي په دې خاطر دوې غواړی چې قانون ددې فعل سره د زغم نه کار واخلي او تر هغې وخت يې کومه پو ښتنه ونه کړي تر څو چې زاني د بل چا زادي او يا د هغې په قانونی حقوقو کې خنډونه پيدا نه کړي ، بيا د خنډونو او مداخلي په صورت کې هم هغوې دا يو داسې جرم ګڼي چې يوازې د يوه وګړي حقوق ترې اغيزمن کيږي په دې اساس يوه معمولي شان جزا يا تاوان ددې جرم د سزا له پاره کافي ګڼي.

ښکاره ده چې څوک د زناکولو دغه تصور ولري نو هغوې ددغه جرم په ارتکاب باندې د سلو دُرّو سزا ته ظالمانه سزا ويلې شي. خوکله چې د هغوې اخلاقي او ټولنيز شعور وده و مومي او هغوې ته څرګنده شی چې زنا که په زور سره وي او که په خوښې اورضا سره ، که هغه له ميړوښتې ښځې سره وي او که له پيغلې نجلۍ سره ، په هر صورت يو ټولنيز جرم دې او دهغې زيانونه ټولې ټولنې ته رسيږي ، نو بيا به د سزا په اړه هم دهغې ذهن په خپله بدلون و مومي. هغه به دا خبره مني چې ددغسې زيانمنو افعالو څخه ټولنه بايد خوندي پاته شي او څرنګه چې د زنا په لور تحريک کونکي وسايل د انسان په حيوانی طبيعت کې ډيرې ژورې ريښې لري او دغه ريښې يوازې د قيدو بند او يا مالي تاوان په زور نه شي را ويستل کيداې په دې خاطر دهغې دمخنيوي له پاره د سختو تدبيرونو دخپلولو څخه پرته بله لار نه شته.

يوه وګړي او يا دوو ته د سخت جسماني تکليف په ورکولو سره په لکونو نور وګړی د اخلاقي او عمراني ضررونو څخه خوندي کول ، دې نه ډير بهتر دي چې مجرمان د تکليف نه په څنګ کړل شي او ټول ولس په داسې زيانونو کې ور وغورزول شي چې راتلونکو بې ګناه نسلونو ته يې زيبښې په پرلپسې توګه په ميراث ورسيږي. دسلو دُرّو د وهلو سزا ته دظالمانه سزا د ويلو يو علت د غربي تهذيب په بنسټونو باندې دلږ څه د قت کولو وروسته را څرګنديږي لکه چې پخوا موووويل دغه تهذيب د ټولنې په مقابل کې د وګړې دملاتړ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

جذبه باندي ولاړ دي او ددې ټول اساس د وګړيزو حقوق په داسې يو تصور ولاړ دي چې د مبالغې ښخه ډک دي.
په دې اساس که وګړي په ټولنې هر ډول ظلم وکړي نو هغه دغرب خلکو ته دومره درونډ نه تماميږي بلکه ډير وختونه يې په خوشحالۍ سره زغمي.خو کله چې د ټولنيزو حقوقو د اعادې په خاطر وګړی را نيول کيږی نو دهغې له پاره چيغې سورې پيليږي. ددې نه پورته د ټولو جاهليتونو دخاوندانو په څير دغربي جاهليت د پيروانو هم يوامتيازي خصوصيت دادې چې هغوې د معقولاتو پر ځای محسوساتو ته ډير اهميت ورکوي.
هغه زيان چې په يوه وګړي باندي مرتب کيږی نو څرنګه چې هغوي ته هغه په محدوده توګه محسوسيږی په دې خاطر هغه يو سترکار ګڼي ، خو دوې دهغه زيان اهميت نه شي درک کولې چې په پراخه پيمانه ټولې ټولنې او د هغې را تلونکو نسلونو پورې غځيږي. ځکه چې هغه (زيان ) دخپل پراخوالي او لرې زيښتو په اساس نه شی محسوسيدای.

## ۲:- د قذف حد يا د تهمت لګولو سزا :

کوم زيانونه چې د زنا له لارې را پيدا کيږی نو دهغې په څير زيانونه د زنا دتهمت يا قذف ښخه هم منځته را ځي ، د يوې شريفې ښځې په لمن د زنا د تهمت داغ لګول يوازې دهغې د بدناملو موجب نه ګرځی بلکه دهغې په واسطه دکورنيو تر منځ ددښمنۍ يو لړۍ پيل کيږي ، نسبونه شکمن کيږي ، ازدواجي اړيکې له منځه ځي او يو کس يواځې يو ځل د ژبې په خوځولو سره په لس ګونو نور انسانان په کلونو کلونو د دښمنۍ په عذاب کې ورغورځوي . قرآن کريم ددې جرم د له منځه وړلو په خاطر سخته سزا ټاکلې ، او فرمايلي يې دي چې : [وَٱلَّذِينَ يَرۡمُونَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَأۡتُواْ بِأَرۡبَعَةِ شُهَدَآءَ فَٱجۡلِدُوهُمۡ ثَمَٰنِينَ جَلۡدَةً وَلَا تَقۡبَلُواْ لَهُمۡ شَهَٰدَةً أَبَدًاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ۝٤ «النور ۴»]

( او کوم خلک چې په پاک لمنو ښځو باندې تهمت و لګوي او بيا دخپلې خبرې د ثبوت له پاره څلور ګواهان را نه وړی ، هغوې په اتيا دورو ووهئ او په راتلونکې کې دهغوی ګواهي کله هم و نه منئ ، دغسې خلک په خپله بدکاران دي. )

❖ د مخنيوي تدبيرونه:

د اسلام قوانين د خپل سياسي ځواک په واسطه له يوه اړخه د بد کارۍ ښخه په کلکه مخنيوي کوي ، او دبله اړخه د ټولنې نيک وګړي دبد نيته خلکو د ژبنې شر ښخه خوندي ساتي. د اسلام اخلاقي ښوونې انسان دداخل ښخه جوړوی تر څو په هغې کې د ګناه او بدۍ په لور ميلان پيدا نه شي، او دهغې تعزيري قوانين هغه د بيرون ښخه جوړوی تر څو د اخلاقی روزنې د نه تکميل په صورت کې دغسې ميلانات وده و نه مومی. او کله چې داسې پيښه کيږی نو د هغې ښخه په پوره قوت سره مخنيوي وکړي. ددې دواړو تدبيرونو تر منځ څو نور تدبيرونه يوازې په دې خاطر خپل کړل شوي چې د باطن د اصلاح په خاطر په اخلاقی روزنو کې مرسته وکړي. ددې تدبيرونو په واسطه يې د تمدن ټولنيز نظام داسې جوړ کړي دي چې کله هم د اخلاقی روزنې دکمښت په وخت کې هغه کمزوري چې د ټولنې په وګړو کې پيدا کيږي دهغې د ودې او ارتکاب فرصت او موقع په لاس ور نه شی. په ټولنه کې داسې يو چاپيريال را پيدا شی چې بدو ميلاناتو ته وده ورکونکې هوا هم له منځه ولاړه شی. هيجان پيداکوونکې تحريکات ناپيدا شي ، د جنسي خپراوي له پاره اسباب او وسايل تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره حده پورې را کمه کړل شي او د ټولو هغو لارو چارو مخنيوی وشي چې د هغې په واسطه دتمدن په نظام کې ګډوډي را پېښيږي او س مونږ په تفصيل سره دغه تدبيرونه په خپل وار يو يو څيړو:

## ۱:- د لباس او ستر کولو احکام:

د ټولنيزو اړيکو د احکامو په لړ کې د اسلام لومړنې حکم دادې چې هغې د لوڅوالي څخه مخنيوې کړې او د ښځو او سړو له پاره يې د ستر کولو حدود ټاکلي دي. په دې هکله چې دعربو د جاهليت څه حال و نن سبا د تش په نامه مهذبو هيوادونو حال دهغې څخه څه زيات تو پير نه لري. هغوې به پرته له کوم تکليف څخه يو بل ته ځانونه لوڅول۱

[۱-...حديث شريف کې راغلي دي چې سيد مسوّر بن محزمه يو کاڼي را خيستې او را روان و په لاره کې يې د لنګ غوټه خلاصه شوه او ترې و لويد خو هغه په هماغه حال کې هم کاڼي په لاس کې نيولې را روان و. نبي کريم صلي الله عليه وسلم و کوت او ورته يې وفرمايل : چې ولاړ شه ، لمړی خپل وجود پټ کړه او لوڅ مه ګرځه.«مسلم»]

د غسل او بولو کولو په وخت کې پرده کول د هغوې له آنده يو غير ضروري کار و. د کعبې طواف به يې بلکل په لوڅو ځانونو کاوه او هغه يې يو ډير بهتر عبادت ګاڼه.۱

[۱-:..د ابن عباس رضی الله عنه ، مجاهد ،طاوس او زهري متفقه روايت دې چې د کعبې طواف به يې په لوڅو ځانونو کاوه.]

ان تردې چې ښځو به هم د طواف له پاره ځانونه لوڅول او په لوڅو ځانو به يې طواف کاوه۲

[۲-........د مسلم په کتاب التفسير کې يې د عربو دغه رواج او کلتور بيان کړې چې ښځو به په لوڅ ځان طواف کاوه، بيا به يې هملته موجودو خلکو ته سوال کاوه چې څوک به ماته يو څادر را کړي چې خپل وجود پرې را پټ کړم؟ په دې ترتيب به د سوال کوونکې له پاره د يو څادر ورکول د ثواب او اجر کار ګڼل کيده]

د هغوې د ښځو لباس به داسې و چې د سينې يوه برخه به په کې خلاصه پاته کيده او د مټو ، ملا او پنډيو ځينې برخې به په کې بربنډې پاته کيدې او بلکل همدغه کيفيت نن په امريکه ، اروپا او يو شمير نورو هيوادونو کې هم دې او په شرقي هيوادونو کې هم د ژوند داسې نظام نشته چې په کې د کشف او ستر حدود په اساسی توګه تعيين او نافذ شوې وي. اسلام په دې هکله انسان ته د تهذيب لمړنې درس ورکوې او ورته وايې چې [يَـٰبَنِيٓ ءَادَمَ قَدۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسٗا يُوَٰرِي سَوۡءَٰتِكُمۡ وَرِيشٗاۖ وَلِبَاسُ ٱلتَّقۡوَىٰ ذَٰلِكَ خَيۡرٞۚ ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ۝٢٦ الاعراف ۲۲]

( اې د ادم بچيانو ! الله تعالي تاسې باندې لباس په دې خاطر زا نازل کړې چې ستاسې جسمونه پټ کړی او ستاسې له پاره دښايست وسيله و ګرځي...]

ددې آيت له مخې د جسم پټول په هر سړې او ښځې باندې فرض کړل شوي دي.

نبي اکرم صلي الله عليه وسلم په دې هکله سخت حکم کړې او ويلي يې دي چې هيڅوک بايد د هيچا تر مخ ځان بربنډ نه کړی .

[ملعون من نظر الي سواه اخيه]

(لعنت کړل شوي په هغه چا چې د خپل ورور ستر ته ګوري. «احکام القران» )

[لاينظر الرجل الي عورة الرجل و المراة الي عورة المراة «مسلم باب تحريم النظر الى العورات»]

(c) ketabton.com: The Digital Library

( هيڅ يو سړي دي بل سړي او هيڅ يوه ښځه دي بله ښځه بربنډه او لوڅه و نه ويني . )
[عن سلمان رضي الله عنه قال: لان اخر من السماء فانقطع نصفين احب الى من ال النظر الى عورة احدا و ينظر الى عورتي « المبسوط ،كتاب الاستحسان» ]
(په الله تعالي سوګند ! زه دي د اسمانه څخه را پريوزم او دوه ټوټې دي شم ، دا ماته ډيره غوره ده د هغه څه څخه چې زه د چا پټ ځايونه ووينم يا بل څوک زما پټ ځايونه ووينې . )
[اياكم والتعري فان معكم من لايفارقكم الا عند الغائط و حين يفضي الرجل الي اهله « ترمذي باب ماجاء في الاستتار» ]
( اګاه اوسئ ، هيڅکله لوڅ و نه اوسئ ، ځکه چې له تاسې سره هغه څوک دي چې له تاسې څخه هيڅکله هم نه بيليږي مګر يوازې د حاجت د رفع کولو په وخت کې او يا د ښځو سره د مباشرت په وخت کې.
[اذا اتي احدكم اهله فليستترو لايتجرد تجرد العيرين « ابن ماجه باب الستر عند الجماع»]
( کله چې هم ستاسو څخه يو دخپلې ښځې سره د جماع په وخت کې ورځي نو هغه وخت دي هم خپل ستر پټ کړي او بلکل دي دخرو په څير لوڅ نه اوسي )
يو ځل نبي اکرم صلي الله عليه وسلم د زکاة د اوښانو ځړ ځاې ته ولاړ هلته يې وکتل چې ځړونکي په ځنګل کې لوڅ لېږ پروت دې ، رسول الله صلي الله عليه وسلم هغه په هماغه وخت له خپلې دندې څخه لرې کړ او ورته يې و فرمايل چې:
[لايعمل لنا من لاحياء]
( هغه څوک چې بې شرمه وی هغه زمونږ په کار نه راځي )
۲:-**دنارينه و له پاره د ستر حدود**:
ددې احکامو تر څنګ دښځو او نارينه و له پاره د ستر حدود په بېلا بېلا توګه ټاکل شوي. په شرعي اصطلاح سره د جسم هغې برخې ته ستر وايي چې د هغې پټول فرض دي. د سړي له پاره د نامه څخه لاندې د زنګانه تر ستر ګې پورې برخه «ستر» ټاکل شوې. او حکم ورته شوې چې دا برخه نه د چا تر مخه خلاصه کړي او نه د بل کوم و ګړي په دغه برخه باندي نظر واچوي.
[عن ابو ايوب الانصاري عن النبي صلي الله عليه وسلم مافوق الركبتين من العورة و اسفل من السرت من العورة «دار قطني»]
( هغه برخه چې د زنګون د سترګې دپاسه ده هغه د پټولو وړ ده او هغه برخه چې د نامه د غوټی لاندې ده هغه د پټولو وړ ده. )
[عورة الرجل ما بين سرة الي ركبه]
( سړي ته د نامه لاندې د زنګون تر سترګې پورې برخه د پټولو ده «مبسوط» )
[عن علي ابن ابي طالب عن النبي صلي الله عليه وسلم لا تبرز فخذک و لا تنظر الي فخذ حی و لا ميت « تفسير کبير»]
( خپل ورون د چا تر مخه مه ښکاره کوئ او نه د کوم ژوندی يا مړ انسان ورون ته و ګورئ )
دا حکم عام دي چې د خپلو بيبيانو پرته بله کومه استثنا نه لری. لکه چې په حديث شريف کې را غلي دي:
[احفظ عورتک الا من زوجک او ما ملکت يمينک « احکام القران»
( د خپل ستر ساتنه وکړئ ، پرته له خپلو ښځو او هغو وينځو څخه چې ستاسې په واک کې دي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۳:- د ښځو له پاره دستر حدود:

د ښځو له پاره دستر حدود له دې څخه ډېر پراخه تاکل شوي. هغوي ته حکم شوي چې د خپلو مخونو او لاسونو پرته ټول وجود له ټولو خلکو څخه پټ و ساتي. په دې حکم کې پلار، ورور او ټول نارینه خپلوان شامل دي او د میړه پرته بل هیڅوک ترې مثتثني نه دي.

[لا یحل الامراة تؤمن بالله و الیوم الاخر ان تخرج یدیها الا الي ههنا و قبض نصف الذراع «ابن جریر»]

(نبي اکرم صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي: د هرې هغې ښځې له پاره چې په الله تعالي او د اخرت په ورځ ایمان ولری، روانه ده چې هغه خپل لاسونه له دې نه زیات ښکاره کړي، دایې وویل او د خپل مړوند په نیمایي برخه یې لاس کیښود.)

[الجاریة اذا خاضت لم یصلح ان یری منها الا وجهها و یدها الی المفصل]

(کله چې ښځه بلوغ ته ورسیږي نو دهغې د وجود هیڅ برخه باید ښرګنده نه وي مګر یوازې مخ او مړوند تر نیمایي پورې لاس)

سیدة عایشة رضي الله عنها فرمایي چې زه د خپل وراره عبدالله بن الطفیل ترمخه د خپل زینت سره کښېناستم د نبي کریم صلي الله علیه وسلم دغه کار خوښ نه شو. ما ورته وویل چې یا رسول الله! دا خو زما وراره دې، رسول الله صلي الله علیه وسلم را ته وفرمایل:

[اذا عرقت المراة لم یحل لها ان تظهر الا وجهها و لا مادون هذا و قبض علی ذراع نفسه فترک بین قبضته و بین الکف مثل قبضته اخري «ابن جریر»]

(کله چې ښځه بالغه شي، نو دهغې له پاره روانه ده چې د خپل وجود کومه برخه را ښرګنده کړی مګر یوازې مخ او یوازې ددې څخه، دایې وویل او په خپل مړوند یې لاس داسی کیښود چې د هغې د نیولو دځای او لاس د ورغوی تر منځ یوازې یو موټې ځای پاته شو.)

د ابو بکر صدیق رضي الله عنه لور بي بي اسماء رضي الله عنها چې د نبي کریم صلي الله علیه وسلم ښینه وه، یوځل په داسې حال کې د نبي کریم صلي الله علیه وسلم تر مخ راغله چې ډېر نازک کالي یې پرځان وو، او ددې نازکه لباس څخه یې د وجود دننه برخې را ښرګندیدلې. نبي کریم صلي الله علیه وسلم سمدستي خپل نظر ترې واړاوه او ورته یې وفرمایل چې:

[یا اسماء ان المراة اذا بلغت المحیض لم یصلح ان یري منها الا هذا و هذا و اشاره الی وجهه وکفه «تکملة فتح القدیر»]

(ای اسماء! کله چې ښځه د بلوغ مرحلي ته ورسیږي نو بیا دا ښه خبره نه ده چې دهغې د جسم څه برخې دې ښرګندې و کتل شی، پرته له دې او له دې څخه. دایې وویل اود خپل مخ او ورغویو لورې ته یې اشاره وکړه.)

بي بي حفصه رضي الله عنها د عبدالرحمن رضي الله عنه لور یو ځل د بي بي عایشې رضي الله عنها ترمخ حاضره شوه چې یو نري او باریکه ټیکري یې په سر و، بي بي عایشی رضی الله عنها هغه ټیکری ترې و شلاوه او یو دروند او پیړ ټیکري یې ور په سر کړ «موطا امام مالک رحمة الله علیه»

د نبي کریم صلي الله علیه وسلم ارشاد دي چې:

[لعن الله الکاسیات العاریات]

(د الله تعالي لعنت دې پر هغه ښځو وي چې لباس یې په ځان کې هم وی خو لوڅې بریښي.)

دسیدنا عمر رضي الله عنه وینا ده چې خپلو ښځو ته داسې کالي مه اغوندئ چې په جسم باندې داسې ورونښلي چې د ټول جسم جوړښت ترې را په ډاګه کیږی «المبسوط کتاب الاستحسان».

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددغه روایاتو ښځه را په ډاګه کیږی چې د مخ او لاسونو پرته د ښځې ټول وجود په سترکې داخل دې او په هغې واجب دي چې په خپل کور کې هم دخپلو نژدې خپلوانو ښځه خپل ستر پټ و ساتي. هغه د خپل میړه پرته د بل هیچا ترمخه خپل ستر نه شي ښکاره کولاې که څه هم هغه د هغې پلار، وروراو وراره هم وي، ان تردې چې هغوې داسې نرې او نازک لباس هم نه شی اغوستلاې چې د هغې ستر ترې را څرګندیږي په دې هکله چې څومره احکام راغلي دا ټول د ځوانو ښځو له پاره دي، د ستر احکام د هغه وخت ښځه نافذیږي چې ښځه د بلوغ تر حده پورې و رسیږی او تر هغې وخته پورې پرې نافذ وي چې په کې د جنسی کشش جذبه موجوده وی. ددې عمر ښځه په تیردو سره په دې کې اسانتیاوې را ځې لکه چې قرآن مجید فرمایي:

[وَٱلْقَوَٰعِدُ مِنَ ٱلنِّسَآءِ ٱلَّٰتِى لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَن يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ غَيْرَ مُتَبَرِّجَٰتٍۭ بِزِينَةٍ ۖ وَأَن يَسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَّهُنَّ ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٦٠﴾ «النور ۶۰»]

(او هغه عمرتیرې زړې ښځې چې د نکاح هیله یې له منځه تللې وي، که هغوې خپل پړونې کیدې نو پر هغو څه وبال نشته، په دې شرط چې د ډول او سینګار څرګندونکې نه وي. سره له دې که هغوې هم پتمنې غوره کړې نو دهغو په حق کې ښه ده. الله هرڅه اوري او په هر څه پوهیږي.)

د لته د تخفیف علت په ډاګه بیان شوې دې، دنکاح د امید د نه درلودلو ښځه داسې عمر مراد دې چې جنسي غوښتنې په کې هم دفن شوې وي او بل کوم کشش په کې باقي پاته نه وي خو بیا هم د نورزیات احتیاط په خاطر یې دا شرط ایښې چې د زینت او ښایست را څرګندول یې ترې مقصود نه وي، یعنې که د جنسي کشش یو څرک هم په سینه کې ولري نو د ټیکري لرې کول ورته روانه دي، دا تخفیف یوازې د هغه عمر خوړلو ښځو له پاره دې چې دهغې په لور د احترام د نظر پرته د بل ډول نظر کولو امکان هم نه وی، داسې ښځې په کورونو کې د ټیکري پرته هم او سیداې شي.

### ۴:- اجازه اخستل:

ددې نه وروسته یې بل حد دا ټاکلې چې دکور خلکو ته له اطلاع ورکولو پرته په ناڅاپې توګه کورته د نارینه و له راننوتلو ښځه منه کړل شوې ده تر څونارینه خپلې ښځې په داسې کوم حال کې و نه وینې چې هغوی ته یې لیدل نه وې په کار.

[وَإِذَا بَلَغَ ٱلْأَطْفَٰلُ مِنكُمُ ٱلْحُلُمَ فَلْيَسْتَـْٔذِنُوا۟ كَمَا ٱسْتَـْٔذَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ ءَايَٰتِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٩﴾ «النور ۵۹»]

(کله چې ستاسې کوچنیان د پوهې منګ ته ورسیږي، نو باید همغسې د اجازې په اخیستلو راشي لکه څنګه چې دهغو مشران اجازه اخلي، په دغه راز الله خپل ایتونه تاسې ته روښانه وي، او هغه د پوهې او حکمت ښښتن دې)

دلته هم د حکم په عواملو پاندې رڼا اچول شوې ده. د اجازې ورکولو وخت هماغه وخت پیل کیږي چې جنسي احساس را پیدا شي د هغې تر مخه اجازه اخستل ضروري نه دی. ددې تر څنګ نورو وګړو ته هم حکم شوې چې د چا کورته د اجازې پرته ور داخل نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَدۡخُلُواْ بُيُوتًا غَيۡرَ بُيُوتِكُمۡ حَتَّىٰ تَسۡتَأۡنِسُواْ وَتُسَلِّمُواْ عَلَىٰٓ أَهۡلِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ۝٢٧«النور۲۷»]

( ای د ایمان خاوندانو ! خپلو کورونو پرته ، د نورو کورنو ته مه ننوځئ تر هغې چې دکور د خاوندانو څخه و نه پوښتئ، او کله چې ور ننوځئ نو د کور په اوسیدونکو سلام واچوئ)

ددې څخه موخه په کور کې دننه او دکوره د باندې ، دواړو تر منځ یو حد بندی کول دي ، تر څو چې په خپل کور کې ښځې او سړي د پردیو له نظره خوندي پاته شي . عربي ولس په لمړیو کې ددې احکامو علت نه شو درک کولاې ، په دې خاطر به هغوې ډیروخت د کورونونه بهر کورنو ته د یوالونو څخه او یانورو ځایو څخه کتل. یو ځل همداسې پیښنه نبي اکرم صلي الله علیه وسلم سره هم وشوه ، نبي کریم صلي الله علیه وسلم په خپله حجره کې تشریف درلود چې یو کس دکړکۍ څخه سر راښکاره کړ ،به دې خبره هغه و فرمایل :

[که چیرې ماته معلومه وای چې ته دکړکۍ نه را ګوري نو ما به ستا په سترګو کې څه منډلي وای. د اجازې حکم د نظرونو څخه د خوندي کیدو په خاطر شوي دي «بخاري»]

ددې پیښې وروسته هغه اعلان وکړ چې:[که چیرې یو څوک د چا کورته دهغوې د اجازې پرته ور وګوري نو دکور خاوندان حق لري چې دهغې سترګې ورو باسي « مسلم»]

بیا نو اجنبي خلکو ته حکم وشو چې کله هم د چا دکوره څه غواړئ نو کور ته یې مه ورننوځئ بلکه د پردې یا دروازې تر شا و دریږئ او غوښتنه وکړئ.

[...... وَإِذَا سَأَلۡتُمُوهُنَّ مَتَٰعٗا فَسۡـَٔلُوهُنَّ مِن وَرَآءِ حِجَابٖۚ ذَٰلِكُمۡ أَطۡهَرُ لِقُلُوبِكُمۡ وَقُلُوبِهِنَّۚ وَمَا كَانَ لَكُمۡ أَن تُؤۡذُواْ رَسُولَ ٱللَّهِ وَلَآ أَن تَنكِحُوٓاْ أَزۡوَٰجَهُۥ مِنۢ بَعۡدِهِۦٓ أَبَدًاۚ إِنَّ ذَٰلِكُمۡ كَانَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمًا ۝٥٣ «الاحزاب ۵۳»]

(...اوکله چې تاسې له ښځو څخه څه غواړئ نو د پردې تر شا ودریږئ او ویې غواړئ ، په دې کې ستاسې د زړونو له پاره هم پاکوالي دې او دهغوې د زړونو له پاره هم.... )

دلته هم د حد بندۍ په هدف «ذَٰلِكُمۡ أَطۡهَرُ لِقُلُوبِكُمۡ وَقُلُوبِهِنَّ» باندې پوره پوره رڼا اچول شوې چې هدف یې دښځو او سړو دواړو د جنسي میلاناتو او تحرکاتو څخه خوندی کول دی او دا حد بندي په دې خاطر کیږي چې د ښځو او سړو تر منځ اختلاط او بې تکلفي را پیدا نه شي.

دا احکام یوازې د پردویو له پاره نه دي بلکه د کورنۍ له پاره هم دي لکه څنګه چې په یو روایت کې را غلي چې سید بلال رضي الله عنه یا سید انس رضي الله عنه د فاطمه رضي الله عنها څخه دهغوې دکوم زوې غوښتنه وکړه نو هغې دپردې تر شا لاس ور اوږود کړ او وریې کړ. «فتح القدیر».

حال داچې دا دواړه د رسول الله صلي علیه وسلم د خادمانو څخه وو او دهغې سره یې دکورنۍ د غړو په څیر ژوند کاوه.

**۵**:- له پردۍ ښځې سره خلوت او دهغې لمس کول ناروا دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریمه حدبندي یې دا کړې چې دمیړه پرته هیڅ یو سړې د کومې ښځې سره نه په خلوت (ځانته والي ) کې اوسیدای شي او نه د هغې جسم لمس کولای شي که څه هم هغه د هغې نژدې دوست هم وی.

[عن عتبه بن عامر ان رسول الله صلي الله عليه وسلم قال: اياكم والدخول علي النساء فقال رجل من الانصار يا رسول الله صلي الله عليه وسلم افرايت الحمو قال الحمو الموت « ترمذي»]

( د عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دې چې نبي کریم صلي الله علیه وسلم وفرمایل: خبردار چې (پردیو ) ښځو ته په تنهایي کې مه ورنږدی کیږئ ، د انصارو څخه یوه کس وپوښتل یارسول الله ! د لیور په اړه ستاسې ارشاد څه دې ؟ویې فرمایل چې هغه «مرګ دې». )

[لاتلجوا علي المغيبات فان الشيطان يجري من احدكم مجري الدم «ترمذي»]

( دمیړونو د نه موجودیت په وخت کې ښځو ته مه ورځئ ځکه شیطان په تاسو کې د وینی به ځیر دوران کوي. )

[عن عمرو بن عاص قال نهانا رسول الله صلي الله عليه وسلم ان ندخل علي النساء بغير اذن ازواجهن « ترمذي باب في النهي عن الدخول علي النسائي الا باذن ازواجهن» ]

( د عمرو بن عاص رضي الله عنه څخه روایت دې چې رسول الله صلي الله علیه وسلم مونږه ښځو ته دهغوې د میړونو د اجازې پرته د ورتللو څخه منع کړي یو )

[لا يدخلن رجل بعد يومى هذا علي مغيبة الامعه رجل او اثنان « مسلم باب تحريم الخلوة لاجنبية»]

( دنن ورځې وروسته هیڅوک کومې ښځې ته دهغې د میړه په غیاب کې ور نه شی تر څو چې د هغې سره یو یا دوه کسان نورملګري نه وي. )

د لمس کولو یا لاس لګولو په هکله هم همداسې احکام راغلي.

[قال النبى صلي الله عليه وسلم من مس كف امراة ليس منها بسبيل وضع على كفه جمرة يوم القيمة]

( نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمایلي چا چې د کومي ښځې لاس لمس کړ په داسې حال کې چې دهغی سره هیڅ ډول روا اړیکې و نه لری دهغه په دغه ورغوي کې به دقیامت په ورځ د اور سکروټه ایښودل کیږی )

(سیدة عایشة رضی الله عنها فرمایي چې نبي کریم صلي الله علیه وسلم د ښځو څخه یوازې د ژبې د اقرار په اخستلو سره بیعت کاوه ، دهغوې لاس یې په خپل لاس کې نه نیوه ، هغه هیڅکله هم دداسې کومې ښځې لاس نه دې لمس کړې چې د هغې په نکاح کې نه وی «بخاري باب بيعة النساء» )

د امیمه بنت رقیقة رضی الله عنها وینا ده چې زه د څو نورو ښځو سره د نبی کریم صلي الله علیه وسلم سره د بیعت له پاره ورغلم هغه زمونږ څخه اقرار واخست چې:[د الله سره د شرک ، دغلا ، زنا ، تهمت لګولو او د نبی صلي الله علیه وسلم د نافرمایۍ څخه به ځان ژغورئ]، کله چې اقرار ختم شو ، نو مونږ ورته وویل چې اوس مونږ غواړو ستا په لاس بیعت وکړو . هغه و فرمایل:[زه د ښځو سره مصافحه نه کوم یوازې د ژبې اقرار کافي دي « نسايي باب بيعة النساء»]

دا احکام یوازې د ځوانو ښځو له پاره دي ، د عمر خوړلیو ښځو سره ځانته کیناستل روا دي او دهغوې لمس کول هم منه شوی نه دی. لکه چې د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه په هکله روایت دې چې هغه به هغې قبیلې ته چې شیدی یې په کې څکلي وې ورته ، او هغه به دهغې قبیلې زړو ښځو سره مصافحه هم کوله. همدا راز دسیدنا عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما په هکله روایت دې چې د هغې سر او پښې به یوې زړې بوډۍ ښځې مندلې.

دغه تو پیر چې د ځوانو او زړو ښځو تر منځ شوې په خپله ددې خبرې لوې ثبو ت دې چې په اصل کې ددواړو جنسونو «نر او ښځې » ترمنځ دداسې اختلاط مخنیوې وکړل شي چې فتنه ترې را ولاړیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲:-د محرمو او غيرې محرمو تر منځ توپير:

دا خو هغه احکام وو چې د ميره پرته په کې ټول نارينه محرم او غير محرم شامل وو. ښځه د هغوې ځخه د يوه تر مخه هم خپل ستر او « دمخ اولاسونو پرته» د خپل وجود هيڅ برخه نه شې را بربنډولاي ، بلکل په هماغه ډول لکه څنګه چې نارينه د چا تر مخه خپل ستر « د نامه څخه لاندې د زنګون د سترګې پورې برخه» د چا تر مخه نه شي ښکاره کولاې. ټولو نارينه و ته حکم شوې چې د اجازې اخستلو وروسته کورونو ته ننوتلاې شي او دهغو څخه هيڅ يوه ته هم دښځې سره په خلوت کې ناسته او يا دهغوې جسم لمس کول روانه دي۱

[۱:-...د مس کولو په هکله د محرمو او غير محرمو نارينه و تر منځ ډير توپير دې د نمونې په توګه دخپلې خور لاس نيول او په سورلۍ يې ورخيژول ښکاره ده چې دا خبره دکوم پردې له پاره روانه ده. کله به چې نبي اکرم صلي الله عليه وسلم د سفر نه بيرته را ګرځيده نو بي بي فاطمي رضی اله عنها ته به يې غاړه ورکوله او د هغې سر به يې ښکلاوه او په همدې ترتيب سيدنا ابوبکر صديق رضی الله عنه به د خپلې لور سيدة عايشې رضی الله عنها سر ښکلاوه.]

ددې وروسته د محرمو او غير محرمو تر منځ توپير کيږي. په قرآن او حديثو کې په پوره تفصيل سره د ازادۍ او بې تکلفۍ هغه مرتبې په ډاګه شوې دي چې يوازې د محرمو نارينه و ترمخ تر سره کيداې شي خو د غير محرم نارينه تر مخ هغه روا نه دی. دا هماغه څه دي چې په عامه اصطلاح کې ورته پرده يا شرعي حجاب ويل کيږي.

## د پردې يا حجاب په هکله حکمونه:

د قرآن مجيد په هغو ايتونو کې چې په دې په هکله کوم احکام بيان شوي هغه په دې لاندې ډول دي:

[قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴿٣٠﴾ وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَىٰ عَوْرَاتِ النِّسَاءِ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٣١﴾ «النور ۳۰-۳۱»]

(c) ketabton.com: The Digital Library

( ای پیغمبره ! مؤمنانو نارینه‌و ته‌ووایه چې خپل نظر تر کنترول لاندې و ساتي او دخپلو شرمځایونو ساتنه وکړي ،، دا د هغو له پاره ډیره پاکه کړنلاره ده ، هغوی چې څه کوي الله پرې خبرېږي. او ای پیغمبره ! مؤمنو ښځو ته‌ووایه چې خپلې سترګې تر کنترول لاندې و ساتي ، او دخپلو شرمځایونو ساتنه وکړي او خپله ځان جوړونه او سینګار دې نه ښکاره کوي پرته له هغه چې په خپله ځرګند شي ، او پر خپلو سینو دې د خپلو ټیکریو پلونه را خواره کړي ، هغوی دې خپله ځان جوړونه او سینګار نه ښکاره کوي مګر ددې خلکو په وړاندې: «میړونه ، پلرونه ، د میړو پلرونه ، خپل زامن ، د میړو زامن (بنزیان )، ورونه ، وریرونه ، خوریونه ، د خپلې طبعې ښځې ، خپل مملوک(غلام) ، خپل هغه لاس لاندې نارینه چې څه بل شان غرض و نه لري ، او هغه کوچنیان چې لا تر اوسه پورې دښځو له پټو خبرو سره اشنا نه دي .(همدارز) هغوې دې پر ځمکه باندې په‌زوره پښو وهلو سره په‌داسې شان تګ نه کوی چې دهغوی پټ کړي سنیګار خلکو ته‌را ځرګند شي .
اې مؤمنانو ! تاسې ټول په‌ګډه سره الله ته‌توبه وباسئ ، هیله‌ده چې برې به‌در په‌برخه شي.)

[يَـٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ لَسۡتُنَّ كَأَحَدٖ مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِنِ ٱتَّقَيۡتُنَّۚ فَلَا تَخۡضَعۡنَ بِٱلۡقَوۡلِ فَيَطۡمَعَ ٱلَّذِي فِي قَلۡبِهِۦ مَرَضٞ وَقُلۡنَ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا ﴿٣٢﴾ وَقَرۡنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ٱلۡأُولَىٰۖ وَأَقِمۡنَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتِينَ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِعۡنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرٗا ﴿٣٣﴾ «الاحزاب ٣٢-٣٣»]

(اې د نبې بیبیانو ! تاسې خو د عامو ښځو په‌څیر نه یاست ، که چیرې تاسې پر هیزګاري کوئ نو (دنامحرومو سره ) په‌خوږه لهجه خبرې مه کوئ ، تر څو دهغوې څخه د چا په‌زړه کې چې کومه خرابي یا ناروغتیا وي له تاسې پورې خپلې (ناولې) ارزوګانې و نه‌تړي. خبرې نیغې او په‌ساده توګه سره وکړئ او په‌خپلو کورونو کې اوسئ او د جاهلیت د زمانې په‌څیر په‌ښایست او سنګار کولو سره مه‌ګرځئ را ګرځئ.)

[يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يُعۡرَفۡنَ فَلَا يُؤۡذَيۡنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ﴿٥٩﴾ «الاحزاب ٥٩»]

(اې نبې ! خپلو میرمنو او لوڼو او د مؤمنانو ښځو ته‌ووایه چې پر خپل ځان دې د خپلو ټیکریو پلوونه راخپاره کړي. دا ډیر مناسب کړنچار دې تر څو چې هغوې و پیژندلې شي او ونه‌ځورول شي ، الله غفور او رحیم دې.)

په دغو آیتونو غور وکړئ ، سړیو ته خو یوازې دومره تأکید شوې چې خپل نظر ټیټ و ساتي او د فواحشو څخه د خپلو اخلاقو ساتنه وکړی خو ښځو ته د سړیو په‌څیر د هغه دوه شیانو حکم ورکړل شوې او بیا د معاشرې او راکړې ورکړې په هکله څو نور هدایات او لارښوونې هم ورته شوي . ددې څخه دا په ډاګه ځرګندیږي چې د اخلاقو د ساتنې له‌پاره د نظر د ټیټوالي او د فروجو ( شرم‌ځایو ) د ساتنې کوشش کافي نه دې بلکه‌د څه‌نورور ظوابطو له‌پاره هم اړتیا شته. اوس مونږ باید فکر وکړو چې دغه‌مجملي لارښوونې نبې اکرم صلي الله علیه وسلم او دهغې صحابه کرامو رضې الله عنهم څنګه او په څه ډول په‌اسلامي ټولنه کې نافذ کړي او دهغوی د وینا او کړنو څخه‌ددغه‌لارښونو په‌عملي او معنوی تفصیلاتو څه‌رڼا پریوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱:-د نظر ټيټول يا لاندې کتل «غض بصر» :

تر ټولو لمړی حکم چې نارينه و او ښځو ته شوې هغه دادې چې خپل نظرونه ټيټ و ساتي خو ددې څخه پوره مفهوم نه را څرګنديږي. د الهي حکم اصلي مقصد دا نه دي چې خلک دې تل لاندې ګوري او هيڅکله دې هم خپلې سترګې نه پورته کوي ، دلته په اصل کې هدف داې چې دهغه څه څخه ځان و ژغوري چې په حديث کې ورته د سترګو زنا ويل کيږی. د پردو ښځو ښايست او دهغوې د زينت دليدلو څخه خوند اخيستل ، سړيو له پاره او دښځو له پاره پردی خلک په نظر کی اخيستل د فتنې سبب ګرځي د فسا د پيلامه له همدغه ځايه پيليږی .په دې خاطر يې تر هر څه د مخه د همدغې دروازې د بنديدو حکم کړې دې او د لاندې کتلو څخه يې همدغه هدف دې. په پښتو ژبه کې ددغه لفظ مفهوم « د نظر د اړولو » په معنې اخستل کيږي.
ښکاره ده چې انسان د سترګو د پرانستلو سره سم په نړۍ کې هستوګن کيږي ، نو په ټولو شيانو يې نظر پريوځي. دا خو شوني نه ده چې کوم سړې ، ښځه او يا کومه ښځه کوم سړې کله و نه ويني. په دې اساس شارع فرمايې چې که نا ځاپه نظر ولويږي نو هغه معاف دې. البته کوم څه چې منه دی هغه دادې چې په يوه نظر هلته چې تا ته حسن او ښايست محسوس شی نو هلته دوېم ځل وګورې او د هغې د ژورې کتنې او ليدنې هڅه وکړې .
[عن جرير قال سألت رسول الله صلي الله عليه وسلم عن النظر الفجاة فقال اصرف بصرک « ابوداود باب ما يؤمر به من غض البصر»]
( سيدنا جرير رضي الله عنه د رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه د ناځاپې نظر په اړه وپوښتل : هغه ورته وفرمايل چې مخ تري واړه وه. )
[عن بريدة قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم لعلي يا علي لا تتبع النظرة النظرة فان لک الاولی و ليس لک لاخرة « ابوداود»]
(بريدة رضي الله عنه څخه روايت دې چې رسول الله صلي الله عليه وسلم حضرت علي رضي الله عنه ته و فرمايل چې ای علي ! ديوه نظر نه وروسته بل ځل نظر مه کوه ، لومړی نظر تاته معاف دې خو د بل ځل نظر اجازه درته نه شته. )

[ عن النبي صلي الله عليه وسلم قال من نظر الي محاسن امراة اجنبية عن شهوة صب في عينيه الانک يو القيمة « فتح القدير» ]

( نبي اکرم صلي الله عليه وسلم فرمايي چې څوک چې د پردۍ ښځې په ښايست باندې د شهوت په خاطر نظر ور واچوي نو د قيامت په ورځ به د هغه په سترګو کې ويلې کړل شوې قلعي ورواچول شی. )

خو ځينې وخت داسې حالات منځته راځي چې دهغې له مخې د اجنبي يا پردۍ ښځې کتلو ته اړتيا پيښيږي، دنمونې په توګه کومه ناروغه ښځه د طبيب يا ډاکتر تر علاج لاندې وي يا کومه ښځه په کومې محکمې کې د قاضي تر مخه د ګواه يا مدعي به حيث ولاړه وی يا په کوم سوزيدلي ځاې کې ښځه بنده پاته شوې وي يا په اوبو کې ډوبه شوې وی يا دهغې ځان او ابرو په خطر کې لويدلې وی ، په داسې حالاتو کې څهره او مخ خو پريږده چې ستر هم ليدل کيداې شی ، لاس پرې هم لګول کيږی بلکه سوزيدلې يا ډوبه شوې ښځه په غيږ کې اخيستل او خوندې ځاې ته رسول نه يوازې جايز دی بلکه فرض هم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نبی کریم صلي الله علیه وسلم حکم دادي چې په داسې حالاتو کې ترهغې پورې چې شوني وي خپل نیت پاک و ساتئ خو د بشریت د غوښتنو په اساس که په جذباتو کې لږتحریک هم را پیدا شي بیا هم کومه ګناه نه ده ، ځکه چې داسې نظر او داسې لمس د فطرت د غوښتنو څخه دې چې بلکل له منځه وړل یې د انسان په واک کې نه دی۱

[۱:- ددې مسئلې د تفصیل له پاره د امام رازی په تفسیر کې « قل للمؤمین یغضو من ابصارهم » وګورئ او همدا راز احکام القران للجصاص او المبسوط مطالعه کړئ]

په همدې ترتیب د نکاح په خاطر د یوې اجنبې ښځې کتل او په تفصیلې توګه دهغې لیدنه نه یوازې جائز دي بلکه په احادیثو کې په دې هکله حکم راغلې او په خپله نبې کریم صلي الله علیه وسلم ددې هدف له پاره ښځه کتلې ده.

[عن المغیرة ابن شعبة انه خطب امراة فقال النبي صلي الله علیه وسلم النظر الیها فانه امر ان یودم بینکما «ترمذي باب ماجاء في النظر الي المخطوية»]

( دمغیره بن شعبه څخه روایت دي چې هغه یوې ښځې دته د نکاح پیغام ولیږه. نبي اکرم صلي الله علیه وسلم هغه ته وویل چې هغه ووینه ، ځکه چې دغه کار ستاسې ددواړو تر منځ د محبت او اتفاق دپیداکولو له پاره ډیر مناسب دې.)

[عن سهیل بن اسعد ان امراة جاءت الي رسول الله صلي الله علیه وسلم فقالت یارسول الله !جئت لاهب لک نفسي فنظر الیها رسول الله صلي الله علیه وسلم فصعد النظر الیها «بخاري باب النظر الي المرآة قبل التزوج»]
( د سهیل بن سعد څخه روایت دي چې یوه ښځه د رسول الله صلي الله علیه وسلم دربار ته راغله او ویې ویل چې زه خپل ځان د رسول الله صلي الله علیه وسلم په نکاح کې ورکولو ته راغلي یم ، په دې خبره رسول الله صلي الله علیه وسلم خپلې سترګې را پورته کړې او هغه یې و لیده )

عن ابي هریرة رضي الله عنه قال کنت عند النبي صلي الله علیه وسلم فاتاه رجل فاخبرة تزوج امراة من الانصار فقال له رسول الله صلي الله علیه وسلم انظر الیها ، قال لا قال فاذهب فانظر الیها فان في اعین الانصار شیئا« مسلم باب من اراد نکاح امراة الي ان ینظر الي وجهها»]

( سید ابو هریره رضی الله عنه فرمایي چې زه د نبی کریم صلي الله علیه وسلم سره ناست وم چې یو سړي حاضر شو او ویې ویل چې ما د انصارو څخه د یوې ښځې سره د نکاح کولو اراده کړې ، رسول الله صلي الله علیه وسلم ترې پوښتنه وکړه چې ایا تا هغه لیدلې ده ؟ هغه ځواب ورکړ نه ! نبي اکرم صلي الله علیه وسلم ورته وفرمایل ولاړ شه او هغه ووینه ، ځکه چې ډیر وخت دانصارو سترګې عیبجنی وي )

[عن جابر بن عبدالله رضی الله عنه قال قال رسول الله صلي الله علیه وسلم اذا خطب احدکم المراة بان استطاع ان ینظر الي مایدعوه الي نکاحها فلیفعل « ابوداود با ب في الرجل ینظر الي المراة وهو یرید تزویجها»]

(c) ketabton.com: The Digital Library

( د جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه روایت دي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل چې کله هم له تاسې څخه کوم یو کومې ښځې ته د نکاح پیام ورورې نو د امکان تر حده دې هغه ووینې چې ایا په هغې کې داسې کوم څه شته چې هغه د هغې ښځې سره په نکاح کې رغبت ورکونکي اوسي. )

په دغه استثناآتو باندې د غورکولو نه دا څرګندیږي چې د شارع هدف د لیدلو څخه په مکمله توګه مخنیوی نه دی بلکه په اصل کې د فتنې مخنیوې یې ترې مقصود دی او ددې غرض په خاطر یې یوازې دغسې لیدل منع کړي چې کومه اړتیا ورته هم نه وی ، تمدني ګټې ترې هم متصوري نه وي بلکه ددا ډول کتلو په واسطه د شهواني جذباتو د تحریکیدو له پاره لاره برابریږی. دغه حکم له څنګه چې د نارینه و له پاره دې په همدې توګه د ښځو له پاره هم دې لکه چې په حدیث شریف کې د سیدة ام سلمه رضي الله عنها څخه روایت دې چې یو ځل هغې او سیدې میمونې رضی الله عنهما او په یو بل روایت کې د سیدې عایشې رضی الله عنها یادونه شوې چې د رسول الله صلي الله علیه وسلم تر څنګ ناست وو په دغه وخت کې سیدنا ابن مکتوم رضي الله عنه ، چې په دواړه سترګو ړوند و ، راغې. نبې صلي الله علیه وسلم وفرمایل د هغې نه پرده وکړه . سیدة ام سلمه رضي الله عنها وایې چې ما پوښتنه وکړه چې ایا دا ړوند نه دي ؟ نه مونږ کتلای شي او نه مونږ پیژندلای شی ؟ رسول الله صلي الله علیه وسلم ځواب ورکړ چې ایا تاسې دواړه هم ړندې یاست ؟ ایا تاسې هغه نه وینئ ؟ «ترمذي»]

خو ښځو ته د سړیو او سړیو ته د ښځو د لیدلو په رواني اړخ کې هم ډیر نازک توپیر موجود دی. ځکه د سړي په فطرت کې اقدام وي ، د یوه شی د خوښولو نه وروسته دهغې د تر لاسه کولو له پاره هڅه کوي او په هغې لورې قدم پورته کوي. خو د ښځې په فطرت کې ویره او تیښته ده. تر هغویې چې فطرت په مکمله توګه نه وي مسخه شوې تر هغې پورې هیڅکله هم دومره با جرأته او بې باکه کیږي نه ، چې د یو چا د خوښولو سره سم د هغې په لور وړاندې تګ وکړي. شارع ددغه توپیر دپه نظر کې نیولو په اساس په ښځو ، د پردیو سړیو د لیدلو په وخت کې هومره سختې نه ده کړې څومره یې چې د نارینه و له پاره دپردیو ښځو دکتلو په معامله کې کړې ده. لکه چې په احادیثو کې سیدة بې بې عایشې رضي الله عنها څخه روایت کیږی چې رسول الله صلي الله علیه وسلم به د اختر په ورځو کې په هغې باندې د حبشو د لوبو د میلې ننداره کوله۱

[۱:-دا روایت په بخاري ، مسلم او نسائي کې به مختلفو طریقو سره راغلي دي. د حبشي خلکو د هغې تو جیه داسې کړې چې، ګمان کیږی چې دا پیښه دهغې وخت وي چې د سیدې عایشې رضی الله عنها عمر کم و ، او د حجاب احکام (لا تردې وخته ) نه و نازل شوي. خو ابن حیان کې تصریح شوې چې دا پیښه دهغه وخت وه چې د حبشو یوه هیئت مدینې ته را غلې و او تاریخ ددغې هیئت را تګ اووم هجري ښوولې دې ، په دې اساس د سیدې عایشې رضي الله عنها عمر په دغه وخت کې ۱۵ یا ۱۲ کاله و ، همدا راز په بخاري کې روایت دي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم به بې بې عایشة رضی الله عنها په ځادر کې را نغاړله او تلل به ، ددې نه دا په ډاګه ده چې د حجاب احکام په هغه وخت کې نازل شوی و .]

ددې څخه دا څرګندیږي چې ښځو ته د سړیو کتل له یوه سره ممنوع نه دی بلکه په یوه غونډه کې ګډه ناسته او یو په بل نظر ښخول مکروه کار دې، همدا راز داسې نظرکول هم روا نه دي چې د فتنې احتمال ترې را پیداکیږی. هماغه ړوند صحابي ابن مکتوم رضي الله عنه د چا څخه چې رسول الله صلي الله علیه وسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيدې ام سلمه رضی الله عنها ته د پردې کولو حکم کړې و په یوه بل وخت کې رسول الله صلي الله علیه وسلم د همغې (صحابي) په کور کې د قیس لور فاطمې ته د عدت دتیرولو حکم وکړ.

قاضي ابوبکر ابن العربي په خپل کتاب احکام القرآن کې دا پیښه داسې بیانوی:

[ دقیس لور فاطمې د ام شریک په کور کې خپل عدت پوره کول او تیرول غوښتل ، رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې دې کور ته خلک ځي راځي ، ته د ابن مکتوم په کور کې اوسه ، ځکه چې هغه یو ړوند سړی دی او هلته ته د پردې پرته هم اوسیدې شې].

ددې نه دا په ډاګه کیږي چې د پردې څخه اصل مقصد د فتنې د احتمالاتو کمښت دی هلته چې د فتنې د راپیداکیدو احتمال زیات دی نو هلته یې د اوسیدانې څخه منه کړې او هلته چې احتمال یې کم دی نو هلته یې ورته د اوسیدلو اجازه ورکړه ، ځکه چې دا ښځه په هر حال باید یو چیرته اوسیدلای وای . هلته چې ربښتوني اړتیا ورته نه وي هلته دښځو د یو پردي سړي سره یو ځای په یوې غونډه کې راټولیدل او مخ پر مخ د لیدلو څخه منه راغلې ده.

دغه ټول مراتب د یوه حکمت په اساس جوړ شوي دي او څوک چې د شریعت تر روح پورې د رسیدو توان ولري په اسانۍ سره پوهیدای شي چې د نظر د ټیټوالي (غض بصر) احکام دکومو ښیګڼو درلودونکي دي او دهمدغه ښیګڼو په اساس په دې احکامو کې د سختوالي او نرمۍ مدار په کومو امورو باندې ولاړ دی.

د شارع اصل موخه د نظر جنګولو څخه ستاسې منه کول دي او که نه هغه ستاسې د سترګو سره کومه دښمني نه لري. دغه سترګې په اوله کې په ډیرو معصومو کتلو سره خپله پیلامه کوی د نفس شیطان دهغې د تائید له پاره ډیر ستر اود فریب نه ډک دلایل وړاندې کوي. ورته ویل کیږي چې دا د ښایست ذوق دی چې فطرت تاته درکړې دی. د فطرت د جمال نور تجلیات چې کله ته وګوری نو روحاني لطف اوخوند به ترې واخلې خو دننه شیطان ددغه خوند اخیستنې شوق نور هم زیاتوي ان تردې چې دښایست شوق ته پرمختګ ورکړي او د وصال یا یو ځای کیدو تر شوق پورې یې ورسوي ، هیڅوک هم ددې حقیقت څخه د انکار کولو جرئت کولې نه شی چې په نړۍ کې چې څومره بدکاري تر اوسه پورې شوې او یا همدا اوس کیږي دهغې تر ټولو لومړۍ او ستر محرک همدغه د سترګو فتنه ده ؟ څوک دا دعوه کولې شی چې د خپل مقابل صنف دکوم ښایسته او ځوان وګړي په لیدلو ورته هماغه کیفیت پیدا کیږي چې دیوه ښایسته ګل په لیدلو ورته پیدا کیږي ؟ که چیرې ددواړو ډولو په کیفیاتو کې څه توپیر موجود وي او د یوه پر خلاف د بل کیفیت لږ یا ډیر شهواني کیفیت ولري نو بیا تاسې څنګه ویلای شئ چې د جمال د ذوق له پاره هم هماغسې ازادۍ ته اړتیا ده چې د نورو ښکلاو د ذوق له پاره شته دي.

شارع ستاسې د جمال ذوق له منځه وړل نه غواړي ، بلکه هغه وایي چې تاسې په خپله خوښه د ځان له پاره یوه جوړه او د ژوند ملګری /ملګرې غوره کړئ او چې په تاسې کې د جمال او ښکلا څومره شعور دی دهغې مرکز یوازې همدغه یو وګرځوئ بیا چې څومره مو خوښه وي همغومره خوند ترې واخلئ خوکه ددې مرکز نه اخوا د نظر لوبې کوئ نو په فواحشو کې به ککړ شئ. که چیرې د نفس د ضبط یا نورو خنډونو په اساس دخپل سرۍ په عمل کې و نه غورځیږئ خو بیا به هم د فکر او خیال د خپل سرۍ څخه خوندي و نه اوسئ ، ستاسې ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيات ځواک به د سترګو له لارې له منځه ولاړ شي او د ډيرو نه کړيو ګناهونو ارزو به ستاسې زړونه ناپاکه کړي. په وار وار به د محبت په فريب کې را ګيريږئ او ډيرې شپې به د بيدارۍ په خوب ليدو کې ضايع کوئ ، د ډيرو ښايسته مارانو اوماريو په واسطه به چيچل کيږئ ، ستاسې د زړونو ډير توان به د زړه د ډوبيدو او د ويني د هيجان په واسطه له منځه ځې ، ايا دا څه کم زيان دې ؟ او دا ټول هر څه د خپل مرکز نه د نظر د بل خوا اړولو زبيښه ده. په دې خاطر خپلې سترګې په خپله ولکه کې و ساتې. پرته له اړتيا ليدل او داسې ليدل چې د فتنې سبب کيږي د عذر وړدي. که چيرې د ليدلو له پاره رښتيا هم اړتياوی يا ترې کومه تمدني ګټه متصوره وي ، نو د احتمالي فتنې باوجود هم دهغې ليدل روا دی. خو که چيرې دليدلو حاجت هم نه وی او د فتنې احتما ل هم شتون ونه لري نو د ښځې له پاره دسړی ليدل روا دی خو د سړي له پاره دښځې ليدل روا نه دي مګر دا چې په ناڅاپي توګه يې پرې نظر ولويږي.

## دښايست دښکاره کولو څخه ممانعت او دهغې حدود:

د سترګو ټيټولو يا نظر د ټيټولو(غض بصر) حکم د ښځو او نارينه و دواړو له پاره و ، خو دهغې څو احکام يوازې د ښځو له پاره دي ، دهغې لومړي حکم دادي چې ښځې دې د يوې محدودې دايرې څخه بيرون دخپل زينت دښکاره کولو څخه ډډه وکړی. ددې حکم په مقصد او دهغې په تفصيلاتود غور کولو نه د مخه هغه احاکم يو ځل بيا په ذهن کې راتازه کړئ چې ددې تر مخه د لبا س او ستر په هکله بيان شوي دي.

- د مخ او لاسونو پرته دښځې ټول جسم ستر دي او دپلار ، کاکا ، ورور او ان دخپل زوی تر مخه يې هم ښکاره کول روا نه دي ، ان تر دې چې ښځې ته هم دښځې عورت ښکاره کول مکروه دی ١

[١:- دښځې له پاره بلې ښځې ته د نامه د غوټې نه لاندې د زنګانه د سترګې پورې د برخې ليدل هم دغسې حرام دي لکه د سړي له پاره چې د بل سړي دغه برخه ليدل حرام دي ، د جسم پاته برخه ليدل ورته مکروه دي خو قطعي حرام نه دي]

- ښځې ته اجازه ورکړل شوې چې خپل زينت ددغې لاندې خپلوانو تر مخ ښکاره کولای شي ، ميړه ، پلار ، خسر ، زوی ، دبنې زوی ، ورور ، وراره او دخور زوی.
- هغه دداسې وګړو تر مخ هم خپل زينت را څرګندولې شي چې تابع يا تر لاس لاندې خلک وي او دښځو په لور ميلان کونکو سړيو څه نه وی٢

[٢:-.... ددې حکم په تفسير کې حافظ ابن کثير ليکي چې ددې څخه هدف مزدور ، ملازم تابعدار سړي دي چې دښځو په لور ميلان لرونکې نه وي ، چالاکه او تيز ډوله خلک نه وی بلکه نيک او ساده خلک وي «ابن کثير».

شهوانی ميلان نه درلودل په دوو حالاتو کې شوني دي، يو دا چې په هغې کې بلکل شهوت له منځه تللې وي ، لکه ډير زاړه خلک ، د ناقص عقل خاوندان ، ابله يا پيدايشی شنډ. بل داچې په هغوی کې شهوانی قوت اود ښځو په لور ميلان خو موجود وی مګر د خپلې ماتحتې او لاس لاندی توب په اساس هغه د هغه سړي دښځو سره کوم ډول شهوانی اړيکي نه شی پيداکولای چيرته چې هغه د ملازم ،نوکر او يا مزدور په څير کار کوي ، او يا د چاپه کور کې چې هغه د مسکين او فقير په څير د خيرات د غوښتلو له پاره ورځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيۡرِ أُوْلِي ٱلۡإِرۡبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ» اطلاق په همدغه ډول دواړو طبقو باندې کیږی. خو دا فکر به ساتئ چې ددغه ډول خلکو ترمخه چې ښځې ته د زینت سره د راتګ اجازه ورکړې شوې په هغوی کې ددغه دواړه ډولو صفتونو موجودیت حتمی دې ، لمړی د اچې هغه دهغې کور تابع وي او بل دا چې هغه ددې کور د ښځو سره د شهوانی اړیکو د ټینګولو تصور او فکر هم نه شی کولاې او دا دهرې کورنیۍ د مشر مسؤلیت دې چې دغه ډول خلکو ته چې هغه ورته کورته د راتللو اجازه ورکوي په هغوې باندې د (غیر الاولي اربه) کیدو کوم ګومان چې هغه په لمړیو کې کړې و هغه سهي ثابیتږې او که نه ، که چیرې د لمړنی اجازت وروسته کله هم ددې شک ځاې پیدا شې نو دغه اجازه منسوخولاې شی په دې هکله بهترینه نمونه دهغې مخنث ده چې نبي کریم صلي الله علیه و سلم هغه ته کورته د ننوتلو اجازه ورکړې وه او بیا د یوې پوښتنې وروسته نه یوازې دا چې هغه یې کورته د ننوتلو څخه بندکړ بلکه د مدینې څخه یې هم وویست ، دهغه قصه داسې ده چې: [ په مدینه کې یو مخنث چې د پاکو بیبیانو کوروته به یې تګ راتګ کاوه ، یوځل هغه د سیدې ام سلمې رضي الله عنها په کور کې ناست و او دهغې د ورور عبدالله رضي الله عنه سره یې خبرې اترې کولې په دغه وخت کې نبي اکرم صلي الله علیه و سلم تشریف راوړ او دکور په دروازه کې یې د قدم د ایښودلو سره سم دا واوریدل چې هغه عبدالله رضي الله عنه ته ویل: که چیرې سبا طائف فتح شی نو زه به د غیلان ثقفي لور تاته درو ښیم او په یوې ډیرې شرمناکې توګه یې د هغې ستاینه وکړه ، کله چې نبي کریم صلي الله علیه و سلم د هغې دغه خبرې واوریدې نو ویې فرمایل:

[لقد غلغلت النظر الیها یا عدو الله «اې د الله دښمنه !تا په هغې کې خپلې سترګې ښې ورننویستې وې»]

بیا یې پاکو بیبیانو ته وفرمایل: زه وینم چې دا د ښځو د احوال څخه باخبره دې ، په دې اساس باید دا ستاسې کورونو ته پس له دې را نه شي ، بیا هغه په دې هم بسنه ونه کړه ، هغه یې له مدینې څخه وویست او په بیدیا کې یې ورته د اوسیدو حکم وکړ. ځکه چې هغه چې د غیلان د سترکومه نقشه ویستلې وه دهغه څخه نبي کریم صلي الله علیه و سلم دا اندازه وکړه چې ددې شخص د ښځیتوب په اساس ښځې ددې سره دومره بې تکلفي کوي لکه څومره یې چې د نورو ښځو سره کوي او په دې توګه هغه د هغوې دداخلي حالاتو څخه په خبریدو سره د هغوی ستاسینه دنارینه و ترمخ کوي چې ورڅخه لویې او سترې فتنې را ولاړیږې [بذل الجهود کتاب اللباس باب ماجاء في قوله تعالي « غیر الولي الاربة من الرجال» ]

- ښځې دداسې کوچنیانو ترمخه هم زینت ښکاره کولاې شی په کومو کې چې تراوسه پورې جنسی احساسات نه وي راپیدا شوي ، قرآن مجید کې فرمایې چې :

[أَوِ ٱلطِّفۡلِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يَظۡهَرُواْ عَلَىٰ عَوۡرَٰتِ ٱلنِّسَآءِۖ «النور ۳۱»]

( او داسې کوچنیان چې تراوسه د ښځو په پټو خبرو باندې پوه شوي نه وي یعنې هغه ما شومان چې لا تراوسه پورې دښځو له پټو خبرو سره اشنانه وی )

- د خپلو ناستو پاستو ښځو ترمخ هم د ښځې زینت ښکاره کول روا دې په قران مجید کې د« النساء» (ښځو ) الفاظ نه دي استعمال شوي بلکه د «نسائهن» (خپلو ښځو ) الفاظ را غلي دی. ددې نه را په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاګه کيږی چې ددې څخه نيکي ښځې يا دخپل کور ،يا خپلوانې يا د خپلې طبقې ښځې هدف دې دهغې نه اخوا پردی ښځې چې هر ډول مجهول الحال او د شکمنو کړو وړو خاوندانې او خپل سری او بدنامې ټولې ښځې شاملې دي ، ددې اجازې څخه وتلې دي ځکه چې هغوې هم د فتنې سبب ګرځي. په همدې اساس کله چې د شام (سوريې ) لورې ته مسلمانان ولاړل او د هغوې ښځې هلته د يهودې او نصرانې ښځو سره بې تکلفه ورګډی شوې نو سيدنا عمر رضی الله عنه د شام امير ابو عبيده بن الجراح رضی الله عنه ته وليکل چې مسلمانې ښځې د اهل کتابو دښځو سره يو ځای حمامونو ته د تللو څخه منه کړئ «ابن جرير».

سيدنا عباس رضی الله عنه په صراحت سره وايي چې مسلمانې ښځې دکفارو او اهل ذمو دښځو تر منځ خپل ستر د هغه نه زيات نه شي ښکاره کولې لکه څومره چې دپرديو سړيو تر مخ يې ښکاره کولې شی « تفسير کبير».

ددې څخه کوم مذهبی امتياز هدف نه و بلکه مسلمانې ښځې دداسې ښځو د اغيز څخه خوندې ساتل و چې دهغوی د تهذيب او اخلاقو سهي حال معلوم نه و يا ترکومه حده پورې چې معلوم هم و نو هغه د اسلام له آنده د نيوکې وړ و ، ياته شوې هغه غير مسلمانې ښځې چې نيکې ،حياداري او د نيک خوې خاوندانې وې نو هغوې په «نسائهن» کې شاملې دي.

په دغه حدودو باندې د غورکولو وروسته دوه خبرې مخته راځی:

لمړې:- دا چې دکوم زينت ښکاره کول چې په دغه محدوده کې راځې هغه د عورت د ستر څخه نور شيان دی لکه د زيوراراتو اچول ، بهترين کالي اولباس اغوستل ، ځان ښايسته کول ، رانجه کول ، د نکريزو پورې کول، د ويښتانو ږومنځول ، او نور ارايش دي چې ښځې يې دخپل اونثيت په غوښتنې په خپلو کورنو کې په کولو عادی وی.

دوېم:- دا چې ددغه ډول ارايشونو دښکاره کولو اجازه يا خو دهغه نارينه و تر مخ ورکړل شوې چې دهغې ابدي حرمت هغوې ددغه ښځو له پاره حرام کړې دي ، يا دهغه وګړو ترمخه چې جنسي ميلانات و نه لري او يا د هغوې تر مخ چې د فتنې د راولاړيدو سبب نه شي ګرځيداې. په همدې خاطر يې دښځو له پاره د « نسائهن» قيد اينبې دي د تابيعينو له پاره يې د « غير اولي الاربة» او دکوچنيانو له پاره يې د« لم يظهروا علي عورات النساء» . ددې نه دا را په ډاګه کيږی چې د شارع هدف د ښځو د زينت ځرګندول په داسې يوې حلقی کې محدودول دی چې په هغې کې د هغوې د حسن او ارايش څخه کوم ناروا جذبات را پيدا نه شي او د جنسي شکمنې انتشار د راپيداکيدو مخنيوی وشي.

ددې حلقې نه بيرون چې څومره سړې دي دهغوې په هکله يې فرمايلې دي چې دهغوې تر مخه به خپل زينت نه ښکاره کوي ، ان تردې چې فرمايي د تګ په وخت کې به خپلې پښې په ځمکه دومره په زور نه ږدی چې دهغې په واسطه ستاسې د پټ زينت حال « د اواز په واسطه » را ځرګند شی او د خلکو توجه ستاسې لورې ته معطوف شی. په دغې فرمان کې يې چې دپرديو څخه د کوم زينت دپټولو حکم کړې نو د ا هماغه زينت دې چې درا ځرګنديدو په هکله يې يوې محدودې حلقې ته چې يادونه يې وشوه اجازه ورکړل شوې. هدف بلکل ځرګند دي ، که چيرې ښځې ځان سنګار او دداسې خلکو مختهرا ووځی چې جنسی غوښتنې لری نو پرته له شکه به دهغوې اغيزې هماغسې وی لکه څنګه چې د بشريت غوښتنه ده ، دا هيڅوک نه وايې چې د زينت دداسې را ځرګنديدو سره به هره ښځه فاحشه وی او هر نارينه به يو بدکاره انسان وي ،خو ددې څخه هم څوک نه شی منکريداې چې د زينت او ارايش سره دښځوښکاره ګرځيدل راګرځيدل او په محفلونو او غونډو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼون کولو څخه بې شميره پټ او ښکاره رواني او مادی زيانونه را ټوککيږی ، نن د اروپا او امريکاښځې دخپلو او دخپلو ميړونو د ګټو ډيره برخه په ارايش باندې مصرفوي او ورځ په ورځ دهغوې دغه مصرف دومره زياتيږي چې دهغو اقتصادي وسايل دهغې د بار دپورته کولو څخه عاجز دی ۱.

[۱-: همدا اوس اوس د کيمياوی وسايلو د جوړونکو لخوا يو نمايش جوړ شوی و چې په کې د مختلفو پوهانو د بيانونو څخه ثرګنده شوه چې د انګلستان ښځې په خپل ښايست او ارايش باندې د کال دوه کروړه (شل ميليونه ) پونډه ، او امريکايي ښځې ۱۲ نيم کروړه پونډه مصرفوي ، د شميرنو او احصائيو له مخې نژدې نوې په سلو کې ښځې د سينګار (**Makeup**) سره عادت دی.]

ايا په هغوې کې دغه ليونتوب د شوقي نظر د خاوندانو د ليدلو په واسطه نه دې را پيدا شوې چې تل په بازارونو ، دفترونو او د ټولنې په نورو ځايوکې سنګار شوو ښځو د استقبال اوښه راغلاست له پاره ولاړې وی ؟ بيا لږ څه دقت وکړئ چئ اخر دښځو د ارايش ددومره شوق دپيدا کيدو او د طوفان په څير دهغې د پرمختګ عوامل څه دي ؟ همدا دې که نه چې هغوې د نارينه و په واسطه استقبال او تحسين شي او دهغوې په سترګو کې د ورننوتلو هڅه او هاند وکړي۱

[۱:-د ښايست ليونتوب په ښځو کې دومره ډير شوې دې چې د دغه هدف په خاطر دخپلو ځانو ورکولو ته هم تيارې دي ، دهغوې اخري هاند داوي چې د يوې ښکلې نانځکې په څير و اوسي او دهغوې په وجود د يو پوټې په اندازه غوښه هم زيادت و نه مومي ،د ښايست له پاره چې د پنډيو ، ورنونو ، او تيونو کومه اندازه ددغې کار پوهانو ټاکلې نو هره ښځه خپل ځان په همدغه تول تلي ، يعنې دا چې دهغو بدبختو دژوندانه بل هيڅ هدف ددې پرته چې د نورو په سترګو کې مرغوبې او محبوبې و ګرځي نور څه نه دي. دهمدې مقصد په خاطر هغوې لوږې تيروي ، جسم ته وده ورکونکې غذاګانی په ځان بندوي د ليمو په جوس ، ترخې قهوی او داسې نورو سپکو غذاو باندې ګذاره کوي بلکه دهغې پر خلاف داسې ادويات استعمالوي چې هغې وچې کلکې کړي. دهمدغې ليونتوب په خاطر ډيرو ښځو خپل ځانونه له لاسه ورکړل او تر اوسه يې لا له لاسه ورکوي. په «۱۹۳۷» ز کال کې د بوډاپسټ يوې مشهورې لوبغاړې « جوسي لاباس» د زړه دحرکت د بنديدو په اساس ژوند له لاسه ورکړ ، وروسته له څيړنو څخه را ثرګنده شوه چې هغې دڅوکالو را هيسی قصدا د نيمې لوږې ژوند تيراوو او دخپل وزن دکمښت له پاره يې درمل استعمالول، بالاخره د هغې ځواکونو ځواب ورکړ. ددې وروسته نورې پيښې هم په همدغې توګه را منځته شوې ، «ماګدا برميلې» چې دخپل ښايست له پاره په ټوله هنګری کې مشهوره وه دهمدغې (وجود سپکوالي ) په شوق له منځه ولاړه ، بيا يوه سندرغاړی «لوئيسازابو» چې سندرو يې ټول بازارونه نيولې و د ستيج ترمخه دکينسر ت ورکولو په حالت کې د زړګونو ليدونکې په وړاندې پرځمکه راپريوته او بې هوشه شوه هغه ددې لامله غمجنه وه چې دهغې جسم د اوسني وخت دمعيار سره برابر نه دې ، دهمدې مصيبت د لرې کولو له پاره يې د مصنوعي لارو خپلولو پريکړه وکړه اوپه دوه مياشتو کې يې (۲۰ ) پونډه وزن له لاسه ورکړ. پايلې يې داشوې چې زړه يې بلکل کمزورې شو او يوه ورځ يې د حسن د رانيونکو تر مخ خپل ځان د تل له پاره و پلوره ، ددې وروسته «ايمولا » په نامه د يوې لوبغاړې نوبت راغې. او هغې هم د مصنوعي لارو څخه خپل ځان دومره نرې کړ چې په يوه تل پاتې ذهني ناروغۍ ککړه شوه او د ستيج په ځاې د ليونيانو په خونه کې ور واچول شوه.

د همدې ډول مشهورو شخصيتونو پيښې خو په ورځپاڼو کې هره ورځ خپريږی خو څوک پو هيږی چې ددغه حسن او عشق ليونتوب چې په کور کور کې خپور شوې دې هره ورځ څومره صحتونه او څومره ژوندونونه له منځه وړي ؟ څوک ويلې شی چې ايا دا د ښځو ازادی ده او که غلامی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځو ته ددغه تش په نامه ازادۍ پر هغوي د نارينه و د غوښتنو استبداد او تسلط نور هم زيات کړ ، دې کار خو هغوي د غلامۍ په داسې زنځير کې راونغاړلې چې هغوي د خوراک څښاک او ښه صحت څخه هم بې برخې شوې. د هغوي مسکينانو مرګ او ژوند يوازې د نارينه و په خاطر دی ؟]

دا ټول د څه له پاره ؟ ايا دا يوه معصومه او پاکه جذبه ده ؟ ايا دهغې تر شا هغه جنسي غوښتنې قرار نه لری چې د خپلې فطري دايرې څخه د راوتلو هڅه او د خپريدو هاند کوی ؟ او دکومو د غوښتنو د ځواب ورکولو له پاره چې په بل اړخ « نارينه و » کې هم هماغسې جذبات او غوښتنې موجودې دي؟ که چيرې تاسې ددې څخه انکار وکړئ نو امکان لري چې تاسې په دې دعوه کولو کې هم درنګ و نه کړئ چې دهغه غره په سر چې کوم دود تر سترګو کيږی د هغې په تل کې پرته «لاوا» دبيرون راوتلو له پاره ناقراره نه ده. تاسې د خپل عمل په هکله واک لرئ هر څه چې غواړئ ويې کړئ خو دحقايقو څخه انکار نه شئ کولای. دا حقيقت څه پټ هم نه دی او زمونږ تر مخه دی او د لمر څخه ډير روښانه دخپلو نتيجو سره يو ځای را ښکاره شوي او تاسې دغه نتايج د پوهې اويا ناپوهۍ دواړو حالاتو کې قبلوئ خو اسلام دا په هماغه خپل ځای کې منه کول غواړي ، له کومه ځايه چې پيل کيږي ځکه چې د اسلام نظر د زينت او ښکلا په هغه معصومې پيلامې باندې نه دی بلکه دهغې په ډير بد نامعصومه او نا پاکه انجام باندې دی چې په ټوله ټولنه د قيامت د تورې تيارې په څير را خپريږي. لکه چې فرمايي:

[مثل الوافله في لاذينه في غير اهلها کمثل ظلمة يو القيمة لا نور لها ] ( د زيب او زينت سره د پردو خلکو تر مخ په ناز اونخرو ګرزيدو نکې ښځې داسې مثال لري لکه دقيامت د ورځې تياره چې هيڅ ډول نور په کې نه وي «ترمذي»].

چيرې چې په قران کې د پرديو تر مخې د زينت د راڅرګندولو څخه منه شوې هلته د «الا ماظهر منها » يوه استثنا هم شته چې مطلب يې دادې چې دهغې زينت په ښکاره کيدلو کې هيڅ مضايقه او باک نه شته چې په خپله را ښکاره شي. خو خلکو ددغه استثناء څخه د ډيروګټو د پورته کولو هڅه کړې ، مګر ستونزه داده چې په دغه الفاظو کې د ډيرې فايدې د پورته کولو ځای نه شته ، شارع يوازې همدومره وايې چې تاسې په خپله اراده او خوښه د پرديو تر مخ خپل زينت مه ښکار کوئ ، خو هغه زينت چې پخپله را ښکاره شی يا په غيرې عادي حالاتو کې را څرګند شی نو د هغې په هکله تاسې مسؤل نه ياست ، مطلب په ډاګه دې ستاسې نيت بايد د زينت د ښکاره کولو نه وي ، همدا راز په تاسې کې داسې جذبه او اراده بايد وجود ونه لری چې خپل ارايش او ښايست نورو ته و ښاياست او يا که نور څه نه وي نو دخپلو ګاڼو په شرنګولو د پرديو سړيو توجه خپلې لوری ته را وګرځوئ. تاسې بايد له خپله اړخه د ښکلا او زينت د پټولو هڅه وکړئ بيا کله چې کوم شې په غير عادي حالاتو کې څرګنديږي نو الله تعالي تاسې د هغې په هکله نه مواخذه کوی ، تاسې چې په کومو کاليو کې خپل زينت پټوئ نو هغه خو به په هر حال را څرګنديږي ، ستاسې قد او قامت ، جسماني تناسب ، غټوالي او وچوالي ، به په هغې کې محسوسيږي ، د اړتياو او ضرورتونو له پاره د لاس يا د مخ کومه برخه خو بايد را ښکاره کړل شي. نو که چيرې داسې وشول په هغې کې هيڅ حرج نه شته ، ځکه چې ستاسې په نيت کې د هغې را څرګندول نه و. تاسې دهغې په را څرګندولو مجبور شوي ياست. اوس نوکه ددغه شيانو څخه کوم ذليل انسان خوند اخلي نو اخلي دې يې ، ، هغه به د خپلې بد نيتۍ سزا په خپله ګالي ، د اخلاقو او تمدن له اړخه چې تاسې څومره مسؤليت په غاړه درلود هغه تاسې تر خپلې وسې پورې پوره کړې. دا د هغې آيت سهي مفهوم دې . د مفسيرينو تر منځ چې دهغې په هکله څومره توپير شته که چيرې تاسې په هغې ټولو غور

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړئ نو په ډاګه به شي چې د ټولو اختلافاتو تر څنګ دهغوې د ویناو هدف هماغه دې چې پورته بیان کړل شو.

د ابن مسعود ، ابراهیم نخعي او حسن بصري له آنده د ښکاره زینت څخه هدف هغه لباس او کالی دي چې دهغې په واسطه پټ زینت پټیږی لکه برقه او څادر. ابن عباس ، مجاهد ، عطاء، ابن عمر ، انس ، ضحاک ، سعید بن جبیر او زاعي رحمة الله علیهم اجمعین ، او د نورو حنفي علماؤ له «ماظهر منها » څخه مراد مخ او لاسونه دي او د ښایست او ښکلا هغه وسایل هم په کې شامل دي چې په مخ او لاسونو کې په عادي توګه موجود دي لکه د لاسو نکریزي ، ګوتي او دسترګو رانجه او ..... د سعید بن المسیب له آند مخ ترې مستثنا دې او دحسن بصري یوه وینا هم دهغه تائید کوي. سیدة عایشه رضي الله عنها د مخ پټولو په لور میلان لری د هغې له نظره د ښکاره زینت څخه مقصد لاس ، د لاس بنګړي ، او د لاس ګوتي هم دي. مسور بن محزمه او قتاده لاسونه د خپل ټول زینت سره دښکاره پرینښولو اجازه ورکوی خو دمخ په هکله دهغې له وینا څخه داسې څرګندیږي چې د ټول مخ د ښکاره کولو پر ځاې یوازې د سترګو ښکاره کول جایز بولي.

ددې توپیر په اهدافو غور وکړئ ، دغه ټولو مفسیرنیو د « الا ماظهر منها» څخه دا مقصد اخیستې دې چې الله تعالي دداسې زینت د ښکاره کولو اجازه ورکړې چې په غیر عادی (اضطراري ) حالاتو کې را څرګند شی یا د کوم چې د راښکاره کولو له پاره اړتیا پیدا شي ، دمخ او لاسونو را ښکاره کول او یا هغه د خلکو د نظر د جذباتو په خاطر استعمالول د هیڅ چا هدف هم نه دې ، هر یو د خپلې پوهې او د ښځې د اړتیاو په نظر کې نیولو په اساس ددې هڅه کړې څو و پوهیږی چې ترکومه ځایه اړتیا دکوم ځاې د ښکاره کولو ایجاب کوي یا کوم ځاې په اضطراری حلاتو کې ښکاره کیداې شی او یا عادتا خلاص پاته شی ، مونږ وایو چې تاسې « الا ماظهر منها » دهغوې څخه د هیڅ یوه سره مه تړئ ، یوه مؤمنه ښځه چې د الله تعالي او دهغې د رسول صلي الله عیله وسلم د احکامو د زړه له خلاصه پابندی کوي ، او فتني کې د ککړیدو هیڅ ډول اراده و نه لري هغه دخپلو اړتیاو او حالاتو به اساس پریکړه کولی شي چې مخ یا لاسونه ښکاره کړي او که نه ؟کله یې را ښکاره کړي او کله یې را ښکاره نه کړی.؟ او تر کومه حده پوري یې را ښکاره کړي ؟ په دې هکله قطعي احکام نه د شارع لخوا صادر شوي او نه په دې کې څه حکمت شته چې قطعي احکام وضع کړل شي ، کومه ښځه چې دخپلو اړتیاو په خاطر بهر ته د تللو او د کار په کولو محبوریت ولري نو هغې ته کله د لاس د ښکاره کولو او کله د مخه د ښکاره کولو اړتیا پیدا کیږی ، دغسې ښځې ته د ضرورت په لحاظ اجازه شته او دکومې ښځې حال چې دغسې نه دې نو دهغې له پاره پرته له اړتیاو قصداً ښکاره کول نه دی په کار. نو د شارع مقصد دادې چې د خپل ښایست د راښکاره کولو په خاطر که چیرې کوم څیز قصدا بې حجابه کړي نو دا ګناه ده که پخپله له ارادې پرته کوم څه را ښکاره شول نو ګناه یې نه شته. که چیرې واقعي اړتیاوې او د کوم ځاې په ښکاره کولو سره هغوې مجبوره کړی نو دهغې ښکاره کول روا دی اوس پاته شوه داپوښتنه چې د حالاتو او اضطرار له مخې د مخ د ښکاره کولو حکم څه دې ؟ ایا شارع دهغې ښکاره کول غوره ګنې یا نه ښکاره کول ؟ دهغې دښکاره کولو اجازه یوازې د اړتیاو او اشد ضرورت پر محال ورکړل شوې او یا دهغوې په وړاندې د پردیو خلکو څخه دمخ پټول د اهمیت وړ شي نه دې؟ ددغې پوښتنو دحل له پاره داحزاب د سورې (۵۹م) آیت داسې رڼا اچوي:

د مخ په هکله حکم:

هغه حواله چې د احزاب د سورې په هکله پورته ورکړل شوې دهغې الفاظ دادي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

[يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يُعۡرَفۡنَ فَلَا يُؤۡذَيۡنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ۝٥٩ «الاحزاب ۵۹»].

( اي نبي ! خپلو بيبيانو او خپلو لونړو ته او همدا راز د مسلمانانو ښځو ته وواياست چې په ځان د پاسه د خپلو څادرونو پلوونه را ځوړند کړي دا د دوی له پاره ډيره موزونه لاره ده تر څو هغوې و پيژندلي شي او تنگې نه کړل شي ).

دا ايت يوازې د مخ د پټولو په اړه دی ، «جلابيب» د «جلباب» جمع ده چې معنا يې څادر دې ، د «ادنی» معنا «ارخاء» يعنې را خپرول او د را ځوړندلو ده. د «يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ» لفظي ژباړه دا سې کيږي ، (دخپلو ځانونو دپاسه دخپلو څادرونو يوه برخه را ځوړنده او را خپره کړئ )، او د څادر د پلو څخه هم همدغه مفهوم اخستل کيږي ، خو اصل مقصد تري هغه ځانګړې حالت نه دې چې په عامه توګه د پلو ( څادر د څنډې ) څخه تعبير يږي ، بلکه هدف يې د مخ پټول دي ، دا که د څادر دڅنډو په واسطه وشي او يا د نقاب په واسطه وي او يا دبلې کومې طريقې څخه ددې ګټې دا ښوول شوي دي چې کله هم مسلمانې ښځې په پوره ستر سره بيرون ووځي نو خلکو ته به معلومه شي چې دا ښځې نيکې ښځې دي ، بې حيا نه دي. په دې خاطر څوک پرې غرض نه شي کولې ، د قران کريم ټولو مفسيرينو ددې آيت همدغه مفهوم بيان کړې، حضرت ابن عباس رضي الله عنه ددې آيت په تفسير کې وايې چې:

( الله تعالې مسلمانو ښځو ته ددې حکم کړې چې کله هم هغوې د خپلو اړتياو په خاطر دکورو څخه بهر وځي نو د سر د پاسه دې د خپلو څادرونو دپلوونو په را ځوړندولو خپل مخونه پټ کړي. «تفسير ابن جرير»].

امام محمد بن سيرين دعبيده بن سفيان بن الحارث الحضري څخه و پوښتل چې په دې حکم څرنګه عمل کيداې شي ؟ هغه خپل څادر په ځان را واچاوه او خپل تندې ، پوزه او يوه سترګه يې پټه کړه او يوه يې ښکاره پريښوده. «تفسير ابن جرير ۲۲م ټوک ۲۹م مخ»

علامه ابن جرير طبري ددې آيت په تفسير کې ليکي چې:

[اي نبي ! خپلو بيبيانو ، لونړو او دمسلمانانو ښځو ته ووايه چې کله هم دکوم ضرورت له مخې د خپلو کورونو څخه وځي نو د وينځو په څير لباس دې نه اغوندي چې سر او مخ يې ترې ښکاره کيږي بلکه هغوې دې په خپلو ځانونو د پاسه د خپلو څادرونو څنډې را واچوی تر څو کوم فاسق هغوې ته تکليف ور و نه رسوي ، او ټول په دې و پوهيږي چې دغه نيکې ښځې دي «تفسير ابن جرير»].

علامه ابو بکر جصاص ليکي چې:

[دا آيت په دې خبرې دلالت کوي چې ځوانو ښځو ، ته د پرديو څخه د مخ د پټولو حکم شوې دې او هغوې ته د کورونو څخه د وتلو په وخت کې د خپل عفت او عصمت فکر کول په کار دي تر څو چې خلک دهغوې په هکله طمع و نه کړي « احکام القرآن دريم ټوک ۴۵۸م مخ»].

علامه نشاپوري په خپل تفسير غرايب القرآن کې ليکي چې:

[ داسلام په لومړيو وختونو کې به ښځې دجاهليت د زمانې په څير په کميس او ټيکري کې بهر ګرځيدلې او دنيکو ښځواو نورو ښځو په کاليوکې به کوم ځانګړې توپير نه تر سترګو کيده ، بيا حکم وشو چې څادرونه دې په ځانونو راوا چوي او خپل سر او مخ دې پرې پټ کړي تر څو خلکو ته په ډاګه شی چې دا نيکې ښځې دي فاحشې نه دي « تفسير غرايب القران د ابن جرير په حاشيه ۲۲م ټوک ۳۲م مخ»].

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام رازي ليکي چې:
[د جاهليت په وختونو کې د اشرافو ښځې او وينځې به په يوه شان ازادې ګرځيدې او بدکاره خلکو به هغوې تعقيبولې. الله تعالې شريفو او نيکو ښځو ته حکم وکړ چې هغوې دې د خپلو ځانو د پاسه ځادرونه را واچوي اوورته يې وفرمايل چې « ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ».

نو ددې ځخه دوه ډوله پوهه تر لاسه کيږي ، يو داچې د هغوې د لباس له مخې به هغوې و پيژندل شي چې دا نيکې او شريفې ښځې دي نو(ذليل وګرې به ) دوې تعقيب نه کړاې شي. بل دا چې ددې نه به دا را په ډاګه شي چې دا بد کاره ښځې نه دي ، ځکه کومې ښځې چې مخ پټ کړي په داسې حال کې چې مخ عورت نه دې١
[١:- عورت په اصطلاح کې د جسم هغې برخې ته وايي چې د ښځې يا ميړه پرته د بل هر چا ځخه يې د پټ پاته کيدو حکم شوې ، د سړي د جسم هغه برخې ته چې د نامه د غوټۍ او زنګون د سترګو تر منځ ده ، عورت ويل کيږي ] چې پټول يې فرض دي. نو هيڅوک به د هغې ځخه دا هيله نه کوي چې داسې شريفې ښځې به هم د عورت د رابرسيره کولو له پاره اماده او تياري کړل شي نو ددغه ډول کاليود اغوستن ځخه دا په ډاګه کيږی چې دا يوه پرده کوونکې ښځه ده او دبدکارۍ اميد ترې نه شي کيداې «تفسير کبير ٧م ټوک ٥٩١م مخ».
قاضی بيضاوی ليکي چې «يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ» يعنې کله چې هغوې د خپلو اړتياو په خاطر بيرون وځي نود خپلو ځادرونو په واسطه دې خپل مخونه او جسمونه را ونغاړي ، دلته د «هِن» لفظ د بيلتون له پاره دي يعنې د ځادرونو يوه برخه دې پر مخ را واچوی او په بله برخه کې دې يې خپل جسم را ونغاړی «ذَٰلِكَ أَدْنَىٰٓ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ» يعنې په دغه ډول به د هغوې او د وينځو او سندرغا ړو تر منځ تميز پيدا شي. « فَلَا يُؤْذَيْنَ» او د شکمنو اعمالو خاوندان به د دوې په لوري د لاس اوږدونې جرئت ونه شی کړاې « تفسير بيضاوي ۴م ټوک ١٢٨م مخ»].
ددې ويناو ځخه را په ډاګه کيږی چې د صحابه کرامو رضي الله عنهم د مبارک وخت نه تر اتمې پيړۍ پوې په هر وخت کې ددې آيت ځخه همدغسې مفهوم اخيستل شوې دې او دا هماغه مفهوم دې چې مونږ هم ددې الفاظو ځخه را اخستې دې. ددې نه وروسته د احاديثو په لور رجوع وکړئ نو هلته هم دا را په ډاګه کيږی چې ددې آيت د نازليدو وروسته په نبوي دور کې به مسلمانو ښځو په خپلو مخونو نقاب اغوست او د ښکاره مخونو دګرځيدلو رواج بند شوې و.
په ابوداود، تر مذي او د احايثو په نورو کتابونو کې راغلي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم د احرام په وخت کې ښځې د نقاب اچولو او لاسونو پټولو ځخه منه کړې وې.
[المحرمه لا تنتقب و لاتلبس القفازين و نهی النساء في احرامهن عن القفازين و النقاب]. ددې نه دا په ډاګه کيږی چې په دغه مبارک دوران کې د مخونو د پټولو له پاره نقاب او د لاسونو د پټولو له پاره ددستانو رواج عام شوې و ، يوازې د احرام په حالت کې دهغې ځخه منه شوې وه خو ددې نه هم دا هدف نه و چې په حج کې دې ښځې خپل مخونه په عام محضر کې خلکو ته ښکاره کړي ، بلکه هدف ترې دا و چې د احرام په فقيرانه حالت کې نقاب د ښځې د لباس برخه و نه ګرځي. لکه چې په عامه توګه ده ، همدا اراز په ځينو نورو احاديثو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دي تصريح شوي چي د احرام په حالت کي هم پاکو بيبيانې او عامو مسلمانو ښځو د نقاب اچولو پرته خپل مخونه د پردو سړو څخه پټول. په سنن ابوداود کي راغلي دي:
[عن عايشة رضي الله عنها قالت کان الرکبان يمرون بنا و نحن مع رسول الله صلي الله عليه وسلم محرمات فاذا حازوا بنا سللت احدانا جلبابها من راسها علی وجهها فاذا جاوزونا کشفناه «باب في المحرمة نعطي وجهها»]
سيدة عايشة رضي الله عنها فرمايی چي سپاره به زمونږ تر څنګ نژدي تيريدل او مونږ ښځي به د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره د احرام په حالت کي وو کله به چي هغه خلک مونږ ته مخامخ شول نو مونږ به خپل ځادرونه دخپلو سرونو دپاسه په خپلو مخونو را اچول او کله به چي هغوي تير شول نو مخونه به موښکاره کړل )
په موطا امام مام مالک کي راغلي دي:
[عن فاطمة بنت المنذر قالت کنا نغمرو جوهنا ونحن محرمات و نحن مع اسماء بن ابوبکر الصديق فال تنکره علينا ].
( دسيدي فاطمي بنت منذر وينا ده چي مونږ به د احرام په حالت کي په خپلو مخونو باندي پلو اچولي و ، زمونږ سره دابي بکر صديق لور اسماء هم وه هغي مونږ له دغي کار څخه منه نکړو. يعني هغي دا ونه ويل چي د احرام په حالت کي د نقاب د استعمالولو چي کوم ممانعت شوي د هغي اطلاق زمونږپه دغه فعل باندي هم کيږی )
په فتح الباري کتاب الحج کي د عايشي رضي الله عنها څخه روايت دي چي:
[تستدل المراة جلبابها من فوق راسها علی وجهها]
(ښځي دي د احرام په حالت کي خپل ځادرونه دخپلو سرونو له لوري په خپلو مخونو را ځپاره کړي.)

## نقاب:

هر څوک چي د قرآن ددغه آيت الفاظ او دهغي متفقه تفسير او په نبوي عهد کي د هغي تعامل وګوري نو هغه ته به ددي حقيقت نه دانکار مجال پاته نه شي چي په اسلامي شريعت کي ښځو ته د پرديو څخه د مخونو دپټولو حکم شوي او دا حکم پخپله د نبي کريم صلي الله عليه وسلم په وخت کي پلي شوي و.
نقاب که په لفظي توګه په قران کريم کي نه شته خو معني او حقيقت يي په خپله د قران کريم وړانديز دي.
په هغي پاکي هستۍ چي قران کريم نازل شو او دهغي د سترګو تر مخه مسلمانو ښځو دغه عمل د خپل کور نه بهر دخپل لباس يوه برخه وګرځوله په همغي وخت کي هم ددي نوم نقاب و. هو ! دا هماغه نقاب (Veil) دي چي په اروپا کي ورته ډير زيات سپک کتل کيږي او يوازي فکر او تصور يي هم په فرنګي ضمير يو دروند بار تماميږی او هلته ورته د ظلم ، تنګ فکری او وحشت علامه ويل کيږي ، بلي ! دا هماغه څيز دي چي نوم يي دکوم شرقي ولس د ناپوهۍ او تمدني وروسته والي په يادولو کي تر ټولو لمړۍ اخستل کيږي اويا کله چي دا وينا کيږي چي هغه شرقي ولس د تمدن اوتهذيب په لور پر مختګ کړی نود ټولو تر مخه چي کومه خبره په پوره انشراح او انبساط سره کيږي هغه همدا ده چي ددي يا دهغي ولس څخه نقاب له منځه ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس نو تاسي د شرم څخه سر ښکته کړئ ځکه چې دا کار وروسته نه دي ایجاد شوي بلکه دا پخپله د قرآن ایجاد دي او محمد صلي الله علیه وسلم دغه کار رائج کړي او عملي کړی یې هم دي. خو یوازې د شرم نه د سر د ټیټولو څخه څه نه جوړیږي. شتر مرغ چې ښکاري ووینې او سر په شګو کې پټ کړي نو دښکاري وجود له منځه نه ځي که تاسي هم سر ټیټ کړئ نو خامخا به ټیټ شې خو د قرآن آیت له منځه نه ځي او نه د تاریخ څخه ثابت شوي پیښې له منځه تلائ شي .که دتاویلاتو په واسطه په دې باندې پرده واچول شي نو دا د «شرم داغ» به نور هم زیات و ځلیږي ، کله چې دغرب څخه د مرعوبیت له مخې ستر او پرده او مخ پټول د «دشرم داغ» ګڼئ نو دهغې د لرې کولو له پاره اوس یوازې یوه لاره ده او هغه داده چې دهغې اسلام څخه د برائت اعلان وکړئ چې د نقاب ، څادر ، پلو ، ستر او ستاسې په نظر دداسې نورو سپکو او بې هوده شیانو حکم کوي. ځکه تاسې د ترقۍ او پر مختګ غوښتونکې یاست. تاسې ته تهذیب او تمدن په کار دي. نو تاسې ته هغه دین کله داتباع وړ دي چې ښځې د محفل او مجلس د شمعې کیدو څخه بندوي ، هغوي ته دحیا، پردې او عزت تعلیم ورکوي. د کور ملکه د کور نه پرته ، دهر سړي له پاره د ساعت تیرۍ د الې د جوړیدو څخه منه کوي. ښه نو په داسې مذهب کې «ترقي» له کومه شوه !!! دداسې دین د تهذیب سره څه اړیکې !!! ځکه د تهذیب له پاره خو اړینه ده چې ښځه.... نه ،لیډي صاحبه، د بیرون وتلو څخه دوه ساعته دمخه د ټولو مصروفیتونو څخه ځان فارغ کړي او یوازې په خپل تزئین او ارایش کې مصروفه شي. خپل ټول جسم معطر کړي. د رنګ او موډ له اړخه او د اخري درجې جاذبو کالیو په اغوستنې او دمختلفو پاشونکو (Sprys) غازونو په واسطه د خپل مخ او غومبرو ښایست را تازه کړي او شونډې په ( لپ سټک ) باندې مزینې کړي ، د تورو وریځو لیندۍ جوړه او خمارې سترګې د غشو ویشتلو له پاره چمتو کړي. او کله چې ددې ټولو نخرو په وسله سنبال له کوره دباندې را ووځي نو شان یې داوي چې په خپله هره نخره د زړونو واګې دځان په لور را کاږي او دا اواز پورته کوي چې «ځاې همدغه ځاي دې» خو ددې سره یې بیا هم دځان ښودنې د ذوق تسکین نه پوره کیږي نو آئینه او دسینګار سامان تل د ځانه سره ګرځوي تر څو هر لږ ساعت وروسته په ښکلا او سنیګار کې دواقع شوې کمۍ تلافي وکړاى شي.

لکه چې مونږ په وار وار ویلي چې د اسلام او غربي تهذیب په مقاصدو کې ډیر زیات توپیر دې او هغه وګړي سخت په غلطۍ کې دي چې د غرب له آنده د اسلامې احکامو تعبیر او تشریح کوي. ځکه په غرب کې چې د شیانو د قدرو قیمت کوم معیار موجود دي نو د اسلام معیار د هغه نه بلکل مختلف دي.

هغه شیان چې غرب یې ډیر مهم او د ژوند هدف بولي د اسلام له آنده هغه هیڅ اهمیت او ارزښت نه لري او هغه څه ته چې اسلام اهمیت ورکړي هغه دغرب له آنده بې ارزښته دي. اوس نو څوک چې د غربي معیار قایل دی نو هغوي ته د اسلام هر څه د اصلاح او ترمیم وړ ښکاري. کله چې هغه د اسلامي احکامو د تعبیر له پاره کیني نو دهغې په تحریفولو لاس پورې کړي او د تحریفولو وروسته یې هم په خپل عملی ژوندکې په هیڅ توګه نه پلي کوي. ځکه چې په هر قدم کې د قرآن او سنتو تصریحات دهغه له پاره خنډونه را پیدا کوی.

دداسې وګړي له پاره دعملی لارو په جزئیاتو باندې د نظر کولو څخه مخکې دا کتل په کار دي چې دکومو مقاصدو او اهدافو له پاره چې دغه طریقې اختیار شوي هغه پخپله تر کومه ځایه د قبول وړ دي؟ او که چیرې هغه دمقاصدو سره اتفاق نه شي کولې نو دمقاصدو د حصول په لارو چارو باندې د بحث کولو او دهغې د مسخ کولو او تحریفولو هسې عبث زحمت ولې کاږي؟ ولې هغه دین نه پریږدي چې مقاصد او اهداف یې له یوه سره غلط ګڼې او که چیرې د هغې د مقاصدو سره اتفاق وي نو هغه بحث یوازې په دې کې پاته کیږی چې دهغه اهدافو او مقاصدو له پاره چې کومه طریقه خپله شوې ده هغه مناسبه او یا نا مناسبه ده او دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بحث په اسانی سره پر مخ تلاې شی ، خو دا طريقه يوازې شريف او نيک خلک اختيارولې شی ، پاتې شو منافقين ، دوې د الله تعالې په مخلوق کې تر ټولو ارزل مخلوق دې ، دهغوې سره همدغه ښکاريږی چې په يوه شي دعقدې درلودلو دعوی کوي خو په حقيقت کې په بل شی باندې باور لري.

د نقاب او پردې په موضوع باندې چې څومره بحث او څيړنه کيږی هغه په حقيقت کې په همدغې نفاق باندې بنا ده. هغوې خپل ټول زور په دې مصرفوي چې دا ثابته کړي چې د پردې دغه اوسنې شکل دا سلام څخه تر مخه ولسونو کې رايج و او د جاهليت دغه ميراث د نبي صلي الله عليه وسلم د زمانې نه ډيره موده وروسته په مسلمانان کې وويشل شو ، د قران يو څرګند آيت او د نبي صلي الله عليه وسلم ود وخت د يو ثابت شوي عمل او د صحابه رضي الله عنهم او تابعينو دتشريحاتو په مقابل کې دتاريخی څيړنو د ثابتولو ددغه زحمت د پورته کولو ضرورت څه دې ؟ يوازې په دې خاطر چې دژوندانه هغه اهداف چې د هغوې تر مخه وو او دي او يا هغه چې په غرب کې عام مقبوليت لری ؟ ددوې په ذهن کې د ترقی او تهذيب هغه تصور ناست دې چې دغرب څخه راوړل شوې. څرنګه چې د برقې اغوستل او د نقاب اچول د غربې تهذيب د مقاصدو خلاف دي او دهغې د تصوراتو سره هيڅ کله جوړ نه شي پيدا کولې نو په دې خاطر د تاريخې څيړنو په زور د هغه شي د له منځه وړلو هڅه کوي چې د اسلام په قانون کې ثبت دي ، دا ښکاره منافقت چې د نورو ډيرو مسايلو تر څنګ ددې موضوع په هکله هم کيږی ددې اصل علت همغه بې اصولي ، دعقل کمښت او د اخلاقي جرئت نشتوالي دي چې مونږ يې مخته يادونه وکړه که داسې نه وای نو دا سلام د پيروی ددعوې تر څنګ به يې د قران په مقابل کې د تاريخ ددرولو خيا ل هم په ذهن کې نه را ته ، يا خو به يې (که مسلمان پاتې کيدل يې غوښتل) خپل مقاصد د اسلام په مقصدونو باندې بدلول او يا به په ډانګ پيبيلې توګه دهغه دين څخه جدا کيدل چې دهغوې د ترقی دمعيار له مخې دترقی مانع او خنډ دي.

هغوې چې د اسلامي قانون په اهدافو باندې پوهيږې او دهغې تر څنګ څه عام عقل(**Common Sense**) هم لري نو د هغوې له پاره په دې پوهيدل څه ستونزمن کار نه دي چې ښځو ته په ښکاره مخونو د وتلو عامه اجازه ورکول دهغې اهدافو په خلاف دي چې اسلام ورته دومره ارزښت ورکړې. د يوه انسان کوم شې چې بل انسان ډير زيات اغيزمن کوي هغه دهغې مخ دې. د انسان پيدايشي ښايست يا په بل عبارت د انساني ښکلا تر ټولو لوې ښکارندوي دهغې مخ دې ، نظرونه يوازې دښکلې مخ په لور ګرځي ، جذبات تر ټولو زيات هماغه راپاروي ، د جنسي کشش تر ټولو قوي عنصر هماغه دې ، په دې خبرې د پوهيدو له پاره د رواني علومو ژورې کتنې ته هم اړتيا نه شته ، خپل زړه ته و وينئ ، د خپلو سترګو څخه فتوا واخلئ دخپلو رواني جذباتو جايزه واخلئ اووينئ ، د منافقت خبره پريږدئ ځکه که منافق د لمر وجود هم د خپل مقصد په خلاف تصور کړي نو د ورځې په رڼا کې به ووايې چې لمر وجود هم نه لري ، خو که د صداقت نه کار واخلئ نو تاسې به په دې اعتراف وکړئ چې په جنسي کشش کې (**Sex apeal**) د جسم د ټولو ښايسته ځايو څخه د فطري ښکلاو ډيره برخه الله تعالې د مخ په جوړښت کې ايښې ده. که چيرې تاسې د کومې نجونې سره واده کول غواړئ نو تاسې هغه ووينئ او اخري پريکړه کوئ نو رښتيا ووايا ست چې دکوم ځاې په کتلو به تاسې خپله پريکړه وکړئ ، دهغې د کتلو يو شکل دادې چې د مخ پرته نوره په مکمله توګه ستاسې تر مخ وي او دويم شکل دا کيداې شي چې يوازې خپل مخ تاسې ته په يوه کوچنی کړکی کې و ښايي.

ووايا ست چې ددواړو شکلونو څخه به کوم شکل ته تاسې ترجيح ورکړئ ؟ رښتيا ووايا ست چې ايا د ټول جسم په نسبت به د مخ حسن ستاسې نظر ځان ته نه را نه کاږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددي حقيقت د منلو وروسته مخته ولاړ شئ اووګورئ چې كه په ټولنه كې د جنسي بې لاريو او دبې ځايه تحريكاتو مخنيوي هدف نه وي نو بيا د مخ معنې څه ده ؟ايا تيونه ، متان ، پنډۍ او ورنونه ټول ښكاره پريښول په كار دي ؟لكه څرنګه چې نن په غربي تهذيب كې دي ، په دغه صورت كې د قيودو او حدودو د وضع كولو هغه اړتيا هم نه شته چې د حجاب داسلامي قانون په لړ كې يې تاسې تر اوسه مطالعه وكړه. خو كه اصل خبره ددغه طوفان مخه نيوول وي نو ددې څخه به دحكمت خلاف بله ستره خبره نه وي چې د هغې د مخنيوي په خاطر وړو وړو دروازو ته قلفونه واچوئ او تر ټولو لويه دروازه بلكل پرانستې پريږدئ.
اوس تاسې پوښتلې شئ چې كله داسې ده نو اسلام په نا ببره حالاتو كې او داړتياو په وخت كې د مخ د لووڅوولو اجازه ولې وركړې لكه چې تاسې پخپله مخته بيا ن كړي دي ؟ ددې ځواب دادې چې د اسلام قانون غير معتدل او يو اړخيزنه دې ، هغه كه له يوه اړخه د اخلاقي ښيګڼو لحاظ كوي نو د بله اړخه د انسان د واقعي اړتياو هم خيال ساتي او دهمدغې دواړو تر منځ يې په ډير احتياط سره توازن او تناسب جوړ كړې . هغه د اخلاقي فتنو مخنيوي هم كوي او تر څنګ يې په كوم وګړي داسې بنديزونه هم نه لګوي چې د هغې په اساس هغه خپلې ريښتوني اړتياوې پوره نه كړاې شي. همدا علت دې چې هغې د ښځې له پاره دمخ او نقاب په هكله هغسې قطعي احكام نه دې وركړي لكه څنګه يې چې دستر او د زينت د پټولو په خاطر وركړي و . ځكه چې د ستر او زينت د پټوالي څخه د ژوندانه د اړتياو په پوره كولو كې هيڅ ډول ستونزه نه راپيدا كيږې خو دمخ او لاسو تل پټوالي ښځې د خپلو اړتياو په پوره كولوكې د ستونزو سره مخ كوي په دې خاطر دښځو له پاره عمومي لاره دا ټاكل شوې ده چې پرمخ دې نقاب يا پلو را ښكته كړې او په دې قاعده كې د (الا ماظهر منها ) د استثناء څخه دا اساني را پيدا كړل شوې چې كه په حقيقت كې د مخ د ښكاره كولو اړتيا پيدا شي نو ښكاره كولاې شي په دې شرط چې د حسن ښودانه ترې مقصد نه وي بلكه د اړتياو رفع كول ترې هدف وي او د بله اړخه چې دفتنې د خپريدو كوم خطرات شته دهغې مخنيوي يې په دې ترتيب سره وكړ چې د نارينه و له پاره يې د نظر د ټيټولو حكم وكړ تر څو چې كه كومه با عفته ښځه د خپلو اړتياو له پاره مخ ښكاره كړې نو دهغوي نظر پرې و نه لړيږي او هغې ته د قصدي ليدلو څخه ځان و وژغوري.
كه د پردې په دغه احكامو تاسې فكر وكړئ نو تاسې ته به په ډاګه شي چې اسلامي پرده كوم جاهلي رسم نه دې بلكه يو عقلي قانون دې. جاهلي رسم يو جامد شئ وي په هغه كې چې كومې طريقي په كوم شكل رواج و موند نو هغه په همغه حال پاته كيږي او تغير په كې نه راځي. كوم شي چې يو ځل پټ كړل شي نو هغه د تل له پاره پټ پاته كيږي ، تاسې به په مرګ ويده شئ مګر د هغې را څرګندول به شوني نه وي. ددې پر خلاف په عقلي قانون كې نرم والې او ملايمت وي ،په هغې كې د حالاتو مطابق سختوالي او نرمولاې راتلاې شي او د موقع او ځاې په اعتبار سره دهغې په عامو قواعدو كې استثنايي صورت هم اينښودل كيداې شي ، دداسې قوانينو پيروې د ړندو په څير نه كيږې ، بلكه د عقل او تميز اړتيا ورته ليدل كيږي ، د پوهې او عقل پيروان پخپله پريكړه كولاې شي چې چيرته ددغې عامې قاعدې پيروي كول په كار دي ؟ او په كوم ځاې كې د قانون له آنده ريښتوني اړتيا شته چې د استثنايي حالاتو د رخصت څخه يې ګټه پورته كول روا دي. بيا هغه پخپله دا فكر كولاې شي چې په كوم ځاې كې د هغې د رخصت نه څومره ګټه وا خسل شي او د ګټې د اخيستلو په وخت كې د قانون دموخو څه ډول خيال و ساتل شي. په دې ټولو چارو كې د يوه نيک نيته مؤمن زړه تر ټولو ښه مفتي كيداى شې.
لكه څنګه چې نبې كريم صلي الله عليه وسلم فرمايلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

[استفت قلبک ] او [دع ما حاک في صدرک] ( د خپل زړه نه فتوا واخله او د کوم شي په اړه چې دې زړه کې شک پيدا شي هغه پرېږده. )
همدا علت دې چې د اسلام سهي پيروي د جهالت او ناپوهۍ سره نه کيږي. دا عقلي قانون دې او د هغې د پيروۍ له پاره په هر قدم کې د شعور او پوهې اړتيا ده.

## بيرون ته د وتلو قوانين:

د لباس او ستر د حدودو د ټاکلو وروسته چې د ښځو په هکله کوم اخري حکم راغلي هغه داې:

[وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى...... ﴿٣٣﴾ «الاحزاب ٣٣»( په خپلوکورونو کې د عزت او وقار سره ناستې اوسئ او د جاهليت د زماني په څير په ځان جوړولو او ښايسته کولو بهر مه اوځئ. )

[. . . . . . . وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ. . . . . . . ﴿٣١﴾ «النور ٣١»

(او د تګ په وخت کې دې خپل پښې په ځمکه نه وهي ترڅو هغه زينت چې يې پټ کړې را څرګند شي. )
[فلا تخضعن بالقول فيطمع الذي في قلبه مرض]
( په پسته او نرمه ژبه داسې خبرې مه کوئ چې دکوم وګړي په زړه کې که نارروغي «خرابي» پرته وی ، در څخه طمع پيدا شي )
د «وقرن» په قرائت کې اختلاف دې ، د مديني عامو قاريانو او ځينې کوفيانو د قاف په فتح( َ)سره لوستې دې چې مصدر يې «قرار» راځي په دې اساس يې ژباړه داسې هم کيږي : « په خپلو کورنو کې قرار و نيسئ يا ناستې اوسئ» خو د بصري او کوفی نورو قاريانو قاف په کسر( ِ) سره لوستې چې مقصد يې ترې و قار دې نو په دې اساس ژباړه يې دا ډول کيږی: « په خپلو کورنو کې د وقار او عزت سره ناستې اوسئ»
د «تبرج» دوه معناوې دي يو د زينت او محاسنو را څرګندول اودويم دتګ په وخت کې ناز او نخرې کول ، کاږه واږه او په مستۍ سره تلل ، خپل اميل د سر ټيګه ، غوږوالۍ او غاړه ښکاره کول. يعني داسې تګ چې يو ډول داد ترې را څرګنديږي. په دې آيت کې دواړه معناوې ترې اخستل شوي. په لمړني جاهليت کې به ښځې ښه په ډول او سينګار سره راوتلې لکه چې اوس د نوي جاهليت په دور کې هماغسې راوځي ، اوبيا به يې تګ هم قصدا هماغسې کاوه چې هر قدم يې د ځمکې په سر نه بلکه دليدونکو په زړونو باندې ايښوده . يو مشهور تابعي او دقران مفسر قتاده بن دعامه وايي [ ددې حالت د پوهيدو له پاره کوم تاريخي بيان ته اړتيا نه شته کومې داسې ټولنې ته ولاړ شئ چې غربي ډوله ښځې هلته تګ راتګ کوي].
د لمړي جاهليت د تبرج حال تاسې هملته په خپلو سترګو کتلای شئ. اسلام دهغه نه منه کړې هغه وايي چې تر هر څه لمړی ستاسې د قيام او اوسيدو ځاې ستاسې کور دې د کورنه بهر د مسؤليتونو څخه تاسې په دې خاطر خلاصې کړل شوي ياست چې تاسې په سکون او وقار سره په خپلو کورونو کې ناستې اوسئ او د کورني ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرائض ادا کړئ خو که چیرې اړتیا پیدا شي نو دکور نه بهر وتل هم ستاسې له پاره روادي. خو د وتلو په وخت کې به دخپل عصمت لحاظ ساتئ چې نه ستاسې په کالیو کې داسې کشش وي چې د نارینه و سترګې ستاسې په لور متوجه کړي او نه د حسن دښکاره کولو له پاره تاسې دداسې بې صبرۍ نه کار واخلۍ چې په لاره د تللو په وخت کې کله مخ را لوڅ کړئ او کله لاسونه را بربنډ اود نمایش له پاره جوړ کړئ او نه په تګ کې کومې داسې نخرې وکړئ چې سترګې پخپله تاسې واخلي. داسې زیورات هم مه اچوئ چې اواز یې د نورو د راجذبیدو سبب ګرځي. هو ! که چیرې د خبرو اړتیا راغله نو خبرې کوئ خو د خوند نه د ډک اواز د راویستلو هڅه مه کوئ. ددغه اصولو او قواعدو په نظر کې نیولو په اساس تاسې دخپلو اړتیاو د پوره کولو له پاره بیرون وتلائ شئ.

دا وه د قرآن تعلیم او ښوونه. راځئ چې اوس په حدیثو نظر واچوو او وګورو چې نبي کریم صلي الله علیه وسلم د همدغې ښوونې مطابق د ښځو له پاره په ټولنه کې کومې لارې ټاکلې دي او صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین او دهغوې بیبیانو په هغه څه ډول عمل کړې دې.

## دضرورت له پاره دکوره څخه د وتلو اړتیا:

په حدیث شریف کې راغلي دي چې د حجاب د احکامو دنازلیدو تر مخه د سیدنا عمر رضي الله عنه د رسول الله صلي الله علیه وسلم څخه غوښتنه وکړه چې یا رسول الله !د خپلو بیبیانو له پاره پرده و ټاکئ !

یو ځل ام المؤمنین سیدة سوده رضی الله عنها بنت زمعه د شپې بیرون را ووتله حضرت عمرر رضي الله عنه هغه وکتله او ورغږ یې کړ چې سوده ! مونږ ته و پیژندلې ، دهغې څخه دهغه مقصد داو چې څه ډول دکورنو څخه دښځو وتل منه کړل شي.

ددې وروسته چې د حجاب احکام نازل شول نو سیدنا عمر رضی الله عنه پرې خوشحاله شو ، هغه به ښځې دکورنو څخه په را وتلو ترټلې ، یو ځل بیا سیدة سودة رضی الله عنها سره هماغسې پیښه تکرار شوه ، هغه دکوره را ووتله او سیدنا عمر رضی الله عنه ورته په قهر شو. هغې سیدنا رسول الله صلي الله علیه وسلم ته شکایت وکړ نو نبي اکرم صلي الله علیه وسلم ورته ووفررمایل: [قد اذن الله لکم ان تخجن لحوائجکن...] ( الله تعالي تاسې ته د خپلو اړتیاو په خاطر دکورو نه د وتلو اجازه درکړې ) ددې نه څرګنده شوه چې د «وقرن في بیوتکن» دحکم قرآني اهداف دا نه دی چې ښځې دې د کور د حدودو څخه هیڅکله هم خپلې پښې بیرون نه ږدی ، د اړتیاو او ضرورتونو په خاطر دهغوې د بیرون وتلو له پاره پوره پوره اجازه ورکړل شوې خو دا اجازه نه غیر مشروط ده او نه غیر محدود.

ښځو ته ددې اجازه نه شته چې په پوره ازادۍ سره چیرته یې چې خوښه وي و ګرځي او د سړیو په غونډو کې یې چې چیرته زړه و غواړی ګډون وکړي. د حالاتو او اړتیا و څخه دشریعت مقصد هغه حاجات او اړتیاوی دي چې د هغه له رویه وتل او بیرون کار کول د ښځو له پاره حتمي وي. ښکاره ده چې د ټولو ښځو له پاره په ټولو وختونو کې د راوتلو او نه راوتلو او په هر وخت کې دهغې درخصت او نه رخصت حدود ټاکل ممکن نه دي خو شارع چې د ژوند په عامو حالاتو کې دښځو د رواتلو له پاره کوم اصول ټاکلي او د حجاب په حدودو کې یې لږ څه زیاتوالي یا کموالي کړې د هغې څخه د اسلامي قانون د روح او دهغې د رجحان اندازه کیداې شي چې د هغې دتوضیح له پاره مونږ د مثال په توګه څو موضوعات تر څیړنې لاندې نیسو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مسجد ته د تللو اجازه او دهغې حدود:

دا په ډاګه ده چې په اسلام کې تر ټولو مهم فرض لمونځ دې او د لمانځه له پاره په مسجدکې حاضريدل او په جَمعه لمونځ کولو ته ډير اهميت ورکول شوي دې . خو د جَمعې د لمانځه له پاره چې کوم احکام د سړيو له پاره دی دهغې برعکس د ښځو له پاره هغه لمونځ افضل او غوره ګڼل شوې چې په کور کې اود خلوت او تنهايي په حال کې اداء کړاي شي. امام احمد رحمة الله او طبراني د ام حميد ساعديه څخه يوحديث را نقل کړې او ليکلي يې دي چې:

[قالت يا رسول الله صلي الله عليه وسلم آنی احب الصلوة معک قال قد علمت صلتک فی بيتک خير لک من صلاتک فی حجرتک خير من صلوتک فی دارک وصلوتک فی دارک خير من صلوتک فی مسجدک وصلوتک فی مسجدک خير من صلوتک فی مسجد الجمعة].

( هغې عرض وکړ ، اې د الله رسوله !زړه مې غواړي چې له تاسره يو ځاې لمونځ ادا کړم. ورته يې و فرمايل ماته معلومه ده مګر( دکوټې ) په يوه کونج کې لمونځ کول تاته د هغه نه غوره دي چې ته پخپله حجره کې لمونځ وکړې او په حجره کې لمونځ کول تا ته د هغه نه غوره دي چې ته يې د کور په انګړ کې وکړې او د کور په انګړ کې لمونځ کول تاته د هغه نه غوره دي چې ته يې د کلي په مسجد کې وکړې او دکلي په مسجد کې لمونځ کول تاته دهغه نه غوره دي چې ته يې په جامع مسجد کې ادا کړې.

[....ښځې ته چې په دومره خلوت کې د لمانځه د اداکولو هدايت دکوم مصلحت په اساس ورکړل شوې دې هغه پخپله ښځې ښه درک کولاې شی. په مياشت کې څو ورځې داسې را ځي چې ښځې ته په کې مجبورا د لمانځه پريښوول په کار دي او په دې ډول هغه خبره را څرګنديږي چې يوه حياناکه ښځه يې خپل پلار او ورنو ته هم د ويلو څخه شرم محسوسوي. ډيرې ښځې دهمغې شرم په واسطه د لمانځه پريښوونکې کيږی ، شارع دهغه خبره محسوس کړې هدايت يې کړې چې په پټه او په پوره تنهايي سره په يوه کونج کې خپل لمونځ اداء کړې تر څو چې هيڅا ته دا نه وي معلومه چې ته څه وخت او چيرته لمونځ کوې او څه وخت يې نه کوې . خو دا يوازې هدايت دې ، تاکيد او حکم نه دې ، ښځې په کورونو کې ځانته جماعت درولاې شي او ښځه د هغوي امامت کولاې شي.

[ ام ورقه بن نوفل ته سيدنا رسول الله صلي الله عليه وسلم اجازه ورکړې وه چې د ښځو امامت دې کوي «ابوداود» د دار قطني او بهيقي روايت دې چې عايشې رضی الله عنها به د ښځو امامت کاوه او د صف په منځ کې به دريده او لمونځ به يې ورکاوه. ددې څخه دا را په ډاګه کيږی چې کله چې کومه ښځه د ښځو د جماعت امامت کوي نو هغه د امام په څير د صف نه مخته نه بلکه د صف په منځ په دريدو سره دغه دنده تر سره کولې شی. ] په همدغه مضمون په ابوداود کې يو حديث د ابن مسعود رضی الله عنه څخه روايت شوې دې چې په کې سيدنا محمد صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي:

[صلوة المراة فی بيتها افضل من صلوتها فی حجرتها و صلوتها فی مخدعها افضل من صلوتها فی بيتها «باب ماجاء فی خروج»

( ښځې ته په خپل کور کې د لمونځ کولو څخه دا غوره او بهتره ده چې په خپلې کوټې کې لمونځ وکړې او هغې ته په هغه خپل پټ ځاې کې لمونځ کول په کور کې د لمونځ د اداکولو څخه غوره دي )

ګورئ دلته ترتيب بلکل سرچپه دې ، د نارينه و له پاره تر ټولو ادنی درجه لمونځ هغه دې چې په تنهايي کې يې وکړې او تر ټولو ښه ورته هغه دې چې د لوې او سترې جَمعې سره يې ادا کړې. خو د ښځې له پاره په ډير زيات خلوت او يوازيتوب کې لمونځ تر هر بل لمونځ بهتره دې او دغه پټ لمونځ ته نه يوازې د جماعت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمانځه ترجيح ورکړل شوي بلکه دهغې لمانځه څخه ورته نور هم افضل ويل شوي دي چې د هغې څخه د مسلمان لپاره بل ستر نعمت نه شته. يعني د نبوي مسجد دهغه جماعت څخه هم ، چې امام يې په خپله د انبياو امام محمد صلي الله عليه وسلم و. اخر ددې توپير او امتياز علتونه څه دي؟ همدا دي که نه چې شارع د ښځې د بيرون راوتل نه خوښوي او په جماعت کې يې دښځو او نرود خلط کيدو څخه مخنيوي کړې خو لمونځ يو مقدس عبادت دي او مسجد يو مقدس ځاي. حکيم شارع د جنسونو د اختلاط نه د مخنيوي په خاطر د خپلې خوښې ځرګندونه د فضيلت او نه فضيلت په توپير سره په ډاګه کړې خو دداسې پاکيزه کار له پاره يې داسې پاک ځاې ته دښځو د راتګ مخنيوي نه دې کړې. په حديث کې چې دغه اجازه په کومو الفاظو سره راغلې هغه د شارع په بې مثله حکيمانه شان باندې دلالت کوي فرمايي:

[لا تمنعوا اماء الله مساجد الله اذا استاذنت امراة احدكم الى المسجد فال يمنعها «بخاري و مسلم»]

(د الله تعالي بندګاني «ښځې» د الله تعالي مسجدونو ته د ورتلو څخه مه منه کوئ کله چې ستاسو څخه دکوم يوه ببيې مسجد ته د تللو اجازه وغواړي نو تاسو هغوې مه منه کوئ.

[لاتمنعوا نساءكم المساجد و بيوتهن خير لهن «ابوداود»]

(خپلې ښځې مسجدونو ته د تللو څخه مه منه کوئ خو دهغوې کورونه د هغوې له پاره ډير غوره دي.) ددې الفاظو څخه دا په ډاګه کيږي چې شارع خو ښځې مسجدو ته دتللو څخه نه منه کوى ځکه چې مسجد ته د لمانځه له پاره تګ څه بدکار نه دې چې ناروا ورته وويلې شي خو مصالح ددې غوښتنه نه کوي چې په مساجدو کې د نر او ښځو جماعت يو ځاي ودريږي.په دې اساس هغوې ته يې د ورتللو اجازه خو ورکړې خو دايې نه دي ويلې چې ښځې مسجدونو ته وليږئ ، يا يې د خپلو ځانونو سره راوړئ بلکه يوازې همدومره يې ويلې دي چې که چيرې هغوې افضل لمونځ پريږدي او د ادنې لمونځ له پاره مسجد ته راځي او ددې له پاره اجازه وغواړي نو مه يې منه کوئ. سيدنا عمر رضى الله عنه چې د اسلام د روح ډير راز پيژندونکې و د شارع دغه حکمت يې ښه پيژ انده لکه چې په موطا کې راغلي دي چې د هغه ښځه عاتکه بنت زيد به تل دهغه سره په جنجال کې وه. امير المؤمنين عمر رضى الله عنه نه غوښتل چې هغه دې مسجد ته ولاړه شى خو هغې به په تللو اصرار کاوه کله به چې هغې اجازه غوښتله نو هغه به په سهې ډول په نبوي حکم عمل کاوه او خاموشه به پاته کيده. مقصد به يې داو چې زه تانه منه کوم خو په ډانګ ييبلې توګه به يې اجازه هم نه ورکوله.
او هغه به هم په خپله خيره ښه ولاړه وه ، ويل به يې په الله تعالي سوګند چې زه به ځم ، تر هغې چې په ځرګندو الفاظو باندې منه نه کړل شم [ ... دا يوازې دعمر رضى الله عنه د ښځې حال نه و ځکه په نبوي دور کې ډيرې زياتې ښځې د جمعې د لمانځه له پاره مسجد ته تللې. په ابوداود کې راغلي چې په نبوي مسجد کې به زيات وخت د ښځو دوه دوه صفونه جوړيدل.]

## مسجد ته د تللو شرايط:

مسجد ته د تللو سره څو شرائط هم تاکل شوي دي دهغوې څخه لومړى شرط دادې چې ښځې دې د ورځې په وختونو کې مسجد ته ولاړې نه شى. بلکه يوازې په هغو لمونځونو کې دې ګډون وکړي چې په تياره کې اداء کيږي يعني د ماسختن او سهار لمونځونه:

[ عن ابن عمر رضى الله عنه قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم ائذنوا للنساء باليل الي المساجد «ترمذي»]

(c) ketabton.com: The Digital Library

( د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل چې: د شپې په وخت کې ښځوته اجازه ورکړئ چې مسجدونو ته ولاړې شي. )

[قال نافع مولی ابن عمر کان احتصاص اليل بذالک لکونه استرو اخفی ]

( د سیدنا عمر رضی الله عنه شاګرد نافع وایي چې د شپې تخصیص یې په دې خاطر ورکړې چې د شپې په تیاره کې په ښه توګه پرده خوندي پاته کیږي )

[عن عايشة رضی الله عنها قالت کان رسول الله صلي الله علیه وسلم ليصلی الصبح فینصرف النساء متلففات بمروطهن مایعرفن من الغلس ]

( سیدة عایشة رضی الله عنها فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د سهار لمونځ په داسې وخت کې کاوه چې ښځې به د لمانځه وروسته په خپلو څادرونو کې داسې را تاوې وې چې په تیارې کې به نه پیژندل کیدې. )[د ترمذي په یوه حدیث کې دا هم راغلي چې د لمانځه د ادا کولو وروسته به نبي اکرم صلی الله علیه وسلم او ټول نارینه لمونځ کونکې تر هغې ناست پاته کیدل تر څو به چې ښځې په مکمله توګه نه وې را وتلې.]

دویم شرط یې دادي چې مسجد ته به د زینت سره نه را ځي او نه به د راتګ په وخت کې خوشبوي استعمالوي.

عایشة رضی الله عنها فرمایې چې یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم په مسجد کې ناست و چې د مزینه د قبیلې یوه ډیره سینګار کړل شوې ښځه د نازو نخرو سره راغله ، نو نبي کریم صلی الله علیه و سلم سمدستي و فرمایل چې:

اې خلکو ! خپلې ښځې د زینت ، سینګار او نازو او نخرو سره مسجد ته د را تللو څخه منه کړئ « ابن ماجه باب فتنه النساء»

دریم : د خوشبوي په هکله فرمایې چې په کومه شپه چې تاسې په لمانځه کې د شرکت له پاره راځئ نو په هغې شپه د راتګ په وخت کې هیڅ ډول عطر مه استعمالوئ بلکه په ساده لباس کې راشئ هغه ښځه چې عطر استعمالوي او لمانځه ته راشي نو د هغې لمونځ نه کیږي «موطا باب خروج النساء الی المساجد»

څلرم شرط دادي چې ښځې دې د سړیو په صفونو کې ځان نه ورګډوي او نه دې مخکې صفونو کې دریږي هغوې باید د سړیو د صفونو وروسته و دریږي لکه چې فرمایې:

[خير صفوف الرجال اولها او شرها اخرها و خير صفوف النساء اخرها و شرها اولها ]

( د نارینه و له پاره بهترین صف لمړی صف دي او بدترین صف وروستي صف دي او د ښځو له پاره بهترین مقام په اخري صفونو کې او بدترین مقام په لمړیو صفونو کې دي )

دجماعت د لمانځه په هکله سیدنا رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه قاعده ټاکلې ده چې: ( ښځې او نردې په یوه ځاې په ګډه دریدو سره لمونځ نه ادا کوي که څه هم هغه میره او ښځه او یا مور او زوې هم وي. )

د انس رضی الله عنه وینا ده چې زما نیا ملیکه رضی الله عنها سیدنا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته میلمستیا وکړه له خوراک او څښاک وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم د لمانځه له پاره و درید زه او یتیم « دا غالبا چې د سید انس رضی الله عنه د ورور نوم دي» د محمد صلی الله علیه وسلم پسې وروسته ودریدو او زمونږ نیا ملیکه رضی الله عنا زمونږ نه وروسته د ودریدا « ترمذي»

د سیدنا انس رضی الله عنه څخه یو بل روایت دي چې فرمایې رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ کور کې لمونځ ادا کړ زه او یتیم د هغې پسې و دریدو او زمونږ مور ام سلیم رضی الله عنها زمونږ پسې وروسته ودریده « بخاري»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دي چې یو ځل رسول الله صلي الله علیه و سلم د لمانځه له پاره راپورته شو زه دهغې تر څنګ و دریدم او بي بي عایشة رضی الله عنها زمونږ پسې و دریده «نسایي باب موقف الامام اذا کان معه صبی او امراة»
پنځم شرط دادي چې ښځې دې په لمانځه کې اواز نه پورته کوی قاعده دغسې تاکل شوې چې که چیرې امام څه اشتباه وکړي نو دهغې دتنبیه کولو له پاره سړې سبحان الله وایي او ښځې دې لاس و ټکوي «بخاري»
ددې ټولو حدودو او قیودو تر څنګ چې کله سیدنا عمر رضی الله عنه ته په مسجد کې دښځو ا و نرو د خلط کیدو اندیښنه پیدا شوه نو هغې مسجد کې دښځو له پاره یو ځانته دروازه ولګوله او سړې یې په هغې دروازې د تللو څخه منه کړل «ابو داود باب اعتزال النساء لي المساجد عن الرجال».

## په حج کې دښځو له پاره اصول:

د اسلام دویمه ستره ټولنیزه فریضه د حج تر سره کول دي. دا د نارینه و په خیر په ښځو هم فرض دي مګر د امکان تر حده یې ښځې د طواف په وخت کې د نارینه و سره له ورګډیدو څخه منه کړی دي په بخاري کې د عطار څخه روایت دي چې په نبوي دور کې به ښځو د نارینه و سره یو ځای طواف کاوه خو یوله بله سره به یې له ورګډیدو څخه ځان ژغوره «باب طواف النساء»

په فتح الباري کې د ابراهیم نخعي څخه روایت دي چې سیدنا عمر رضی الله عنه به د طواف په وخت کې دښځو او نرو د ګډو ډیدو څخه مخنیوي کاوه ، یو ځل هغه رضی الله عنه یو سړې دښځو په ډله کې وکوت نو ویې نیوه او په دُرّو یې وواهه «فتح الباري دریم ټوک ۳۱۲م مخ»
په موطا کې راغلي چې عبد الله بن عمر رضی الله عنه به خپله ښځه او کوچنیان د مزدلفي څخه وختي منی ته لیږل ترڅو چې د خلکو د راتګ تر مخه د سهار د لمانځه او رَمي (شیطان ویشتلو ) څخه فارغه شي. همدا راز د سیدنا ابوبکر رضی الله عنه لور اسماء رضی الله عنها به د سهار په تیاره کې مني ته تشریف یوړ ځکه چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په عهد کې د ښځو له پاره همدغه دستور و « موطا ابواب الحج باب تقدیم النساء والصبیان»

## د جُمعې او اخترونو په لمونځونو کې د ښځو ګډون:

په اسلام کې چې څومره اهمیت د جُمعې او اخترونو لمونځونه لري هغه د بیان محتاج نه دی ، دهغې د اهمیت په نظر کې نیولو په اساس شارع ددې غونډو له پاره په ځانګړې توګه هغه شرط له منځه وړي چې په عامو لمونځونوکې یې پر ښځو عاید کړې و. یعنې دا چې دورځې دې په جماعت کې نه شریک کیږی که څه هم د جَمعې لمانځه له پاره دغه ډول صراحت شوې چې ښځې د جَمعې د فرضیب څخه مستثنی دي «ابوداود باب الجمعة»
په اخترونو کې هم دښځو ګډون ضروري نه دي خو که هغوي غواړي نو د جُمعی د لمونځونو د نورو شرایطو دپه نظر کې نیولو سره په دغو لمونځونو کې هم ګډون کولې شي. د حدیث څخه دا ثابته ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به پخپله خپلې بیبیانې د اخترونو د لمونځونو له پاره بوتللې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[عن ام عطية قالت ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يخرج الا بكار و العواتق و زوات الخدور و الحيض فی العيدين فاما الحيض فيعترلن المصلی و يشهدن دعوة المسلمين « ترمذي . باب خروج النساء فی العيدين»

د ام عطيه رضی الله عنها څخه روايت دې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به ځواني او پيغلې نجوني او په کور کې ناستې او په مياشتنی ناروغتياو ککړې ښځې هم په اخترونو کې له ځان ه سره لمانځه ته وړلې. کومې ښځې به چې د لمانځه وړ وې هغوي به لمونځ کاوه او کومې به چې د لمانځه وړ نه وې نو هغوي به په ځانته ځاي کې ناستې وې او په دعاکې به يې ګډون کاوه.)

[عن ابن عباس رضی الله عنه ان النبی صلی الله عليه وسلم كان يخرج بناته و نسائه فی العيدين « ابن ماجه ، باب خروج النساء فی العيدين»

( د ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دې چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم به خپلې لوني او بيبيانې د اخترونو لمونځو نو له پاره له ځانه سروه بوتلې.)

## د قبرونو زيارت او د جنازې په لمونځونو کې ګډون:

د يوه مسسلمان د جنازې په لمانځه کې ګډون کول کفايي فرض دې او د هغې په اړوند چې کوم تاکيدې احکام راغلي د يوهو خلکو څخه پټ نه دي خو دا ټول د نارنيه و له پاره دي. ښځې يې په جنازو کې د ګډون څخه منه کړې دي ، که څه هم په دې ممانعت کې سختي نه شته او کله کله يې اجازه هم ورکړې خو د شارع دارشاداتو څخه په ډاګه کيږي چې په جنازو کې د ښځو ګډون کول د کراهت نه خالي نه دي. په بخاري کې د ام عطيه رضی الله عنها څخه روايت دې چې:

[نهينا عن اتباع الجنائز و لم يعزم علينا] «باب اتباع النساء الجنازه»

( مونږ يې د جنازو سره دتللو څخه منه کړې يو خو په سختۍ سره نه )

په ابن ماجه او نسايي کې روايت دې چې رسو ل الله صلي الله عليه وسلم په يوې جنازې کې شريک و او يوه ښځه په نظر راغله ، سيدنا عمر رضی الله عنه هغه ورټله ، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :[يا عمر دعها]( اي عمره ! پريږده يې !)

په ډاګه ده چې دا ښځه به د مړي د خپلوانو څخه وه ،او د غم د ډيروالي په خاطر به د جنازې سره تلله ، نبي کريم صلي الله عليه و سلم د هغې د جذباتو او احساساتو مراعات وکړ او سيدنا عمر رضی الله عنه يې د هغې د ترټلو نه منه کړ.

دقبرونو دزيارت کولو هم هدغه حال دې ،ښځې ډيرې نرم زړې وي ، د خپلو مړو خپلوانو غم د هغوي په زړونو کې ډيروي نو د هغوي جذبې او احساسات په مکمله توګه تر پښنو لاندې کول د شارع له نظره درست کار نه دې خو دايې په ډانګ ييبلي فرمايلي چې قبرونو ته د ښځو ډير زيات ورتلل منه دي.

ترمذي کې د ابو هريرة رضی الله عنه څخه روايت دې چې:

[لعن رسول الله صلی الله عيله وسلم زوارات القبور] «باب ماجاء فی اكراهية زيارة القبور»

(رسول الله صلی الله عليه وسلم قبرونو ته ډيرې زياتې ورتلونکو «ښځو» باندې لعنت ويلې دې.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيدة عايشه رضی الله عنها د خپل ورور عبدالرحمن بن ابی بکر قبر ته ولاړه او ويې ويل :[ والله لو شهدتک مازرتک ] ( په الله سوګند که چيرې زه ستا د وفات په وخت کې موجوده واې نو اوس به ستا د قبر زيارت ته نه واې راغلې «ترمذي باب ماجاء فی زيارت القبور للنساء» )

د انس بن مالک رضی الله عنه څخه روايت دې چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم يوه ښځه د قبر تر څنګ ناسته په ژړا و ليده نو هغه يې منه نه کړه بلکه يوازې يې دا ورته وويل چې [ اتقي الله و اصبري ] (د الله څخه وويريږه او صبر وکړه )

په دې احکامو غور وکړئ « لمونځ يو مقدس عبادت دې ، مسجد يو پاک مقام دې، په حج کې انسان د ډيرو پاکو فکرونو سره د الله تعالې په دربار کې حاضريږي . قبرونو ته په ورتګ او جنازه کې د حاضريدو څخه د انسان مخې ته د مرګ فکر ار ژوندې کيږي او د غم او الم وريځې پرې خپريږي ، دا ټولې هغه پيښې او فرصتونه دي چې جنسي جذبات په کې بلکل له منځه تللې وي او که پاته هم وي نو د نوروپاکو جذباتو تر اغيز لاندې راځي. خو ددې تر څنګ بيا هم شارع په دغسې ټولنو او غونډو کې د نارينه و او ښځو ګډوډ او خلط کيدل نه خوښوي ، د ځاې ، موقع ، داهدافو د پاکوالې او د ښځو د جذباتو د رعايت په ساتلو سره خو هغوې ته د وتلو اجازه ورکړل شوې او په ځينو وختونو کې يې پخپله له ځانه سره وړې خو د حجاب له پاره يې دومره بنديزونه پرې لګولي تر څو د فتنې د راپيدا کيدو ډير لږ احتمالات هم پاته نه شي ، بيا د حج نه اخوا د ټولو نورو اموراتو په هکله يې فرمايلې چې په هغوې کې دښځو ګډون نه کول ډير غوره دې.دکوم قانون چې دغسې رجحان وي ايا تاسې د هغې څخه دا توقع او اميد کولې شئ چې هغه دې په مکتبونو او ليسو کې ، په دفترونو اوکارخانو کې ، په پارکونو او تفريح ځايو کې، په تياترونو او سينماګانو کې ، په قهوه ځايو او نڅا ځايونو کې او .... د نر او ښځو اختلاط ته اجازه ورکړي ؟

## په جنګ کې د ښځو ګډون:

تاسې د حجاب په هکله سختې و ليدله ، اوس و ګورئ چې په هغې کې نرمي تر کومه ځايه او د کومو اړتياو په خاطر کيږي.

مسلمانان په جنګ کې اخته کيږی ، دعام مصيبت او غم وخت وي ، وخت غوښتنه کوی چې ولس خپل ټول توان په ټولنيزه دفاع کې صرف کړي. په دغسې حالاتو کې اسلام د ولس لوښو ته اجازه ورکړي چې هغوې دې په جنګی خدماتو کې ونډه واخلې خو ددې تر څنګ دا حقيقت هم دهغوې تر مخه دې چې ښځه د مور جوړيدلو له پاره جوړه شوې د سرغوڅولواو وينې تويولو له پاره نه ده جوړه شوې. دهغې په لاس کې توره او ټوپک ورکول د هغوې د فطرت د مسخ کولو او له منځه وړلو په معنا دې. په دې خاطر هغه ښځو ته د خپل ځان ددفاع په خاطر د توري او ټوپک د پورته کولو اجازه ورکوي اما په عمومي توګه په عسکري خدمت کې دښځو را ښکيلول د هغې د پاليسو نه بهر دي ، هغه په جنګ کې د ښځو څخه د غسې خدمت اخستل غواړی چې هغوې دې د زخميانو په زخمونو ملهم کيږدي .ترږو خلکو ته اوبه ور ورسوي ، د عسکرو له پاره خوراک تيار کړي او د مجاهيدنو تر شا د کمپونو ساتنه وکړي ، ددې کارونو دتر سره کولو له پاره د پردې حدود ډير راکم کړل شوي دي بلکه ددغه خدماتو تر سره کولو له پاره د لږې اصلاح سره يې هماغه لباس اغوستل شرعا روا دي چې نن ورځ يې عيسايي تبليغي ښځې اغوندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولو احاديثو څخه ثابته ده چې په جنګ کې به پاکي بيبياني او نوري مسلماني ښځې د محمد صلی الله عليه وسلم سره يو ځاې تللي او مجاهدينو ته به يې اوبه ور رسولي او د زخميانو په زخمونو به يې ملهم پټۍ ايښودي او همدغه طريقه د حجاب د احکامو د نازليدو وروسته هم روانه وه.

په ترمذي کې راغلي دي چې ام سليم او دا نصارو نوري ښځې به ډير وخت د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره يو ځاې غزاواتو ته تللي «بخاري باب حمل الرجل المراة فی الغزو»

همدا راز په بخاري کې راغلي چې يوې ښځې نبي کريم صلی الله عليه و سلم ته عرض وکړ چې ماته دعا وکړه چې زه د بحري غازيانو سره يو ځاې شم هغه ورته وفرمايل [اللهم اجعلها منهم «بخاري»] د احد د غزا په وخت کې چې د اسلام لښکر د ماتې سره مخامخ شو نو سيدې عايشې ا و سيدې ام سليم دواړو به په خپلو ملاګانو مشکونه راوړل او جنګياليو غازانو ته به يې اوبه ورکولې ، سيد انس رضی الله عنه وايي چې په دغه وخت کې ما دغه دواړه بيبياني و کتلي چې پايڅې به يې را پورته کړې وې او په ځغاسته به يې تګ راتګ کاوه او دهغوې ډپنډيو لاندې برخه به ښکاريده «بخاري باب غزوة النساء و قتالهن مع الرجال»]

د يوې بلې ښځې ام سليم په اړه امير المؤمنين عمر رضی الله عنه د نبی کريم صلی الله عليه وسلم دا ونيا را نقل کړې ده [د احد په جنګ کې ما خپل ښي او چپ اړخ ته او هرې لورې ته چې کتل نو ام سليم زما څخه د دفاع له پاره په جنګ کې مصروفه په نظر راتلله]

په همدغه جنګ کې ربيع بنت معوذ او دهغې سره ښځينه ډلې د زخميانو په زخمونو ملهم او پټۍ ايښودلې او زخميان به يې پورته کول او د مديني ښار ته به يې رسول « بخاري باب مداوات النساء الجرمي فی العزء»

د حنين په جنګ کې ام سليمي يو خنجر په لاسکې نيولې و او ګرځيدله نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورځيني پوښتنه وکړه چې دا د چا له پاره ؟ هغې ورته وويل چې که چيرې کوم مشرک ماته را نژدې شي نو دهغې ګيډه به په دې و شکوم. «مسلم باب غزوة النساء مع الرجال»

ام عطيه رضی الله عنها په اوو جنګونو کې ګډون کړې و او دکمپ ساتنه ، اود مجاهدينو له پاره د خوراک څښاک تيارول ، د زخميانو او ناروغانو خدمت د هغې په غاړه و .« ابن ماجه باب العبيد و النساء يشهدون مع المسلمين»

د ابن عباس رضی الله عنه وينا ده چې هغه خويندو به چې دغه ډول خدمات تر سره کول هغوی ته به د غنيمت د مال څخه انعام ورکول کيده.

ددې څخه دا اندازه کيږي چې د اسلامي پردې نو عيت د کوم جاهلي رسم او رواج په څير نه دې چې د ښيګڼو او اړتياو له اړخه په کې کمښت يا ډيرښت و نه شي. هلته چې ريښتوني اړتياوې را مخته کيږي هلته د هغې حدود کميږی ، نه يوازې څهره او لاس خلاص پريښوول کيږی بلکه ځيني غړې چې په ستر عورت کې داخل دي که د هغې ځيني برخې هم د اړتياو په وخت کې را بربنډ شي نو کومه ګناه پرې نه شته. خو کله چې اړتياوې پوره شي نو حجاب دې بيرته په هماغه حدودو کې را ونغاړي چې په عامو حالاتو کې ورته ټاکل شوې.

لکه څنګه چې دغه پرده جاهلي پرده نه ده په دې اساس دهغې تخفيف هم د جاهلي ازادی په څير نه دې. همدا راز د مسلمانو ښځو حال د اروپايي ښځو په څيرهم نه دې چې کله هغوې د جنګ دا اړتياو په خاطر دکور نه بيرون را ووتلې نو د جنګ د پاې ته رسيدو وروسته يې خپلو حدودو ته د ورتګ څخه انکار وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پای ټکي:

دا د عدل هغه اساسي او منځني مقام دي چې نړۍ د خپل پرمختګ ،خوشحالۍ او اخلاقي امن له پاره ورته اړ او ډیره زیاته اړ ده. لکه څرنګه چې مو په لمړیو پاڼو کي بیان کړل چې نړۍ د زرګونو کالو را هیسې په تمدن کې دښځې یعني د انساني عالم د نیماي برخې د مقام دټاکلو په هکله تیندکونه خوري کله د افراط په لور ځي او کله هم د تفریط په لور. خو ددې دواړو پایلې د هغې له پاره زیانمنې ثابتې شوي. تجربې او مشاهدې په دغه زیان باندې ګواهي ورکوي ، ددغې دواړو انتها و ترمینځ د عدل او وسط ځاي چې د عقل او فطرت عین مطابق او د انساني اړتیاو له پاره بلکل مناسب دي هماغه دي چې اسلام وړاندې کړي. خو افسوس په دې دې چې په موجوده وختونو کې داسې بې شمیره خنډونه را پیدا شوي دي چې دهغې په واسطه خلکو ته د صراط مستقیم پیژندل او دهغې قدر کول ډیر ستونزمن شوي.

ددې خنډونو څخه تر ټولو مهم خنډ دادې چې د اوسنۍ نوې زمانې انسان په عامه توګه د «یرقان یا زیړي» په ناروغۍ اخته شوې او د شرق په فرنګې ډوله خلکو باندې ددغې یرقان ناروغۍ یوه بله خطرناکه حمله کړې چې د یرقان ابیض په نامه یاېږي. زه په خپلو دغه سپینو خبرو دخپلو دوستانو او ورونو څخه بښنه غواړم خو هغه څه چې حقیقت دې د هغې په را څرګندولو کې هیڅ ډول مروت باید خنډ و نه ګرځي دا یو واقعي امر دې چې د اسلام هیڅ حکم یا هیڅ مسئله داسې نه شته چې د ثابت شویو علمي څېړنو پر خلاف وي بلکه ډیره سهي خبره داده چې هر هغه څه چې علمي حقیقت دي هماغه پخپله اسلام دې. خو دهغې د کتلو له پاره بې رنګه نظر ته اړتیا ده تر څو هر شې په هغه خپل اصلي رنګ کې و کتل شي. پراخه نظر ته اړتیا ده تر څو د هرشي ټول اړخونه و کتل شي ، پراخه زړه او سلیم فطرت ته اړتیا ده ترڅو حقایق لکه څنګه چې دي په هماغه ډول و منل شي او دخپلو غوښتنو د تابع کولو پر ځاې د نفس غوښتنې دهغې تابع کړل شي.
هلته چې دغه شې نه دې موجود نو هلته که علم موجود هم وي خو بې کاره به وي ، رنګین نظر ونه چې څه ګوري په هماغه رنګ کې به یې ګوري چې پر هغې باندې رنګ کړل شوي وي. محدود نظر د مسایلو او معاملاتو یوازې هماغه څنډ ې کتلاې شي چې د هماغې زاویې تر مخه پرتې دي چې دې یې ترې ګوري ، بیا ددې ټولو ترڅنګ علمي څېړنې په خپلو اصلی حالاتو کې تر ډیرې ژورتیا پورې رسیږي چې په هغې هم د زړه تنګیدل او د فطرت کوږوالې خپل اغیز شیندي. هغه د حقایقو څخه غوښتنه کوي چې د هغې د نفس غوښتنې او دهغې د جذباتو او رجحاناتو په موافق پریوزي او که نه پریوزي نو هغه په هغې حقایقو د پوهیدو سره سره بیا هم هغه له نظره غورزوي او دخپلو غوښتنو تابعداري کوي. ښکاره ده چې کله چې انسان په داسې ناروغتیا ککړ شي نو بیا علم ، تجربه ، مشاهده... هیڅ شې هغه ته لار ښوونه نه شې کولاې. او دداسې ناروغ له پاره دا ناممکنه ده چې هغه دې دا اسلام کوم حکم په پوره توګه درک کړي ځکه چې اسلام د فطرت دین ، بلکه پخپله فطرت دې ، د غربي نړۍ له پاره اسلام په دې خاطر ستونزمن ګرځیدلې چې هغوې په دغه ناروغۍ ککړ شوې دې ، دهغوی سره چې څومره علم شته هغه ټول « اسلام » دې خو پخپله دهغوې سترګې او نظرونه رنګین دي او بیا همدغه رنګ په یرقان ابیض باندې تبدیل او دشرق د نوي تعلیم یافته ځوانانو په سترګو باندې را خپور شوې او دغه ناروغتیا هغوې هم دعلمي څېړنو څخه د سهي نتایجو د لاسته راوړو او د ژوندانه مسایلو ته د فطرت په نظر د لیدلو څخه بیګانه کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغوي ځخه چي ځوک مسلمان دی نو کیداې شي چي هغوي د اسلام په دین ایمان ولري او دهغې په
ربنتینوالي باندې اعتراف هم وکړي او ددین دجذبې د اتباع ځخه هم خالي نه وي.خو هغه غریب به دخپلو
سترګو د یرقان سره څه کوي؟ ځکه هغه څه چي هغه یې په دغې یرقان وهلو سترګوویني نو د هغې رنګ
ورته پخپله د(صبغت الله) «د الله د رنګ» په خلاف ښکاري. بل لامل چې د سهي پوهې په مخ کې خنډ واقع
کیږي دادي چي کله هم په عام ډول خلک د اسلام په کومه مسئله باندې غور کوي نو په هغه نظام او سیستم
باندې په هر اړخیز ډول نظر نه اچوي چي دغه مسئله ورسره اړیکي لري. بلکه د نظام ځخه یې په بیلولو او په
مجرده توګه تر بحث او ځیړنې لاندې راوړي. پایلي یې داکیږي چي هغه مسئله د ټولو حکمتونو او فایدو
ځخه خالي او تشه په نظر راځي او ډول ډول شکونه ترې را ولاړیږي. د نمونې په توګه د سود په مسئله کې
همداسې وشول ، هغه یې د اسلامي «فطرت»د اقتصاد ي اصولو او ګټیز نظام ځخه جدا کړ او په دې ترتیب
په زرګونو ستونزې په کې په نظر راغلي ان تردې چې ډیرو سترو سترو پوهانو هم د شریعت د مقاصدو او
اهدافو په خلاف په هغې کې د ترمیم یا اصلاح کولو اړتیا محسوس کړه ، غلامي او د ښځو په شمیر کې او
همدا راز د زوجنیو په حقوقو او داسې نورو ډیرو مسایلو کې د همدغې بنسټیزې غلطۍ اعاده وکړل شوه
او د پردې مسئله هم دهمدغې ناروغۍ ښکار و ګرځیده که چیرې تاسې د ټول عمارت د کتلو پر ځاې یوازې
یوه ستنه ووینۍ نو طبیعې ده چې تاسې به حیران شئ چې دا دلته ولې ولاړه ده ، تاسې ته به په هغه ځاې کې
دهغې دریدل د ټولو حکمتونو ځخه خالي په نظر درشي تاسې به هیڅکله هم پوه نه شئ چې انجنیر ددغه
عمارت د جوړښت په خاطر په کوم ډول تناسب سره دا په موزون ډول لګولې ده. د هغې په را پرزولو سره به
عمارت ته ځومره زیان ورسیږي. د پردې مثال هم بلکل همداسې دې کله چې دا ددغه ټولنیز نظام ځخه جدا
کړل شي چې ددې عمارت د یوې ستنې په څیر د یوې اړتیا او مناسبت په نظر کې نیولو په اساس نصب کړل
شوې نو هغه ټول حکمتونه به د سترګو ځخه پناه شی چې ددې پورې تړلي او په دې خبره به هیڅوک پوه نه شي
چې د انساني نوع ددواړو صنفونو تر منځ دغه امتیازې پولې ولې جوړې کړل شوې دي. نو ددغې ستنو د
حکمتونو د ښه پوهیدو له پاره دې ته اړتیا ده چې دغه ټول عمارت یو ځل و کتل شي په کوم کې چې دا ستن
نصب شوې ده.

اوس د اسلام له اړخه نافذ شوې ریښتونې پرده سمدستي تر مخ ده او هغه ټولنیز نظام هم ستاسې تر مخ دې
دکوم د خوندې ساتلو له پاره یې چې د پردې اصول او مقرارت ټاکلي دي.

ددې نظام ټول هغه ارکان هم ستاسې تر مخ دي چې د هغې سره یې د یو خاص توازن د په نظر کې نیولو په
اساس د پردې رکن وربو ځاې کړې دې. هغه ټول ثابت شوې علمي حقایق او ځیړنې هم ستاسې تر مخ دي چې
پرې ددغه ټول ټولنیز نظام بنسټ ایښودل شوې اوس ددې ټولو د لیدلو وروسته ووایاست ایا په کوم ځاې
کې تاسې ته کمزوري اوبې اعتدالي په نظر راځي؟ کوم ځاې داسې دې چې دکومې خاصې ډلې د نظر پرته
یوازې په علمي او عقلي بنسټونو هلته کوم اصلاحي وړاندیز وشي؟ زه په یقین سره دا وایم چې ځمکه او
اسمان چې په کوم عدل ولاړ دي ، د کائناتو په نظام کې چې په کوم ډول هماهنګي او مساوات لیدل کیږي ، د
یوې کوچنۍ زرې د جوړښت او شمسي نظام په بندش کې چې کو م توازن او تناسب تاسې وینئ نو په
همدې توګه اعتدال ، برابري او توازن او تناسپب په دغه ټولنیز نظام کې هم موجود دي. افراط و تفریط چې
د انسانی کارونو ځخه نه جدا کیدونکې کمزوري ده ، دهغه ځخه دغه نظام په مکمله توګه پاک دې. په دې کې
د اصلاح وړاندیز کول د انسان د توان او عقل نه بیرون دي. انسان د خپل خام عقل د مداخلې په اساس که
چیرې په دې کې ډیر کم وړاندې وروسته وکړي نو دهغې د اصلاح پر ځاې به دهغې توازون ګډوډ کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افسوس چې له ماسره داسې وسايل نه شته چې خپلو هغه انسانانو ورونو ته خپل اواز ور ورسوم چې په امريکه ، روسيه ، جاپان او اروپا کې اوسيږي ، هغوې د يوه سهي تمدني نظام د نه لاسته راوړو په اساس خپل ژوند دتباهۍ سره مخ کړې او تر څنګ يې د نړۍ د نورو ولسونو دتباهۍ موجب هم ګرځيدلي . کاشکې چې ما تر هغوې پورې دغه د ژوند اوبه وررسولاې شواې چې هغوې ورته تږي ناست دي که څه هم هغوې دغه تنده نه شي محسوسولاې. بيا هم زمونږ د ګاونډيو هيوادونو ، هندوان ، سکهان ، عيسايان ،پارسيان ...زما سره نږدې دي او زيات يې زما په ژبه هم پو هيږي. زه هغو ته بلنه ورکوم چې د مسلمانانو سره دتاريخي او سياسې دښمنيو او نښتو په اساس چې کوم تعصب دهغوې په زړنو کې کې د اسلام پر خلاف پيدا شوې دهغې څخه خپل زړونه پاک کړئ او دحق د موندونکو په څير د اسلام دغه ټولنيز نظام ووينئ چې مونږ پرته د زيادت او کمښت څخه په دغه کتاب کې بيان کړې دې او بيا د غربي ټولنيز نظام سره دهغې موازنه وکړئ د کوم له پاره چې هغوې ډيرې زياتې منډ ې تررې وهي او په اخر کې زما يا د بل چا په خاطر نه بلکه پخپله دخپلې ګټې له پاره پريکړه وکړئ چې د هغوې ريښتوني برې او سوبه په څه کې ده ؟

ددې وروسته زه د عامو وګړو په لور مخ را ګرځوم او څو ټکي خپلو هغو بې لارې شوو ورونو ته وړاندې کوم چې د مسلمانانو په نوم ياديږي.

زمونږ يو شمير نوي تعليم يافته ورونه پورته ياده شوې خبره مني خو وايې چې د اسلام په قوانينو کې د وخت او حالاو په نسبت سره د نرمښت او سختۍ ډير ځاې شته چې دهغې څخه تاسې پخپله هم انکار نه شئ کولې نو زمونږ غوښتنه يوازې همدومره ده چې د همغې ځاې څخه ګټه پورته کړائ شئ او څرنګه چې د اوسنۍ زمانې حالات د پردې په هکله د نرمښت غوښتنه کوی نو دې ته اړتياده چې مسلمانې نجونې مکاتبو او ليسو ته ولاړې شي اولوړې زده کړې وکړي ، داسې روزنه ترلاسه کړي چې په کې ورته د هيواد دتمدني ، اقتصادي ، ټولنيزو او سياسي مسايلو د حل په لارو کې پوهه ورپه برخه شي. او له دې پرته به مسلمانان د ژوند به ځغاسته کې د ګاونډيو څخه وروسته پاته شي او دا انديښنه راپيدا کيږي چې مسلمانان به ډير زيات زيانمن شي . همدا راز د هيواد په سياسی ژوند کې چې ښځو ته کوم حقوق ورکړل کيږی که چيرې په مسلمانو ښځو کې د هغې حقوقو څخه دګټې پورته کول صلاحيت پيدا نه شي او يا دپردې د بنديزنو له امله هغوې دهغې څخه ګټه پورته نه کړاې شي نو دهيواد په سياسي تله کې به د مسلمانانو وزن ډير کم پاته شي . وګورئ ! د اسلامي نړۍ پر مختللې هيوادونه لکه ترکيه ، ايران هم د زمانې د حالاتو د په نظر کې نيولو سره د اسلامي حجاب به بنديزونو کې ډيره نرمي کړې ده.[....دا لفظ يوازې د بحث له پاره استعمال شوې او که نه هلته تخفيف يا نرمي نه بلکه مسخ شوې ده ] او يوازې په څو کالو کې يې له دې څخه ډيرې ګټې ترلاسه کړې دي. که چيرې مونږ هم دهغوې په قدم قدم کيږدو نو اخر په دې کې به څه بدي وي ؟

څومره خطرات چې دلته بيان شوې دې مونږ دا ټول لکه څنګه چې دې همغسې منو ، بلکه که دخطراتو په لست کې ددې لس هومره نور هم ورزيات کړل شی بيا هم په کې څه بدوالې نه ليدل کيږی.په هر حال ددغه ډول کوم خطر په اساس د اسلام په قانون کې ترميم يا تخفيف کول روا نه دی په اصل کې ددغې ټولو خطراتو نوعيت دادې چې د نمونې په توګه تاسې قصدا دخپل حماقت او يا ناپوهۍ په واسطه او يا دخپلې کمزورۍ د محبوريت له مخې په بيهوده ، چټل او مضر چاپيريال کې ژوند کوئ او هلته د صحت د ساتنې د اصولو په اساس تاسې ته ژوند کول نه يوازې ستونزمن دي بلکه د چټلو خلکو په کلي کې د اوسيدو په اساس تاسې ته د ګندګۍ او چټلۍ دخپلولو څخه پرته ژوند کول ستونزمن دي. په دغسې حالاتو کې په ډاګه ده چې د صحت د ساتنې په اصلوو کې د ترميم يا تخفيف پوښتنه هم نه راولاړيږي که چيرې دغه اصول سهي ګڼئ نو په تاسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرض دي چې دخپل چاپېريال سره مبارزه وکړئ ،پاک او اصلح يې کړئ خو که د مبارزې جرئت او همت نه لرئ او دخپلې کمزورتيا په اساس دخپل چاپېريال تر اغيز لاندې مغلوب شوئ ، نو بيا راشئ او ولاړ شئ او کومې چتلياوې چې وينئ ځان په کې ښه ککړ کړئ.
اخر ولې ستاسو په خاطر د صحت او روغتيا په قوانينو کې ترميم او اصلاح وشي ؟ او که چيرې په ريښتيا سره تاسې هغه قوانين غلط ګڼئ او دهغې غلاظت او چتليتا سره ستاسې طبيعت بلد شوې دې نو بيا تاسې دخپل ځا ن له پاره څنګه مو چې خوښه وي قانون جوړ کړئ ، د پاکۍ او طهارت په قوانينو کې د هغې خلکو د غوښتنو له پاره هيڅ ځاي نه شته چې د چتلتيا له پاره ميلان ولري. په دې کې هيڅ شک نه شته چې د هر بل قانون په څير اسلامي قانون هم په دې خبره ټينګار کوي چې د سختۍ او نرمښت په هکله د پريکړې کولو له پاره حالات په هماغه نظر او هماغه روح سره وکتل شي چې د اسلام نظر او د اسلام روح دې. د يوه مختلف ليد څخه دحالاتو کتل او بيا په هغه کې د تخفيف د قينچې په استمال سره د هغې په قانوني موادو حمله کول د تخيف په تعريف کې نه راځي بلکه دا ښکاره او صريح تحريف دې. کومو حالاتو ته چې د غير اسلامي افکارو له اړخه ليدل کيږي او بيا په اسلامي قانون کې د تخفيف غوښتنه کيږې خو که د اسلامي فکر له اړخه وليدل شي نو دا پريکړه به وکړل شي چې په دغه حالاتو کې د تخفيف يا نرمښت نه بلکه شدت او سختوالي ته اړتياده. نرمښت يوازې هغه وخت کيدلاې شي چې د قانون اهداف د نورو لارو څخه نه تر سره کيږي. بلکه نور ټول قوانين دهغې د له منځه وړلو له پاره کار کوي او دهغې مقاصدو د تر لاسه کولو ټول مدار يوازې په تحفظاتو ولاړ وې نو په داسې وخت کې يوازې هغه څوک د تخفيف يا نرمښت خيا ل کولاې شي چې د قانون د روح څخه بلکل نا خبره وی.
په مخکينيو پاڼو کې مونږ په پوره تفصيل سره بيان کړل چې د اسلامي ټولنيزو قوانينو هدف د ازدواج د ظوابطو ساتنه ، د جنسي انتشار مخنيوي او د غير معتدلو شهواني تحريکاتو له منځه وړل دې. ددې مقصد په خاطر شارع درې تدبيرونه ښوولي دې.

لمړی د اخلاقو اصلاح:
دويم تعزيري يا جزايي قوانين:
دريم انسدادی يا د مخنيوی تدبيرونه (ستر و حجاب).

دا په حقيقت کې درې ستنې دي چې دغه عمارت پرې درول شوېدې او دهغې په ټينګښت کې د عمارت ټينګښت او ځواک نغښتې دې او دهغې د منځه وړل او نړيدل د ټول عمارت د را پرزيدو سبب ګرځي. راځئ چې اوس د خپل هيواد(هندوستان) په موجوده حالاتو باندې نظر وکړو او ووينو چې ددغې درې واړو ستنو حال دلته څه ډول دې ؟
تر هرڅه لمړی خپل اخلاقي چاپيريال ته نظر واچوئ تاسې په هغه هيواد کې اوسئ چې اويا سلمه نفوس يې ستاسې د پخوانيو او اوسنيو لنډپاليو او کمزورتياو په اساس تر اوسه پورې غير مسلمان دې. او يو غير مسلمان قوم پرې حکمراني کوي او يو غير اسلامي تهذيب پرې د سيلۍ او توپان په څير را خپور شوې دې. غير اسلامي اخلاق او د غير اسلامي تهذيب تخيلات د ساري ناروغيو په توګه ټوله فضا په خپله غيږ کې نيولې او هوا يې زهرجنه کړی ده او دهرې لورې يې تاسې راګير کړې يا ست ، د فحش او بې حيايې دکومو خبرو تخيل چې څوکاله وړاندې يې ستاسې ويښتان را نيغول اوس دومره عام شوې دې چې تاسې يې ورځنې کارونه ګڼئ. ستاسې کوچنيان په ورځنې اخبارونو ،مجلو او اعلانونو کې فحش عکسونه هره ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وينې او د بې حيايې سره عادي کيږي . ستاسې بوډاګان ، ځوانان او کوچنيان ټول سينماو ته ځي چيرته چې د بې حيايي ، لوڅوالي ، بربنډتوب او شهواني محبت څخه پرته نور څه زيات په زړه پورې نه شته. پلار او زوې ، ورور او خور ميندې او لوڼې يو د بل په اړخ کې کيني او په ډاګه د مُچولو ا و غاړې غړې کيدو ،او د اختلاط او لوبو صحنې وينې او هيڅ شرم پرې نه محسوسوي. اخري درجه هيجان باروونکې او چټلې سندرې په کور کور او دکان دکان کې اوريدل کيږي او د هيچا غوږ ددغسې اوازونو د اوريدو څخه خوندې نه دې. د هندې او فرنګي ټولنو د لوړو طبقو ښځې په نيم لوڅو کاليو کې ګرځي را ګرځي او سترګې ددغه ډول کاليو سره اوس دومره عادي شوې چې هيڅوک په کې دبې حيايي احساس هم نه کوي. داخلاقو هغه تصور او نمونې چې د غربي ښوونې او روزنې سره يو ځاې خپريږي د هغې په اساس نکاح يو له منځه تللې زوړ او فرسوده رواج ، زنا يوه تفريح، د نرو او ښځو ترمنځ اختلاط نه يواځې د نيوکې وړ نه بلکه يو ستايل شوې کار، طلاق يوه لوبه ، ازدواجي فرائض يو نه زغميدونکې تړون ، توالد او تناسل يو حماقت او بې عقلي ، د ميړه اطاعت يو ډول غلامي ، ښځه کيدل يو مصيبت او معشوق کيدل يو خيالي جنت ګڼل کيږي.

بيا په خپل ولس باندې دهمدې چاپيريال اغيز ووينئ چې څومره دئ ؟ ايا ستاسې په ټولنه کې اوس د سترګو ټيټوالي «غض بصر» چيرې هم شته؟ ايا په لکونو انسانانو کې داسې انسان پيدا کيږي چې د پردېو ښځو ښايست د ليدلو څخه دخپلو سترګو دښکته کولو پروا وکړي ؟ايا په ډانګ پيبلي توګه د سترګو اوژبې زنا نه کيږي ؟ ايا ستاسې ښځې هم د تبرج الجاهليه او د زينت ځرګندونې او دښکلا د ښوونې څخه ځان ژغورې ؟ ايا نن ستاسې په کورنو کې هم هماغه ډول لباس نه اغوستل کيږي د کوم په اړه چې سيدنا رسول الله صلي الله عليه وسلم فرميلي چې:

[نساء کاسيات عاريات حميلات مائلات ؟]

ايا تاسې خپلې خويندې، لوڼې او ميندې په هماغه لباس کې نه وينئ چې يوه مسلمانه ښځه يې د ميړه پرته د بل چا په مخ کې نه شي اغوستلې ؟ ايا ستاسې په ټولنه کې د فحش داستانونه او دمحبت چټلې پيښې پرته له کومې ستونزې نه اوريدل او نه ويل کيږي ؟

ايا ستاسې په غونډو کې دخپلې بد فعلۍ په بيانولو څوک هم څه شرم محسوسوي؟

نو که حال همدا وي نو وواياست چې د اخلاقو د پاکوالي هغه لمرنۍ تر ټولو کلکه ستنه کله باقي پاته کيږي په کومه چې د اسلامي ټولنې عمارت جوړ شوې و ؟

اسلامي غيرت تردې حده پورې له منځه تللې چې مسلماني ښځې يوازې د مسلمانانو نه بلکه د کافرو په ناروا تصرف کې هم ورغلې دې يوازې د انګريزانو په حکومت کې نه بلکه په اسلامي رياستونه کې هم دغه ډول پيښې په ښکاره توګه کيږي. مسلمانان دغه پيښې وينې خو وينه يې په جوش نه راځي ، داسې بې غيرته مسلمانان هم شته چې خپلې خويندې يې د غير مسلمانو په تصرف کې دي او هغوې په فخر سره دا وايې چې زه د هغه فلانکي کافر خپلوان او اوښې يم [دا پيښه د هند په جنوب کې شوې ، زما يو دوست ماته ډيرې دغسې افسوسناکې پيښې بيان کړې . په شرقي هند کې يوې په نوم مسلماني ښځې د يوه غير مسلمان شتمن سړي سره په ډانګ پيبلي اړيکې درلودل او د هغې په پايلو کې هغه ډير دولت او مال خاونده شوه ، زما دوست وايي چې ډير ځله ځايي مسلمانانو .. په نوم مسلمانانو ...په دې ډيره خوښې ښکاره کوله چې د يوه غير مسلمان څخه يو مسلمان ته دومره دولت په لاس ورغلې دې. ]

ايا ددې وروسته هم د بې حيايي او اخلاقي انحطاط کومه درجه پاته کيږي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس ددغې دويمې ستنې حال ووينئ ، د ټول هندوستان څخه د اسلامي تعزيراتو قانون په مکمله توګه لرې کړل شوې دي ، د زنا او قذف حد نه په اسلامي رياستونو کې نافذ دي او نه په انګليسي هند کې. يوازې دا نه ده بلکه هغه قانون چې نن په هيواد کې نافذ دي په هغه کې زنا ته د جرم په حيث نه کتل کيږي.که چيرې کومه نيکه او شريفه ښځه يا نجلۍ څوک تير باسي او دهغې د بد کاره کولو هڅه وکړي نو له تاسره هيڅ داسې قانوني ذريعه نه شته چې دهغې په واسطه دهغې عزت خوندي وساتل شی. که چيرې څوک په يوې بالغې ښځې سره دهغې په خوښه ناروا عمل «زنا » وکړي نو تاسې د قانون له مخې هغه ته سزا نه شئ ورکولای. که چيرې کومه ښځه په ډاګه په بدکارۍ «زنا » لاس پورې کړي ، قانون يوازې د زنا بالجبر مخه نيسي خو هغوې چې په قانون پوهيږي دهغو څخه و پوښتئ چې د زنا بالجبر ثبوت وړاندې کول څومره ستونزمن کار دې.
دنکاح شوې ښځې غولول او وړل هم جرم دې خو د انګريزي قانو پوهانو څخه و پوښتئ چې که چيرې نکاح شوې ښځه په خپله خوښه د چا په کور ورننوځي نو دهغې له پاره ستاسې دبادارنو په محکمه کې څه ډول قانون شتون لري ؟
غور وکړئ دغه دواړه ستنې له منځه تللي او س ستاسې د ټولنې ټولنيز نظم يوازې په يوې ستنې ولاړ دې. ايا تاسې دغه ستنه هم له منځه وړل غواړئ ؟ له يوه اړخه دپردې هغه زيانونه دي چې تاسې ورته پورته ګوته نيولې ده او د بله اړخه د پردې په لرې کولو کې د اخلاقي او ټولنيز نظام مکمله تباهي نغښتې ده ، اوس ددې دواړو تر منځ موازنه وکړئ ، مصيبتونه خو دواړه دی. په هر حال د دواړو څخه به يو اخلئ اوس تاسې پخپله دخپل زړه څخه فتوې واخلئ چې په هغې دواړو کې کوم مصيبت کوچنې او وړوکې دې؟
نو که چيرې پريکړه د وخت او زمانې په حالاتو باندې منحصره وي نو زه وايم چې ددې ځاې حالات د پردې په تخفيف باندې نه بلکه د نورو ډيرو کلکيدو اهتمام او غوښتنه کوي ، ځکه چې ستاسې د ټولنيز نظام د ساتنې دوه ستنې پخوا تردې له منځه تللي او اوس د هغې تکيه او اعتماد يوازې په يوې ستنې باندې دې.
د تمدن ، اقتصاد اوسياست ټول مسايل او ستونزې به تاسې حل کوئ نو سر په لاسو کې و نيسئ او فکر وکړئ چې ايا د اسلامي حدودو په داخل کې ددې د حل نورې کومې لارې هم پيدا کيږي؟ خو اوس هغه پاته ستنه چې وار تر مخه ډيره کمزورې شوې ده نه زياته مه کمزورې کوئ. په دې کې د تخفيف کولو د مخه لږ تر لږه دومره توانايي پيدا کول په کار دي چې که چيرې کومه مسلمانه ښځه بې نقابه وي او دهغې لورې ته د بدو کتلو دپاره دوه سترګې موجودې وي نو هلته بايد د هغې سترګو د ويستلو له پاره پنځه لاسونه هم موجود وی.
پای.

د استاد قريب الرحمن سعيد نورې پښتو ژباړې:

1. اسلامي سيات.(مولانا ګوهر الرحمن«رح» ) (چاپ شوی )
2. اسلامي رياست.( مولانا ابو الاعلي مودودي «رح» )(د چاپ لاندې )
3. خلافت او ملوکيت..( مولانا ابو الاعلي مودودي «رح» )(چاپ شوی )

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. پرده ..( مولانا ابو الاعلي مودودي «رح» )(چاپ شوی )

5. د حديثو د انکار نه د قران تر انکاره پورې . (مولانا عبد السلام رستمي «رح» )(چاپ شوی )

6. دنبوت پائ (مولانا عبد السلام رستمي «رح» )(د چاپ لاندې)

7. دصلاح الدين يوبي رينښتني پيښې (د ايمان پلورونکو داستان ) ( التمش ) (د چاپ لاندې)

8. د رسول الله (ص) د انقلاب حکمت .(سيد اسعد ګيلاني «رح» )(چاپ شوی )

9. يو شمير نورې کوچنۍ رسالې (په اردو او پښتو ژبو ) چې نومونه يې زما په ليکنو کې کتلائ شئ.

10. زيات شمير پښتو مضامين او دانګليسې او د اردو ژبو څخه ژباړل شوې او هم په انګليسي ژبه سياسي شننې ، مقالې او ليکنې چې په پښتو او نګليسي ژبو ورځپاڼو او يو شمير اونيزو او مياشتنيزو کې خپاره شوې دي.( په خواشينۍ سره چې ريکارډ يې له ژباړن سره نشته . )

د ژباړې پای

قريب الرحمن سعيد

د ۱۳۸۸ لمريز هجري کال د اسد مياشت.

۲۰۰۹ زيږديز کال د اګست مياشت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**